# کچکول

لومړی ټوک

انتخاب، ټولونه او ترجمه

**تاند اندیش**

# کچکول

**لیکوال: بېلابېل**

مترجم: تاند اندیش


- ډیزاین: مترجم
- مخونه: ۲۸۲
- چاپ: لومړی
- د چاپ کال: ۲۰۲۶
- چاپ لړ: ۱

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د مترجم سریزه

خدای ته دې هزار شکرونه وي چې د دغو بېلابېلو لیکوالو له لیکنو د انتخاب او ترجمې توفیق یې راکړ او د هغه پر وروستي استازي دې درود او رحمت وي، چې په خپلو نه هېرېدونکو هڅو یې بشریت ته هغه الهي رڼا ورسوله، عملي نمونه یې وړاندې کړه او په یوه کتاب کې یې خوندي کړه چې د هر وخت انسان خپله علمي تنده په ماتولی شي.

دغه کتاب د ګڼو لیکوالو د چاڼ شوو مقالو د ترجمو ټولګه ده. مقالې زیاتره له عربي ترجمه شوې او ګاهې وخت دانه مانه له اردو هم.

د مقالو سرچینه د همدغو لیکوالو د فیسبوك حسابونه دي، زه دوی پر فیسبوك څارم، کله چې یې یوه مقاله زموږ د ټولنې لپاره ګټوره ووینم، یا خپلو خلکو ته پکې یو پیغام وګورم، یا هم خلك د زړو او تر وخت تېرو افکارو پر ځای نویو فکرونو ته هڅوي، نو هغه مقالې ما ترجمه کړې دي. د لیکوال له ټولو خبرو سره زما موافقت حتمي نه دی، زه ممکن په یوه مقابله کې د هغه ځینې خبرې ښې وبولم او نورې یې ماته خوند رانه کړي. لوستونکي ته هم بلنه ورکوم، چې د لوستلو پر وخت د هر لیکوال تابع کس له ځانه جوړ نه کړي، لوستل یې وړیا دي، منل او نه منل یې د هغه په شعور او تګلارې پورې تعلق لري.

د دې کتاب د لیکلو پر وخت یوه عجیبه پېښه شوې ده. د دغه کتاب دویم ټوک تر لومړي مخته بشپړ شو. لامل یې دا و، چې ما کله د دغه ډول یوه کتاب د چمتو کولو اراده وکړه، نو کار مې پر شروع کړ، خو زه د ګڼو کسانو د حسابونو د کتلو مهال د یوه فلسطیني لیکوال ډاکټر وائل کریم پر حساب ور برابر شوم، هغه د قراني ایاتونو ډېر خوندور او نوي تفسیرونه کول، ما غوښتل چې په دې برخه کې هم زموږ خلك د دویزو تفسیرونو پر ځای نوي هغه هم مطالعه کړي، نو مې د هغه د مقالو په ترجمه

کولو هم شروع وکړه، خو زه هغه دومره ور واخیستم چې لومړی مې د هغه له مقالو څخه یو ټوک پوره کړ او بیا بېرته دغه ته را وګرځېدم.
تر دې وروسته هم ښایي زه د هغه له مقالو څخه یو بل کتاب هم چمتو کړم. هغه به هم ټولې د تفسیر اړوند لیکنې وي. له دې لیکنو څخه زما هدف روښانه دی، خلکو ته د دین په اړه نوې زاویه ښودل، نوی فکر ور کول، د عصر له غوښتنو سره سم ابتکار کول.
خدای دې وکړي چې زما لیکنې په دې لار کې د پښتنو لپاره یو وړوکی مشال شي.
تاند اندیش
۲۱/۵/۲۰۲۶

**لړ لیک**


د مترجم سریزه ........................................................................................ ۳

تکفیر او د دعوت و اصلاح منهج ....................................................................... ۹

د دجال خرافات او د هغه په اړه درواغجن روایتونه ............................................. ۱۳

پر غیبي روایاتو د قرآن حاکمیت ....................................................................... ۲۲

حدیث او سنت .......................................................................................... ۲۶

د "عربي لسان" مانا څه ده؟............................................................................ ۲۸

د پیغمبرانو پټ علم ...................................................................................... ۳۳

ایا قرآن موږ ته د PDF کتاب په څېر راغلی که د روایت له لارې؟........................... ۳۶

د عند الله اصطلاح ....................................................................................... ۳۹

ولې موږ روایت ته د قرآن کریم معیار ګرځول ردوو؟............................................. ٤۱

د مرګ منظر ............................................................................................... ٤۳

د نفس له پردېسی (غُربت) د حضور تر انسه .......................................................... ٤۷

د قرآن کریم د راټولولو په تړاو د زهري باطلې لیکنې ............................................. ۵۰

ایا قرآن کریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې جمع شوی و؟.................... ۵۳

د دعوت او فتویٰ ترمنځ توپیر: یوه اصولي او منهجي تشریح .................................... ۵۷

د سنت بنسټ ............................................................................................. ٦۰

د اسلامي شریعت په جزیي شننه کې د روایت اغېز ................................................. ٦۱

د طه جابر العلواني ژوره خبره ........................................................ ٦٤
اعمش: د روایت د مرکزیت او د میتودولوژۍ د ناورین ترمنځ ............................ ٦٦
د شاطبي په اند قرآن د ټولو اصولو اصل دی ............................................ ٦٨
د شریعت د مقاصدو په بیان کې د ابن القیم یوه زرینه وینا ............................ ٧١
لومړی روایت ډېر مسند دی ............................................................ ٧٢
قرآن کریم او سنتو ترمنځ د بشپړتیا اړیکه............................................. ٧٤
د دیني بنسټونو کړکېچ ................................................................. ٧٧
د افک د پېښې روایات د قرآن کریم په تله کې ......................................... ٧٩
زه به د الله د رسول (ص) اطاعت څنګه کوم؟ .......................................... ٩١
د مسیر د سمون لپاره یوه صادقانه شخصي بلنه......................................... ٩٦
خوارج د نصوصو د لفظي بڼې او د مقاصدو د نښتوالي ترمنځ.......................... ٩٧
د رسول الله ﷺ افعال او چلند؛ د تشریعي بیان او بشري تصرف ترمنځ............. ١٠١
قرآن: هغه کتاب چې تر لوستلو وړاندې دې لولي ..................................١٠٦
فکري ملنډې؛ کله چې اختلاف په ډلهییزه استهزاء بدل شي ......................... ١١٠
هغو ته چیغه چې میراثي پوهه مقدسه ګڼي ............................................. ١١٣
په قرآن کې د څو ودونو شرطونه: له شکلي اباحته تر ارزښتي کنټروله ..............١١٦
څوک "مغضوب علیهم" او څوک "ضالین" دي؟ ........................................ ١٢٠
ایا تا خپلې "تسبیح" وموندې؛ که لا تر اوسه د غفلت په دښته کې سرګردانه یې؟................ ١٢٣
د قرآني فهم درجې ...................................................................١٢٦

ایا د تکامل (Evolution) نظریې منل له قرآن سره ټکر لري؟ ........................................ ۱۳۰
د میراث په قضیه کې به څوک بریالی شي؛ "قرآن" که د فقهاوو نظرونه؟ ........................ ۱۳۲
د دین ستن کومه ده؟ .................................................................................. ۱۳۵
ایا د " میراثي اثارو شیخانو" جنسي انحراف مباح کړی دی؟ ...................................... ۱۳۷
د وصیت ارزښت او په اسلامي ټولنه کې له هغه غفلت ............................................ ۱٤۱
د یوه قراني ایت علمي تفسیر ......................................................................... ۱٤۳
فلسفه ولې او څنګه له اسلامي دین سره په ټکر کې راغله؟ ..................................... ۱٤٦
رُشد څه شی دی؟ ..................................................................................... ۱۵۰
ایا الله خپل بنده ته کافي نه دی؟ .................................................................... ۱۵۲
اې بني اسرائیلو کښته شئ! ........................................................................... ۱٦۰
د نني لکچر له الهامه ................................................................................... ۱٦۳
له عبادته تر تقوی او شکره ........................................................................... ۱٦۵
هغه امت چې غایب دی ............................................................................... ۱٦۸
د وحې سپېڅلتیا د تاریخ د دوړو په وړاندې ...................................................... ۱۷۲
نبوي طب؛ د عقل، علم او دین ترمنځ ............................................................ ۱۷٦
په اوبدل شوي اسمان قسم ............................................................................ ۱۷۸
په اسلام کې د تعدد (ګڼوالي) فلسفه ................................................................ ۱۸۳
یو ناسم او تېریګر مفهوم ............................................................................. ۱۸۸
له دینداری څخه تر وحشته .......................................................................... ۱۹۲

نه... د ديني ثوابتو بدلولو ته! ........................................................................196
د قران د نظم او مانيز سمندر په اړه د امام فراهي ليدلوری ................................ 200
عقلانی منبر .......................................................................................... 205
د ارواښاد "ابو زهرة" له ارزښتمنو افکارو څخه.............................................. 207
نالیدلی موجود ........................................................................................ 209
د يوسف (ع) وروڼو د هغه په اړه د کومې غلا دعوه کوله؟ ................................ 212
نفاق د يوه تمدني رنځ په توګه ..................................................................... 215
قرآن، عقل او شتون: د الهي حکمت په اړه تأملات ........................................... 222
الزانية و الزاني په عربي ژبه کې ................................................................... 228
څنګه الله لوی وګڼم؟ ..............................................................................234
د نبوي کورنۍ (اهل بيت) او د تبرج د مفهوم په اړه ګنګوسې ............................ 238
ايا د جمهور (اکثريت) قول حجت دی؟ ........................................................241
د ايمان او شک ترمنځ خبرې اترې ............................................................246
شعور او اګاهي ........................................................................................ 253
په خوړو کې د "طيباتو" شتون او په څښاک کې يې نشتوالی .................................260
نورو ژبو ته د نصوصو ترجمه ......................................................................263
د سورة العصر تدبري او فکري لوستنه ...........................................................269
کله چې دين په جبر او قهر بدل شي ...............................................................276

# تکفیر او د دعوت و اصلاح منهج

**لیکوال: ډاکټر محمد اکرم ندوي، اکسفورډ**

**پوښتنه** :السلام علیکم، مولانا سید سلیمان ندوي په خپله مقاله «شغلِ تکفیر» کې لیکلي دي: "ندوه دا بلنه ورکړې وه چې په اسلامي ډلو کې باید هیڅ اهلِ قبله ته کافر ونه ویل شي او د اسلام علما باید په خپلو منځونو کې له زغم څخه کار واخلي او د اسلام د دښمنانو په مقابله کې باید دوی ټول د عقایدو له اختلاف سره سره په خپلو کې متحد او متفق شي." ذهبي هم د ابن تیمیه په حواله لیکلي دي چې په وروستي وخت کې د هغه دریځ دا و چې ویل به یې: اوس زه په امت کې د هیڅ فرد یا ډلې تکفیر نه کوم، هر هغه څوک چې د خپل اسلام اظهار وکړي، هغه زما په نزد مسلمان دی. هغه به ویل چې نبي ﷺ فرمایلي دي: «د اودس پابندي یوازې مؤمن کوي.» له همدې امله، هر څوک چې اودس کوي او په پابندۍ سره لمونځونه ادا کوي، هغه مسلمان دی. په بخاري کې هم روایت دی چې رسول أکرم ﷺ وفرمایل: «څوک چې زموږ په څېر لمونځ وکړي، زموږ قبلې ته مخ کړي او زموږ ذبیحه وخوري، نو همغه مسلمان دی چې د هغه لپاره د الله او د هغه د رسول ذمه واري (ضمانت) ده، نو تاسو د الله لخوا ورکړل شوې ذمه واري مه ماتوئ.» همدارنګه د دین امامان، لکه ابو حنیفه، ابن تیمیه او نور، له اهلِ قبله څخه د هیڅ چا د تکفیر پلویان نه وو او په هغوی پسې د لمانځه د جواز قائل هم وو.

زما پوښتنه دا ده چې په اوسني عصر کې ځیني داسې ډلې موجودې دي چې په اړه یې د عامو مسلمانانو ترمنځ سخته اندېښنه لیدل کېږي، چې ایا دوی په اسلام کې داخل دي که نه، ور پسې د لمانځه او د هغو د ذبیحې حکم څه دی؟ برعکس، د اهلِ کتابو د ذبیحې جواز منل کېږي. د بېلګې په توګه، په برصغیر (کوچنۍ وچه) کې د احمدیه ډلې په اړه د علماوو یو لوی شمېر د هغو د تکفیر قائل دي، په داسې حال کې چې هغوی پخپله د خپل اسلام پر اقرار ټینګار کوي. په دې اړه

لارښوونه وکړئ چې ایا د داسې ډلو (په ځانګړي ډول احمدیه) تکفیر سم دی؟ ایا دوی په اهلِ قبله کې شمېرل کېدای شي؟ د تکفیر واک له چا سره دی؟ ستاسو علمي لارښوونه به زما لپاره خورا ارزښتناکه وي. جزاکم الله خیراً! (عبد الاحد ندوي)

**ځواب:** وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، تاسو یوه خورا مهمه، نازکه او څو اړخیزه پوښتنه راپورته کړې ده، چې دا یوازې یوه فقهي یا کلامي مسئله نه ده، بلکې د اسلامي امت له اجتماعي ارواپوهنې، خپلمنځي اړیکو او دعوتي تګلارې سره ژوره اړیکه لري. په دې ډول مسایلو کې یوازې "حکم لګول" کافي نه وي، بلکې یو پراخ علمي، تاریخي او نبوي منهج په پام کې نیول اړین وي.

په پیل کې دا عرض کول مناسب ګڼم چې زه اصولاً د افرادو یا مشخصو ډلو د تکفیر په باب کې له فتوا ورکولو څخه ډډه کوم. د دې لامل دا دی چې تکفیر یو خورا دروند شرعي حکم دی، چې پایلې یې یوازې په نظري یا اعتقادي دایره کې محدودې نه پاتې کېږي، بلکې اغېزې یې پر ټولنیزو اړیکو، دوه اړخیزه باور او کله ناکله تر سیاسي او قانوني ډګره پورې غځېږي. له همدې امله، اکابرو اهلِ علمو په دې باب کې د غیر معمولي احتیاط لارښوونه کړې ده او دا یې د عامو اهلِ علم یا عوامو ته د سپارلو پر ځای، په یوه خورا محدوده او مسؤلانه دایره کې ساتلې ده.

تاسو چې د سید سلیمان ندوي په حواله کوم اقتباس نقل کړی، هغه په اصل کې د برصغیر د یوه مهم اصلاحي منهج استازیتوب کوي، چې ریښې یې په اسلامي تاریخ کې ډېرې ژورې دي. همدارنګه د ابن تیمیه په حواله منقول موقف هم همدې اصولي مزاج ته اشاره کوي چې د اهلِ اسلام ترمنځ تکفیر عام نه کړل شي، بلکې تر ممکنه حده ورڅخه ډډه وشي. د اهلِ سنتو په امامانو کې د ابو حنیفه منهج هم پر همدې احتیاط او پراخ نظر ولاړ و، چې د اهلِ قبله څخه د هیچا تکفیر ونشي، ترڅو هغه له داسې یو صریح او قطعي امره انکار ونه کړي چې په دین کې په ښکاره او قطعیت سره ثابت وي.

د نبي کریم ﷺ په احادیثو کې چې کوم معیار بیان شوی، چې څوک زموږ په څېر لمونځ وکړي، زموږ قبلې ته مخ کړي او زموږ ذبیحه حلاله وګڼي، هغه په اصل کې یو عملي او ټولنیز معیار دی، چې موخه یې دا ده چې اسلامي ټولنه د تکفیر له غیر ضروري ګډوډۍ څخه خوندي پاتې شي.

د دې معيار بنسټيزه موخه دا نه ده چې د عقايدو ژورتياوې له پامه وغورځول شي، بلکې دا ده چې هر اختلاف سمدستي د کفر او ايمان مسله ونه ګرځول شي، ځکه داسې کول د امت يووالی ټوټې ټوټې کوي.

د تکفير په مسئله کې يو خورا مهم اصل دا دی چې دا يوازې يوه نظري رأيه نه ده، بلکې يو "حکم" دی او د حکم لپاره د شرايطو، محدوديتونو او خنډونو (موانع) په پام کې نيول اړين دي. ابن تيميه پخپله پر دې ټينګار کوي چې د کوم مشخص شخص تکفير تر هغه وخته نشي کېدای، ترڅو چې ورباندې حجت په بشپړه توګه تمام نشي او شکونه يې ټول رفع نشي. له دې څرګندېږي چې تکفير يو خورا مسؤلانه عمل دی، چې پکې د بېړې، عمومي بيانونو او احساساتي غبرګون هيڅ ځای نشته.

تر هغه ځايه چې له معاصرو ډلو، لکه په برصغير کې تر احمديه ډلې پورې اړه لري، نو دا حقيقت دی چې د برصغير ډېرو (جمهور) علماوو د هغو د ځينو عقايدو پر بنسټ يو مشخص دريځ غوره کړی دی. دا يو علمي او کلامي بحث دی، چې خپل تاريخ، دلايل او استدلال لري. خو دلته د يو خورا مهم توپير په پام کې نيول اړين دي: يو "اعتقادي او نظري بحث" دی، او بل "عملي و دعوتي چلند" دی. لومړی شی د اهلِ علم د تخصص ډګر دی، په داسې حال کې چې دويم شی د هر هغه چا لپاره مهم دی چې د دين د دعوت او د ټولنې د اصلاح کار کول غواړي.

زما لېوالتيا (رجحان) د دغه دويم اړخ په لور ده. له دې زاويې چې وګورو، که کوم شخص خپل ځان مسلمان بولي او له اسلام سره د خپل تړاو څرګندونه کوي، نو د قرآن او سنتو عمومي اصول موږ ته دا ښوونه کوي چې موږ له هغه سره د مسلمان په څېر معامله وکړو، د هغه د عزتِ نفس خيال وساتو، اذيت ورنه کړو او ورسره نېک چلند غوره کړو. دلته اصلي پاملرنه بايد پر دې وي چې موږ له هغه سره داسې اړيکه جوړه کړو چې هغه دين ته نژدې کړي، نه داسې چلند چې هغه نور هم پسې لرې کړي.

په دې برخه کې د نبي کريم ﷺ سيرت يوه روښانه او پرېکنده لارښوونه کوي. د نبي کريم ﷺ په زمانه کې د منافقانو يوه لويه ډله موجوده وه، چې د هغو د نفاق ذکر پخپله په قرآن مجيد کې

راغلی دی. له دې سره سره، نبي ﷺ له هغو سره د ظاهري اسلام پر بنسټ معامله وکړه، هغـوی يـې له اسلامي ټولنې څخه ونه ایستل او نه يې هم د هغوی پر ضد د کوم عمومي تکفیر اعلان وکړ. د دغه حکیمانه او زغم لرونکي چلند پایله دا شوه چې د وخت په تېرېدو سره له هغـو څخـه ډېـر کسـان يـا اخلاص ته ستانه شول او یا یې اغېز کم شو. دا د یوه لوی دعوتي اصل ننبه ده چې نرمي، حکمت او شمولیت زړونه نژدې کوي، په داسې حال کې چې سختي او شړل واټن زیاتوي.

همدغه اصل ته په کتو زما درېځ دا دی چې موږ باید په داسې مسایلو کې خپل ځان د "مفتي" پر ځای د "داعي" په مقام کې وساتو. که بالفرض یو غیر مسلمان شخص خپل ځان مسـلمان بـولي، نـو هغه په حقیقت کې زموږ لپاره یوه دروازه خلاصه کړې ده. اوس زموږ مسؤلیت دا دی چې هغوی تـه د دین سمه ښوونه وکړو، د هغوی شکونه په حکمت او شفقت سره لرې کړو او ورسره داسـې اړیکـه جوړه کړو چې په ایمان کې یې کلکوالی پیدا شي. که موږ په دغه موقع د هغو پر وړاندې د سـختۍ، سپکاوي یا شړلو چلند غوره کړو، نو موږ په اصل کې د دعوت هغه دروازه پخپله تړو چې زموږ لپاره خلاصه شوې وه.

په اوسني عصر کې، چې امت لا ښه وختي له فکري ګډوډۍ، فرقه پالنې او خپلمنځي بې بـاورۍ سره مخ دی، دې ته جدي اړتیا ده چې موږ په خپلو چلندونو کې پراختیا، زغم او حکمت پیدا کـړو. د تکفیر فتواوې شاید د لنډ وخت لپاره یـو ډول "سـپیناوی" رامنځتـه کـړي، مګـر د زړونـو واټـن نـه کموي. برعکس، دعوت، ښوونه، خبرې اترې (مکالمه) او نېک چلنـد هغـه لارې دي چـې خلـک سره نژدې کوي او د اصلاح امکانات زیاتوي.

لنډه دا چې تکفیر یوه خورا حساسه او د محدودې دایرې مسئله ده، چې غیر معمولي احتیـاط تـه اړتیا لري. د اهلِ قبله په اړه اصلي اصول لـه تکفـیره ډډه کـول او پـراخ نظـري ده. معـاصر اختلافـات یوازې د فتواوو له لارې نشي حل کېدای، بلکې د دې لپاره یوې جامعې دعوتي تګلارې ته اړتیا ده. موږ باید د خلکو د ایمان په اړه د پرېکړې کولو پر ځای د هغو د ایمان د پیاوړي کولو فکـر وکـړو او همدا هغه منهج دی چې د امت د یووالي، اصلاح او خیر ضامن کېدای شي.

۲۴/۴/۲۰۲۶

## د دجال خرافات او د هغه په اړه درواغجن روایتونه

پر غیبي روایتونو باندې د قرآن د حاکمیت د تشریح په دوام؛ ځینو کسانو ته دا ډېره لویه خبره ښکاره شوه چې د دجال په اړه احادیث د هغو خبرونو په ډله کې راولي چې قرآن یې ردوي، ځکه دا د غیب له هغو خبرونو څخه دي چې په قرآن کریم کې یې هیڅ ذکر نشته؛ په داسې حال کې چې په غیب کې اصل دا دی چې هغه یوازې په قرآني وحې پورې منحصره وي.

سره له دې، د دجال د روایتونو ډېرښت، د اسرائیلي روایاتو اغېز او د دغو احادیثو په درواغجن ډول رسول الله ﷺ ته په منسوبولو کې ګډوډی ته په کتو، زه دلته لومړی د شیخ محمد رشید رضا د خبرو خلاصه د دجال د احادیثو د ردولو د لاملونو په بیان کې راوړم او بیا خپله خبره په ځینو هغو اشارو بشپړوم چې د شیخ خبره تاییدوي.

بلکې زه د دجال احادیث د دغو ګڼو جوړ شویو او جعلي سندونو د څېړنې او پلټنې لپاره یو مهم موډل ګڼم چې په ناحقه رسول الله ﷺ پورې نښلول شوي، په داسې حال کې چې هغه ترې پاک دی؛ ځکه دا روایتونه له قرآن کریم سره په ټکر کې دي، متنونه یې خورا ناسم او ګډوډ دي او تر دې حده یو له بل سره په ټکر کې دي چې شارحین یې په جمع کولو کې پاتې راغلي، سره له دې چې دا په صحاحو کې دي، خو هغوی مجبور شوي چې د یو بل په خلاف ځینو ته پر نورو ترجیح ورکړي.

شیخ محمد رشید رضا په خپل تفسیر "المنار" کې د دجال پر احادیثو نقد کړی او وایي:

«د دجال احادیث له څو اړخونو ستونزه لري:

لومړی: لکه اوس نژدې مو چې وویل، دغه روایات د قرآن له هغه حکمت سره په ټکر کې دي چې خلکو ته وایي قیامت نژدې دی او ناڅاپه به راشي.

دویم: په دغو روایتونو کې د داسې خارق العادته کارونو ذکر شوی چې د اولوا العزم رسولانو له معجزو سره برابر یا تر هغو هم لوړ دي، چې دا پخپله پر معجزو باندې شک پیدا کوي؛ لکه چې ځینو متکلمینو همدا ویلي او محدثینو بیا دا د هغو بدعت بللی دی. دا معلومه ده چې الله تعالی معجزې یوازې د خپلو مخلوقاتو د هدایت لپاره ورکولې، نو دا څنګه ممکنه ده چې دجال ته د خپلو

ډېرو بندګانو د غولولو لپاره تر ټولو سترې معجزې ورکړي؟ ځکه په دغو روایتونو کې راغلي چې هغه په ۴۰ ورځو کې له مکې او مدینې پرته پر ټوله ځمکه را ګرځي.

ابو نعیم په "الحلیة"کې له حسان بن عطیه (ثقه تابعي) څخه روایت کړی چې: "د دجال لـه فتنـې څخه به یوازې دولس زره نارینه او اووه زره ښځې ژغورل کېږي." حافظ ابن حجـر پـه "الفـتح"کـې وايي: دا داسې خبره نه ده چې له ځانه وشي، نو احتمال لري چې "مرفوع" وي؛ دا احـتمال هـم شـته چې هغه له اهلِ کتابو څخه اخیستې وي. زما(لیکوال) په نزد همدا وروستی نظر سم دی.

دریم: دجال ته منسوبې معجزې د الله تعالی له هغو سننو سره مخالفې دي چې پـه مخلوقـاتو کـې یې جاري کړي دي. د قرآن په قطعي نصوصو ثابته ده چې د الله په سننو کې هیڅ بدلون نه راځـي. دا ګډوډ او متضاد روایتونه د دغو قطعي نصوصو د خاص کولو یا د هغو د مقابلې وړتیا نه لري.

څلورم: دغه احادیث پر داسې شیانو مشتمل دي چې د دین لـه نـورو قطعیـاتو سره مخـالف دي؛ لکه د رسولانو د خبرو دروغ ثابتېدل یا د هغوی کار عبث ګڼل، چې دا د هغوی پـه حـق کـې محـال دي.

پنځم: دا روایتونه دومره ډېر یو له بل سره په ټکر کې دي چې د یـوه بـل د لوېـدو سـبب ګرځـي. مثلاً: ځینې روایتونه وايي چې رسول الله ﷺ دا احتمال ورکاوه چې دجـال بـه د هغـه پـه زمانـه کـې راښکاره شي او هغه به مسلمانان د ده له شره وساتي؛ خو ځینې نور بیا وايي چې هغه بـه د مسـلمانانو لخوا د روم او قسطنطنیې تر فتحې وروسته راووځي. همدارنګه په دې کې هم شک دی چې ایا "ابن صیاد" (د مدینې یو یهودي) دجال و که نه؟ په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ دجـال پـه داسـې صفاتو بیان کړی چې پر ابن صیاد نه صادق کېدل، لکه څنګه چې ابن صیاد پخپله ابوسعید الخـدري ته ویلي وو.

شپږم: په ځینو روایتونو کې راغلي چې له دجال سره به د ډوډۍ غرونه او د اوبو او شـاتو سـیندونه وي (لکه امام احمد او بیهقي یې له جابر بن عبدالله څخه روایتـوي)؛ خـو پـه صـحیحینو (بخـاري او مسلم)کې له مغیره بن شعبه نه راغلي چې رسول الله ﷺ څخه د دجال په اړه هیڅا هغه پوښتنه نه ده کړې چې ما ورنه وکړه، هغه ما ته ویل: تاته له هغه څه زیان رسي؟ ما ویل: خلك وايي چـې لـه هغـه سره به د ډوډۍ غر او د اوبو کانال وي. ده ویل: بلکې هغه تر دې مقام الله ته ډېر سپک دی.

د مسلم په روایت کې دي چې له هغه سره د ډوډۍ او غوښو غرونه او د اوبو ویالې دي. دوی دغه تاویل کړی دی، څو هغه بل صحت ومومي، د جابر قول د تامل وړ دی چې دوی وایي لـه هغـه سره دغه او هغه شیان دي، داسې يې نه دي ویلي چې تا دغه خبره کوله.

اووم: د هغه د راوتلو د ځای په اړه هم روایتونه مخالف دي. ځینې وایي له ختیځ څخه، له نـواس بن سمعانه د مسلم روایت وایي د شام او عراق له منځ څخه، د مسـلم بـل روایـت وایـي لـه اصفهان څخه، او د "جساسې" حدیث وایي چې هغه د شام یا یمن د بحیرې د یوه ټاپو په یوه ماڼۍ کې بندي دی او امام احمد و حاکم روایت کوي چې هغه له خراسان څخه راوځي.

د صحیحینو شارحینو هڅه کړې چې دا ټـول سره جمـع کـړي، خـو داسـې تکلفـي ځوابونـه یـې ورکړي چې محققینو ټول یا زیاتره يې رد کړي دي. له دې پرته نور مشکلات هم لري چې موږ ورتـه اشاره نه ده کړې، په خاص ډول د ابن صیاد روایات، هغـه چـې عمـر رض د نبـي صـلی الله علیـه پـه مخکې د هغه د دجال کېدو په اړه قسم کاوه او نبي علیه السلام په تقریري توګه د هغه تصـدیق کـاوه. همدغه خبره په شیخینو کې جابر بن عبد الله رضي الله عنه ورسره تایید کړې او ده هم قسـم پـر کـړی دی، روایت له همده څخه دی. یو شمېر کسانو ځواب ور کړی چې دغـه تقریـر یـې هغـې تصریـح مات کړی چې عمر ته يې د هغه د وژلو د ګواښ مهال ویل: که دی هغه وي، تـه ور بانـدې برلاسـی کېدلی نشې، د حدیث تر پایه، دا هم په بخاري کې دی. ابن حجر د بیهقي ځینـې هغـه تـاویلات رد کړي دي چې د ابن صیاد د پیدایښت په اړه يې کړي دي، همدا شان د هغه د صفاتو او نبوي اقرار په اړه. ده د تمیم داري کیسه ارجحه بللې ده، ځکه دغه له ابن صیاده جلا ده، دا چـې عمـر بـه قسـمونه اخیستل، هغه تر دې روایت وړاندې و. ځکه نو زه دغه حدیث په یو څه تفصیل سره څېړم، زه وایـم په دې کې څو بحثونه کېدلی شي. (د شیخ رضا د خبرو پای). بیا د تمـیم داري د حـدیث پـه نقـد او علتونو شروع کوي.

زه (ډاکټر عمار) وایم:

د شیخ رضا پر خبرو په زیاتوب سره وایم: کله چې زه د صحیحینو په کچه د دجال احادیث لولم، سل ځله استغفار کوم چې څنګه داسې افترا او بې ادبي ورته منسوبه شوې ده، حـال دا چـې د نبـوت مقام لري او له دې شیانو منزه دی. یو ځل راته رسول الله د سترګې یوه نښه راښـیي چـې مـوږ د الله او دجال ترمنځ فرق پرې وکړو: "دا چې الله زموږ رب دی، هغه ړوند نه دی، خو دجال ړوند دی." (سره له دې چې په دې کې هم ګډوډي ده چې ښۍ سترګه يې ړنده ده که کیڼه!)؛ ګواکې زموږ رب (العیاذ

بالله) زموږ په څېر یو بشر دی چې موږ یې په وار وار وینو او کله چې دجال د ربوبیت ادعا وکړي، موږ به یې سترګو ته ګورو او وایو به چې نه، دا زموږ رب نه دی ځکه دا خو ړوند دی! استغفرالله علی ذلك!

دا مقایسه ښایي د عیسی (ع) او دجال ترمنځ د هغو مشرکانو په مذهب سمه وي چې عیسی (ع) ته رب وایي، مګر وګورئ چې دا څومره لویه فاجعه ده چې دا روایت په رسول الله ﷺ پورې وتړل شو.

په صحیحینو کې راغلي:

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: ذُكِرَ الدَّجَّالُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «إِنَّ اللَّهَ لاَ يَخْفَى عَلَيْكُمْ، إِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى عَيْنِهِ وَإِنَّ المَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ.»**

ژباړه: له عبدالله څخه روایت دی چې د نبي ﷺ په حضور کې د دجال یادونه وشوه، نو ویې فرمایل: په یقین سره الله له تاسو پټ نه دی، الله ړوند نه دی - او په خپل لاس یې خپلې سترګې ته اشاره وکړه - او مسیح دجال ښی سترګه ړنده ده، ګواکې سترګه یې د انګورو د هغې دانې په څېر ده چې اوبه ورنه وتلې او پړسېدلې وي.

وګورئ څومره خطرناکه ده چې رسول الله ﷺ (نعوذ بالله) خپلې سترګې ته اشاره کوي کله چې د الله صفت بیانوي چې هغه ړوند نه دی!

په صحیح مسلم کې راغلي:

**عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى، جُفَالُ الشَّعَرِ، مَعَهُ جَنَّةٌ وَنَارٌ، فَنَارُهُ جَنَّةٌ وَجَنَّتُهُ نَارٌ.»**

ژباړه: له حذیفه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د دجال کیڼه سترګه ړنده ده، ډېر وېښتان لري، له هغه سره جنت او دوزخ دي، خو دوزخ یې جنت دی او جنت یې دوزخ دی.

### د ابن صیاد د دجال توب کیسه:

په یوه بله جوړه شوې کیسه کې؛ رسول الله ﷺ (نعوذ بالله) د "ابن صیاد" په نوم یوه ماشوم پسې ګرځي ترڅو معلومه کړي چې هغه دجال دی که نه؟ د هغوی ترمنځ خبرې کېږي او رسول الله ورته یو شی (الدُّخ یا لوګی) پټوي ترڅو د هغه غیبي علم و ازمایي، په داسې حال کې چې رسول الله ته وحې

نه کېږي چې دا ماشوم څوک دی! په دغه روایت کې رسول الله د ونو تر شا پټېږي ترڅو د دغه ماشوم جاسوسي وکړي او خبرې یې غلا کړي... (ګواکې هغه هېر کړي چې هغه رسول دی او وحې ورته کېږي)... ترڅو ورته معلومه شي چې دجال دی که نه؟ خو د ابن صیاد مور پلان کشفوي او خپل زوی خبروي.

زه په خدای قسم خورم چې په دې کیسه کې د ناپوهۍ او حماقت په حد نه پوهېږم، او زړه مې درد کوي چې صحیحینو دا روایتونه منلي دي. څنګه په نورو روایتونو کې د دجال واړه واړه جزییات بیان شوي، خو دلته رسول الله ﷺ له خورا معمولي غیبي خبر څخه بې برخه ښودل شوی چې نه پوهېږي دا ماشوم دجال دی که نه؟

په یوه بله درواغجنه کیسه کې: نبي ﷺ د ابن الصیاد په نوم یو ماشوم تعقیبوي ترڅو پوه شي چې هغه مسیح دجال دی که نه او د رسول الله ﷺ او د یوه داسې دجال ترمنځ خبرې اترې کېږي چې د رسالت ادعا کوي؛ سره له دې د خبرو اترو منځپانګه تاییدوي چې ابن صیاد هماغه دجال دی. رسول الله ﷺ ورته د «الدُّخ» کلمه (چې ویل کېږي مراد ترې دخان/لوګی دی) پټه کړه، په داسې حال کې چې نه وحې او نه نبوت رسول الله ﷺ ته دا خبر ورکوي! د روایت په نورو جزییاتو کې راغلي چې نبي ﷺ د ونو تر شا پټېږي، جاسوسي کوي او د هغه ماشوم څارنه کوي ترڅو یې راز افشا کړي... په داسې حال کې چې هغه هېر کړي چې هغه یو رسول دی او وحې ورته کېږي... ترڅو ډاډه شي چې هغه دجال دی که نه، که د ابن صیاد مور نه وای چې پلان یې ښکاره کړ او ابن صیاد یې خبر کړ.

په خدای قسم زه نه پوهېږم چې د دې کیسې په جوړولو کې دا کوم ډول ګډوډي او کم عقلي ده؟ او زړه مې درد کوي چې صحیحین دا تاییدوي؛ په ځانګړي ډول چې څنګه یې د دجال په نورو روایتونو کې تفصیلي جزیات ذکر کړي، خو دلته رسول الله ﷺ د ابن صیاد په اړه د خورا ساده غیب له پوهېدو عاجز دی؟

**په صحيحينو کې له عمر بن الخطاب څخه روايت دی:**

انْطَلَقَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِهِ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ حَتَّى وَجَدَهُ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فِي أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَقَدْ قَارَبَ ابْنِ صَيَّادٍ يَوْمَئِذٍ الْحُلُمَ، فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ: «أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟» فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ، ثُمَّ قَالَ ابْنِ صَيَّادٍ: أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟ فَرَضَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: «آمَنْتُ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ»، ثُمَّ قَالَ لِابْنِ صَيَّادٍ: «ماذا ترى؟» قَالَ: يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ، قَالَ: «خُلِّطَ عَلَيْكَ الْأَمْرُ»، ثُمَّ قَالَ: «إِنِّي خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا»، قَالَ: هُوَ الدُّخُّ، قَالَ: «اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ .«قَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتَأْذَنُ لِي فِيهِ أَضْرِبْ عُنُقَهُ؟ قَالَ: «إِنْ يَكُنْ هُوَ لَا تُسَلَّطُ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ هُوَ فَلَا خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ.

ژباړه: هغه له رسول الله ﷺ سره د خپلو ځينو اصحابو په ډله کې د ابن صياد لور ته لاړ، ترڅو يې هغه وموند چې د بني مغاله په کلا کې له نورو هلکانو سره لوبې کولې. ابن صياد هغه مهال بلوغ ته نژدې و. هغه پوه نشو ترڅو چې رسول الله ﷺ په خپل لاس د هغه په شا وواهه او ويې فرمايل: «ايا شاهدي ورکوې چې زه د الله رسول يم؟» هغه ورته وکتل او ويې ويل: زه شاهدي ورکوم چې ته د اميانو رسول يې. بيا ابن صياد وويل: ايا ته شاهدي ورکوې چې زه د الله رسول يم؟ نبي ﷺ هغه ټيل واهه او ويې فرمايل: «ما پر الله او د هغه پر رسولانو ايمان راوړی.» بيا يې ابن صياد ته وويل: «څه وينې؟» هغه وويل: ماته رښتونی او درواغجن دواړه راځي. نبي ﷺ وفرمايل: «کار درته ګډوډ شوی.» بيا يې وفرمايل: «ما تاته يو شی پټ کړی دی.» هغه وويل: هغه «الدُّخ» (لوګی) دی. نبي ﷺ وفرمايل: «ذليل شه، ته به هيڅکله له خپل حده تېر نشې.» عمر وويل: يا رسول الله، اجازه راکړه چې غاړه يې پرې کړم؟ نبي ﷺ وفرمايل: «که چېرې دا هغه (دجال) وي، ته وربانديې برلاسی کېدای نشې او که هغه نه وي، نو په وژلو کې يې تاته هيڅ خير نشته.

**سالم وايي، ما له عبدالله بن عمر څخه واورېدل:**

انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِي فِيهَا ابْنِ صَيَّادٍ، حَتَّى إِذَا دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَفِقَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ

يَسْمَعَ مِنْ ابْنِ صَيَّادٍ شَيْئًا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ... فَقَالَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّادٍ: أَيْ صَافِ، هَذَا مُحَمَّدٌ، فَتَنَاهَى ابْنِ صَيَّادٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ.

ژباړه: تر هغه وروسته رسول الله ﷺ او ابی بن کعب الانصاري د هغو خرماوو په لور لاړل چې ابن صیاد پکې و. کله چې رسول الله ﷺ ننوت، د خرماوو تنو ته یې ځان پټاوه ترڅو له ابن صیاد څخه یو څه واوري مخکې له دې چې هغه یې ووینې... د ابن صیاد مور رسول الله ﷺ ولید چې ځان یې پټاوه، نو غږ یې وکړ: اې صاف (چې د هغه نوم و)! دا محمد دی. نو ابن صیاد غلی شو. رسول الله ﷺ وفرمایل: «که هغې پرېښې وای، نو حقیقت به څرګند شوی و.»

بیا نور احادیث ذکر کوي چې دجال د قیامت له نښو دی، نو دا کیسه د صحابه‌وو په زمانه کې څنګه سمه کېدای شي؟ ایا دا له نبي ﷺ پټه وه؟ بلکې ځینو صحابه‌وو قسم کاوه چې دا ماشوم دجال دی، لکه په صحیح بخاري کې راغلي:

رَأَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَحْلِفُ بِاللَّهِ أَنَّ ابْنَ الصَّائِدِ الدَّجَّالُ، قُلْتُ: تَحْلِفُ بِاللَّهِ؟ قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ يَحْلِفُ عَلَى ذَلِكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُنْكِرْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ما جابر ولید چې قسم یې کاوه چې ابن صیاد دجال دی، ما ویل: ته په الله قسم کوې؟ ده ویل: ما له عمر رض واورېدل چې د نبي علیه السلام په مخ کې یې قسم کاوه، نبي علیه السلام ورباندې انکار ونه کړ.

بیا یو بل حدیث راځي چې د دغه قسم او تایید سره په ټکر کې دی؛ ابن صیاد یو مسلمان سړی دی چې د صحابه‌وو په منځ کې ژوند کوي او له نبي ﷺ وروسته ابوسعید الخدري ته شکایت کوي چې ولې خلک ورباندې شک کوي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: صَحِبْتُ ابْنَ صَائِدٍ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ لِي: أَمَا قَدْ لَقِيتُ مِنْ النَّاسِ يَزْعُمُونَ أَنِّي الدَّجَّالُ؟ أَلَسْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ لَا يُولَدُ لَهُ؟ قَالَ: قُلْتُ بَلَى، قَالَ: فَقَدْ

وُلِدَ لِي، أَوَلَيْسَ سَمِعْتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ وَلَا مَكَّةَ؟ قُلْتُ بَلَى، قَالَ: فَقَدْ وُلِدْتُ بِالْمَدِينَةِ وَهَذَا أَنَا أُرِيدُ مَكَّةَ...

ژباړه: ابوسعيد الخدري وايي: له ابن صياد سره مکې ته په سفر کې ملګرى شوم. هغه راته وويـل: له خلکو څخه مې څه وليدل، دوى ګمان کوي چې زه دجال يم؟ ايا تا لـه رسـول الله ﷺ څخـه نـه دي اورېدلي چې فرمايل يې: «د هغه اولاد نه پيدا کېږي»؟ ما وويل: هو. هغه وويل: زما خو اولاد پيدا شوى دى. ايا تا نه دي اورېدلي چې رسول الله ﷺ فرمايل: «هغه مکې او مدينې ته نه ننـوځي»؟ مـا وويل: هو. هغه وويل: زه خو په مدينه کې پيدا شوى يم او دا دى اوس مکې ته روان يم

**د تميم داري حديث:**

بيا د فاطمې بنت قيس حديث راځي (هغه چې حضرت عمر يې روايت رد کړى و)، هغـه د يـوې بلې کيسې ادعا کوي چې رسول الله په ډېرې خوښۍ او خندا صحابه‌وو ته وويل چې تميم داري (چې نوى مسلمان شوى و) په يوه ځانګړي سفر کې دجال په يوه ټاپو کې ليـدلى چـې پـه زنځيرونـو تـړل شوى و! دا کيسه له نورو ټولو احاديثو سره په بشپړ ټکر کې ده.

مسلم په خپل صحيح کې روايتوي:

فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَضْحَكُ... فَقَالَ: "إِنَّ تَمِيمًا الدَّارِيَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانِيًّا فَجَاءَ فَبَايَعَ وَأَسْلَمَ، وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْ مَسِيحِ الدَّجَّالِ...

ژباړه: کله چې رسول الله لمونځ خلاص کړ، پر منبر کښېناست او خندل يې... ويې فرمايل: تمـيم داري يو نصراني و، راغى، بيعت يې وکړ او اسلام يې راوړ او ماته يې يوه داسې کيسه وکړه چې زما له هغو خبرو سره برابره وه چې ما تاسو ته د مسيح دجال په اړه کولې.

بيا کيسه کوي چې تميم داري په يوه ټاپو کې له يوې "جساسې" (ډېر ويښتان لرونکي حيوان) سره مخ شو چې هغه ورته وويل په قصر کې يو سړى ستا په انتظار دى. هلته يې يو ډېر لـوى انسـان وليـد چې لاسونه يې په غاړه کې په اوسپينو تړل شوي وو.

دا د دجال په اړه ځينې روايتونه وو او داسې نور ډېر شته چې باطل نور هم بـاطلوي او درواغ نـور هم روښانه کوي.

په پای کې؛ سره له دې چې د دغو روایاتو بطلان د متن او قرآن له مخې خورا روښانه دی، مګر د مسلمان عقل د نقد د نشتوالي له امله د هغو راویانو ښکار شوی چې تـوراتي مخینـه یـې درلـوده او د اسلام په جامه کې یې غوښتل د محمد ﷺ پیغام مسخه کړي او د الله کتاب بدل کړي. هغوی په دې وتوانېدل چې مسلمانان له قرآن څخه لرې کړي؛ نو څکه اوس یو مسکین مسلمان داسې انګېري چې ګواکې هغه دغو روایتونو ته اړتیا لري او که پر دجال ایمان ونه لري نو په ګمراهۍ کې دی!
۲۳/۴/۲۰۲۶

## پر غیبي روایاتو د قرآن حاکمیت

ډېری به ما تورن کړي چې په دې پایله کې مې خطر منلی دی، خو زه به د هغو "اخبارِ آحاد" په مقابل کې چې له پلټنې، دقت او څېړنې پرته د کمي تراکم پر بنسټ ولاړ دي، د قرآن له مرکزیت او د اسلام د نظام له کلي لوستنې څخه تېر نشم.

د الله تعالی د کتاب قطعي او کلي لوستنه یو لړ محکم حقایق رابرسېره کوي:

لومړی: الله تعالی موږ د تېر، راتلونکي، اخرت او د جنت و دوزخ له غیبي علمه بې برخې کړي نه یو، بلکې د دې برخې یې هغه کیسې راته کړې دي چې حجت په پوره کېږي او دا کیسې یې یوازې په قرآني وحې کې منحصرې کړې دي، لکه چې فرمایي:

«إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ.

بېشکه دا قرآن بني اسرائیلو ته ډېری هغه څه بیانوي چې دوی پکې اختلاف لري.

او فرمایي: «نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْآنَ...» (موږ تاته د دې قرآن په وحې کولو سره ډېرې ښکلې کیسې بیانوو). [یوسف: ۳]

او فرمایي: «كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ...» (همدا ډول موږ تاته د تېرو شوو پېښو خبرونه بیانوو). [طه: ۹۹]

او فرمایي: «وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ» (او په یقین سره موږ له تا مخکې رسولان لېږلي وو، چې د ځینو کیسې مو تاته کړې او د ځینو مو نه دي درته کړې). [غافر: ۷۸]

دویم: رسول الله ﷺ د قرآن په نص منلې ده چې هغه په غیب نه پوهېږي او په خپلواکه توګه د غیب هیڅ واک نه لري، لکه چې الله تعالی فرمایي:

«وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ» (او که زه پر غیب پوهېدای، نو ما به ډېرې ګټې ترلاسه کړې وای او هیڅ بدبختي به راته نه وه رسېدلې). [الاعراف: ۱۸۸]

او بیا فرمايي: «قُلْ لَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ... إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ» (ووايه چې زه تاسو ته دا نه وايم چې له ماسره د الله خزانې دي او نه دا چې زه پر غيب پوهېږم... زه يوازې د هغې وحې پيروي کوم چې ماته کېږي). [الانعام: ۵۰]

دريم: الله تعالى له خپل رسول څخه د تېر وخت د غيبي پېښو علم نفي کړی، مګر دا چې د وحې له لارې ورته شوی وي، لکه چې فرمايي: «تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هَذَا» (دا له هغو غيبي خبرونو څخه دي چې موږ يې تاته وحې کوو، چې نه ته او نه ستا قوم له دې وړاندې پرې پوهيدئ). [هود: ۴۹]

څلورم: الله تعالى د غيب علم يوازې په خپل ځان پورې منحصر کړی، لکه چې فرمايي: «فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ» (نو ووايه چې غيب يوازې د الله لپاره دی). [يونس: ۲۰]

«قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ» (ووايه چې په اسمانونو او ځمکه کې له الله پرته بل هيڅوک پر غيب نه پوهېږي). [النمل: ۶۵]

«وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ» (او له هغه سره د غيب کيلی دي چې له هغه پرته بل هيڅوک پرې نه پوهېږي). [الانعام: ۵۹]

پنځم: الله تعالى روښانه کړې چې رسول الله ﷺ له وحې څخه بهر، نه له نورو کتابونو او نه له اهلِ کتابو څخه علم ترلاسه کاوه، لکه چې فرمايي: «وَمَا كُنْتَ تَتْلُو مِنْ قَبْلِهِ مِنْ كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذًا لَارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ» (او تا تر دې وړاندې نه مذهبي کتاب لوستی او نه دې په راسته لاس ليکلی، که داسې وای نو باطل پالو به شک کاوه). [العنکبوت: ۴۸]

د همدغو محکمو اصولو پر بنسټ، يو بنسټيزه پوښتنه راپورته کېږي: هغه بې شمېره روايتونه چې د بني اسرائيلو د کيسو، يا د تېر او راتلونکي د دقيقو غيبي جزيياتو په اړه دي او له قرآن کريم څخه بهر رسول الله ﷺ ته منسوب شوي، له کومه ځايه راغلل؟

ايا رسول الله ﷺ دا روايتونه له عبدالله بن سلام يا د يهودو له احبارو (عالمانو) څخه اخيستل او هغوی ته يې شاګردي کوله او بيا يې صحابه‌وو ته بيانول؟ ايا رسول الله ﷺ په قرآن کريم او د هغه په کيسو او وحې کې د کمښت احساس کاوه چې د بني اسرائيلو په اوږدو روايتونو سره يې د ځان او

صحابه‌وو تنده ماتوله او په دې توګه يې ځان له خپل اصلي ماموريت (د نازل شوې وحې رسولو) څخه په نورو خبرو بوختاوه؟

دا پوښتنې پر ځای دي، د هغو کسانو لپاره چې قرآن د خپل معيار او حاکم په توګه مني، ځواب يې ډېر روښانه دی. مګر ستونزه د "رواياتي واکمنۍ" په تېرې او تراکم کې ده، چې دا روايتونه پر يوه مسلط کلتور بدل شوي، تر دې چې د قرآن تر نص وړاندې کېږي او قرآن د همدغو روايتونو په رڼا کې تأويلېږي.

قرآني معيار او د رسول الله ﷺ ثابت عملي سنت — چې اخلاق يې پخپله قرآن و — دا ردوي چې هغه ته دې دا ډول روايتونه منسوب شي، که څه هم د روايت کوونکو يوه لويه جمع يې پر ثقه والي اتفاق وکړي؛ ځکه چې الله په قول او خبره کې تر ټولو رښتونی دی. نو ځکه، "سند" — که هر څومره يې د قوت په اړه وويل شي — د قرآني معيار په وړاندې هيڅ ارزښت نه لري، ځکه سند پر ظن او اجتهاد ولاړ دی، په داسې حال کې چې قرآن په خپلو اصولو او کلياتو کې قطعي الثبوت او قطعي الدلالت او پر هر څه حاکم دی.

له همدې امله، بايد پر هغو کيسه ييزو او غيبي روايتونو له سره کتنه وشي چې له سنتو سره نښلول شوي او رسول الله ﷺ ته په دې ادعا منسوب شوي چې ګواکې هغه به له قرآن څخه بهر دا کيسې صحابه‌وو ته کولې. د دې پر ځای چې د سندونو د ظاهري صحت په نوم له دغو روايتونو دفاع وشي او راويان له نقد څخه خوندي وساتل شي، بايد په دې پسې وګرځو چې څنګه "وضاعانو" (دروغجنو)، قصه‌ګويانو او اسرائيلياتو په نبوي احاديثو کې نفوذ وکړ، پر صحابه‌وو يې پورې کړل او بيا يې تر نبي کريم ﷺ پورې ورسول، تر دې چې د قرآن د نص په مقابل کې پر مرجع او کلتور بدل شول.

د دې ځينې بېلګې چې د غيب په اړه مشهورې دي او د امت په منځ کې په عامه توګه د مسلماتو په توګه منل شوې دي، دا دي:

د مسيح دجال خرافات. د مهدي منتظر خرافات.

د موسی (ع) او د مرګ د ملکې کيسه او د هغې د سترګې ايستل.

د ړانده، پيس او ګنجي /پک کيسه.

د هغو درېو کسانو کيسه چې په زانګو کې يې خبرې کړې وې.

د جريج او د هغه د مور کيسه.

د آدم (ع) د پیدا کېدو او له هغه سره د خپلې مېرمنې د خیانت کیسه.
هر هغه روایت چې په دې پیلېږي: "د بني اسرائیلو یو سړی و."...
هر هغه روایت چې د اهل کتابو غیبي خبرونه پکې وي.
هر هغه روایت چې نبي کریم ﷺ ته په غیب کې د جزییاتو علم منسوبوي، که هغه فتنې وي او که نورې پېښې.

په دې کې هغه روایتونه هم شامل دي چې د راتلونکي د دقیقو پېښو په اړه خبرې کوي، لکه: "تر هغه قیامت نه راځي چې د فرات سیند وچ نشي او د سرو زرو غر ترې راښکاره نشي"، یا هغه روایت چې وایي قیامت په سل کلنۍ کې راځي: "د سلو کلونو په پوره کېدو به پر ځمکه هیڅوک پاتې نشي"، سربېره پر دې د فتنو او ملاحمو (لویو جنګونو) بې شمېره احادیث چې په اخر زمان کې به واقع کېږي، کوم چې د همدغو خرافاتو او درواغو د رښتیا کولو لپاره یې مسلمانان یو د بل په وژلو او ذبحه کولو اخته کړل. دا پایلې شاید ټکان ورکوونکې وي، خو دا یو "قرآني ټکان" دی چې انسان د دوو لارو پر سر دروي: یا به د الله تعالی خبره مني او یا د راوي.

اصلي پوښتنه دا ده: ایا یو مسلمان د خپل ایمان د بشپړولو لپاره له قرآن څخه بهر غیبیاتو ته اړتیا لري؟ او ایا اسلامي عقیده پر دغو متضادو او نارامه روایتونو ولاړه ده؟

واقعیت شاهد دی چې د دغو روایتونو ډېری یې په متن کې اضطراب لري، له حس او مشاهدې سره په ټکر کې دي او په جزییاتو کې سره مخالف دي؛ چې دا هر څه د دې غوښتنه کوي چې دا روایتونه تصفیه او رد شي، نه دا چې په تعصب سره ومنل شي.

هغه پایله چې تېښته ترې نشته، دا ده: رسول الله ﷺ د قرآن د قطعي نص له مخې پر غیب نه پوهېده، نه پر تېر او نه پر راتلونکي، مګر یوازې د قرآن د وحې له لارې. هر څوک چې په دې قرآني حقیقت کې مجادله کوي، هغه پر نصوصو داسې بار اچوي چې د زغم وړ یې نه دي، هغه د ظني روایتونو په ګټه تأویلوي او الله او رسول ته داسې څه منسوبوي چې د هغو له شانه سره نه ښایي.

له همدې امله، د دې ستر دین کلي لوستنه/شننه موږ ته دا لاره ښیي چې بېرته د قرآن مرکزیت و حاکمیت ته وګرځو او هغه له هغو درنو تراکماتو پاک کړو چې ورپورې ښلول شوي دي او هغه خبیث لاسونه پرې کړو چې غوښتل یې د نبوي سنتو د څېرې په مسخه کولو سره پر هغو برید وکړي. یوازې په همدې منهج (طریقه) د رسول الله ﷺ له سنتو څخه دفاع کېدای شي، نه په تقلید، تعصب او له حقیقت څخه په تېښته.

د ډاکټر عمار الحریري د لیکنې ترجمه

۲۲/۴/۲۰۲۶

## حدیث او سنت

**(د علامه سید سلیمان ندوي له نظره)**

### د حدیث او سنت ترمنځ توپیر

نن سبا خلك په عمومي توګه د حدیث او سنت ترمنځ توپیر نه کوي، چې له امله یې لویه مغالطه پیدا شوې ده. حدیث هر هغه روایت ته ویل کېږي چې د نبوي ذات په تړاو بیان شي، که هغه یوځل پېښه شوې وي یا یوازې یو کس بیان کړې وي؛ خو سنت په اصل کې د «عملي تواتر» نوم دی. یانې د رسول الله ﷺ هغه عملي حالت او کیفیت چې له پیله تر ننه په عملي توګه نقل شوی دی.

رسول الله ﷺ په خپله عمل وکړ، تر ده وروسته صحابه کرامو (رض) وکړ، بیا تابعینو وکړ. نو ویلای شو چې دا د ژبني روایت په توګه متواتر نه دی، خو په عملي توګه متواتر دی. همدې متواتر عملي کیفیت ته سنت ویل کېږي.

فرض کړئ، رسول الله ﷺ د لمانځه تر فرضیت وروسته ټول عمر په ورځ کې پنځه وخته لمونځ کاوه، تر ده وروسته د ټولو صحابه وو، تابعینو او د ځمکې د ټولو مسلمانانو طرز عمل همداسې پاتې شو؛ د هغو هم چې د بخاري او مسلم تر تالیف وړاندې وو او د هغو هم چې تر دوی وروسته پیدا شول. دا لمونځ که د اصطلاحي «روایتِ متواتره» له مخې ثابت وي او که نه، خو د «عملي تواتر» له مخې بې له کوم شك او شبهې ثابت دی.

هیڅوك دا نشي ویلای چې د پنځو وختونو ټاکنه او د لمانځه طریقه د بخاري، مسلم، امام ابوحنیفه یا امام شافعي په وجه د مسلمانانو په منځ کې رواج شوې ده؛ حال دا چې دا هغه عملي حقیقت دی چې که بخاري او مسلم په نړۍ کې نه وای، بیا به هم په همدې ډول عملي ثابت وای. که فرضاً په نړۍ کې د احادیثو یوه پاڼه هم نه وای، بیا به هم دا لړۍ همداسې روانه وه. د احادیثو تالیف یوازې د دې طرز عمل تاریخي حیثیت داسې کړی دی چې انکار ورنه نشي کېدلی. نو ایا دا د دې لپاره چې کوم محدث په دویمه یا دریمه پېړۍ کې دا عملي کیفیت په الفاظو کې ثبت کړ، دې تواتر خپل اعتبار له لاسه ورکړ؟

**د سنت حقیقت**

له دې توپیر څخه معلومه شوه چې د سنت او حدیث ترمنځ ستر توپیر شته. حدیث د روایت حیثیت لري او سنت د عملي تواتر نوم دی. د احادیثو په څېر د قرآن کریم وضعیت هم همداسې دی. قرآن حکم کوي: "أَقِيمُوا الصَّلاَةَ" (لمونځ وکړئ)، د دې تفصیلات په نورو ځایونو کې هم راغلي دي. د همدې حکم مطابق رسول الله ﷺ لمونځ وکړ او ویې ویل:"صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي" (لمونځ هماغسې وکړئ لکه تاسو چې یې ما پر کولو وینئ.)

رسول الله ﷺ ټول عمر په همدې توګه لمونځ وکړ او ټولو صحابه وو او امت هم په همدې ډول لمونځ کوي. د قرآن کریم د الفاظو کوم عملي تصاویر چې رسول الله ﷺ وړاندې کړل، هغه سنت دی. دا د قرآن کریم عملي تفسیر دی، چې مقام یې د احادیثو له لفظي روایتونو څخه په درجو لوړ دی.

**احادیث له قرآن څخه اخیستل شوي**

زما عقیده د ګڼو محققو علماوو په څېر دا ده چې د احکامو او اخلاقو په اړه په صحیح احادیثو کې چې څه شته، هغه ټول له قرآن څخه استنباط او اخیستل شوي دي. څنګه چې دا د صاحبِ وحي (رسول الله ﷺ) د الهي تایید او رباني شرحې په رڼا کې استنباط دی، نو د ثبوت په شرط، دا هم یقیني او د عمل وړ دي. د قرآن په اصطلاح کې دې ته «تبیین» ویل کېږي.

**د احادیثو ډولونه او د بحث وړ برخې**

راځئ وګورو چې په احادیثو کې څه شته او کومه برخه یې د بحث وړ کېدای شي:

۱ .تاریخي برخې: د احادیثو لویه برخه تاریخي ده، یانې د رسول الله ﷺ او صحابه وو د ژوند پېښې دي. دا د نړۍ د نورو تاریخونو په څېر مستند او معتبر تاریخ دی، چې له دې زیات معتبر بل تاریخ نشته.

۲ .اخلاق او احکام: په دې کې د عقل او حکمت خبرې دي (لکه د دروغو بدوالی، د عدالت تعریف او داسې نور)

۳ .عقاید: د اسلام له یوې وړوکې فرقې پرته، هیڅوک دا نه مني چې عقاید دې له قرآن پرته په بل څه ثابت شي. ځکه عقیده د یقین نوم دی او یقین یوازې په وحی ثابتېږي. نو عقاید یوازې په قرآن یا متواترو احادیثو ثابتېږي، چې د احادیثو په منځ کې د متواترو احادیثو شمېر خورا کم دی.

۴ .احکام: د احکامو لپاره «مستفیض» احادیث د کار وړ دي.

(اخځلیک: د سید سلیمان ندوي (رح) "سنت" مقاله، معارف مجله، اګست ۱۹۲۹ز.)

## د "عربي لسان" مانا څه ده؟

**د "لسان" مانا :**دا د معرفتي اړيکو ژبه ده .**د "عربي" مانا :** په ټولـو علومـو کـې د معرفتـي اړيکـو ټولې ژبې.

**بېلګې :**١ -يو ساختماني انجنير له بل انجنير سره د انجنيرۍ په ژب خبرې کوي او ورته وايـي: «د غوڅوونکو قواوو وېش پرمېخونو/پېچونو/تارونو وکړه، اما د تاوېدو عزمونه/قوې پر ولډنګ بار کـړه، ترڅو يو کلک پيوند رامنځته شي.»

دا د انجنيرۍ د علم لسان دی؛ تاسو دا ولوستل خو په دې لسان پوه نه شوئ، سره لـه دې چـې زه ستاسو په ژبه خبرې کوم.

٢ -د بيالوژي لسان: «حجره له سيتوپلازم څخه جوړه شوې چې په پلازمي غشا پوښل شوې وي او تخصصي غړي (لکه مايتوکاندريا او هسته) لري ترڅو د ژوند فعاليتونه، تنفس او د انرژۍ توليـد اداره کړي. حجرې له بيولوژيکي ماليکولي اجزاوو جوړې شوې دي، له پخوانيو حجرو څخه د وېـش لـه لارې رامنځته کېږي او جوړښت يې د هستي لرونکو او بې هستي لرونکو ترمنځ توپير لري.

دا د بيولوژي علم لسان دی، يوازې هغه څوک پرې پوهېږي چـې دا علـم يـې لوسـتی وي او چـا چې نه وي لوستی نه پرې پوهېږي.

همدا ډول کله چې موږ د يو چاکور ته ورشو، خو خبرې ورسره ونه کړو، بيا چې کله رخصت شو نو وايو: «د هغه لسانِ حال ويل چې هغه غريب، بې وزله او مسکين دی»، ځکه يخچال يې خالي و، نه مو ټلوېزيون وليد او نه مېز، يوازې يوه پوزۍ وه چې ورباندې ويدېده، هيڅوک يې پالنه نـه کـوي ځکه کور چټل و چې دا په کور کې د ښځې د نشتوالي دليل دی؛ هغه موږ سره خـبرې ونـه کـړې او موږ هم ترې څه ونه پوښتل، خو د هغه د حال لسان موږ ته خبر راکړ.

نو اې ورونړو! "لسان" له "ژبې (Language) "سره تړاو نه لري، ژبه د لسان د هغې پراخې او عامې مانا يوه ډېره کوچنۍ برخه ده چې د معرفتي اړيکو ټولې ژبې رانغاړي.

زما په خيال د "لسان" مانا اوس روښانه شوه.

**اوس د "عربي" مانا :**الله تعالی فرمايي:

**وَمِمَّنۡ حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مُنَٰفِقُونَۖ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِۖ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡ...**

دې ايت ته پام وکړئ؛ د مدينې خلک "اعراب" نه دي، د هغوی شاوخوا کلي (قری) "اعراب" بولي .البته قرآن د هغو لپاره چې په دښته (باديه) کې ژوند کوي د "بدو"کلمه کاروليې او د هغو لپاره چې په ثابته سيمه کې ژوند کوي د "حضر"کلمه کاروليې؛ د يوسف (ع) ورونه يې له "بدو" څخه "حضر" ته راوستل. نو ځکه د "اعراب"کلمه د ښار او کلي ترمنځ توپير ته ځانګړې ده.

د ښار او کلي د اوسېدونکو ترمنځ توپير په "تنوع او تعدد"کې دی. کلی د ژوند يو ډول لري، په توليد کې تنوع نشته. په ښار کې به ډاکټران، انجنيران، آهنګران، ترکاڼان، معماران، فابريکې او کارخانې مومئ. له همدې امله د ښار خلک "اعراب" نه دي، بلکې "عرب" دي؛ دوی ټول هغه وسايل چې ورته اړتيا لري راټول کړي دي، هر څه چې غواړئ هلته يې مومئ. د کلي خلاف، هلته به نه ډاکټر ومومئ او نه آهنګر او نه هم ډېر نور هغه څه چې اړتيا ورته لرئ. نو د ښار خلک "عرب" دي ځکه خپلې ټولې اړتياوې يې پوره کړې دي.

دا مانا چې قرآن "عربي لسان" دی، يانې دا چې دا د فزيک، کيميا، انجنيری، طب، فلسفې، ادب، ژبو، تجارت او کرنې لسان دی او هر لسان په قرآن کې شتون لري، ځکه د "عربي" مانا د لسان ټولې اړينې بڼې دي. دا پدې مانا ده چې ته ټولو پوهانو (علماوو) ته اړتيا لرې ترڅو پکې تدبر وکړي. هر شخص جلا لسان، جلا علمي او معرفتي ژبه لري، نو دا قرآن د ټولو علومو د معرفتي اړيکو د ژبو پر بنسټ رغېدلی دی. يانې دا چې په قرآن کې ټول معرفتي علوم په بشپړه توګه شته. مطلب په قرآن کې تدبر به له علم او علمي پرمختګ سره تر قيامته پورې دوام لري. يانې دا داسې

کتاب دی چې الله پکې هيڅ شی نه دي پرېښې (فرط)، يوازې موږ بايد پر هغو (Algorithms) پوه شو چې هر علم په تورو او کلمو بدلوي. ياني زموږ په وړاندې اوږده لاره ده او موږ لا په پيل کې يو.

پر دې دليل د الله تعالی دا قول دی:

أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ آيَةً أَن يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ

نو الله تاسو ته فرمايي: ايا دا ستاسو لپاره يوه نښه او علامه نه وه چې د بني اسرائيلو عالمان (علماء) کولای شي په قرآن کې تدبر وکړي او هر څه ترې استنباط کړي؟ ايا نن نه گورئ چې انجنيران، ډاکټران او د پوهنتونونو فارغان (أولو الألباب) تاسو ته راوځي، تاسو ته قرآن ښيي او درته ثابتوي چې ستاسو اوسنی دين (چې تاسو ورباندې ياست) تحريف شوی دی؟

«علماء» مذهبي کسان (رجال الدين) نه دي؛ د مذهبي کسانو نوم په قرآن کې «أحبار، رهبان او کهنه» دی، دوی ټول ستاسو په څېر دي، هيڅوك يې پر هغه څه نه پوهېږي چې څلورم نيکه يې ويلي و او بيا هم تاسو ته د ۱۵۰۰ کاله مخکې د نبي د زمانې کيسې کوي؛ دروواغ درته تاييدوي، نه پرې علم لري، نه هدايت او نه روښانه کتاب. دوی هيڅ داسې لرغونې نسخه (مخطوط أثر) نه لري چې پر الله باندې د دوی درواغ ثابت کړي.

دا دليل چې مذهبي کسان "علماء" نه دي، د الله تعالی په دې قول کې روښانه دی:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا ۚ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ (٢٧) وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ...

وگورئ دا ايت د بيالوژي، طبيعت او جيولوژي د عالمانو په اړه خبرې کوي؛ د خاورو ډولونه، غرونه، د نباتاتو او حيواناتو تنوع او د انسانانو د رنگونو او ځانگړنو اختلاف. دا ټول سوچه علمي مسايل دي چې مذهبي کسان (رجال الدين) پرې نه پوهېږي. نو له دغه ايت څخه ښکاري چې

"علماء" د علمي او معرفتي پوهنتونونو فارغان دي، نه هغه أحبار او رهبان چې ډله يې وايي "فلاني وويل او فلاني وويل."

**عرب د بني اسرائيلو له امتونو څخه وروستی امت دی چې نذير (وېروونکی) ورته نه و راغلی:**

الله تعالی فرمايي:

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ

قرآن عربو ته کيسې کوي او عرب مخاطبوي، عرب د بني اسرائيلو هغه وروستی امت دی چې له دوی څخه پکې پيغمبر نه و مبعوث شوی. الله تعالی فرمايي:

لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ

ټول کتاب د بني اسرائيلو ذکر دی، تر دې چې که څوک پرې پوه نه وي، د بني اسرائيلو د زيات ذکر له امله به گمان وکړي چې دا تورات دی.

الله تعالی فرمايي:

ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ تَمَامًا عَلَى الَّذِي أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ... (۱۵۴) وَهَٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ... (۱۵۵) أَن تَقُولُوا إِنَّمَا أُنزِلَ الْكِتَابُ عَلَىٰ طَائِفَتَيْنِ مِن قَبْلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمْ لَغَافِلِينَ

دا ايتونه د موسی د قوم يانې بني اسرائيلو په اړه خبرې کوي او د بني اسرائيلو پر داسې وروستي امت پای ته رسېږي چې په خپله ژبه کتاب نه لري.

الله تعالی فرمايي:

**إِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم ... وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ...**

دلته ټول خطاب بني اسرائيلو ته دى او ټول ضميرونه بني اسرائيلو ته ګرځي او د "احمد" زېرى هم بني اسرائيلو ته و. الله تعالى فرمايي:

**وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ (٥٧) وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ... (٥٨) إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ.**

الله عيسى (ع) په راتلونکي کې د بني اسرائيلو لپاره يو مثال وګرځاوه او د ايت په پيل کې يې هغه د "عربو" لپاره مثال وباله؛ نو هغه په قرآن کې د عيسى مثال يوازې د عربو لپاره وړاندې کړی دی. يانې دا چې عرب له بني اسرائيلو څخه دي ځکه هغوی د رسول قوم دی چې الله ورته عيسى (ع) مثال وګرځاوه.

الله تعالى فرمايي:

**وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ**

«امم» يانې هر امت جلا کلتور او ژبه لري. «أسباط»: يانې د دغو دولسو امتونو ترمنځ ناپېژندل شوي نسبونه (أنساب مجهولة)، يانې له دوی څخه هيڅوك نه پوهېږي چې هغه له بني اسرائيلو څخه دی او د بني اسرائيلو له نورو قومونو سره خپله اړيکه نه پېژني؛ يانې په ليرېوالي، تسلسل او جلاوالي کې زياتوالی.

بني اسرائيل دولس امتونه دي، نه يو ځانګړی قوم.

او د عربو امت د بني اسرائيلو له دولسو امتونو څخه يو امت دی.

**عمار عبدالله**

# د پیغمبرانو پټ علم

ایا پوهېږې که پیغمبرانو غیب (پټ علم) لرلای، نو دا به د دوی لپاره یو مصیبت و؟

الله سبحانه و تعالی موږ ته یو ستر قرآني مثال وړاندې کړی چې که پیغمبران په غیبو خبر وای، نو څه به پېښ شوي وای!

الله تعالی یو داسې استازی (رسول) واستاوه چې د خلکو په اړه یې د غیب لږ علم درلود: {فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا}

(بیا دوی دواړو زموږ له بندګانو څخه یو داسې بنده ومونډ چې موږ له خپل لوري ورته رحمت ورکړی و او له خپل ځانګړي علم څخه مو پوهه ورکړې وه.) دا یو غیبي علم و، چې مستقیم له الله څخه ورکړل شوی و. هغه بنده کښتۍ سورۍ کړه، هلک یې وواژه او دېوال یې جوړ کړ. موسی (ع) سره له دې چې رسول، نبي او کلیم الله و، خو بیا یې هم د دغه پیغمبر پر کړنو صبر ونه کړای شو، بلکې په درې واړو کارونو یې اعتراض وکړ. سره له دې چې موسی (ع) پوهېده چې دا بنده د الله له لوري یو استازی دی، بیا یې هم پرې نیوکه وکړه، تر دې چې هغه ورته وویل: "دا زما او ستا ترمنځ د بېلتون وخت دی." موسی (ع) ډېره هڅه کوله چې دا ملګرتیا پای ته ونه رسیږي او هر ځل به یې ویل چې "ما به صابر ومومې"، خو صبر یې ونه کړای شو. {وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا}

(او ته به په هغو شیانو څنګه صبر وکړې چې په حقیقت یې نه یې خبر؟)

نو ستا به څه حال وای که د الله د یو پیغمبر په زمانه کې وای او لیدلي دې وای چې هغه یوه کښتۍ سوري کوي؟ خامخا به دې پرې د بد انسان تهمت لګاوه چې د خلکو بد غواړي. که دې لیدلي وای چې یو هلک (بې ګناه نفس) وژني، خامخا به دې هغه ظالم مجرم باله، که هر څومره یې درته دلایل ویلي وای. او که دې لیدلي وای چې یو نړېدلی دېوال بې له اجره جوړوي، نو په لیونتوب به دې تورن کاوه. له همدې امله دا درې پېښې د دوو پیغمبرانو ترمنځ وشوې؛ ځکه که دغه نبي هغه څه چې کړي یې دي، د خلکو په مخ کې کړي وای، شاید هماغه ځای کې یې وژلی وای، ځکه د هغه

کړنې د سالم انساني فطرت له مخې بدې ګڼل کېدې. موسی (ع) چې په خپله یـو سـتر مقـام درلـود، صبر یې ونه کړ، نو د عامو خلکو به څه حال وای؟

**د حیرانتیا خبره دا ده**

دا درې واړه پېښې پخوا پخپله له موسی (ع) سره هم شوې وې، خو هغه ورته پام نه و. ګواکې هغه نبي موسی ته وایي: ای موسی! په ما اعتراض کوې چې کښـتۍ مـې سـورۍ کـړه ترڅـو یـې لـه هغـه غاصب باچا څخه وژغورم؟ ایا هغه وخت دې هېر شو چې مور دې ته پـه یـو صـندوق کـې واچـولې ترڅو دې له فرعون او د هغه له لښکرو څخه وژغوري؟ په ما اعتراض کوې چې هلك مې وواژه؟ ایـا خپل ځان دې هېر شو چې پخوا دې یو فرعوني وژلی و؟ په ما اعتراض کوې چې بې له مزدورۍ دې دېوال جوړ کړ؟ ایا هغه وخت دې هېر شو چې په مدین کې دې د هغو دوو ښـځو پسـونو تـه بـې لـه اجره اوبه ورکړې؟

دا ښکاره دلیل دی چې پیغمبران په غیبو نه پوهیږي؛ بلکـې حتـی د خپـل ژونـد پـه غیبـو هـم نـه پوهیږي. سلیمان (ع) چې پر انسانانو او جنیاتو یې پاچاهي کوله، خو کله چې یوه مرغۍ تـرې غایبـه شوه، په غوسه شو او تهدید یې وکړ؛ هغه نه پوهېده چې دا مرغۍ په یو دعوتي ماموریـت بوختـه ده. یعقوب (ع) د یوسف (ع) په بېلتون کې سترګې له غمه سپینې کړې؛ که هغـه پوهېـدای چـې یوسـف (ع) د مصر عزیز دی، زړه به یې له خوشحالۍ پړك وهلی و. ابراهیم (ع) له ملایکو سره ناست و خو هغه یې نه پېژندې. یونس (ع) که پوهېدای چې کب به برید پر کـوي، هیڅکلـه بـه یـې د خپـل قـوم دعوت نه پریښود.

حتی د الله رسول (ص) هم پر دې نه پوهېده چې څوك مومن دی او څوك منافق:

{**وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ۖ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ**...}

او ستاسو پر شاوخوا له ځینې اعراب منافقان او ځینې له اهل مدینې څخه هم، دوی په نفـاق کـې ماهران دي، ته یې نه پېژنې، موږ دوی پېژنو.

او فرمایي: {**قُل لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ**...}

ووایه: زه ځان ته د ګټې او زیان واک نه لرم، مګر هغه چې د الله خوښه وي، که زه په غیبو پوهېدلی، ما به ځان ته ډېر خیر رسولی و او هیڅ بدي به راته نه رسېده.

حتی هغه نه پوهېده چې په اوس او راتلونکي کې به ورسره څه کیږي:

{قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ...}

ووایه: زه د رسولانو له لړۍ نوی نه یم، زه نه پوهیږم چې زما سره به څه کوي او ستاسو سره هم.

خو د الله تعالی دغه قول چې فرمایي: {عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا () إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ...}

په غیبو عالم، چې خپل غیب هیچا ته نه ښکاره کوي، مګر هغه چې دی یې د رسول په توګه غوره کړي.

دلته د "رسول"کلمه "نکره" راغلې ده؛ نو کیدای شي دا هغه استازی وي چې موسی (ع) ته یې د هغو غیبي پېښو لپاره استولی و، یا هم کیدای شي ملایکه وي. د نصوصو په پام کې نیولو سره زه دې نظر ته میلان لرم چې دا ملایکه ده. هغه غیب چې الله خپلو پیغمبرانو ته وحې کړی دی، هغه یوازې په قرآن کریم کې موندلی شئ؛ هغه څه چې د الله له کتاب څخه بهر دي، په هیڅ ډول د الله له لوري نه دي.

لیکوال: انس الشامي

## ایا قرآن موږ ته د PDF کتاب په څېر راغلی که د روایت له لارې؟

دا یو تکراري پوښتنه ده خو په نوي بڼه؛ دا پوښتنه زموږ په تصور کې د قرآن کریم د ماهیت او د هغه د ترلاسه کولو د سرچینې په اړه یو ژور خنډ رابرسېره کوي. ما تر دې وړاندې هم په څو ځایونو کې خبرې کړې چې قرآن "روایتي ماده" نه ده چې د خبرونو په څېر دې په سندونو سره انتقال شي، بلکې دا یو الهي کتاب دی چې د روایت له منطق څخه لوړ دی، په خپل نص کې خوندي دی، د خپل رب په امر تړول شوی، په خپل ځان ولاړ دی چې د ظن (گمان) او اجتهاد وسایطو ته اړتیا نه لري.

صحابه کرامو قرآن په هغه اصطلاحي مانا نه دی "روایت" کړی چې موږ یې د حدیثو په علم کې پیژنو، بلکې هغوی دا د داسې یو کتاب په توگه ترلاسه کړی چې د رسول الله ﷺ په وړاندې به لیکل کېده، د وحې تر څارنې لاندې به ورباندې مراجعه کېدله او په یو وخت کې په سینو او پاڼو کې ساتل کېده، ترڅو په هماغه بشپړه بڼه ثبات ومومي چې نن زموږ په لاسونو کې دی.

هره هغه ادعا چې قرآن د روایت په مرتبه کې راولي، له دوو ښکاره حقیقتونو سره په ټکر کې ده:

**لومړی: د سترگو لیدلی واقعیت**

قرآن یو واحد کتاب دی، د نړۍ په ټولو گوښو کې یو شان دی، په نص کې یې اختلاف نشته، نسخې یې څو ډوله نه دي او په جوړښت کې یې گډوډي نشته. دا داسې یوه ځانگړنه ده چې په هغه نص کې نشي پلي کېدای چې د بشر تر روایت لاندې وي، ځکه انساني روایت په خپل طبیعت کې پر تعدد، اختلاف او احتمال ولاړ وي.

**دویم: پخپله د قرآن نص**

ځکه الله تعالی د هغه د ساتنې، ټولولو او قرائت په اړه په ډاگه فرمايي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ [بېشکه موږ دا ذکر (قرآن) نازل کړی او بېشکه موږ یې ساتونکي یو].

﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ () إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ () فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ()﴾ [خپله ژبه ورسره مه خوځوه چې په (زدکړه کې) يې بيړه وکړې، بېشکه پر موږ يې ټولول او لوستل دي، نو کله چې موږ هغه ولولو، ته يې د قرائت پيروي وکړه].

دا ايتونه د "روايتي ليږد" په اړه نه، بلکې د يو مستقيم الهي فعل په اړه خبرې کوي: ټولول، لوستل او ساتل. دا چاره قرآن د ظن (گمان) له دايرې وباسي او د قطع (يقين) دايرې ته يې داخلوي.

سره له دې، که موږ د بحث لپاره دا ومنو چې قرآن په هماغه طريقه راغلی لکه روايتونه چې راغلي، نو دا انگېرنه د يو لړ اساسي پوښتنو په وړاندې نړيږي:

* لومړی: د قرآن په ليږد کې د حديثو د لويو راويانو (صحابه کرامو) رول چيرته دی؟ که قرآن مروي وای، نو د ابو هريره، ابن عمر، ابن عباس او انس بن مالك نومونه به يې په سندونو کې د حديثو په څېر ځلېدلي وای. خو موږ د قرآن داسې سندونه نه مومو چې پر دوی راڅرخېږي او اصلاً قرآن د دوی له لارې نه پيژندل کيږي.

* دويم: ولې احاديث په هغه ډول کلك او دقيق نه دي نقل شوي لکه څنگه چې قرآن نقل شوی؟ که ناقلين يو وي، نو د يو خوندي نص چې هيڅ اختلاف پکې نشته او د هغو نصوصو ترمنځ چې گډوډي او اختلاف پرې غالب دی، دا دومره لوی توپير ولې دی؟

* دريم: ولې محدثينو قرآن پخپلو قواعدو برابر نه کړ؟ که قرآن يو روايتي نص وای، نو بايد د هغه سندونه پلټل شوي وای، علتونه يې لوستل شوي وای او پر راويانو يې بحث شوی وای لکه په حديثو کې چې يې وکړل. خو دا کار ونه شو، ځکه هغوی په عملي ډول پوهيدل چې قرآن له دې بابه نه دی.

* څلورم: د ايتونو او سورتونو سندونه چيرته دي؟ که "سند له دين څخه وي"، نو د فاتحې، بقرې او آل عمران سندونه چيرته دي؟ او ولې قرآن په دې بڼه نقل نه شو چې: پلاني له پلاني څخه موږ ته روايت وکړ؟

* پنځم: ولې ځينې هغه روايتونه چې په "صحاحو"کې راغلي، د دې پر ځای چې د قرآن د يو خوندي نص په توگه ستاينه وکړي، هغه ته يې د کمښت يا گډوډۍ له اړخه زيان رسولی؟ چې پايله يې د عام امت او په سر کې د هغو کسانو لخوا رد او غندنه وه چې د قرآن د روايت ادعا کوي.

او په پای کې، موږ دا ايتونه د نبوت په زمانه کې څنگه وفمهوو، په داسې حال کې چې قرآن دا حقيقت ثابتوي:

﴿إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ * فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ﴾ [واقعة: ۷۷–۷۸] (بېشکه دا يو ډېر عزتمن قرآن دی، په يو پټ (خوندي) کتاب کې دی).

﴿بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ * فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ﴾ [بروج: ۲۱–۲۲] (بلکې دا يو ډېر لوړ مقام لرونکی قرآن دی، په لوح محفوظ کې دی).

دا نصوص د "خوندي کتاب" د مفهوم بنسټ بڼدي، نه د هغه "روايتي نص" چې لاس په لاس کيږي.

اصلي نيمګړتيا پخپله په پوښتنه کې نه ده، بلکې په هغه فاسد قياس کې ده چې قرآن د روايت په څېر ګڼي او د هماغه منطق تابع يې ګرځوي. قرآن کوم خبر نه دی چې نقل شي، بلکې يوه وحې ده چې تلاوت کيږي، يو پر ځان ولاړ کتاب دی او داسې معجزه ده چې د الله په ساتنه خوندي ده، نه د راويانو په ساتنه.

الله تعالی پرېکړه کوي چې قرآن په کتاب او لوح کې خوندي دی، خو زموږ مرجعي انحراف تر دې حده ورسيد چې د دې ايتونو ماناوې باطلې کړو، ترڅو د داسې روايت ملاتړ وکړو چې له قرآني نص سره مقابله کوي او د هدايت په سرچينه کې ورسره ټکر کوي.

الله دې پر "العلواني" رحم وکړي کله چې هغه اشاره وکړه: ځينو اهلِ حديثو کله چې وغوښتل د روايت شان لوړ کړي او د هغوی تګلاره پياوړې کړي؛ نو تېنګار يې وکړ چې قرآن "مروي" (روايت شوی) دی.

له لوی الله څخه غواړم چې دې امت ته د خپل رب پر کتاب د غيرت او هغه ته د بيرته راستنيدو سمه لاره وښيي.

ډاکټر عمار الحريري

## د عند الله اصطلاح

### په دريو هکښوونکو ځايونو کې راغلې ده:

د دين، عيسی (ع) او موسی (ع) په اړه.

په دې درې واړو ځايونو کې دا کلمه د خلکو د تورونو په ځواب کې راغلې او په درې واړو کې د خلکو د عقيدې د سمون لپاره ذکر شوې ده.

۱. د دين په اړه: {إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ...}

پام وکړئ: داسې يې ونه فرمايل چې «دين اسلام دی»، بلکې ويې فرمايل: «د الله په وړاندې (عند الله) دين يوازې اسلام دی.» خو د خلکو په وړاندې بيا بېلابېل دينونه دي او دا د افسوس ځای دی چې نن سبا د بشر واقعيت همدا دی.

تاسو به وګورئ چې هره ډله، هر مذهب، هر حزب او هره طايفه، بلکې هر لس کسان د خپل مزاج مطابق يو دين پخوي، پخپله يې هم مني او خلك هم ورته رابولي؛ که څوك ترې مخ واړوي، هغه کافر او بې لارې ګڼي او تر هغو ترې نه راضي کيږي چې د دوی د لارې پيروي ونه کړي. له همدې امله الله تعالی وفرمايل: (إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ). هغه څه چې خلك يې پخپله جوړوي او ليکي، هغه به د خلکو په وړاندې وي، مګر د الله په وړاندې د ماشي د وزر هومره وزن هم نه لري.

نو له آدم (ع) څخه نيولې د قيامت تر ورځې پورې، د الله په وړاندې دين يوازې اسلام دی او د الله ټولو رسولانو او پيغمبرانو يوازې د اسلام پيغام راوړی دی.

۲. د عيسی (ع) په اړه: {إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ}

پام وکړئ: دا يې ونه فرمايل چې «د عيسی مثال د آدم په څېر دی»، بلکې ويې فرمايل: «د عيسی مثال د الله په وړاندې (عند الله) د آدم په څېر دی.»

ځکه د خلکو په وړاندې خو عيسی (ع) رب دی، معبود دی او داسې نور...

ګواکې الله تعالی د دې پيغام له لارې فرمايي: د عيسی په اړه چې هر څه واياست، ووايئ، خو هغه «زما په وړاندې» د آدم غوندې دی چې له خاورې مې پيدا کړی دی.

لکه څنگه چې آدم رب نه دی، عیسی هم رب نه دی. لکه څنگه چې آدم مخلوق دی، عیسی هم مخلوق دی. لکه څنگه چې آدم مې په «کُن فیکون» (شه، نو شو) پیدا کړ، عیسی مې هم په «کُن فیکون» پیدا کړ.

نو څنگه عیسی ته د الهي مقام ورکوئ خو آدم ته یې نه ورکوئ؟ په داسې حال کې چې عیسی له مور څخه پیدا شو، خو آدم نه پلار درلود او نه مور! یانې که پر قیاس وي، نو آدم خو تر عیسی حقدار و، چې د خدایي مقام ورکړل شوی وای (العیاذ بالله).

نو په تاسو څه شوي، دا څنگه قضاوت کوئ؟!

۳. د موسی (ع) په اړه: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا قَالُوا ۚ وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا}

پام وکړئ: دا یې ونه فرمایل چې «هغه وجیه (مخور) و»، بلکې ویې فرمایل: «هغه د الله په وړاندې (عند الله) وجیه و.»ځکه د خپل قوم په وړاندې خو هغه مخور نه و، بلکې هغوی اذیت ورکاوه. (وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا) یانې هغه د الله په وړاندې صاحبِ عزت، مکرم او د لوړ مقام خاوند و.

**پایله:**

کېدای شي خلک ستا صفتونه وکړي خو ته د الله په وړاندې هیڅ نه یې او کېدای شي خلک ستا غیبتونه وکړي، بد در پسې ووایي، خو ته د الله په وړاندې «وجیه» او د لوړ مقام خاوند یې.

انس الشامي

## ولې موږ روايت ته د قرآن کريم معيار ګرځول ردوو؟

لومړی: ځکه چې موږ – په خپل عملي واقعيت کې – د الله تعالی پر کتاب باندې هغسې پوره باور نه دی کړی لکه څنګه چې ښايي؛ د هغه د کمال، تماموالي او دلالتونو حضور راسره نشته چې دا تـر ټولو سمه منزل ته رسېدوکې لار ده، د هر څه بيـان دی، الله پکـې هـيڅ شـی نـه دي پرېيښـي او دا د شريعت کليت او د حکمت سرچينه ده.

دويم: ځکه چې موږ – په عمل کې – د رواياتو دين د قرآن کريم د دين ځای ناستی کړ، تـر دې چې سند ته د سپېڅلتيا بڼه ورکړل شوه او د تقليد و د پلرونو د پيروۍ لپاره يوه لاره وګرځول شوه؛ پـه داسې يوه بڼه چې د الله تعالی له دې قول څخه لرې نه ده: (بَلۡ نَتَّبِعُ مَآ أَلۡفَيۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآ) [بلکـې موږ د هغه څه پيروي کوو چې خپل پلرونه مو پرې موندلي دي].

دريم: ځکه چې موږ خپل عقلونه او پاملرنه روايتونو ته واړوله، هغو ته مجلسونه او اجازې نيسـو، لکه د قرآن په څېر يو موازي دين؛ په مقابل کې يې د قرآن تدبر، د هغه ژوره څېړنه، د لوړې مرجع او د الله د نه ختميدونکي کلمې په توګه د هغه مطالعه شاته پاتې شوه.

څلورم: ځکه چې موږ ته – په منهجي ډول – داسې راښوول شوي چې د الله کتاب روايت ته اړتيا لري او دا چې روايتونه پر هغه حکم کوي، هغه نسخ کوي، مقيد کوي يې، تخصيص يې کوي او پـر ماناوو او تفسير يې واکمني کوي؛ نو پايله دا شوه چې د قرآن ځای کمزوری شو او دنده يې يوازې د جنازو، تلاوت، د خوش اوازۍ د سياليو او تشريفاتي مراسمو پورې محدوده شوه.

پنځم: ځکه چې موږ په هغه څه اختـه شـوو چې پخـواني امتونـه پکـې اختـه شـوي وو، يـانې د "تحريف او بدلولو" په آفت؛ نو پرته لـه دې چـې پـوه شـو، د "قـرآن د هجـر" (پرېښـودو) د صـفت مستحق وګرځېدو.

شپږم: ځکه چې موږ روايت په مطلق ډول د "نبوي سنتو" په مفهوم کې داخل کړ، سره له دې چې سنت – په اصل کې – د رسول الله ﷺ لخوا د قرآن کريم عملي پلي کول (تطبيق) دي. مګر هغه څه چې روايتونه، خبرونه يا احاديث بلل کيږي، هغه ظني (ګماني) نقلونه دي چې راويان او کره کتونکي

يې د کلمو په اختلاف، رفع او وقف، وصل او ارسال، د قبلولو او ردولو ترمنځ لاس په لاس کوي؛ او دا يوازې پر سند او حسنِ ظن (ښه گمان) ولاړ دي، نور هيڅ نه.

اووم: ځکه چې د قرآن معيار گرځول به – په لازمي ډول – د هغو ډېرو روايتونو د پرځيدو لامل شي چې د قرآن له ايتونو سره د مخالفت، يا د هغو د مقيد کولو، تخصيص کولو او يا د نسخ کولو د ادعا لپاره جوړ شوي دي.

نو قرآني معيار يو کلي او شامل معيار دی، چې پر داسې يو نظم ولاړ دی چې تضاد او ټوټه کېدل نه مني او په همدې اعتبار – پر هر څه حاکم دی؛ نو هر هغه روايت چې له دې نظم سره په ټکر کې وي، له اره رد دی.

د دې ټولو په رڼا کې ويلی شو چې د مسلمان عقل – د رواياتو د تراکم او د تقليد د واکمنۍ له امله – دې ته چمتو شوی چې له قرآنه سره (بې له دې چې پوه شي) په دښمنۍ کې پاتې شي؛ تر دې چې د قرآن په مرکزيت منگولې لگول تور وگرځېد، پخپله قرآن د پېغور سبب شو او د نورو شيانو په وړاندې د قرآن مخکې کول د شک ځای وگرځېد: (وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ) [او هر څوک چې د رحمن له ذکره سترگې پټې کړي، موږ پرې يو شيطان مسلط کوو، نو هغه به يې ملگری وي].

ډاکټر عمار الحريري

## د مرګ منظر

د اياتونو بيان په هغه ډول نه دی چې تاسو ته در پېژندل شوی دی، په هېڅ وجه!

دوی ويلي چې دا ايتونه: (كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ۞ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ۞ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ۞ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ)

د هغه چا په اړه خبرې کوي چې د مرګ په حال (سکراتو) کې وي؛ ساه يې ستوني ته رسېدلې وي، د داسې دمګړي (راقي) پوښتنه کوي چې له دغه حاله يې وژغوري، بيا يې پښه له پښې سره ونښلي (وتړل شي) ترڅو ښخولو ته چمتو شي او کيسه ختمه شوه!

بل چا درته ويلي: نه، بلکې د "التفت الساق بالساق" مانا دا ده چې د دنيا سختۍ د اخرت له سختيو سره يوځای شي.

لومړی:

په دغو ايتونو کې د مړينې د حال، مرګ او ښخولو يادونه چېرته ده؟!

بيا دا چې، ايا هر څوك چې مري، پښې يا لاسونه يې ورتړي؟ که داسې وای، نو دا به يو قرآني تشريعي لارښوونه وای چې د هر مړي پښې تړل واجب دي!!

دويم:

چا ويلي چې (وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ) د هغه چا غوښتل دي چې دوی ورته "شرعي دمګړی" وايي؟ ترڅو ورباندې يو څه ووايي يا ورته نور کارونه.

ايا شرعي دم (رقيه) آن ١٪ هم له مرګ څخه نجات ورکوي چې يو څوك د مرګ پر مهال دمګړی راوغواړي؟!

په داسې حال کې چې ايت وايي (إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ)، ايا موږ يې داسې وفهمو چې دا د دمګړي شتون ته ضرورت نيي، ترڅو دم يې کړي؟!

دريم:

او چا ويلي چې دلته د "تراقي"کلمه د هغه چا په مانا ده چې دوی ورته دمګړی وايي، څوك چې چوف کوي او د جادوګرۍ حرکتونه کوي!!

څلورم:

له کومه وخته "پنډۍ" (ساق) د سختۍ يا وېرې (هول) په مانا شوه؟!

پنځم:

موږ به کله له قرآنه په قرآن پوهېږو او له موروثي کيسو، روايتونو او ذهني انځورونو څخه بـه لاس اخلو؟!

**التراقي**

{كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ۞ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ}

"التراقي" او "راقٍ" له "ترقي" څخه دي، چې د پورته کېدو او لوړېدو په مانا ده.

دوی (مشرکانو) ویل: {أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِي السَّمَاءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ...}

(أَوْ تَرْقَىٰ فِي السَّمَاءِ) يانې اسمان ته پورته شې.

(وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ) او ستا په پورته کېدو به ايمان رانه وړو.

**بلغت**

(كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ) څه شی ورسېدی؟

ايا "نفس" دی لکه څنګه چې دوی ويلي دي؟!

هېڅکله، هېڅکله، هېڅکله نه!

بلکې ((مخونه)) ؛ ځکه ضمير تر ټولو نژدې ياد شوي نوم ته ګرځي.

وولولئ: (وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ۞ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ۞ كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ۞ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ)

نو هغه څه چې "تراقي" ته ورسېدل، همدا تريو (وېرېدلي) مخونه دي.

**التفت (ونښښتل/راټول شول)**

(وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ)؛ "الالتفاف" د يو شي راټولول او پرې چاپېرېدل دي، لـه سياق او مقـام سره سم تفسيرېږي.

{جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا...} يانې تاسو او دوی ټول مو يوځای راوستئ.

او اوس ټول بیان ته پام وکړئ:
دا لس ایتونه ولولئ او د بیان صحنه له ما سره تجربه کړئ:
{وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ () إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ () وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ () تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ () كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ () وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ () وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ () وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ () إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ () فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ () وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ}
دا ټوله صحنه د قیامت د ورځې له صحنو څخه یوه ده.
له (وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ) څخه تر (إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ) پورې.
اصلاً د سورت نوم "قیامة" دی ((دا په پام کې ونیسئ))، نو دا سورت د خپل نوم د محتوا په اړه د قیامت د صحنو په بیانولو کې غړېږي، چې یو یې همدا د تروو مخونو خاوندان دي.
کله چې سورت د نېکانو حال بیان کړ:
{وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ () إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ}
بیا یې د بلې ډلې یانې د مفسدینو حال بیان کړ:
{وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ () تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ...}
(وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ) وېرېدلي مخونه.
(تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ) باوري دي چې یوه لویه مصیبت وربانديې راتلونکی دی.
(كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ) دا مخونه حساب ته ورسېدل او پر تله (میزان) تېر شول، دلته نو {خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ} ده، ځینې خلک ښکته کوي او ځینې پورته (هر یو د خپل عمل مطابق).
(وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ) څوک دی چې موږ پورته کړي، لوړ مو کړي او نن مو وژغوري؟!
{وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ...}
(وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ) دلته "ظن" د کامل یقین په مانا دی.
هغو یقین یې وکړ چې دا بېلتون دی؛ له څه شي څخه بېلتون؟!

یقین یې وشو چې دا د حقیقي ژوند او دوزخ ترمنځ بېلتون دی. دا په رښتیا تـر ټولـو لـوی بېلتـون دی، دا د پرېکړې شېبه ده، ځکه تر څو شېبو وروسته بـه لـه ټلپـاتې ژونـد او نعمتونـو څخـه جـلا او تلپاتي نه زغمل کېدونکي دوزخ ته ننوځي.

له همدې امله {يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي}؛ ځکه حقیقي ژوند اخرت دی، نه لومړنی (دنیا) چې د ازمېښت ځای و.

{كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ... فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ} دا دی اصلي بېلتون.

او د هغه یقین نور هم زیات شو چې د عذاب خبره ورباندې ثابته شوه:

چې (وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ) پښې یې د دوزخ د ډلې له پښو سره وتړل شوې.

دا په ځنځیرونو تړل د دوزخیانو لپاره سپکاوی او ذلت دی:

{إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ}

{وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا}

{وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا...}

(إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ) یانې د خپل رب د فیصلې لور ته روان کړای شول.

ولې؟! څه یې کړي وو؟!

ځکه (فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ۞ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ)

نو هغه څه چې دغو مخونو ترې وېره لرله، بیان یې د ایتونو په دوام کې روښانه شو.

دا د ایتونو مفهوم دی.

دا د اخرت یوه صحنه ده، چې د هغو خلکو حال بیانوي چې مخونه او زړونه یې د خپلو کړنـو لـه امله له وېرې او ترهې ډک دي.

په ایتونو کې هېڅ داسې نښه نشته چې دا دې د ځنکندن، کفن کولو او قبر په اړه خبرې وکړي.

بلکې مانا یې له دې ډېره لوړه او لویه ده، لکه څنګه چې مو ولیدل.

{تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۖ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَ اللَّهِ وَآيَاتِهِ يُؤْمِنُونَ}

نو د ایتونو پیروي وکړه، نه د نظرونو او کیسو.

انس الشامي

## د نفس له پردېسۍ (غُربت) د حضور تر انسه

### کله چې انسان خپل رب وومي، نو خپل ځان مومي

د هغه راز ژورتیا ته ځیر شئ چې په انسان کې مېشت دی او د هغه تضاد هکپک کوونکي حالت ته وگورئ چې انسان پکې ژوند کوي؛ پر ځمکه ختیځ او لویدیځ ته ځي، په ټولو اسبابو پسې منډې وهي، په هر څه کې د مانا پوښتنه کوي... خو ډېر ژر تش لاس او په درانده زړه بېرته راگرځي، ته به وایې چې له خپل ځایه بېخي ښورېدلی نه دی.

دا ځکه چې هغه اصولاً، شی په خپل ځای کې نه و لټولی او دروازه یې له سم لوري نه وه ټکولې؛ له دې کبله هغه مانا چې دی یې پسې گرځي، له ده بهر نه بلکې د ده په ژورو کې ده او هغه ډاډ (سکینه) چې دی یې پلټي، په شیانو کې نه؛ بلکې په هغې اړیکه کې ده چې د ده او د ده د اصل ترمنځ شلېدلې ده.

کاینات په خپل لومړني پړاو کې د پردېسۍ ځای نه دی، بلکې د انس یو پرانیستی کتاب دی؛ د هغه هره ذره اشاره کوي، هر حرکت یې لارښوونه کوي او هر نظام یې داسې یوه حکمت ته متوجې کوي چې لاره نه ور څخه ورکېږي. نو هغه څوک به څنگه پردېسی شي چې په داسې یوه کاینات کې وي چې ټول سره دلیل ـ دلیل وي؟

پردېسي کېږي نه... مگر هغه مهال چې له لوستلو (شننې) څخه پرې شي.

انسان یوازې هغه مهال له پردېسۍ سره مخ کېږي چې د فهم کیلۍ ورڅخه ورکې شي او کله چې یې په باطن کې د بصیرت ډېوې مړې شي؛ نو شیان ویني خو بصیرت پرې نه لري، غږونه اوري، خو پرې پوهېږي نه او ژوند تېروي، خو ژوند نه کوي.

دلته قرآني بیان راځي او د رنځ اصل په یوه محکمه او جامعه کلمه کې داسې روښانه کوي:

﴿وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ﴾.

(او د هغو کسانو په څېر مه کېږئ چې الله یې هېر کړ، نو الله ورڅخه خپل ځانونه هېر کړل).

له دې بل کوم رښتيني بيان شته؟ د الله هېرول يوازې د يوې مالوماتي خبرې ورکول نه دي، بلکې د نور او رڼا ورکول دي؛ کله چې نور غايب شي، ليد (رويت) غايبېږي او کله چې ليد غايب شي، انسان تر نړۍ وړاندې په خپل ځان کې ورکېږي.

انسان له خپل ځان څخه له دې امله ناخبره نه دی چې هغه ورڅخه لرې دی، بلکې له دې امله چې ترې په حجاب کې دی؛ هغه پر ځان د تېل شويو درواغجنو انځورونو، مستعارو نومونو او هغو رولونو له امله چې په رښتينې مينه يې نه دي غوره کړي بلکې ورتېل وهل شوی دی، له خپل ځانه پټ پاتې شوی دی.

نو په داسې يوه نفس سره ژوند کوي چې د ده نه دی، په داسې ژبه خبرې کوي چې د ده ژبه نه ده او په داسې لاره روان دی چې نه پوهېږي چېرته به يې ورسوي.

کټ مټ همدا پردېسي ده.

دا پردېسي چې له خپل ځان څخه لرې يې، خو له نورو ټولو شيانو سره نژدې يې.

دا پردېسي چې دنيا لرې، خو خپل زړه نه لرې.

دا پردېسي چې د شيانو نومونه پېژنې، خو په خپل ځان کې يې له حقيقت څخه ناخبره يې.

کله چې الله د کوم بنده خير وغواړي، هغه له دې غفلته راويښوي؛ دا راويښول تل په نرمۍ نه وي، بلکې کله يې په درد، کله په ماتېدو او کله په له لاسه ورکولو راويښوي، ځکه ځينې زړونه يوازې د ماتېدو په غږ راويښېږي.

دلته رښتينی بدلون پيلېږي... هغه مهال چې انسان احساس کړي چې له خپل ځانه ورک شوی او بايد بېرته ور وګرځي.

خو چېرته وګرځي؟

الله ته وګرځي... ځکه چې خپل ځان ته لاره يوازې د هغه د رب له لارې تېرېږي.

الله لرې نه دی چې موږ ورته واټنونه ووهو، بلکې هغه تر موږ پخپله موږ ته نژدې دی؛ خو لرېوالی د حجابونو دی، نه د واټنونو.

کله چې حجابونه وغورځېږي، نژدېوالی (قرب) حاضر شي.

او کله چې قرب حاضر شي، پردېسي ختمه شي.

دلته د قرآن په دې غږ کې يو دقيق مفهوم څرګندېږي:

﴿يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ * ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ﴾.

(ای ډاډه نفسه! خپل رب ته وګرځه).

دا د هغه چا غږ دی چې بېرته ګرځېدلی، نه د هغه چا چې لا یې پیل کړی نه دی؛ دا د هغه نفس غږ دی چې له اوږدې سرګردانۍ وروسته یې خپله لاره موندلې، نو بېرته راوګرځېد نه د دې لپاره چې له سره پیل وکړي، بلکې د دې لپاره چې هغه څه ته ورسېږي چې له پیله ورته په تمه و.

په دې راستنېدنه کې یو عجیبه راز دی: دا چې انسان کوم حقیقي شی له لاسه نه ورکوي، بلکې وهم له لاسه ورکوي او حقیقت بېرته مومي؛ له نوي څخه نه وځي، بلکې د هغې په اړه د خپل فهم له تنګسې څخه وځي؛ ژوند نه پرېږدي، بلکې په سمه توګه یې پیلوي.

هغه مهال په بل نور ویني، په بل زړه احساس کوي او پوهېږي چې هر هغه څه چې پـر ده درانـده وو، په شیانو کې نه وو، بلکې له هغو او د هغو له مانا څخه د ده پـه پرېکـون کـې وو. نـو شـیان ـ پـه داسې حال کې چې هماغه شیان دي ـ د وحشت د مخونو پر ځای د انس دروازې ګرځي.

کاینات ـ په داسې حال کې چې کټ مټ هماغه دی ـ د جلاوطنۍ د ځای پر ځای پـه یـو پـراخ کور بدلېږي. او انسان ـ په داسې حال کې چې پخپله هماغه دی ـ پـه خپـل ځـان کـې د پردېسي ـ پـر ځای یو ډاډه (مطمئن) نفس ګرځي.

په دې توګه، پردېسي د ځای خبره نه ده، بلکې د حضور خبره ده؛ له خپل رب سره د زړه حضور او له خپل ځان سره د انسان حضور. که دا حضور راغی، نو ټول واټنونه نړېږي، ټول وهمونه له منځـه ځي او یوازې یوه مانا پاتې کېږي چې ټول وجود ډکوي: له الله سره انس. {فَفِرُّوا إِلَى اللَّهِ}... (نو د الله لور ته وتښتئ)

دا له ځانه تاته تېښته ده، له خپل سیوري څخه خپل حقیقت ته او له پردېسۍ څخه خپل لـومړني وطن ته... چېرته چې نه ورکېدل شته، نه اضطراب او نه سرګرداني...

بلکې د الله ذات دی؛ کله چې په زړه کې راښکاره شي، نو ټوله تیـاره لـه منځـه وړي او لـه انسـان څخه یو کوچنی کاینات جوړوي چې له مانا څخه ډک شوی وي.

والله الهادي الی سواء السبیل

حموده محمد محمد

بورسعید مصر

## د قرآن کریم د راټولولو په تړاو د زهري باطلې لیکنې

دا روایت چې یوازې زهري نقل کړی، یو له هغو عجیبو روایاتو څخه ګڼل کېږي چې د الله تعالی د کتاب په دفاع کې ورسره بد چلند کېدای شي؛ ځکه دا داسې انځور وړاندې کوي چې ګواکې قرآن تیت او پرک پاڼې وې او ایتونه د اصحابو په سینو کې خپاره وو، یوازې یوه صحابي هغه راټول کړل او دا قرآن یې جوړ کړ. دا انځور خورا ستونزمن، لړزانده او پوچ دی.

په دې حدیث کې یو له عجیبو ټکو دا دی چې زید د توبې یا احزاب سورت په پای کې د دوو ورکو شویو ایتونو په لټه کې و (لکه څنګه چې به راشي) او هغه یې یوازې له یوه صحابي سره وموندل.

که زید هغه له وړاندې پېژندل، نو ولې ورپسې ګرځېده؟

او که یې نه پېژندل، نو څنګه یې په ډاډ سره وویل چې دقیقا همدا دوه ایتونه کم دي؟

دغه ډول روایتونه د الله تعالی په کتاب کې د طعن او شک رامنځته کولو په مانا دي؛ هغه کتاب چې الله تعالی د «محفوظ، لیکل شوي، لوستل شوي، کنبل شوي او تلاوت شوي» په توګه یاد کړی چې د رسول الله ﷺ په وړاندې، د جبریل علیه السلام تر څارنې لاندې، د وحې په ترلاسه کولو او رسولو کې د نبي ﷺ د عصمت په سیوري کې و. له همدې امله، قرآن تیت او پرک نه و پاتې شوی او نه یې راټولول زید ته سپارل شوي وو، بلکې الله تعالی پخپله راټول کړی او د بشر لکه زید، ابوبکر یا عمر (رضی الله عنهم) له مداخلې پرته یې لوستل شوی، لیکل شوی او ساتل شوی کتاب ګرځولی دی.

بې له شکه چې قرآن له روایتونو پورته دی او له دې هم لوړ دی چې یو کس یې دلته او هلته له پوستونو، ډبرو او د خلکو له سینو راټول کړي؛ ځکه د رسول الله ﷺ ماموریت او د دین بشپړېدل تر هغه وخته پای ته ونه رسېدل تر څو چې قرآن په بشپړه بڼه، یو راټول شوی او په پوره نسخه کې خوندي کتاب نه و ګرځېدلی. که داسې نه وي، نو موږ څنګه تصور کولی شو چې الله تعالی انسانانو او جناتو ته چلنج ورکوي چې د دې قرآن په څېر یو څه راوړي، حال دا چې - د دې روایتونو له مخې - هغه په پاڼو، ډبرو او د خلکو په سینو کې تیت و؟! دا د الله تعالی د کلام او عزیز کتاب په حق

کې یو بې مانا او سپکوونکی انځور دی. له همدې امله، هر هغه روایت چې د دې کلک قرآني حقیقت مخالف وي، د قرآني معیار له مخې باطل ګڼل کېږي. بخاري په خپل صحیح کې دا روایت په دې متن سره راوړی، وایي:

موسی بن اسماعیل له ابراهیم بن سعد، هغه له ابن شهاب، هغه له عبید بن السباق څخه روایت کړی چې زید بن ثابت (رضي الله عنه) وویل: «ابوبکر د یمامه تر جګړې ( د قاریانو تر وژل کېدو) وروسته ما ته احوال راولېږی، که ګورم چې عمر بن الخطاب هم ورسره ناست و».

ابوبکر (رضي الله عنه) وویل: عمر ماته راغی او ویې ویل: د یمامه په ورځ د قرآن د قاریانو وژل کېدل زیات شول او زه وېرېږم چې په نورو ځایونو کې هم قاریان ووژل شي او د قرآن لویه برخه له منځه لاړه شي، زه دا ښه بولم چې ته د قرآن د راټولولو امر وکړې.

ما عمر ته وویل: «ته څنګه داسې کار کوې چې رسول الله ﷺ نه دی کړی؟» عمر وویل: په الله قسم دا خیر دی، «عمر همداسې ماته تکراروله تر دې چې الله زما سینه دې کار ته خلاصه کړه، او زه هم په هغه نظر شوم چې عمر درلود».

زید وویل: ابوبکر ویل: ته یو ځوان او هوښیار سړی یې، موږ دربانـدې تـور نـه لګوو، او تـا بـه رسول الله ﷺ ته وحې لیکله، نو قرآن وڅاره او راټول یې کړه، «په الله قسم که هغوی ماته د یوه غره د انتقالولو دنده سپارلې وای، نو تر هغه څه به راباندې درنه نه وه چې ماته یې د قرآن د راټولولـو امـر وکړ». ما وویل: «تاسو څنګه داسې کار کوئ چې رسول الله ﷺ نه دی کړی؟». هغه وویـل: پـه الله قسم دا خیر دی، ابوبکر همداسې ماته تکراروله تر دې چې الله زما سینه هم هغه څه تـه خلاصـه کـړه چې د ابوبکر او عمر (رضي الله عنهما) سینې یې ورته خلاصې کړې وې.

نو ما د قرآن پلټنه پیل کړه او هغه مې له پوستونو، ډبرو او د خلکو له سینو راټولاوه، تر دې چې د توبې سورت وروستۍ برخه مې له ابو خزیمه انصاري سره وموندله چې له هغه پرته مې له بل چا سره ونه موندله: {لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ} [التوبه: ۱۲۸] تر پایه پورې، نو دا پاڼې له ابوبکر سره وې تر هغه چې وفات شو، بیا له عمر سره د ژوند تر پایه وې او بیا د عمر لـه لـور حفصې (رضي الله عنها) سره وې.

او دا بل روایت هم له زهري څخه په صحیح بخاري کـې دی خـو پـه متفـاوت مـتن سره، چـې د حدیث ګډوډي او درواغجن توب زیاتوي؛ دلته ورک شوي ایتونه په احزاب سورت کـې دي نـه پـه توبه کې او هغه یې له خزیمه سره موندلي دي نه له ابوخزیمه سره:

بخاري په خپل سند سره له ابن شهاب زهري څخه، هغه له خارجه بن زيد څخه روايت کړی چې زيد بن ثابت (رضي الله عنه) وويل: «کله چې ما له پاڼو څخه په مصحفونو کې نقل کاوه، د احزاب سورت يو ايت مې ورک کړ چې له رسول الله ﷺ څخه مې اورېدلی و چې لوستی يې، هغه مې يوازې له خزيمه بن ثابت انصاري سره وموند، هغه چې رسول الله ﷺ يې شاهدۍ ته د دوو کسانو د شاهدۍ ارزښت ورکړی و»، او هغه دا ايت و: {مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ} [الاحزاب: ٢٣]

ابن حجر په روايتونو کې دا بې مانا توب او ګډوډي داسې حل کړې چې دواړه حديثونه يې صحيح ګڼلي – يانې دا چې قصه څو ځله تکرار شوې – او ويلي يې دي: "بخاري دواړه حديثونه په دواړو ذکر شويو سندونو روايت کړي دي، نو داسې برېښي چې دواړه د هغه په نزد صحيح دي، د دې تاييد دا کوي چې شعيب له زهري څخه دواړه حديثونه روايت کړي او همدارنګه نورو هم له زهري څخه دواړه روايت کړي دي."

ای الله! موږ ستا په محفوظ کتاب کې له دې لوبې کولو څخه تاته بېزاري څرګندوو.

ډاکټر عمار الحريري

## ایا قرآن کریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې جمع شوی و؟

د ابن شهاب د هغه روایت په مقابل کې چې له زید بن ثابت څخه یې روایت کړی او وایي چې قرآن د ابوبکر رضي الله عنه تر زمانې وروسته جمع شوی؛ بخاري موږ ته بیا د انس رضي الله عنه یو روایت راکوي چې پکې ثابتوي چې څلورو تنو صحابه‌وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې قرآن جمع کړی و.

دا د زید د هغه پخواني حدیث سره په ټکر کې دی (چې زما په تېره مقاله کې ذکر شو) چې د عمر په وړاندیز یې د قرآن پر جمع کولو حیرانتیا ښودلې وه؛ ځکه رسول الله دا کار نه و کړی. کله چې زید عمر ته وویل: «ته څنګه داسې یو کار کوې چې رسول الله نه دی کړی؟» یانې د قرآن جمع کول؟ په داسې حال کې چې دا روایت ثابتوي چې زید پخپله د رسول الله په ژوند کې د قرآن جامع (ټولوونکی) و، نو بیا څنګه پر عمر باندې دا نیوکه کوي؟

له بلې خوا، زید دې ته اړتیا نه لرله چې قرآن د صحابه‌وو له سینو، د خرماوو له پټوکو (**العُسُبِ**)، سپینو تیږو (**اللِّخَافِ**) او له خلکو سره ولټوي؛ ځکه هغه دا پخپله د رسول الله په ژوند کې، د وحې تر څارنې او د رسول تر عصمت لاندې جمع کړی و .خو تر ټولو عجیبه دا ده چې د زید روایت د هغه په راغونډلو او د قرآن د جمع کولو د دندې د ور سپارلو په اړه راغلی و، ځکه چې هغه د وحې له کاتبانو څخه و؛ په داسې حال کې چې بل روایت (چې لاندې راځي) ښیي چې د وحې کاتبان – یا هغه کسان چې قرآن ترې اخیستل کېږي – څلور تنه صحابه دي او زید په دوی کې نشته.

خو تر ټولو مهمه ملاحظه دا ده چې دا روایتونه او د قرآن د سرچینې په توګه د څلورو صحابه‌وو ټاکل؛ له قرآن کریم څخه تواتر نفې کوي، تر دې چې ابن حجر اشاره کړې چې ملحدینو د انس پر حدیث استدلال کړی ترڅو تواتر رد کړي. هغه (ابن حجر) وایي: «د انس پر دې قول د ملحدینو یوې ډلې منګولې لګولې، خو دوی ته پکې د استدلال ځای نشته؛ ځکه موږ دا نه منو چې دا دې پر

خپله ظاهري مانا حمل شي. که يې ومنو هم، خو دوی ته دا له کومه کړه چې په واقعيت کې هم خبره همداسې وه؟ که دا هم ومنو، خو له دې څخه چې په لويه ډله (جم غفير) کې هر فرد ټول قرآن نـه و ياد کړی، دا نه لازمېږي چې ټول قرآن دې هغې لويې ډلې په مجموعي ډول نه وي ياد کړی. د تواتر شرط دا نه دی چې هر فرد دې ټول (قرآن) ياد کړي، بلکې که ټولو ټول ياد کړی وي که څه هـم پـه وېشل شوي ډول وي، نو بسنه کوي.»

## د څلورو صحابه‌وو په ځانګړي کولو کې د بخاري د روايتونو وړاندې کول:

**لومړی روايت:** په ښکاره دا ثابتوي چې چا چې د نبي عليه الصلاة والسلام په ژوند کې بشپړ قرآن جمع کړی و، يوازې څلور تنه انصاري صحابه وو: بخاري روايت کوي: محمد بـن بشـار لـه يحيـی، هغه له شعبي، هغه له قتاده، هغه له انس رضي الله عنه څخه روايت کړی: «د نبي ﷺ پـه زمانـه کـې څلورو تنو قرآن جمع کړی و، چې ټول له انصارو څخه وو: أُبی (بن کعب)، معاذ بن جبل، ابو زيد او زيد بن ثابت.» (قتاده وايي) انس ته مې وويل: ابو زيد څوک دی؟ ويې ويل: زما يو اکا دی.

**دويم روايت:** په داسې حال کې چې له انسه يو بل روايت هم په بخـاري کـې د ثابـت البنـاني او ثمامه له لارې له انس بن مالک څخه راغلی چې وايي: «نبي ﷺ وفات شو او له څلورو تنو پرته بل چا قرآن نه و جمع کړی: ابو الدرداء، معاذ بن جبل، زيد بن ثابت او ابو زيد.» (انس) وويل: «او مـوږ يې وارثان شو.» په دې روايت کې أُبی بن کعب حذف شوی او پر ځای يې ابو الدرداء راغلی دی. له همدې امله ابن حجر له اسماعيلي څخه نقل کوي چې پـه "صـحيح"کـې يـې د بخـاري لخـوا د دې دواړو حديثونو پر منلو نيوکه کړې او ويلي يې دي: «اسماعيلي وويل: دا دواړه حديثونه سره مخـالف دي او په صحيح کې د هغو شتون يو د بل سره د تضاد له امله جـايز نـه دی، بلکـې صـحيح لـه داړو څخه يو دی. بيهقي په پرېکنده ډول ويلي چې د ابو الدرداء ذکر کول وهم (خطا) ده او سم يې أُبـی بن کعب دی.»

**دريم روايت:** له بل اړخه، د عبدالله بن عمرو روايت راځي چې د انس په حديث کـې د قـرآن د جمع کولو خصوصيت يوازې د انصارو نه دی او د هغوی پر ځای دوه تنه مهاجر صـحابه، يـانې ابـن مسعود او سالم راولي، لکه څنګه چې ابن حجر پرې تصريح کـړې ده. دا روايـت لـه يـوې لـوري د

رسول الله لخوا د څلورو صحابه‌وو د ځانګړي کولو ملاتړ کوي ترڅو قرآن ترې واخیستل شي، د دې لپاره چې هغوی د قرآن د مراجعې سرچینې دي؛ چې دا ښیي چې څلور تنه صحابه د رسول الله تر څارنې لاندې د ټول قرآن په حفظ او کتابت کې اجازه در لوده او پوه وو. مګر هغه څه چې دا روایت له ستونزې سره مخ کوي، هغه اضطراب (ګډوډي) ده چې پکې پیښه شوې، هغه اوښتون ده چې په سند او متن کې یې راغلی دی. بخاري په خپل سند سره له مسروقه روایت کوي چې د عبدالله بن عمرو په وړاندې د عبدالله بن مسعود یادونه وشوه، نو هغه وویل: «زه به تل له هغه سره مینه کوم، ما له نبي ﷺ څخه اورېدلي چې فرمایل یې: "قرآن له څلورو تنو څخه واخلئ: له عبدالله بن مسعود، سالم، معاذ بن جبل او أُبی بن کعب» او د زید بن ثابت یادونه یې هیڅ ونه کړه.

ما دا روایتونه د هغو د منلو لپاره نه دي وړاندې کړي، ځکه چې په دې کې حدیثي ستونزې او اضطراب شته، بلکې ما دا د هغو کسانو د ځواب لپاره ذکر کړل چې (زما په تېره مقاله کې) یې د قرآن د جمع کولو په اړه د ابن شهاب الزهري د هغې ستونزمنې او خطرناکې کیسې په نقد باندې غبرګون ښودلی و؛ ترڅو دا وښیم چې څنګه پر داسې مضطربو روایتونو باندې د قرآن کریم د ثبوت په اړه د مالوماتو په جوړولو کې تکیه کېدای شي، په داسې حال کې چې دا یو الهي کتاب دی او د بشر له حفظ او نقل څخه لوړ دی.

د کوم شي په اړه چې د الله په وړاندې مسؤل یم – د هغه څه په تایید چې ما مخکې ذکر کړي – دا دي چې قرآن کریم په بشپړ ډول د مصحف د دوو پښتیو ترمنځ لیکل شوی و، د هغه سورتونه او ایتونه د وحې له لوري ټاکل شوي وو، د رسول الله ﷺ او د وحې د امین جبریل په وړاندې تر خالص الهي څارنې لاندې یې کره کتنه کېده. رسول الله وفات شوی نه و ؛ مګر دا چې قرآن په پاکو صحیفو کې لیکل شوی او خوندي و، یو لیکل شوی کتاب او په سینو کې محفوظ و . هغه څه چې صحابه‌وو، لکه عثمان رضي الله عنه وکړل؛ هغه یوازې له اصلي مصحف څخه څو نسخې اخیستل وو او د مورنۍ نسخې (اصل) په څېر یې د معتبرو نسخو په توګه منل وو. موږ تر اوسه همدا نسخه په میراث وړو، سره له هغه څه چې د زمانې په تېرېدو سره یې په شکل کې پرمختګ شوی، لکه اعراب (زبر زیر)، ټکي او د هغو نښو او علامو اېښودل چې ساتونکو او قاریانو ته ګټه رسوي.

الله دې پر العلواني رحم وکړي چې د قرآن کريم د "ذاتي حفظ" په اړه يې داسې وويل :«قرآن مجيد الله تعالی په خپل نظم، اسلوب، بنايي يووالي، عبارتونو، لسان او پر هغه څه چې مشتمل دی، د خپل علم له مخې يې په تفصيل او د ذکر لپاره يې په اسانۍ او اغېز کې بې ساری کړی دی. انسانانو او جنياتو ته يې چېلنج ورکړ چې د دې په څېر يو سورت راوړي، خو دوی د ټولو وسايلو او انګېزو سره سره عاجز شول. الله -جلَّ شأنه- دا کتاب په هره کچه له شک، اختلاف او تناقض څخه پاک ساتلی دی. دا د خپلې هرې کلمې په ثبوت کې قطعي دی. لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی د ستورو ځايونه محکم کړي، د قرآن مجيد ايتونه يې هم محکم کړي دي: (الر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ» (ده زياته کړې: «او د دې (قرآن) صحت د هيچا په روايت پورې تړلی نه و او نه پرې (روايت) کوم اغېز لري. دا د هيچا په روايت پورې –که هر څومره په لوړه کچه وي – نه دی تړلی او نه بايد وتړل شي. د دې په اړه پرېکنده توب پر دې ولاړ دی چې دا د الله تعالی کلام دی، چې باطل نه ورته له مخکې راځي او نه له شا څخه. الله عز وجل خپل نبي عليه الصلاة والسلام ته له جبريله د دې په ترلاسه کولو سره عزت ورکړ او هغه ته يې امر وکړ چې خلکو ته يې تلاوت کړي، زړونه يې د دې حفظ، تلاوت، ترتيل، ښوولو او په سينو او پاڼو کې يې د پاتې کېدو لور ته لېواله کړل.»

ډاکټر عمار الحريري

**۲۴/۴/۲۰۲۶**

## د دعوت او فتویٰ ترمنځ توپیر: یوه اصولي او منهجي تشریح

تر نظر لاندې لیکنه د یوې علمي مکالمې لړۍ ده. د لیکوال د یوې پوښتنې په ځواب کې ډاکټر محمد اکرم ندوي د تکفیر او د دعوت او اصلاح د منهج په اړه یو اصولي او فکر پارونکی ځواب لیکلی، چې په هغه کې د اهلِ قبله په تکفیر کې احتیاط او د دعوتي حکمت غوښتنې روښانه شوې دي. پر دغه لیکنه یوه فاضل صاحب په خورا ادب او سنجیدګۍ سره ځینې نیوکې (اشکالات) وړاندې کړي، چې په ځانګړي ډول د ختمِ نبوت عقیدې، تاریخي بېلګو (لکه د مسیلمه کذاب پېښه) او د امت د میراثي علمي دریځ په اړه پکې وضاحت غوښتل شوی دی. دا خبره باید له پامه ونه لوېږي چې تر بحث لاندې موضوع یوازې یو جزوي فقهي اختلاف نه دی، بلکې د دین له اساس، د امت له فکري پېژندګلوۍ او دعوتي اسلوب، درې واړو سره تړاو لري. له همدې امله پکې د بېلابېلو لیدلورو مخې ته راتلل یو طبیعي او ګټور علمي بهیر دی. پر دې سربېره، د دې ټول بحث د پوهېدو لپاره دا بنسټیز توپیر باید په نظر کې ونیول شي چې یو شی د یوې عقیدې یا نظریې «حکم» دی او بل د هغې له خاوندانو سره «عملي او دعوتي چلند». ډېری وخت د همدې دواړو دایرو د یوځای کېدو (ګډوډېدو) له امله ابهام یا توندلاري پیدا کېږي. له همدې امله، لاندې د ډاکټر محمد اکرم ندوي وضاحتي ځواب وړاندې کېږي:

«ستاسو مکتوب د علمي سنجیدګۍ، فکري دیانت او ښکلي ادب هنداره ده. تاسو چې کوم اضطراب او اشکال څرګند کړی، دا په اصل کې د هغه ژوندي علمي دود نښه ده چې پکې پوښتنه نه ځپل کېږي، بلکې د هغې په واسطه د پوهې نوې زاویې لټول کېږي. لاندې ستاسو د پوښتنو په ځواب کې یو اصولي او منهجي وضاحت وړاندې کېږي، ترڅو تر بحث لاندې موضوع په خپل سم علمي تناظر کې درک شي.

تر هر څه وړاندې باید دا بنسټیز ټکی روښانه وي چې زما د یادې شوې لیکنې تړاو له فقهي حکم (فتویٰ) سره نه دی، بلکې له دعوتي منهج سره دی. د دې دوو دایرو ترمنځ توپیر خورا بنسټیز دی او همدې توپیر ته د پام نه کولو له امله ډېری وخت علمي غلط فهمۍ رامنځته کېږي.

فتویٰ په حقیقت کې یو قانوني او اعتقادي قضاوت (normative judgement) دی، چې په هغه کې د یوې خبرې یا فعل شرعي حیثیت ټاکل کېږي. د دې تړاو د حدودو له ټاکلو، اعتقادي صف بندۍ او د دین له اجتماعي نظم سره دی. په مقابل کې یې دعوت یو ابلاغي او روزنیز عمل (communicative and pedagogical process) دی، چې موخه یې مخاطب ته نږدې کېدل، د هغه په ذهن او زړه کې تدریجي بدلون راوستل او حق ته یې مایل کول دي. د دعوت ډګر د اصولي احکامو تر اعلان وړاندې، د خبرو له حکمت، د کلام له ترتیب او د مخاطب له ارواپوهنې سره تړاو لري.

قرآن کریم د دعوت دا منهج په خورا وضاحت سره بیان کړی دی. د باري تعالی ارشاد دی: "يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ" دا ایت د یوه خورا مهم دعوتي اصل استازیتوب کوي، چې په معاصره اصطلاح کې ورته "common ground approach" (د مشترکې ځمکې چلند) ویل کېدای شي. دلته قرآن د اهلِ کتابو د ټولو عقایدو تایید نه کوي او نه هم د هغوی انحرافات (لکه تثلیث) له پامه غورځوي؛ بلکې دی د مکالمې پیل له هغه ټکي څخه کوي چې هلته اشتراک ممکن دی، یانې د توحید اصلي تصور.

دلته یو دقیق ټکی د پاملرنې وړ دی:

په دعوت کې کوم اړخ بنسټ ګرځول، د نورو چارو له تردید څخه د لاس اخیستلو په مانا نه دی. بلکې دا یوه تدریجي ستراتیژي (gradualist strategy) ده، چې د هغې له لارې مخاطب لومړی نژدې کېږي او بیا تر هغه وروسته اختلافي ټکي روښانه کېږي.

همدا اصل په نورو ځایونو کې هم کارول شوی: د عربو له مشرکانو سره په خطاب کې د هغوی د خالقیت اعتراف بنسټ وګرځول شو؛ له اهلِ کتابو سره د ربوبیت او الوهیت د توحید مشترک تصور مرکز وګرځول شو؛ حتی له بېلابېلو کلتوري او مذهبي ډلو سره په دعوتي تعامل کې تل یو داسې پیل غوره شوی چې د ټکر پر ځای نژدېوالی پیدا کړي.

د همدې منهج په رڼا کې، کله چې له هغې ډلې سره خبرې کېږي چې ځان ته مسلمان وایي، نو په دعوتي کچه دا ویل چې: "تاسو ځان ته مسلمان وایئ، راشئ د دې نسبت پر غوښتنو غور وکړو" دا په اصل کې یو دعوتي مدخل (entry point) دی، نه یو اعتقادي تایید.

تاسو سم ځای د اصحابو د دورې او د مسیلمه کذاب د پېښې حواله ورکړه. خو دلته یو مهم اصولي امتیاز باید په پام کې وي: هغه معامله له سیاسي اقتدار، اجتماعي نظم او فقهي حکم سره تړاو

درلود، چېرته چې د يوه نبوت د مدعي پر وړاندې ښکاره او پرېکنده اقدام اړين و. په مقابل کې يې تر بحث لاندې موضوع د يوه دعوتي اسلوب ده، چې تړاو يې په انفرادي او فکري کچه له مکالمې سره دی، نه له رياستي يا قضايي پرېکړې سره. له همدې امله، د دواړو په يوه تله تلل، علمي ستونزې پيدا کوي.

همدارنگه دا پوښتنه چې د داعي لومړی دنده د حق او باطل ترمنځ د روښانه پولې ټاکل دي، په اصولي توگه سمه ده، خو په دې کې ترتيب او پړاو بندي (sequencing and staging) خورا مهمه ده. د دعوت بهير معمولاً له درېيو پړاوونو تېرېږي: (۱) پيژندنه او نژدېوالی،(rapport building ) (۲) پوهاوی او استدلال (cognitive engagement ) (۲) سمونه او اصلاح ( correction and rectification).

که دريم پړاو پر لومړي پړاو وتپل شي، نو ډېری وخت مخاطب بيخي مکالمې ته نه چمتو کېږي. له همدې امله حکمت دا غوښتنه کوي چې هره خبره په خپل مناسب پړاو کې وشي. عملي تجربه هم د دې اصل تاييد کوي. زما ځينو شاگردانو همدا دعوتي منهج غوره کړ، ياني د مخاطب د اسلام دعوه يې پيلامه وگرځوله او له هغه سره يې سنجيده مکالمه وکړه. پايله يې دا شوه چې ځينو کسانو نه يوازې پر خپلو عقايدو بيا کتنه وکړه، بلکې د رجوع لاره يې هم ونيوله. دا د دې خبرې ثبوت دی چې دعوتي حکمت يوازې نظري نه، بلکې په عملي توگه هم اغېزناک (effective) دی.

تر هغه ځايه چې له دې انديښنې سره تړاو لري چې ځينې حلقې هر ډول علمي دريځ د خپلې ځانگړې فکري بيانيې په گټه کاروي، نو دا يوه عمومي علمي ننگونه ده. د يوې خبرې د احتمالي غلطې کارونې له امله د اصلي خبرې پرېښودل د علمي ديانت خلاف دي. اصلي مسؤليت دا دی چې: خبره په روښانه سياق او سباق کې بيان شي، حدود او شرايط (qualifications) يې وټاکل شي او د پلي کېدو دايره يې په صراحت سره بيان شي.

په پای کې د لنډيز په توگه عرض کوم چې تر بحث لاندې ليکنه له فتویٰ سره نه بلکې له دعوتي منهج سره تړاو لري؛ په دعوت کې له مشترک بنسټ څخه پيل کول يو قرآني او نبوي اصل دی؛ دا اسلوب د کومې باطلې عقيدې تاييد نه، بلکې يو حکيمانه تدريج دی او موخه يې د مخاطب لرې کول نه، بلکې نژدې کول او حق ته مايل کول دي. الله تعالی دې موږ ته په حق د پوهېدو، پر هغه د ثابت پاتې کېدو او په حکمت او بصيرت سره نورو ته د رسولو توفيق راکړي.»

ډاکټر محمد اکرم ندوی اکفسورډ

## د سنت بنسټ

د سنت بنسټ پر احاديثو نه دی، چې په هغو کې د رښتيا او دروغو دواړو احتمال شتون لري، بلکې د امت پر عملي تواتر باندې دی.

لکه څنګه چې قرآن په قولي تواتر ثابت دی، همدغسې سنت د امت په عملي تواتر ثابت دي. د بېلګې په توګه، موږ د لمانځه او حج ټول جزييات له دې امله نه دي منلي چې هغه څو تنو راويانو بيان کړي دي، بلکې دا هغه چارې دي چې نبي کريم ﷺ اختيار کړې وې، له هغوی څخه صحابه کرامو، له هغوی څخه تابعينو او بيا تبع تابعينو زدکړې. په همدې ډول وروستنيو له خپلو وړاندنيو څخه زده کولې. که د رواياتو په ريکارډ کې د دوی تاييد شتون ولري، نو دا د هغو لا زيات ثبوت دی. که هغه (روايت) له عملي تواتر سره سم وي، نو ډېره ښه او که د دواړو ترمنځ توپير وي، نو په هر صورت ترجيح به د امت عملي تواتر ته وي. که په کومه معامله کې اخبارِ احاد داسې وي چې له عملي تواتر سره يې مطابقت نه راځي، نو د هغو لپاره به توجيه لټول کېږي؛ که توجيه ممکنه نه وه، نو بيا به په هر حال په مجبوري سره پرېښودل کېږي؛ ځکه چې هغه ظني دي او سنت د هغو په مقابل کې قطعي دي.

د اخبارِ احادو په مقابل کې د مدينې د خلکو عمل (عملِ اهلِ مدينه) ته د ترجيح ورکولو په برخه کې د مالکيه وو مسلک پر همدې اصل ولاړ دی. هغوی د اهلِ مدينه عمل حجت ګڼي او هغه په «**السنة عندنا هكذا**» (زموږ په خوا کې سنت همداسې دي) سره تعبيروي. احناف هم په «عمومِ بلوىٰ» (هغه چارې چې عموما خلك ورسره ډېر مخ کېږي) کې اخبارِ احادو ته کوم اهميت نه ورکوي؛ په دې کې هم همدا روحيه نغښتې ده.

مولانا امين احسن اصلاحي

مبادئ تدبر حديث، ۲۸-۲۹ مخونه

## د اسلامي شريعت په جزيي شننه کې د روايت اغېز

د قرآن کريم او نبوي سنتو د جزيي لوستنې (شننې) د مفهوم د روښانولو او د اسلامي شريعت په جوړښت او احکامو کې د هغه د ژورې اغېزې د بيانولو لپاره، مسئله په لاندې ټکو کې خلاصه کولای شو:

لومړی: د قرآن او سنتو له جزيي لوستنې څخه مراد دا دی چې په تشريع او نورو برخو کې سنت له قرآنه جلا کړل شي، هغه د قرآن په مقابل کې يو داسې خپلواک اصل وګڼل شي چې نه د قرآن بيان وي او نه د هغه تر کلي قواعدو او عمومي نظام لاندې راځي.

دويم: د دې جزيي لوستنې په مقابل کې «کلي لوستنه» ده؛ هغه چې قرآن او سنتو ته د الله له لوري د وحې په سترګه ګوري، سنت له قرآن سره په داسې يوې محکمې ميتودولوژيکې اړيکې تړي چې له مخې يې سنت د شريعت د يو متحد نظام برخه ګرځي؛ داسې نظام چې نه پکې تناقض وي او نه پاشلتيا او نه هم پکې يو جزيي حکم د شريعت له قطعي کلي اصولو سره مخالفت کولای شي.

دريم: په پوره استقراء (پلټنې) ثابته شوې چې شريعت پر يوې ثابتې او منظمې لارې روان دی، چې نه پکې تناقض شته او نه ګډوډي. دا جواز نه لري چې يو جزيي حکم له قطعي کلي اصل سره په ټکر کې وي. امام شاطبي دا خبره داسې تاييد کړې ده: "شريعت پر يو داسې نظام روان دی چې هيڅ ډول اختلاف او تناقض پکې نشته."

څلورم: څېړنه دا غوښتنه کوي چې د «سنت» او «حديث» د مفهوم ترمنځ توپير وشي؛ سنت په خپل اصل کې هغه عملي لاره ده چې رسول الله ﷺ پرې د قرآن کريم لارښوونو ته عملي بڼه ورکړې وه. خو حديث هغه څه دي چې د روايت له لارې رانقل شوي، چې بنسټ يې په نقل کې پر اجتهاد او پر راويانو باندې پر ښه ګمان ولاړ دی، ځکه خو د ثبوت يا دلالت له اړخه د «ظن» (ګمان) په دايره کې راځي.

پنځم: که څه هم ډېرو فقهاوو او ظاهريانو په نظري ډول دا اصل منلی چې ظني دليل د قطعي دليل مقابله نشي کولای، خو په عمل کې په ډېرو ځايونو کې له دغه اصل څخه بېلتون ليدل شوی دی؛ ځکه ځينې اخبار (احاديث) داسې خپلواک اصول وګڼل شول چې د شريعت له کلي نظام څخه

مستثنى کړای شول او د قرآن له محکمو نصوصو سره په ټکر کې راغلل. د بېلګې په توګه د مړي لـه لوري د روژې نیولو ځینې بڼې، چې د قرآن له دغو عمومي اصولو سره په ټکر کـې دي: (وأن لـيس للإنسان إلا ما سعى) [انسان ته یوازې هغه څه رسېږي چې ده یې هڅه کړې وي]، او (کل نفـس بمـا کسبت رهینة) [هر نفس د خپلو کړو په بدل کې ګرو دی].

شپږم: د بېلابېلو مذهبونو د فقهاوو او محدثینو د کړنو پلټنـه ښـیي چـې د شرعـي کـلي اصـولو پـه کارولو کې تفاوت شته؛ په ځینو ځایونو کې کارول شوي او په ځینو کې ورته پاملرنه نه ده شوې. دې چارې په ځینو حالاتو کې ستونزمنې پایلې لرلې دي، چې تر ټولو لویه برخه یې همدغه جزیي لوستنه او له قرآني نظام څخه د حدیث جلاکول وو.

اووم: جزیي لوستنې پر قرآن کریم دا اغېز وکړ چې د هغه کلي اصول او عمومیات یې معطل کړل او د یو داسې جامع نص په توګه یې د هغه مرکزیت کمزوری کړ چې پر ټولو جزییاتو حاکم او د هـر زمان او مکان لپاره دی. دې چارې د فهم او استدلال په برخه کې د قرآن مرجعیت زیانمن کړ.

اتم: د محدثینو هغه تګلاره چې پر اسانۍ (تساهل) او یوازې د ظاهر پر اسـاس پـر سـموالي ولاړه ده؛ دا غوښتنه کوي چې باید «مقاصدي او کلي نظر» فعال شي، ترڅو رسول الله ﷺ ته د یو روایت تر منسوبولو وړاندې هغه په دې تله وتلل شي.

نهم: جزیي لوستنې د هغو روایاتو له دفاع سره مرسته وکړه چې د شریعت له عمومي نظـام سره پـه ټکر کې دي او دا کار د «سنتو د پیروۍ» تر شعار لاندې وشو؛ په داسې حال کې چې تـر هغـه وختـه چې یو روایت له کلي او قطعي اصل سره په ټکر کې وي، هغه نه سنت کېدای شي او نه سم روایت.

لسم: جزیي لوستنې په امت کې د مذهبي او فرقه یي وېش لامل شوه؛ هرې ډلې یو شمېر روایات ونیول او هغه یې د سنتو استازي وبلل. په مقابل کې د قرآن واکمني (هیمنه) پیکه شوه او قرآن پـه یـو داسې ټوټه ټوټه شوي نص بدل شو چې یوازې د اړتیا پر مهال ورته مراجعه کېږي، نه د یـو حـاکم او جامع مرجع په توګه.

په پای کې: په دې برخه کې د هغو احادیثو ځینې بېلګې یادوم چې د شریعت لـه کـلي اصـولو او مقاصدو سره د ټکر له امله ستونزمن بلل شوي دي، لکه:

ـ په عمومي ډول د لمانځه د پرې کېدو حدیث او هغه حدیث چې وایـي لمـونځ پـه دریـو شـیانو پرې کېږي...

ـ د بدمرغۍ حدیث، چې بدمرغي په دریو شیانو کې ده...

ـ دا حدیث چې: "مړي ته د خپل اهل د ژړا له امله عذاب ورکول کېږي."

ـ د مړي له لوري د روژې نیولو حدیث (څوک چې مړ شي او روژه پرې پاتې وي، ولي یې دې ورته ونیسي).

ـ په حج او عمره کې د نیابت (بدل) احادیث.

ـ د عرینیینو حدیث او د هغوی د غړو پرې کول (مثله کول).

ـ د رجم (سنگسار) ادعا شوي احادیث...

ـ د ارتداد حدیث (څوک چې خپل دین بدل کړي، ویې وژنئ).

ـ دا حدیث چې: "مسلمان د کافر په بدل کې نه وژل کېږي."

ـ دا حدیث چې: "ښځې په عقل او دین کې نیمگړې دي."

ـ د هغو کسانو د کورونو د سوځولو حدیث چې د ماسختن لمانځه ته نه راځي.

ـ د ابن ام مکتوم حدیث، چې هغه ړوند و خو په کور کې د لمانځه اجازه ورنکړل شوه.

ـ د بني اسرائیلو په اړه د خبرو کولو (تحدث) حدیث... او داسې نورې ډېرې بېلگې.

دا ټول به ان شاء الله زما په راتلونکي کتاب (د نبوي سنتو په فهم کې مقاصدي میتودولوژي) کې په تفصیل سره راشي.

د جزیي لوستنې د ستونزې حل دا غوښتنه کوي چې د قرآن او سنتو ترمنځ اړیکه پر یو محکم او کلي بنسټ بیا ورغول شي او قرآن پر روایت حاکم و کنټرولونکی وي. قرآن باید سنت له خطا او اضافي بارونو وژغوري او په ورته وخت کې د قرآن تله او کلي اصول د فهم او استدلال د اصلي مرجع په توگه وکارول شي.

الله دې پر امام شاطبي رحم وکړي چې ویلي یې دي: "او که چېرې دلیل یو قطعي اصل ته ونه گرځېد، نو پکار ده چې پکې تامل وشي او په مطلق ډول د هغه منل سم نه دي. نو کله چې له یو قطعي اصل سره په ټکر کې وي، هغه مردود دی؛ ځکه چې د شریعت له اصولو سره مخالف دی او د اصولو مخالف سم نه وي، ځکه هغه د شریعت له جنسه نه دی."

ډاکټر عمار الحریري

## د طه جابر العلواني ژوره خبره

### د قرآن کريم او نبوي سنتو د جزيي لوستنې خطرونه

قرآن کريم د سنتو او نبوي سيرت ساتونکی دی.

د الله تعالی د کتاب او د هغه د نبي ﷺ د سنتو جزيي لوستنه (ټوټه ټوټه کول) يو له تر ټولو خطرناکو ميتودولوژيکو (منهجي) ستونزو څخه ده، چې د مرجعيت په انحراف او د امت په تفرقې او پاشلتيا کې يې لوی لاس درلودلی دی.

له امله يې قرآن کريم په يوې نيمګړې او معطلې مرجع بدل شو او په هغې کې «عضين» (هغه چې په ټوټو وويشل شي) رامنځته شول. الله تعالی داسې کسان «مقتسمين» بللي دي؛ څکه هغوی قرآن په برخو وويشلو، هغه يې په بشپړ ډول وانخيست او د هغه کلي اصولو، مقاصدو او لوړ پيغام ته يې پاملرنه ونکړه.

آن هغوی يوازې پر «عضين» (ټوټه کولو) بسنه ونکړه، بلکې قرآن يې (نعوذبالله) يو فقير، تابع، په رواياتو پورې تړلی او محدود نص کړ چې روايات او اسرائيليات پرې حاکم دي. په دې سره د قرآن هغه حاکم (مهيمن) او تصديق کوونکی جوړښت چې پر هر څه لاس بر دی او همدارنګه د هغه نړۍوال جوړښت چې له زمان او مکانه پورته دی، ونړول شو.

امت يوازې تر دې ځايه ونه دريد، بلکې د خپل رب د کتاب سپکاوی يې تر دې کچې وکړ چې د بخاري او مسلم د کوم راوي يا روايت پر نقد باندې راپاريږي، خو د خپل رب د کتاب پر معطل کېدو (نه عملي کېدو) يې زړه نه دربيږي؛ تر دې چې قرآن يوازې د غمونو، تراژيديو، برکت، تشريفاتي مراسمو، خوش اوازۍ، تراويح او مسابقو لپاره وکارول شو.

کله چې ستر محقق او علامه العلواني په دې خطرناک رکود کې د دې امت رنځ تشخيص کړ، نو ويې ويل چې د دې درملنه د قرآن کريم له کلي اصولو او لوړو مقاصدو سره د سنتو په تړلو کې ده. بلکې هغه د قرآن کريم دنده د سنتو او نبوي سيرت ساتنه وبلله، نه برعکس.

زه دلته د دې ستر دين د سم لوري (قبلې) موندلو په اړه د هغه «زرين متن» درته رااخلم، ترڅو قرآن کريم د سنتو په ساتنه او د هغو په دلالت کې د اسنادو او رجال‌شناسۍ (د راويانو پېژندنه) څخه پورته مقام ولري.

العلواني (رحمه الله) وايي:

"له همدې ځايه، د کتاب او سنتو جزيي لوست (ټوټه ټوټه لوست) هغه مهال په خطرناك لوست بدلېږي چې د قرآن له کلي اصولو، ارزښتونو او لوړو مقاصدو سره ونه تړل شي. سنت بايد له کتاب سره په داسې يو دقيق او محکم تړاو وتړل شي چې د دواړو ترمنځ د هيڅ ډول تناقض، تعارض يا نسخې اجازه ورنه کړي او دواړه په داسې يو بنسټيز يووالي کې سره راټول کړي چې بېلتون پکې نه وي.

له همدې امله، قرآن د سنتو او سيرت ساتونکی دی؛ داسې چې که چېرې (د احاديثو) سندونه هم ورك شي، قرآن د دې کفايت کوي چې سنتو ته متوجه کړي او دلالت پرې وکړي.

له همدې امله، د سنتو حقيقي ساتنه پر قرآن مجيد تکيه لري او زموږ له پخوانيو عالمانو څخه چې هر څه د دې خلاف رانقل شوي، هغه د بحث او نقد وړ دي."

ډاکټر عمار الحريري

## اعمش: د روایت د مرکزیت او د میتودولوژۍ د ناورین ترمنځ

زه نه پوهېږم چې د حدیثو مینه والو څنګه دومره جرئت وکړ او په دومره اسانۍ سره یې د "نبوي سنتو د تدوین" تر نامه لاندې د روایتونو دغه پراخه کچه رسول الله ﷺ ته منسوب کړه!

نن سبا د روایتونو د تلقین او د اجازو ورکولو مجلسونه د عوامو او خواصو ترمنځ یو ګرم بازار لري او د ټولو دا مجلسونه خوښېږي؛ په دې پلمه چې ګواکې دا د برکت او پر نبي کریم ﷺ باندې د درود ویلو مجلسونه دي. خو په ورته وخت کې خلک د رسول الله ﷺ د هغو حقیقي سنتو له تدبر او تفکر څخه بې برخې کړای شول چې د الله په کتاب کې موجود دي او له قرآني نصوصو سره پوره مطابقت لري.

کله چې زه د الاعمش (سلیمان بن مهران) ژوندلیک او د هغه له لوري په روایت او "تدلیس" کې رامنځته شوي ناورینونه لولم، نو حیرانېږم چې بخاري او مسلم هغه څنګه په خپلو اسنادو کې یو بنسټیز رکن ګرځولی دی؟! (بخاري تر ۳۳۰ زیات او مسلم تر ۴۰۰ زیات روایتونه له هغه نقل کړي دي). دا چاره بیا موږ دې ته اړ کوي چې د "حدیثو د امام" په توګه د هغه دفاع وکړو او ووایو چې هغه نور د نقد له پړاوه تېر شوی دی، ځکه چې "شیخینو" ترې روایت کړی دی!

سره له دې چې ذهبي د بخاري او مسلم د راویانو په نقد کې ډېر احتیاط کوي، خو بیا هم مجبور شوی چې "الاعمش" په خپل کتاب (میزان الاعتدال) کې ذکر کړي؛ هغه کتاب چې یوازې د "ضعیفو" راویانو لپاره یې ځانګړی کړی دی. ذهبي هلته د هغه د امامت او ثقاهت تر یادولو وروسته داسې نقد راوړی چې موږ له دې پوښتنې سره مخ کوي: د رسول الله ﷺ مقام زموږ په وړاندې دومره سپک شو چې له داسې یو سړي حدیث ومنو چې په تدلیس، وهم او اضطراب موصوف وي؟

ذهبي په "میزان الاعتدال" کې وايي: سلیمان بن مهران کاهلي کوفي الاعمش، چې ورته "الاعمی" (ړوند) هم ویل کېږي؛ یو له ثقه امامانو څخه دی او د وړو تابعینو له ډلې شمېرل کېږي. پر هغه یوازې د "تدلیس" نیوکه شوې ده. جوزجاني وايي چې وهب بن زمعة المروزي ویل: له ابن المبارک څخه مې واورېدل چې ویل یې: د کوفې د خلکو احادیث ابواسحاق او اعمش خراب کړل. جریر بن عبدالحمید وايي: له مغیره څخه مې واورېدل چې ویل یې: د کوفې خلک ابواسحاق او ستاسو دغه

"اعیمش" (د اعمش سپک نوم) تباه کړل؛ داسې ښکاري چې مراد یې له هر چا څخه د روایت کولو چاره وه، که نه اعمش پخپله عادل او ربښتونی دی او د سنتو او قرآن خاوند دی.

(دلته ذهبي هڅه کوي چې د ضعیفو راویانو څخه د هغه د روایت او تدلیس گناه پر "ښه گمان" حمل کړي، نو وایي):

اعمش پر هغو کسانو ښه گمان کاوه چې حدیث به یې ورته وایه او مورږ نشو کولای په پرېکنده ډول ووایو چې دی د هغه چا په ضعف خبر و چې تدلیس یې ترې کاوه، ځکه دا کار حرام دی.

علي بن سعید النسوي وایي: له احمد بن حنبل څخه مې واورېدل چې ویل یې: منصور د کوفې تر ټولو ثابت (پیاوړی) سړی دی، خو د اعمش په حدیثونو کې "اضطراب" (گډوډي) ډېره ده. له انس (رض) څخه د اعمش روایت "منقطع" دی، ځکه هغه له انس څخه څه نه دي اورېدلي، بلکې یوازې د هغه تر شا یې لمونځ کړی دی.

ابوداوود وایي: له انس څخه د هغه روایت ضعیف دی.

زه (ذهبي) وایم: هغه تدلیس کاوه او کله به یې له ضعیف راوي څخه تدلیس کاوه چې چا به نه پېژندی؛ نو کله چې هغه (حدثنا) ووایي بیا خبره نشته، خو کله چې (عن) ووایي، بیا د تدلیس احتمال پکې شته، مگر د خپلو هغو استادانو په برخه کې چې ترې ډېر روایتونه لري لکه ابراهیم، ابن ابي وائل او ابوصالح...»

زه وایم: په داسې اسنادو او دغسې راویانو سره، په سلگونو روایتونه د "صحیح" په نوم ډلبندي شول او خلکو دا پرېکنده خبره وکړه چې دا خبرې نېغ په نېغه د رسول الله ﷺ له مبارکې خولې وتلې او بخاري ته رسېدلې دي! دا یوه لویه منهجي (میتودولوژیکه) ستونزه ده چې مسلمان عقل باید د ربښتینې سپیناوي لپاره ورته ودرېږي.

ډاکټر عمار الحریري

## د شاطبي په اند قرآن د ټولو اصولو اصل دی

### سنت یو تابع بیان دی، نه یو خپلواک مصدر

د شاطبي په کتاب «الموافقات» کې په ژور فکر او له تامله دا څرګندېږي چې د تشریع په جوړښت کې د قرآن کریم مرکزیت یو داسې «کلي اصل» دی چې د سنتو پر فهم او دندې باندې بشپړه حاکمیت لري. ما پخوا داسې ګمان کاوه چې یوازې ډاکټر طه جابر العلواني د «یوازیني مصدر» (قرآن) نظر لري، خو د شاطبي د خبرو دقیق تعقیب دا ښیي چې هغه په ډېرو ځایونو کې دا مانا ثابته کړې ده؛ هغه ټینګار کوي چې سنت د قرآن تابع دي او په تشریع کې له هغه څخه خپلواک نه دي، که څه هم د شاطبي او العلواني (رحمهما الله) ترمنځ په جزییاتو کې توپیر شته.

شاطبي سنت د قرآن تر څنګ د احکامو د رامنځته کوونکي مصدر په توګه نه ثابتوي، بلکې هغه له مانیز اړخه قرآن ته راجع بولي چې د قرآن په کلي اصولو کې نغښتي او د هغه د مقاصدو بیانونکي دي. بلکې په «الموافقات» کې چې څوک ژور فکر وکړي، داسې کوم ښکاره نص نه مومي چې سنت پکې یو خپلواک مصدر ګڼل شوی وي؛ شاطبي یوازې د هغو کسانو مذهب را اخلي چې سنت خپلواک بولي او بیا پرې بحث او نقد کوي، خو په مقابل کې یو داسې لیدلوری رامنځته کوي چې قرآن د ټولو اصولو اصل او سنت د هغه بیان دی.

په دې اړه شاطبي رحمه الله فرمايي:

"سنت په خپله مانا کې قرآن ته راګرځي؛ هغه د قرآن د مجملو (لنډو) احکامو تفصیل، د ستونزمنو برخو بیان او د مختصراتو سپړنه ده. دا ځکه چې سنت د قرآن لپاره «بیان» دی او پر دې باندې د الله تعالی دا قول دلیل دی: {وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ} [النحل: ۴۴] (او موږ تاته دا ذکر [قرآن] نازل کړ ترڅو خلکو ته هغه څه بیان کړې چې دوی ته نازل شوي دي).

د ده په ټکو «نو ته به په سنتو کې داسې کوم امر ونه مومې؛ مګر دا چې قرآن ورته په اجمالي یا تفصیلي ډول اشاره کړې ده."

بياهم وايي "هر هغه څه چې پر دې دلالت کوي چې قرآن د شريعت «کليت» او د هغه سرچينه ده، هغه پر دې خبره هم دليل دی [چې سنت قرآن ته راګرځي]؛ ځکه الله تعالی فرمايلي: {وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ} [القلم: ۴] (او په يقين سره ته پر ډېر لوړ اخلاق ولاړ يې). بي بي عايشې (رض) دا داسې تفسير کړې چې د هغه (ﷺ) اخلاق قرآن و او يوازې پر همدې يې بسنه وکړه. دا ښيي چې د هغه ﷺ وينا، فعل او اقرار ټول قرآن ته راګرځي؛ ځکه اخلاق په همدې شيانو کې محصور دي.

او دا چې الله تعالی قرآن د هر څه لپاره «تبيان» (روښانه کونکی) ګرځولی، نو لازمه ده چې سنت په مجموعي توګه په قرآن کې موجود وي؛ ځکه امر او نهي لومړني شيان دي چې په کتاب کې شته. او همدارنګه د {مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ} [الأنعام: ۳۸] او {الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ} [المائدة: ۳] غوندې ايتونه؛ چې دلته له دين څخه مراد د قرآن نزول دی. نو په پايله کې سنت د هغو مفاهمو بيان دی چې په قرآن کې دي او همدا د هغه قرآن ته د ورګرځېدو مانا ده."

شاطبي بيا وايي: "قرآن په هماغه پخواني ترتيب د هر څه بيان لري؛ نو څوك چې په حقيقي ډول د قرآن عالم وي، هغه د ټول شريعت عالم دی او هيڅ شی ترې نه پاتې کېږي. سنت سره له دې چې ډېر دي او مسايل يې زيات دي، خو يوازې د کتاب (قرآن) بيان دی، لکه د النحل په (۴۴) ايت کې چې راغلي."

او سنت د هغه بيان دی، دا چې خبره همداسې ده، نو قرآن له خپل اختصار سره، جامع دی، اما هغه جامع تر هغو کېدلی نشي چې د چارو ټول کليات ور کې را غونډ نه وي؛ ځکه شريعت د هغه په نزول سره بشپړ شو، لکه چې قران کريم ويلي دي: (**اليوم اكملتُ لكم دينكم**)[ المائدة: ۳]

بيا هم وايي: سنت د قران د بيان لپاره دي، د هغه مفاهيم تشريح او توضيح کوي، له همدې امله د قران په نحل (۴۴) ايت کې الله تعالی د تبين دنده ور کړې ده. همدا شان يې د مائدې په (۶۷) ايت کې ورته ويلي دي: اې رسوله! ستا د رب لخوا چې څه تاته نازلېږي، هغه خلکو ته ورسوه.

د دغه تبليغ يا رسولو دوې طريقې دي: يو د پيغام رسول دي، چې هغه کتاب الله دی، بل يې د مفاهيمو تشريح ده، چې هغه سنت دي.

"نو د الله تعالی کتاب د ټولو اصولو اصل دی او دا هغه غايه ده چې د مفکرينو نظرونه او د مجتهدينو درك ورته رسېږي او تر هغې هاخوا بل هدف نشته؛ ځکه دا د الله پخوانی کلام دی: {وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الْمُنتَهَىٰ} [النجم: ۴۲]."

دا ټول نصوص د شاطبي په وړاندې يو محکم ليدلوری رامنځته کوي چې بنسټ يې دا دی: قرآن د شريعت کلي اصل دی او سنت ـ سره له خپلو ډېرو برخو او تنوع ـ يوازې د هغه بيان، د معانيو شرح او د مجملو تفصيل دی. له همدې امله د قرآن او سنتو ترمنځ اړيکه د دوو خپلواکو مصدرونو اړيکه نه ده، بلکې د «اصل او بيان»، د «کل او جز» او د «سرچينې او څانګې» اړيکه ده.

خو د شاطبي له دې خبرې چې «قرآن يوازېنی مصدر دی»، دا مانا نه اخيستل کېږي چې هغه له قرآنه زايد (اضافي) سنت نه مني؛ بلکې برعکس، هغه په دې نظر دی چې ټول سنت د قرآن کريم تر چتر لاندې راځي، ځکه قرآن کلي او جامع اصل دی. البته په دې اړه هغه يو لړ تفصيلات لري چې بحث او نقد ته اړتيا لري.

شاطبي د سنتو په وېش کې بل تفصيل هم لري چې کوم سنت بايد قرآن ته راجع شي او کوم نه، چې هغه به ان شاء الله په يوې ځانګړې مقاله کې وڅېړو.

ډاکټر عمار الحريري

## د شریعت د مقاصدو په بیان کې د ابن القیم یوه زرینه وینا

ښایي تاسو ته په زړه پورې وي چې ابن القیم الحنبلي د شریعت د هغو مقاصدو پـه اړه بنسـټیزې خبرې کوي چې د خلکو پر ګټو (مصالحو) ولاړ دي. هغه خبرداری ورکوي چې لـه دغـو مقاصـدو ناخبري په شریعت کې د سختۍ او تنګسې لامل کېږي.

هغه د "زمان، مکان، حالاتو، نیتونو او دودونو په بدلېدو سره د فتوی بدلېـدل" تـر عنـوان لانـدې داسې لیکي: «شریعت د بندګانو پر ګټو ولاړ دی»

دا یو خورا ګټور فصل دی؛ د دې موضوع په اړه د جهل لـه املـه پـه شریعـت کـې ډېـرې غلطـۍ وشوې، چې پایله یې سختي، مشقت او د داسې کارونو تکلیف شو چې تر وس پورته دي. په داسـې حال کې چې د شریعت لوړ مقام داسې چارې نه مني.

د شریعت بنسټ او اساس پر حکمتونو او په دنیا او اخرت کې د بندګانو پـر ګټـو ولاړ دی. شریعـت ټـول عدل دی، رحمت دی، مصلحت دی او حکمت دی. نو هر هغه مسئله چې له عدل څخه ظلم ته، له رحمت څخه قساوت ته، له مصلحت څخه فساد ته او له حکمت څخه عبث والي ته ووځي، هغه د شریعت برخه نـه ده، که څه هم په تاویلونو سره په شریعت کې دننه شوې وي.

شریعت د بندګانو ترمنځ د الله عدل، د مخلوق ترمنځ د هغه رحمت او په ځمکه کـې د هغـه سـیوری دی. دا د الله هغه حکمت دی چې پر ده او د رسول الله ﷺ پر رښتونولۍ تر ټولو بشپړ دلیل دی. دا هغه نـور دی چې بینا کسان پرې ویني، هغه هدایت دی چې لارویان پرې لار مـومي او هغـه رښـتینی شـفاء ده چـې د هـر رنځور درملنه کوي.

شریعت د سترګو یخني، د زړونو ژوند او د ارواګانو خوند دی. همدا ژوند، خواړه، درمل، نور، خلاصـون او عصمت دی. په نړۍ کې چې هر خیر شته، له همدې شریعت څخه سرچینه اخلي او چې هر نقص شـته، د شریعت د ضایع کولو له امله دی. که د شریعت دا نښې (رسوم) نه وای، نو دنیا به ورانـه شـوې او عـالم بـه لـه منځه تللی وای. دا شریعت د خلکو د ساتنې وسیله او د نـړۍ ثبـات دی. هغـه شریعـت چـې الله پـرې خپـل رسول رالېږلی، د نـړۍ سـتنه او پـه دواړو جهـانونو کـې د بختـورۍ او نېکمرغـۍ محـور دی. (کتـاب: إعـلام الموقعین)

د ډاکټر عمار له الحریري له پاڼې

## لومړی روایت ډېر مسند دی

کله چې بخاري خبرې کوي؛
صحیح البخاري یو جامد راپور نه، بلکې د ترجیح او نقد ډگر دی.

د حدیثو له کتابونو، په ځانگړې توگه له «صحیحینو» سره د چلند په برخه کې یوه عامه منهجي (میتودولوژیکه) تېروتنه دا ده چې ورته د داسې تړلو او قطعي نصوصو په سترگه کتل کېږي چې گواکې پکې ذکر شوي احادیث وروستي حقایق دي او د بحث یا بیا کتنې ځای پکې نشته. خو د امام بخاري په کړو وړو کې فکر کول یو داسې میتود رابرسېره کوي چې تر دې ډېر دقیق او ژور دی؛ داسې میتود چې په وړاندې کولو، پرتله کولو او ترجیح ورکولو ولاړ دی، نه یوازې پر منلو او تسلیمېدلو.

د بېلگې په توگه، بخاري په خپل «صحیح» کې د هغې مسئلې په اړه چې یو روژه لرونکی د سپېدو چاود مهال په جنابت کې وي او لا یې غسل نه وي کړی، دوه داسې روایتونه راوړي چې په ظاهر کې سره توپیر لري. که څه هم د کتاب له موخې سره سم باید یوازې سم او راجح روایت راوړل شوی وای، خو بخاري دواړه روایتونه یو ځای ذکر کړي او بیا یې یوه ته په دې وینا ترجیح ورکړې: «والأول أسند»، یانې لومړی روایت د سند له مخې د ده په وړاندې پیاوړی دی. دا چلند په ښکاره دا ښیي چې بخاري یوازې د صحیح احادیثو ټولونکی نه و، بلکې په خپل کتاب کې دننه یې د یوه نقاد او ترجیح ورکوونکي رول لوباوه.

بخاري په خپل سند له عبدالرحمن بن الحارث څخه روایت کوي چې مروان ته یې خبر ورکړ چې بي بي عایشې او بي بي ام سلمې (رضی الله عنهما) ورته وویل: «رسول الله ﷺ به د سهار چاود مهال په داسې حال کې و چې له خپلې مېرمنې سره د نژدېوالي له امله به جنب و، بیا به یې غسل کاوه او روژه به یې نیوله».

مروان عبدالرحمن بن الحارث ته وویل: په الله قسم درکوم چې دا خبره به ابوهریره ته رسوې... عبدالرحمن ابوهریره ته وویل: زه درته یوه خبره کوم چې که د مروان قسم نه وای، نو نه مې درته کوله. بیا یې ورته د بي بي عایشې او ام سلمې خبره یاده کړه. ابوهریره وویل: ما ته فضل بن عباس

همداسې (د روژې د نه صحت خبره) کړې وه، خو هغوی (د رسول الله میرمنې) تر هر چا ښه پوهېږي.

بخاري وايي: همام او د عبدالله بن عمر زوی له ابوهريره څخه روايت کړی چې نبي کريم ﷺ به د روژې د ماتولو امر کاوه. (که به پر چا جنابت کې سهار شو). خو بخاري وايي: «لومړی روايت ډېر مستند دی» (**والأول أسند**).

د دواړو روايتونو د اختلاف ټکی دا دی: په لومړي روايت کې ـ چې بخاري ورته ترجيح ورکړې ـ ابوهريره له خپل پخواني نظر څخه وګرځېد، د امهات المؤمنين خبره يې ومنله او د خطا پړه يې پر فضل بن عباس واچوله او ويې ويل چې هغوی تر ما ښه پوهېږي. خو په دويم روايت کې (چې رد شوی دی)، ابوهريره د امهات المؤمنين له خبرې سره موافقه نه ده کړې او پر دې يې ټينګار کړی چې رسول الله ﷺ به د داسې کس د روژې د ماتولو امر کاوه چې په جنابت کې ورباندې سهار شو. (يانې روژه يې نه کېږي). بخاري د حديث تر ذکر کولو وروسته د «والأول أسند» په ويلو سره لومړي روايت ته ترجيح ورکړه.

دا ښېلګه ښيي چې بخاري کله ناکله بېلابېل روايتونه د دې لپاره نه راوړي چې هغه ټول سره برابر کړي، بلکې د دې لپاره يې راوړي چې د «راجح» او «مرجوح» ترمنځ توپير وکړي. په «صحيح» کې د يوه روايت شتون حتماً د هغه د قطعي منلو په مانا نه دی، بلکې کله د پرتله کولو، نقد، د اختلاف ښودلو او يا د اضطراب د بيان لپاره وي. له همدې ځايه څرګندېږي چې د بخاري کار يوازې د خپلو صحيحو احاديثو ټولول نه وو، بلکې دا يو پېچلی علمي کار و، چې د اسنادو ترمنځ ترجيح، د قوت او ضعف ټکو ته اشاره او د متونو نقد پکې شامل وو.

له همدې امله، څوک چې صحيح بخاري لولي، هغه له يوه تړلي او وچ متن سره نه دی مخ، بلکې له داسې ژوندۍ علمي مادې سره مخ دی چې نقل، اجتهاد، ترجيح، نقد او د رواياتو اختلاف پکې شته. دا کتاب د بحث او څېړنې ډګر دی، نه دا چې په ټولو جزييات کې يې وروستۍ او قطعي پرېکړه شوې وي. دا يوه منهجي تېروتنه ده چې په «صحيح» کې د يوه حديث شتون د بحث د دروازې د تړلو او د نقاد د خولې بندولو لپاره حجت وګرځول شي؛ ځکه پخپله د بخاري چلند د دې برعکس ثابتوي او دا تاييدوي چې له رواياتو سره چلند بايد پر فهم او تحقيق ولاړ وي، نه پر محض تسليمۍ او منلو.

ډاکټر عمار الحريري

## قرآن کریم او سنتو ترمنځ د بشپړتیا اړیکه

د قرآن کریم او سنتو د اړیکې په اړه زما د څېړنې له مهمو پایلو څخه یوه دا ده، چې ستونزه هیڅکله پخپله په نبوي سنتو کې نه وه، بلکې ستونزه له هغو سره د منسوبو روایاتو په چلند، د قرآني مرجعیت په رڼا کې د هغو د کنټرول او فهم په میتود (منهج) کې وه.

دا پایلې سره له دې چې خورا مهمې او روښانه دي، د پخوانیو دقیقو محققینو پر بنسټونو ولاړې دي؛ لکه د مذاهبو امامان او د اصولو خاوندان (جصاص، سرخسي، دبوسي...) او هغه کسان چې د هغوی لار یې تعقیب کړې لکه شاطبي او قرافي... او هغه وروستي محققین چې په دې برخه کې یې دقیقې څېړنې کړي لکه ابو زهره او العلواني (الله دې پر ټولو رحم وکړي).

تر ټولو مهمې پایلې په لاندې ډول دي:

* قرآن کریم لوړه، حاکمه او تصدیق کوونکې مرجع ده؛ دا هغه قطعي نص دی چې د شریعت ټول کلیات پرې په داسې یو متحد نظام ولاړ دي چې هیڅکله نه ګډوډېږي.

* د قرآن حاکمیت دا غوښتنه کوي چې هغه باید د جزییاتو او فروعو لپاره یو تلپاتې تله او کنټرولونکی وي؛ ټول جزییات باید هغه ته راجع او د هغه په رڼا کې فهم ورنه واخیستل شي.

* د تشریع رامنځته کوونکی (منشأ) مصدر یوازې قرآن کریم دی او سنت د هغه عملي بیان او په واقعیت کې د هغه پلي کول دي.

* سنت په خپل حقیقت کې له مانیز او مقاصدي پلوه قرآن ته راګرځي؛ نه له هغه خپلواک دي او نه د هغه له کلي چوکاټ څخه بهر وتلی شي.

* د قرآن د عملي پلي کولو په توګه د «سنت» مفهوم، له هغو «روایاتو» سره بشپړ توپیر لري چې پر نقل، سند او اجتهاد ولاړ دي.

* د قرآن له ضوابطو څخه یوه دا ده چې تشریعي احکام باید د هغه د کلي اصولو په رڼا کې وفهمول شي؛ نو ځکه هغه څه نه منل کېږي چې په تشریعي نظام کې ګډوډي رامنځته کوي او یا د هغه له محکمومقاصدو سره مخالفت کوي.

* تشريعي سنت باید د خپلو قرآني اصولو په چوکاټ کې وفهمول شي، خو کوم روایتونه چې له دې چوکاټه بهر دي، هغه پر نورو برخو لکه اداري تدبیر، ارشاد، تجربې حمل کېږي او یا د قراینو په پام کې نیولو سره پکې توقف کېږي.

* د «دوه ګوني مصدر» (ثنائية المصدر) نظریې منهجي ستونزې رامنځته کړې، چې تر ټولو لویه یې ظني روایاتو ته د داسې واک ورکول و، چې د قرآن له قطعي نص سره مقابله وکړي.

* د دغه تصور له امله د قرآن او سنتو ترمنځ د «تعارض» او «نسخ» ادعاوې پراخې شوې، چې بیا یې په منځ کې د جمع او ترجیح لپاره بې ځایه تکلفونه وزېږول.

* دوه ګوني مصدر د قرآن د رول په ځنډې ته کولو کې برخه واخیسته، تر دې چې د قرآن حضور یوازې په شکلي بڼه پاتې شو او د هغه حاکم مرجعیت له پامه وغورځول شو.

* سمه منهجي اړیکه دا غوښتنه کوي چې روایات پر قرآن وړاندې شي، ترڅو ظني په قطعي سره کنټرول شي او فهم و استدلال سم شي.

* د صحابه کرامو تګلاره د قرآن پر مرکزیت ولاړه وه؛ هغوی به په روایت کې پوره احتیاط کاوه، هغه څه به یې ردول چې له قرآن سره په ټکر کې وو او قرآن ته به یې په فهم او حکم کې لومړیتوب ورکاوه.

* همدارنګه د لویو فقهاوو عملي ژوند هم شاهدي ورکوي چې هغوی ډېر روایتونه رد کړي او یا یې د هغو ظاهري مانا ځکه پرېښې چې د قرآن له ظاهر یا کلیاتو سره یې مخالفت درلود.

* پر قرآن باندې د روایاتو د وړاندې کولو غفلت د مرجعیت د انحراف لامل ګرځي، متبوع (قرآن) تابع ګرځوي او د هوسونو او بدعتونو لپاره لاره پرانیزي.

* د قرآني حاکمیت له غوښتنو څخه یوه دا ده چې د غیبو خبرونه او کیسې باید د قرآني وحې تابع وي؛ څه چې ورسره سم وي منل کېږي او څه چې د هغه له نظام او مقاصدو سره په ټکر کې وي، د بحث او توقف ځای دی.

* د قرآن او سنتو سمه اړیکه پر انضباطي تکامل ولاړه ده: قرآن حاکم او مهیمن دی، سنت تابع بیان دی او روایت د څېړنې و ارزونې ځای دی.

* دا چاره د قرآن د مرکزیت او حاکمیت بیا فعالولو ته اړتیا لري، ترڅو د سنتو په فهم او د روایاتو په نقد کې د قرآن مقاصد حاضر وي.

* همدارنګه دا د محفوظ قطعي قرآني نص (چې تر روايت لوړ دی) او د حديثي رواياتو (چې ظني او اجتهادي بڼه لري او په منلو کې يې تساهل شوی) ترمنځ د منهجي توپير غوښتنه کوي.
* د سنتو د فقهي منهج بيارغونې لپاره لازمه ده چې امت بېرته د قرآن مرکزيت ته راوګرځي؛ دا کار د تدبر د فريضې په فعالولو او له کلي نظام سره د جزيي فهم په تړلو سره ممکن دی.
* د رسول الله ﷺ د سنتو ساتنه په دې کې نه ده چې هر روايت ته په مطلق ډول تسليم شو، بلکې په دې کې ده چې هغه تر علمي نقد او څېړنې لاندې ونيسو، ترڅو د نبوت مقام له هغو منسوبو رواياتو وژغورل شي چې د نبوت برخه نه دي.
* د حديثو په اړه حکمونه — سمول (تصحيح) وي يا ضعيفول او که جرح و تعديل وي — دا ټول د بشري اجتهاد پايله ده چې پکې اختلاف راتلای شي، لکه څنګه چې فقهاء د نصوصو په فهم کې اختلاف کوي.
* په امت کې د تاريخي ګډوډۍ يو لامل په مذهبي او فکري جګړو کې د ځينو رواياتو کارول وو؛ د دې پر ځای چې ستونزې په يو جامع منهجي چوکاټ کې حل شي، ظني نصوص د تفرقې د زياتولو لپاره وکارول شول.
* همدارنګه په رواياتو کې د ځينو اسرائيلي خبرونو او پرديو کلتورونو ننوتل او بيا د هغو تصحيح کول د سنتو او د رسول الله ﷺ څېره خرابه کړه، چې دا چاره لا ډېرې څېړنې او نقد ته اړتيا لري.
ډاکټر عمار الحريري

# د دیني بنسټونو کړکېچ

فکري جمود یو له هغو خطرناکو بحرانونو څخه دی چې نن سبا ډېری دیني بنسټونه ورسره لاس او ګرېوان دي. دا یو داسې حقیقت دی چې نور پټ نه دی پاتې؛ ځکه هر څوک چې وغواړي له دغه کړکېچ څخه بهر شي، یا پر ځینو هغو مسایلو بیا کتنه وکړي چې «قطعي منل شوي» ګڼل کېږي، سمدستي د تورونو له سیلاب سره مخ کېږي. دا ځکه چې په لویه کچه دا باور راسخ شوی چې د متقدمینو (پخوانیو) له منهجه مخالفت یوه لویه نیمګړتیا ده، چې د هغوی په نظر تر بې لارۍ او حتی تر کفر پورې رسېدلی شي.

یو له هغو پخوانیو او اوسنیو لویو ستونزو څخه دا ده چې د حدیثو ډېرو پلویانو د سم (صحیح) او نا سم (ضعیف) حدیث ترمنځ د توپیر لاره یوازې په «سند» کې منحصره کړې ده او د پخوانیو پر کړنو یې ټینګار کړی، سره له دې چې د سند جوړونې په صنعت کې ځینې ستونزې هم رامنځته شوې وې. بلکې خبره تر دې ورسېده چې پر قرآن باندې د حدیث وړاندې کول یو مردود منهج وګڼل شو او د هغو کسانو کار وبلل شو چې له دینه وتلي (زنادقه) دي او یا له علمه برخه نلري.

په مقابل کې، قرآني اصل او د هغه حاکمیت د سترو صحابه کرامو له تګلارې سره یو ځای دا ثابتوي چې پر کتاب الله باندې د روایاتو وړاندې کول یو رښتینی معیار دی، چې په اصل کې د سند د اوسني منهج تر رامنځته کېدو وړاندې موجود و. قرآن تر ټولو لوړه مرجع او هغه حاکمه تله ده چې ټولې خبرې او روایات پرې تلل کېږي.

که پخوانیو — او په لومړي قدم کې اوسنیو — عالمانو په دې برخه کې بیا کتنه کړې وای، نو ورته څرګنده شوې به وای، چې یوازې پر سندونو بسنه کول کله ناکله د یو ډول «تقلید» لامل ګرځي؛ ځکه انسان پر هغو ثقه بللو (توثیق) او ضعیف بللو (تضعیف) باندې تکیه کوي چې له خپلو استادانو یې اورېدلي، پرته له دې چې تل د دې وس ولري چې په تېرو پېړیو کې د راویانو د حالاتو په اړه نېغ په نېغه پلټنه وکړي.

ځینو عالمانو لکه رازي او صنعاني دې مانا ته اشاره کړې او څرګنده کړې یې ده چې د لویو محدثینو تصحیحات له اجتهاد او تقلید څخه خالي نه وو، او دا پرېکړې داسې نه دي چې بیا کتنه او علمي نقد پکې نشي کېدای.

خو نننۍ ستونزه یوازې تر علمي بحث پورې محدوده نه ده، بلکې خبره دې ته رسېدلې چې پر هرې بیاکتنې او نظر ثاني باندې د «تور» ټاپه وهل کېږي. دا په داسې یو دودیز عقل سره رامنځته کېږي چې له تحقیق څخه ډېر پر اتباع (پیروۍ) ټینګار کوي او میراثي پوهه له قرآني کلي معیارونو سره تر تللو وړاندې، مقدسه ګڼي.

د یوې سترې تلې په توګه د الله کتاب ته د خپل مقام بېرته ورکول په سنتو باندې برید نه دی او نه هم د تېر علمي میراث نړول دي، بلکې دا د پوهېدو د طریقې سمول او اصلي ځای ته د اصولو بېرته ګرځول دي. وحې هیڅکله تناقض نه لري او حق له حق سره په ټکر کې نه وي، بلکې ستونزه د پوهېدو او اخیستلو په طریقو کې ده.

له همدې ځایه، د منهج د بیاکتنې غوښتنه له دینه وتل نه دي، بلکې دا هڅه ده چې یو داسې متوازن معیار رامنځته شي چې د قرآن مقام لوړ وساتي او روایات په یوې رښتنې علمي فضا کې د هغه تابع کړي، چې له تهمت او خیانت څخه لرې او د حقیقت موندنې روح ته نژدې وي.

الله دې پر العلواني رحم وکړي چې پر قرآن باندې د روایاتو وړاندې کولو د طریقې پر ځای، یوازې د سند پر طریقې بسنه کول یې یو داسې خطرناک کړکېچ باله چې د مسلمان عقل ورسره اخته شوی دی. ځکه نو دغه عقل د یوې خبرې د محتوا په لوستلو سره د هغې پر سموالي نه پوهېږي، چې باید پر قرآن یې وړاندې کړي؛ هغه قرآن چې یوازېنی محکم نص دی او باطل هیڅ لوري ته ورته نشي نژدې کېدای. دا کټ مټ هماغه کار دی چې صحابه کرامو (رضوان الله علیهم) کاوه.

ډاکټر عمار الحریري

## د افک د پېښې روايات د قرآن کريم په تله کې

**پوښتنه:**

ايا واقعاً نبي ﷺ د مؤمنانو پر مور عايشې رض شک کړی و که دا روايتونه باطلې خبرې کوي؟ ايا پلار يې هم وربانديې شک کړی و؟ زه نه پوهېږم چې کومه خبره ډېره سخته ده: دا چې ځينې ناپاکه نارينه د نبي پر مېرمن د زنا تور پورې کړي! او که دا چې يوه مېرمن تصور وکړي چې هغه د خپلو نژدې کسانو له خوا د تهمت په درشل کې ده! دا ډول پېښه که پر هر څه دلالت کوي، پر دې خو دلالت کوي چې يوه ښځه که هر څومره سپېڅلې وي او سيرت يې له سرو زرو جوړ وي (او يقيناً عايشې رض شرعي حجاب درلود)، بيا يې هم د خلکو له يوې ناپاکې ډلې هغې ته د بد ويلو او په عزت کې يې د لوېدو مخه ونه نيوله! او دغو سپېڅلتياوو حتی د هغې د نژدې کسانو د شک او وسوسې مخه هم ونه نيوله! (که چېرې دا روايتونه سم وي). زه هيله لرم چې دا روايتونه درواغ وي، بلکې هيله لرم چې هغوی به د دې په ننګ کې سرښندونکې دفاع کړې وي؛ ځکه که د دوی په څېر خلکو دا کار نه وي کړی، نو د کورنۍ او واده په څېر نومونه يو لوی درواغ دي.

**ځواب:**

د درنې پوښتونکې په زړه کې چې کوم استنکار او اندېښنه ده، دا په حقيقت کې د هغې د پاک فطرت نښه ده؛ ځکه انسان هغه څه وړاندې کوي چې په زړه کې يې دي. الله تعالی په سوره نور کې د افک په اړه د خبرو مهال يو زرين قانون ايښی او فرمايي:

﴿الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾ [النور: ٢٦]

(ناپاکې خبرې د ناپاکو نارينهوو لپاره دي او ناپاک نارينه د ناپاکو خبرو لپاره دي او پاکې خبرې د پاکو نارينهوو لپاره دي او پاک نارينه د پاکو خبرو لپاره دي؛ دا (پاک خلک) له هغو خبرو پاک دي چې دوی (تهمت کوونکي) يې وايي، د هغوی لپاره بښنه او عزتمنه روزي ده.)

دلته "پاک" او "ناپاک" څخه مراد وینا، ګمان او عقیده ده. ناپاک فکرونه او ګناه لرونکي ګمانونه یوازې هغو ناپاکو نفوسو ته ښايي چې د سپېڅلتیا تصور نشي کولی. خو پاک نفوس هغه دي چې په فطري ډول ناپاکه خبره ردوي او یوازې د خیر ګمان کوي، په ځانګړې توګه کله چې خبره د پیغمبرانو او د هغوی د پاکو کورنیو په اړه وي.

هغه سختي چې پوښتونکې ورته اشاره کړې او د "افک په روایت"کې ښکاري، یوازې په دې کې نه ده چې یوې ډلې منافقانو پر پاکلمنو ښځو تور پورې کړ —که څه هم هغه درنه عائشه د پیغمبر میرمن وي، دا خو په تاریخ کې د پیغمبرانو د دښمنانو عادت پاتې شوی، لکه څنګه چې د نړۍ تر ټولو سپېڅلې مېرمنې "مریم د عمران لور" سره وشول، چې په محراب/عبادتخونه کې راستره شوه، ځان یې د عبادت لپاره ګوښی کړ، خو سپېڅلتیا یې د هغې د قوم مخه ونه نیوله او ویې ویل:

﴿قَالُوا يَامَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا﴾ [مریم: ۲۷]

(هغوی وویل: اې مریمې! یقیناً تا یو ډېر بد (حیرانوونکی) کار کړی دی.)

دا ځکه چې هدف پخپله "عفت" وي، ترڅو د ټولنې یووالی مات کړي او د پاکوالي په اړه شکونه را پیدا کړي. منافقان د بدلمنو ښځو په اړه خبرو پسې نه ګرځي، ځکه له هغو ښځو د ټولنې ارزښتونو ته خطر نه پېښېږي؛ بلکې د هغوی هدف د عفت د سمبولونو په نښه کول دي، څو د مؤمنانو په صفونو کې زلزله راولي.

خو تر ټولو لویه سختي او "لوی افک" زموږ لخوا د هغو روایاتو په داسې منلو کې دی چې یوازې د تهمت پېښه نه نقلوي، بلکې پخپله "افک" دی. وروسته به یې ووینو!

څوک چې د "افک پېښې" جوړښت ته وګوري، ځان له یوې داسې لویې ستونزې سره مخ ویني چې یوازې تر تاریخي کیسې پورته ده. دا د یو ورک شوي هار یا د یو ځنډول شوي سفر کیسه نه ده؛ هغه کیسه چې په موروثي کتابونو کې نقل شوې، پر عقل او وحې باندې جنایت دی. دا د الله د کتاب د هجران (پرېښودو) یوه ښکاره بېلګه ده چې د نبي ﷺ او د هغه د کورنۍ د ژوند په ارزونه کې د بل چا قضاوت منل کېږي. سلیم فطرت دا نه مني چې نبي ﷺ —هغه د رحمت او هدایت نمونه ده — د خپلو نژدې کسانو په اړه "شکمن" یا "کمزوري" دریځ ولري. د افک پېښه یوازې پر بي بي عایشې تهمت نه و، بلکې دا د نبي ﷺ پر عدالت، انضباط او د وحې پر تطبیق باندې تهمت و. دا د مؤمنانو پر بصیرت تور و، چې حق او باطل نشي جلا کولی او د هغې خبرې رښتینولي ده چې وايي

هغوی خپل کتاب یوازې د برکت لپاره پرېښی او د ژوند د تګلارې په توګه یې ترې ګټه نه ده اخیستې:

﴿قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ. يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾ [المائدة: ۱۵-۱۶]

(یقیناً ستاسو خواته د الله له لوري یو نور او څرګند کتاب راغلی دی. الله په هغه سره د خپلې رضا لارویانو ته د سلامتی لارې ښيي او هغوی د خپل امر په واسطه له تیارو څخه رڼا ته باسي او سمې لارې ته یې بیایي.)

کله چې موږ د هغو روایتونو جزییاتو ته وګورو چې وایي بي بي عایشه له نبي ﷺ سره په غزا کې وه، له داسې پېښو سره مخ کېږو چې ډېرې منطقي پوښتنې راپیدا کوي، بلکې شونې ده چې بشري خیال تر لرې پورې ولاړ شي؛ ځکه د کیسې بنسټیزه ستن د غاړګۍ ورکېدل دي، دا په خپل ذات کې ډېرو بنسټیزو پوښتنو ته لار پرانیزي، دا پوښتنې د یوه لوستونکي په ذهن کې خپله را پیدا کېږي او د تاریخي پېښې پر ملا وار کوي:

۱. **د کجاوې معما او د وزن سپکوالی**: روایت وایي چې لښکر اوښ ته د کجاوې په پورته کولو کې د هغې په نشتوالي پوه نشو؛ ځکه هغه ډېره ډنګره او سپکه وه. دلته پوښتنه دا ده: ایا د هغې وزن تر نشتوالي (صفر) پورې رسېدلی و؟ اوښ یو داسې حیوان دی چې د بار توازن حس کوي؛ اوښبانه څنګه د کجاوې په میلان یا ناڅاپي سپکوالي پوه نشول؟ ایا که هغه درنه وای، نو د هغې غیاب به محسوسېدای؟ دا عذر د پالنې او پاملرنې د لومړنیو اصولو په وړاندې ډېر کمزوری دی.

۲. **د لښکر تګ او شور ماشور**: ایا لښکر په بشپړې خاموشۍ کې روان و؟ که یې ورسره حیواناتو اواز نه درلود؟ او که په کاروان کې ډېر اسان، اوښان او خلك موجود نه وو؟ څنګه بي بي عایشې د لښکر د تګ او د چارچیانو غږ نه واورېد؟ په دښته کې غږ لرې ځي او لید لوری پراخ وي.

۳. **د لښکر کوچېدل**: هغې څومره وخت خپل هار لټولی و، چې ټول لښکر داسې ورك شو لکه په الوتکو کې چې لرې تللي وي؟ څنګه ټول لښکر په څو دقیقو کې داسې غیب شو چې یوې ځوانې پیاوړې نجلۍ یې حتی وروستۍ ډله هم ونه موندله؟ روایت لښکر داسې انځوروي چې د هار له لټون سره سم "تبخیر" شو!!

٤. **په دښته کې د لټون او خوب شرایط**: که لټون په شپه کې و، نو په کومه رڼا یې هار وموند؟ او که په ورځ کې و، نو څنګه چا ونه لیده چې هغه بېرته راګرځي؟ او په خلاصه دښته کې د هغې د

ویده کېدو کیسه خو بېخي بله ده؛ ایا دښته دومره امن وه چې یوه ښځه پکې تر هغو ارامه ویده شي چې موندلو ته یې څوك راشي؟

۵. **د نبي ﷺ مشرتوب او کورنی رول**: په نظامي عرف کې د "قومندان خېمه" او د هغه د کورنۍ حریم ځانګړي ساتونکي او دوامداره تفتیش لري. دلته تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده: ایا نبي ﷺ خپله مېرمن یوازې له ځان سره بیولې وه خو پوښتنه یې نه کوله؟ څنګه یوه ښځه د دښتې په زړه کې یوازې پرېښودل کېږي چې خپل ضرورت پوره کړي، خو مېړه یا ساتونکی یې ورسره نه وي؟ ایا دا ممکنه ده چې هغه د لښکر له سترګو لرې شي او څوك یې په غیاب پوه نشي؟ څنګه مېړه د خپلې مېرمنې پوښتنه ونه کړه، پر هغې د ډاډ لپاره تر کوچ مخکې یې دا ښه مناسب او اطمئناني کار و؟

که وویل شي چې نبي ﷺ قائد و او د زرګونو سرتېرو په تنظیم بوخت و؛ نو دلته د بیولو پرېکړه د امنیت له ناتوانۍ سره په ټکر کې ده. که نظامي مسوولیتونه دومره درانه وي چې یو قائد د خپلې کورنۍ پوښتنه نشي کولی، نو له هماغه پیله یې ولې بیوله؟ د مېرمنو بیول کومه "مېله" نه وه، بلکې هغه تصمیم و، چې دوه چنده امنیتي پاملرنې ته یې اړتیا لرله. ایا دا معقوله ده چې نبي ﷺ — چې د مسوولیت منلو نمونه ده — مېرمن له ځان سره بوزي او بیا یې په دښته کې پرته له ساتونکي او پوښتنې پرېږدي؟

دا خبره چې "ګنه ګونې نبي ﷺ د خپلې مېرمنې له شتون څخه غافل کړ"، بي بي عائشه رض د یو داسې غیر اساسي څیز په توګه انځوروي چې امنیت یې د مشرتابه له هیبته سره تړلی نه وي!

۶. **د واټن اوږدوالی**: لښکر یوه ورځ او شپه مزل کړی و ترڅو غیاب معلوم شي. ایا په دغو ټولو ساعتونو کې نبي ﷺ له خپلې مېرمنې سره خبرې ونه کړې، خواړه یې ورته ونه لېږل او یا یې ترې احوال ونه غوښت؟

۷. **بشپړه چوپتیا**: روایت داسې انګېري چې نبي ﷺ او ټولو خلکو له "کجاوې" سره د یو داسې مړي یا بند صندوق په څېر چلند کاوه چې تر مدینې پورې ورسره خبرې نه کېږي؛ دا سناریو له ټولنیز واقعیت او پاملرنې لرې ده.

۸. **د حجاب او پېژندنې پاراډوکس**: یوه وروستۍ پوښتنه د هغه صحابي په اړه ده چې هغه یې موندلې وه؛ که هغه په حجاب کې وه او هیڅ یې نه ښکارېدل، هغه څنګه وپېژندله؟ د دغه صحابي په مناسب وخت او ځای کې پیدا کېدل او په رڼا ورځ له هغې سره مدینې ته ننوتل، د یوه "ډراماټیکي جوړښت" په څېر ښکاري ترڅو وروسته فتنې ته لاره هواره کړي.

**کله چې روايات د پيغمبرانو له بيدارۍ او د قرآن له محکماتو سره ټکر کوي!**

د پيغمبرانو د بيدارۍ او د هغوی د رعيت د پالنې يو له سترو قرآني شواهدو څخه د سليمان ع کيسه ده؛ هغه د يو داسې لښکر مشري کوله چې جنيات، انسانان او مرغان پکې وو، خو يو کوچنی مرغه يې له سترګو پټ نه شو:

﴿وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَا أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ﴾ [النمل: ٢٠]

(او هغه د مرغانو پوښتنه وکړه، بيا يې وويل: څه شوي چې هدهد نه وينم؟ که هغه له غايبينو څخه دی؟)

دلته بنسټيزه پوښتنه پيدا کيږي: که "هدهد" د سليمان ع له لښکره په هغه ګڼه ګوڼه کې غايب نشو، نو څنګه دا معقوله ده چې زموږ له نبي ﷺ څخه د هغه مېرمن او تر ټولو نژدې کس د يوې ورځې او شپې په مزل کې غايب شي؟ څنګه نبي ﷺ په دغه ټوله موده کې انديښمن نشو؟

دا ادعا چې د مشرتوب بوختياوو نبي ﷺ له خپلې کورنۍ غافل کړ، د هغه پر اداري مشرتوب او کورنۍ مېړانې يو پټ تور دی او هغه د يو "ذهني غايب مېړه" په توګه انځوروي، چې دا د هغه له بيداره شخصيت او پر کورنۍ له مهربانۍ سره په ټکر کې ده.

ايا د سليمان ع په لښکر کې "هدهد" د محمد ﷺ په لښکر کې تر "ام المؤمنين" د پوښتنې ډېر لايق و؟ "نَبِّئُونِي بِعِلْمٍ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ"!! (که رښتوني يئ نو ماته په علم سره خبر راکړئ).

موږ ته روښانه شوه چې د دغه روايت محکمه په "منطق" او "قرآن" کې داسې نيمګړتياوې راباسي چې منل يې له روغې عقيدې سره ټکر لري، هغه مهال چې ورته يو محال تصادف د ټولې کيسې لپاره اساس ګرځول کيږي( تصادفي د هار ورکېدل+ تصادفي د باروونکو هغې ته نه پاملرنه+ تصادفي د نبي عليه السلام نه پوښتنه+ تصادفي د پيښې په ځای کې د هغې بيده کېدل+ او په تصادفي توګه د يوه صحابي له لوري يې موندنه) د تصادفاتو دا تراکم چې کله د عقل تر مېچن لاندې کېښودل شي، نو د تاريخي کيسې پر ځای دا ډېره ور څخه ځرګندېږي چې د يوه راوي له لوري جوړه شوې کيسه ده، دا پر موږ لازموي چې تر مطلق منلو دا ښه ده چې روايات په خلاصو سترګو وګورو، لومړی يې د قران په تله کې وتلو او بيا يې د سليم منطق پر معيار کښېږدو.

**د افک پېښه د قران کريم په ميزان کې او له څو وجو يې له صريحو اياتونو سره تناقض:**

**د نبوي اخلاقو په اړه طعن**: الله تعالی خپل پیغمبر ته فرمايي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ [القلم: ۴]؛ نو ایا دا له عظیم اخلاقو څخه ده چې خپله مېرمن یوه پوره میاشت د خاموشی تر درونـد بـار لاندې په غم او درد کې پرېږدي؟ په داسې حال کې چې هغه (ص) پر خپل ځان روا څیزونه د خپلـو مېرمنو د خوشالۍ په خاطر حرام کړي وو [التحریم: ۱].

**د تبیُّن (تحقیق) له منهج څخه مخالفت**: الله تعالی په سورة الحجرات کې مومنانو ته د تبیُّن امـر کړی دی: ﴿إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا﴾ [الحجرات: ٦]؛ نو څنګه پیغمبر ﷺ تـه دا نسبت کېـږي چې دا اصل یې معطل کړی و او معامله یې ګمانونو او وسوسو ته پرېښې وه؟ په داسې حال کې چې هغه ته امر شوی و، چې د الله په نازل شوي حکم فیصله وکـړي او د ناپوهـانو د غوښتنو پیـروي ونـه کړي. ایا دا معقوله ده چې نبي ﷺ -چې د شریعت مبلغ او تطبیق کوونکی دی- تبـیُّن پرېـږدي او په هغه وحشتناکه خاموشۍ بسنه وکړي چې هره شبېه یې خپله مېرمن وژله؟

**د دې کورنۍ د پاکوالي په اړه د قرآن پرېکـړه**: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ [الأحزاب: ۳۳]؛ نو څنګه د هغه پر مېرمن باندې د شـک پـه کولـو سره د هغه په کورنۍ پورې "معنوي ناپاکي" وتړل شي؟

**د "سورة النور" دستور**

کله چې موږ هغه سورت ته راشو چې د افک د پېښې قایلین یې د استشهاد په توګه وړاندې کـوي -الله دې نبوي حریم له دې نسبته وساتي- نو دا به روښانه شي چې (دا) روایت په هغه سورت کې له هر شته ایت سره په ټکر کې دی؛ هغه سورت چـې الله تعـالی نـازل کـړی، فـرض کـړی او پکـې هـر حرکت او سکون یې په تفصیل بیان کړی، ترڅو د عزتونو د ساتنې او د زړونو له ناروغانو او کمـزورو نفسونو څخه د کورونو د خوندي ساتلو لپاره یو قانون وي، کله چې یې وفرمایل:

﴿سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ [النور: ۱]

(یو داسې سورت چې موږ نازل کړی، موږ فرض کړی او په دې کې مو ډېرې روښانه نښـې نـازلې کړې، څو تاسو پند ورنه واخلئ)

**له هغو څرګندو ایاتونو څخه ځینې دا دي:**

* "**ښه ګمان**": سوره نور د اوازو د مخنیوي لپاره یو پرېکنده قانون ایښـی: ﴿لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ مُبِينٌ﴾ [النـور: ۱۲] (ولـې کلـه چـې تاسـو دا

واورېدل، مؤمنانو او مؤمنو ښځو په خپلو ځانونو (يو بل) باندې د خير گمان ونه کړ او ويې نه ويل چې دا ښکاره تهمت دی؟). که دا پېښه د نبي له مېرمنې سره تړلې وای، نو ولې ايات ونه ويل چې "پر هغې يې د خير گمان ونه کړ"؟يا دې پر ځان د خير گمان ونه کړ؟

* **تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده**: ايا نبي ﷺ په هغو مؤمنانو کې نه راځي چې د خير گمان کوي؟ که راځي، نو موږ ولې هغه ترې وباسو او — حاشاه — داسې يې انځوروو چې پرته له کوم ثبوته يې پر خپلې کورنۍ د بدو گمان کاوه؟

* **د قذف د حد او شاهدانو له پامه غورځول**: قرآن د څلورو شاهدانو غوښتنه کړې او څوک چې شاهدان رانه ولي هغوی يې د الله په وړاندې درواغجن بللي دي: ﴿لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ﴾ [النور: ١٣]. نو روايت څنگه وايي چې نبي مياشت "لاس تر زنې" ناست و او علي رض ته يې وويل چې د عايشې رض مينځه "بريره" ووهي ترڅو اعتراف وکړي؟ او علي ورته د طلاق مشوره ورکړه؟ په داسې حال کې چې الله ورته امر کړی و چې له تهمت کوونکو څخه شاهدان وغواړي او هغوی له پيله درواغجن وبولي.

* **بې علمه خبرې کول**: الله تعالی د ژبې په واسطه د افک له اخيستلو منعه کړې: ﴿إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهو عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ﴾ [النور: ١٥]. نو نبي ﷺ ته دا څنگه منسوبوو چې هغه په دغه "لويه گناه" کې د چوپتيا يا د طلاق د مشورې په واسطه شريک و؟

* **په بهتان کې لوېدل**: قرآن حتی د "بهتان عظيم" د ويلو په اړه خبرداری ورکړی: ﴿وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ﴾ [النور: ١٦] (او ولې کله چې تاسو دا واورېدل، ويې نه ويل چې موږ ته نه ښايي چې پدې اړه خبرې وکړو، پاکي ده تاته (اې الله)! دا يو لوی تهمت دی). ايا دا ممکنه ده چې نبي د خپل عزت په اړه داسې بهتان اورېدلی وي او هغه څه يې نه وي ويلي چې الله ورته د ويلو امر کړی؟

يو بل قطعي دليل هم شته چې د "افک" د اياتونو او د بي بي عايشې د روايت ترمنځ اړيکه پرې کوي، او هغه د "قرآن مفصل منهج" دی.

قرآن کريم يوه وړه کورنۍ پېښه ثبت کړې کله چې نبي ﷺ خپلو ځينو مېرمنو ته يو راز ووايه او هغوی ښکاره کړ، د دې لپاره الله يوه پوره سوره (سوره تحريم) نازله کړه او د دواړو مېرمنو حالت يې

په دقت بیان کړ: ﴿إِن تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا﴾ [التحریم: ۴]. که وحې د یو "راز ښکاره کولو" په اړه دومره په جزییاتو مداخله کوي، نو څنګه ممکنه ده چې یو داسې "اخلاقي ناورین" چې میاشت یې مدینه لړزولې وه او د نبي ﷺ عزت ته پکې کتل شوي وو، په قرآن کې یې یو ځل هم د نبي د کورنۍ نوم یا صفت یاد نشي؟

له دې څرګندیږي چې په سوره نور کې د افک ایاتونه د ټولنې د ساتنې لپاره یو "عمومي قانون" او اخلاقي قواعد دي، نه د نبي د مېرمنې د پېښې یو "راپور". په دغو ایاتونو کې د بي بي عایشې داخلول یو روایتي تحمیل دی، نه قرآني. که دا پېښه واقعاً د نبوت په کور کې شوې وای، نو د قرآن منهج دا و چې لکه د سوره تحریم غوندې یې د دغه کور د "پاکولو" جزییات په نوم او صفت یاد کړي وای، څو تر پېړیو وروسته د روایتونو خوراک نشي. د همدې الهي قول د مصداق په توګه: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ [الأحزاب: ۳۳] (بېشکه الله غواړي له تاسو اهل بیتو څخه نجاست ایسته کړي او تاسو په ښه توګه پاک کړي)، نه دا چې د هغو روایاتو لپاره یې د ښکار په توګه پرېږدي چې لسګونه کلونه وروسته جوړ شوي.

نو له همدې کبله هغه حقیقت چې باید تر هر روایت لوړ وي، دا دی: نبي ﷺ چې الله یې اخلاق ستایلي او اهل بیت یې پاک کړي، نشي کېدای د منافقانو د شکونو ښکار شي او نه خپله مېرمن په شک کې پرېږدي. د نبوت کرامت دا غوښتنه کوي چې چا بانـدې چې ﴿سُبْحَانَكَ هَٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ﴾ نازل شوی، هغه دا خبره له لومړۍ شېبې په زړه او ژبه کړې وه، نه دا چې میاشتې یې حیراني کې خوشې کړې او له انسانانو سره یې د هغې اړوند مشورې کولې، دا که موږ فرض کړو چې پېښه له عائشې رض سره اړه لري.

څنګه موږ جرئت کوو چې د قلم په یوې کرښې د دغه پاک کور سره "ناپاکي" وتړو او ادعا وکړو چې میاشت ورباندې شک خپور و؟ د نبي ﷺ په اړه د "کمزورۍ او بې ننګۍ" د موقف منل په حقیقت کې د الهي پاکوالي تر پرېکړې د روایانو هوسونو ته ترجیح ورکول دي. نبي داسې انځوروي چې د خپل اهل په پاکوالي کې له انسانانو سره مشورې کوي، د هغه په وړانـدې مینځه وهل کېږي چې شاهدي ادا کړي، دا روایات پر اهل بیتو نجاست تپي او د نبي صلی علیه وسلم عدالت و فهم تر پوښتنې لاندې راولي.چا باندې چې د خپل کور د پاکوالي ایات نازل شوی(**ویطهرکم تطهیرا**)، هغه هیڅکله د مؤمنانو د مور په پاکوالي کې وسوسه نشي کولای.

زموږ له خوا د دغې پېښې منل په حقيقت کې د نبوت د کور په حق کې له افک، دروغو او ظلم سره مرسته ده. الله تعالی موږ ته د هغوی په اړه د ادب او د هغوی د مقام د پېژندنې امر کړی او هغوی يې "د مؤمنانو ميندې" بللې دي: ﴿وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ [الأحزاب: ٦]. ترڅو موږ له هغو لعنتي کسانو څخه نشو چې الله يې په اړه فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا﴾ [الأحزاب: ٥٧]

(يقيناً هغه کسان چې الله او د هغه رسول ته ازار ورکوي، الله په دنيا او اخرت کې وربانـدې لعنت کړی او هغوی ته يې سپکوونکی عذاب چمتو کړی دی.)

**که وويل شي: نو د افک له پېښې مراد څوک و؟ او چا يې مشري کوله؟**

ځواب دا دی چې يقيناً دا اياتونه تر داسې پېښو وروسته نازل شوي چې پکې بدکاري شوې وه او يا پر پاکلمنو ښځو تور پورې شوی و، چې دليل يې دا دی: ﴿يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَنْ تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴾ [النّور: ١٧] (الله تاسو ته نصيحت کوي چې بيا هيڅکله داسې کار ته ونه ګرځئ که مؤمنان يئ).

او چا چې د دې "کِبْرْ" (لويه برخه) په غاړه اخيستې وه، هغه څوک و چې د اوازې لومړی تخم يې شيندلی و او خلک يې وربانديې راټول کړي وو. په ايات کې د هر هغه چا لپاره خبرداری دی چې د بېګناه خلکو د بدنامولو هڅه کوي.

دا شرط نه دی چې هره پېښه دې د نبوت له کوره وي ترڅو تشريعي قانون ترې جوړ شي؛ په هرې پېښې پسې د اياتونو نازلېدل کفايت کوي ترڅو د راتلونکي لپاره يو قانون وګرځي.

الهي وينا: ﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ﴾ يو منهجي دستور او د عدالت يو داسې نظام دی چې له زمانې پورته دی. هدف يې د "افک" د ميکانيزم افشا کول دي چې يوه ډله يې د مؤمنانو او مومناتو د معنوي ترور لپاره کاروي.

افک يوازې يو دروغ نه دی، بلکې يو جنايتکاره ټولنيز نظام دی چې د مومنانو او مومناتو په حق کې د تهمت او بهتان په جوړولو ولاړ دی. که د افک پېښه وشنله شي، نو ترې جوتېږي چې د افک معمولاً له يو کس څخه نه پيلېږي، بلکې يوه ډله (عصبه) يې پر مخ وړي ترڅو پاملرنه له جرم څخه پر قرباني واړوي.

الله تعالی غوښتل دا یقیني کړي چې پاکوالی او خیر گمان اصل دی، په ځانگړې توگه کله چې خبره د ﴿الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ﴾ (پاکلمنو غافلو مؤمنو ښځو) وي. دا تصادفي نه ده چې الله د دغو ښځو صفت "غافلې" کړی؛ چې د سپېڅلتیا بنسټونه ثابت کړي، ترڅو چې د دلیل له مخې برعکس نه وي ثابت شوي. له دې امله موږ د مؤمنو ښځو په چلند یا ظاهري بڼه کې "غفلت" د هغوی د بدنامولو لپاره عذر ونه گرځوو، په خاص ډول هغو ټولنو کې چې د جاهلیت د ټولنې غوندې د ژوند طرز لري او نرواکه وي.

که دا منهج زموږ پر نني واقعیت پلي کړو، موږ یې په "جنسي تېریو او ځورونو"کې په ښکاره وینو. جنایتکار یوازې په خپل فعل بسنه نه کوي، بلکې د افک یو ټولنیز نظام جوړوي؛ تېری کوونکی درواغ جوړوي ترڅو خپل جرم ته لاره جوړه کړي او ټولنه بیا په چوپتیا یا تر تېري لاندې شوې نجلۍ په ملامتولو (د هغې په جامو، وخت او چلند پسې په گرځېدو) سره د افک په دغه نظام کې شریکېږي. دا ظالمانه اتحاد پخپله "افک" دی، ځکه هدف یې د حقایقو اړول او د عدالت د تلو بدلول دي.

کله چې یوه پېښه کېږي، موږ گورو چې یوه ډله (که په خواله رسنیو کې وي او که په ټولنه کې) سمدستي نجلۍ ته د تور گوته نیسي: د هغې د جامو، وتلو او چلند په اړه پوښتنې کوي، ترڅو په یو لوی بهتان سره جرم ته مشروعیت ورکړي. د دې موخه د جنایتکارو خلاصول او قرباني ملامتول دي.

نو قرآني منهج د هرې هغې ډلې په وړاندې یوه چیغه ده چې د الله څرگند ایاتونه پرېږدي او د اوازو خپروونکو تابع کېږي. دا تاییدوي چې د یوې مؤمنې د عزت ساتنه یو نه بدلېدونکی اصل دی او د قرباني ملامتول د هماغه جاهلي افک یوه عصري بڼه ده؛ چې اسلام یې د ریښو کښلو لپاره راغلی او هغه ټولنه چې د اوازه خپرونکو په پیروي کې د مومنانو او مومنو ښځو نوم ته زیان رسوي، دغه ټولنه هم د افک نظام تجربه کوي، څو قرباني د خلکو په وړاندې گرم کړي او د انساني عدالت تلې لاندې باندې کړي.

**په پای کې:**

د پیغمبر په کور کې د کورنۍ او سپېڅلي تړاو نومونه هیڅکله "درواغ" نه وو، بلکې دا تر ټولو لوړ حقیقت دی چې روایتونو یې د خرابولو هڅه کړې — لکه څنگه چې پوښتونکې ته د دغو درواغجنو راویاتو له امله داسې ښکاره شوي وو. دغو روایتونو هڅه کوله چې د انسانانو خبرې تر "وحې" لوړې کړي او یو داسې پیغمبر راته انځور کړي چې د خپل پیغام له جوهر سره په ټکر کې دی.

اوس هغه وخت رارسېدلی چې د مصطفی ﷺ له ژونده د هغو روایتونو دوړې پاکې کړو چې هغه ته سپکاوی کوي، ترڅو خپله قدوه/الگو په خورا ښکلې بڼه ووینو: یو داسې پیغمبر چې د حق ننگه کوي، د عزت ساتنه کوي او په خپلې کورنۍ کې د الله ایاتونه پلي کوي. ترڅو د نبوت کور لکه څنگه چې الله غوښتل: پاک، سپېڅلی او له هر تهمت کوونکي څخه خوندي پاتې شي.

د مؤمنانو د مور عایشې رض څخه دفاع په حقیقت کې د "نبوي عدالت او بیدارۍ" څخه دفاع ده. د ده په څېر له یوه نبي چې یو "هدهد" نه غایب کېږي، څنگه یې "ام المؤمنین" له سترگو پناه کېدای شي؟ هغه سترگې چې د لښکر په وروستۍ برخه کې د یوې مرغۍ نشتوالیویني، هماغه نبوي سترگې دي چې د خپل کور له ستنې غافل کېدای نشي.

که دا پېښه په تاریخ کې د "افک پېښه" نومول شوې، نو نن ورځ "حقیقي افک" دا دی چې موږ تېنگار وکړو چې دا بې بنسټه روایت د قرآن کریم پر دېوال راوځړوو او سره له دې چې د ایاتونو او د نبي له اخلاقو سره په ټکر کې دی، بیا یې هم رښتیا وبولو.

څوک چې یو موروثي روایت — چې په منځ کې یې د نبوت د کور لپاره غفلت، شک او بې ننگي ده — د قرآن پر هغو محکماتو مقدم کوي چې د پاکوالي، بیدارۍ او سکون پرېکړه یې کړې، هغه ځان په یو خطرناک ځای کې دروي. عقل څنگه دا منلای شي چې یو پیغمبر خپله کورنۍ هېره کړي یا یې په پاکوالي شک وکړي، په داسې حال کې چې په کور کې یې شپه او ورځ قرآن تلاوت کېږي؟

نو، پایله دا ده چې د هغه چا له کړو وړو څخه باید خبردار واوسو چې د الله په ایاتونو کې حق په رڼا ورځ ویني خو بیا هم روایت ته پناه وړي. داسې کس پر خپل ځان د "افک" حکم کړی او د خپل رب د دغه وعید لایق دی:

﴿وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ . يَسْمَعُ آيَاتِ اللَّهِ تُتْلَى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ . وَإِذَا عَلِمَ مِنْ آيَاتِنَا شَيْئًا اتَّخَذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ . مِن وَرَائِهِمْ جَهَنَّمُ وَلَا يُغْنِي عَنْهُم مَّا كَسَبُوا شَيْئًا وَلَا مَا اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ [الجاثیة: ۷-۱۰]

(افسوس (هلاکت) دی د هر درواغجن گنهکار لپاره. چې د الله ایاتونه اوري چې ده ته تلاوت کېږي، بیا په کبر سره ټینگار کوي لکه چې دا یې بیخي اورېدلي نه وي، نو ده ته د دردناک عذاب زېری ورکړه. او کله چې زموږ له ایاتونو څخه پر کوم شي خبر شي، نو هغه ټوکې بولي؛ د داسې

خلکو لپاره سپکوونکی عذاب دی. د هغوی مخې ته جهنم دی او د دوی ګټه او هغه دوستان چې له الله پرته يې نيولي، هيڅ په درد نه ورته خوري او د هغوی لپاره لوی عذاب دی.)

 څېړونکې: شيماء ابو زيد

(له حبل الله ويبسايټ څخه د فروري د «۲۵»، ۲۰۲۶م د يوې مهمې ليکنه ترجمه)

## زه به د الله د رسول (ص) اطاعت څنګه کوم؟

لا هم د ډېرو قدرمنو ورونړو ترمنځ د رسول الله (ص) د هغه اطاعت ترمنځ توپير چې په پرېکنده او حقه توګه فرض دی او د هغو ظني خبرونو ترمنځ چې حديثي روايتونه يې استازيتوب کوي، ګډوډي شتون لري؛ په ځانګړې توګه کله چې همدا روايتونه پخپله د رسول الله (ص) د اطاعت عيني بڼه وګڼل شي.

دلته زما موخه د فقهي روايتونو د دلالت له پلوه پر موضوع بحث نه دی، نه يې د تشريعي او غير تشريعي والي له نظره او نه هم د اطاعت د وخت او حدودو په اړه؛ بلکې زه يوازې د "روايت" پر مفهوم او د رسول الله (ص) د اطاعت په برخه کې د هغو پر حقيقي استازيتوب تم کېږم.

**يو بديهي اصل چې اختلاف پکې نشته**

موږ پر دې متفق يو -او بايد واوسو- چې د الله تعالی کتاب د خپلو مقاصدو، کلياتو او احکامو په لرلو سره تر ټولو لوړه مرجع او واکمن حاکم دی، دا له عقلي او شرعي پلوه ناشونې ده چې د رسول الله (ص) اطاعت دې د الله تعالی له اطاعت سره ټکر ولري؛ ځکه چې د رسول اطاعت په اصل کې د الله پر اطاعت ولاړ دی، الله تعالی فرمايي: ﴿مَن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ﴾.

دا تصور نشي کېدای چې الله دې موږ ته د خپل ځان او بيا د خپل رسول د اطاعت امر وکړي، په داسې حال کې چې هغه پوهېږي دا اطاعت به د هغه د کتاب د مخالفت لامل کېږي. بلکې الله سبحانه خپل پيغمبر ته په کتاب پورې د منګولو لګولو، په هغه سره د خبر ورکولو او هغه ته د فيصلې وړلو امر کړی او فرمايلي يې دي: ﴿اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾، ﴿وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ﴾.

له همدې امله، د رسول الله اطاعت بايد حتماً د الله له اطاعت سره موافق وي؛ که چېرې له قرآن سره ښکاره ټکر ومونډل شي، دا يقينا پر دې دلالت کوي چې دغه روايت د رسول د اطاعت استازيتوب نه کوي او هغه ته يې نسبت کول سم نه دي، نه هم د صحيح حديث په توګه منل کېږي، بلکې دا به پر هغه (ص) باندې يو وهم يا دروغ وي.

## سنت يو شی دی... او روايت بل شی

په دې کې هم اختلاف نشته چې سنت د قرآن بيانونکی دی، دا يو متفق عليه اصل دی، خو اصلي ستونزه دلته نه ده، بلکې په دې بنسټيزه پوښتنه کې ده:

ايا دا روايتونه چې زموږ په لاس کې دي، واقعاً د قرآن بيانونکي دي؟

او ايا موږ ته په داسې قطعي ثبوت رارسېدلي چې د الهي بيان له مقام سره ښايي؟

که داسې وای، نو ولې د اهل سنتو فقهاء -لږ تر لږه- په څلورو مذهبونو ووېشل شول، او د "مذهبي احاديثو" او "د مخالفينو د احاديثو" پديده رامنځته شوه؟ تر ځواب وړاندې بايد ټينګار وشي چې د "سنت" مفهوم د "حديثي روايت" له مفهوم سره توپير لري.

سنت هغه متواتره عملي لاره ده چې رسول الله (ص) پرې قرآن کريم تطبيق کړی، لکه پنځه وخته لمونځونه، د هغو وختونه او رکعتونه. خو هغه حديثي روايتونه چې د سندونو له لارې نقل شوي او ادعا کېږي چې قرآن بيانوي، ډېری يې -بې له شکه- د قرآن له قطعي نصوصو سره ټکر لري، پرته له دې چې د هغو ترمنځ د يو ځای کولو لپاره تکلفي تاويلونونو ته پام وکړو.

د حديثو علماوو د دې موضوع خطر درک کړی و، ځکه خو يې پر قرآن باندې د روايتونو د وړاندې کولو له فکر سره سخت مخالفت وکړ؛ ځکه چې -لکه څنګه چې ابن القيم څرګنده کړې- دا کار به د ډېرو سنتو (يانې روايتونو) د ردېدو لامل شي. له همدې امله د ټکر د حل لپاره د تخصيص، تقييد او نسخ په څېر نورو وسيلو باندې تکيه وشوه.

خو لويه فاجعه هغه وخت رامنځته شوه کله چې سنت له قرآن څخه جلا شول او د هغه په مقابل کې يوه خپلواکه سرچينه وګرځول شول؛ تر دې چې ځينو راويانو -پرته له دې چې پوه شي- د سنتو په نوم له قرآن سره مبارزه پيل کړه او حتی په ښکاره وويل شول: "سنت پر قرآن حکم کوي!" (**السنة تقضي على القرآن**).

الله تعالی له دې لارې خبرداری ورکړی، لکه د قيامت د ورځې هغه هېښناکه پوښتنه چې راغلې: ايا تا خلکو ته ويلي وو چې له کتاب الله پرته روايتونه دين وګرځوئ؟ نو رسول الله (ص) به ووايي: ﴿**يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا**﴾.

**د روايتونو له لارې د رسول اطاعت... موږ د کوم حدیث پیروي وکړو؟**

د هغو بنسټيزو ستونزو د روښانه کولو لپاره چې له رسول الله (ص) سره د حدیثي روایتونو د تړاو په اړه دي، باید ځینې عملي بېلګې وړاندې کړو چې وښيي ډېر دا ډول روایتونه یقیني نه دي، بلکې د وهم او تعلیل نښې ورسره ملې دي، که څه هم په اصطلاحي توګه "صحیح" بلل شوي وي.

**څو څرګندې بېلګې:**

* ایا د مخزومۍ ښځې لاس په دې غوښ شو چې غلا یې کړې وه، که دا چې سامان یې په خواست وړی و او بیا یې ترې انکار وکړ؟

دواړه روایتونه په صحیحینو کې دي او دواړه له عایشې رضي الله عنها څخه نقل شوي:

لومړی: عائشه (رض) فرمايي: «یوه مخزومۍ ښځه وه چې سامان به یې په عاریت (خواست) اخیست او بیا به یې ترې انکار کاوه، نو نبي ﷺ امر وکړ چې لاس یې پرې شي...»

دویم: عائشه (رض) فرمايي: «قریش د هغې ښځې په معامله ډېر اندېښمن وو چې د نبي ﷺ په زمانه کې یې د فتحې د غزا په کال غلا کړې وه...»

* ایا په اسلام کې ساري ناروغي (عدوی) نشته، که ساري ناروغي ثابته ده او باید له ناروغ څخه تېښته وشي؟

دا دواړه روایتونه هم د یو صحابي، ابو هریره رضي الله عنه څخه دي:

لومړی حدیث: ابو هریره او ابن عمر وغیره روایت کړی: «عدوی (د ناروغۍ ساري کېدل)، بدفالي، هامه او صفر نشته.»

دویم متعارض حدیث: دا هم ابو هریره روایت کړی: «ناروغ اوښان دې روغو اوښانو ته نه ورولي.»

* ایا له هغه څه چې اور ورته رسېدلی (پخه شوې ډوډۍ/غوښه) اودس واجب دی، که رسول الله (ص) وخوړل او اودس یې ونه کړ؟

لومړی: مسلم له زید بن ثابت، ابو هریره او عایشې څخه روایت کړی چې رسول الله وفرمایل: «د هغه څه له خوړلو اودس وکړئ چې اور ورته رسېدلی وي.»

دویم: شیخینو (بخاري او مسلم) له ابن عباس، عمرو بن امیه، ابي رافع او میمونې څخه روایت کړی: «رسول الله د پسه د اوږې غوښه وخوړه، بیا یې لمونځ وکړ او اودس یې ونه کړ.»

* ایا د هغه چا غندنه شوې چې تر غوښتنې وړاندې شاهدي ورکوي، که صفت یې شوی؟

دا دواړه متعارض روایتونه په "صحیح"کې دي:

لومړی: د عمران بن حصین حدیث چې نبي ﷺ وفرمایل: «زما د امت غوره خلک زما قرن (زمانه) ده، بیا هغه چې ورپسې دي... بیا به له تاسو وروسته داسې قوم راشي چې شاهدي به ورکوي خو له هغوی به شاهدي نه غوښتل کېږي، خیانت به کوي او امانتدار به نه وي، نذرونه به کوي خو نه به یې پوره کوي او چاغوالی به پکې ښکاره شي.»

دویم متعارض حدیث: د زید بن خالد الجهني حدیث چې رسول الله وفرمایل: «ایا تاسو ته د غوره شاهدانو خبر در نه کړم؟ هغه څوک چې خپله شاهدي تر هغې وړاندې راوړي چې ترې وغوښتل شي.»

* د لمر تندر نیولو (کسوف) د لمانځه رکعتونه څو دي؟ درې؟ څلور؟ که شپږ؟ دلته ښکاره اختلاف دی، حتی د عایشې او جابر (رض) څخه هم بېلابېل روایتونه راغلي:

عروه له عایشې روایت کوي: «نبي ﷺ د خسوف په لمانځه کې په لوړ غږ قرائت وکړ، په دوو رکعتونو کې یې څلور رکوعګانې او څلور سجدې وکړې.» بیا له عایشې روایت دی: «...درې رکوعګانې یې وکړې او څلور سجدې...» جابر بن عبدالله فرمایي: «...په هر رکعت کې یې دوه رکوعګانې وکړې، چې ټولې څلور رکوعګانې او څلور سجدې شوې.» بیا له جابر (رض) څخه روایت دی: «...نبي ﷺ له خلکو سره شپږ رکوعګانې او څلور سجدې وکړې.» د جابر (رض) وروستي دوه روایتونه یو ځل څلور رکوعګانې او بل ځل شپږ ښیي.

حتی تر دې چې کله ناکله ابن حجر مجبور شوی دا اعتراف وکړي چې دا ممکنه نه ده دواړه ډوله روایتونه دې په "صحیح"کې سم وي. دا ډول بېلګې ډېرې دي، چې نه یوازې له قرآن سره د روایتونو ټکر ښیي، بلکې لومړی له خپل ځان سره د هغو ټکر او اضطراب رابرسېره کوي.

له بده مرغه، جمهور علماء د دغه ډول اضطراب په وړاندې تسلیم شوي، پر ټولو روایتونو یې اعتماد کړی او ډېره انرژي یې د متضادو روایتونو په تاویل او توجیه کې مصرف کړې ده. هغوی د کیسې د تکرار، نسخ او خصوصیت په څېر د لرې تاویلونو له لارې ټول روایتونه "سنت" وګرځول، تر دې چې په دې اړه په لسګونو کتابونه ولیکل شول. په دې ډول، د رسول الله سنتو ته د دفاع په نوم د متناقضو روایتونو دا دروند بار ور واچول شو؛ په داسې حال کې چې څوک غواړي رسول الله له دغه روایتي عبث څخه پاک وساتي او د کتاب الله پر واکمنی منګولې ولګوي، هغه د سنتو په انکار او ورسره په مبارزه تورنېږي.

حقيقت دا دی چې د رسول الله (ص) واقعي اطاعت په سخت تحقیق، تدقیق او تصفیه ولاړ دی، ترڅو د هغه (ص) حدیث له دې ستونزو وساتل شي او خپل اصلي مفهوم ته یې وګرځوو: هغه سنت چې د قرآن تجسم وي، نه ورسره په جګړه... هغه چې قرآن بیانوي، نه یې معطله کوي... او هغه چې د رسول الله لپاره شاهدي ورکوي، نه دا چې هغه ته د داسې څه بار ور واچوي چې ده نه وي ویلي.

له الله تعالی څخه غواړو چې موږ له هغو کسانو څخه وګرځوي چې د الله او د هغه د رسول د اطاعت په سیوري کې د رسول الله د رښتیني سنتو دفاع کوي.

ډاکټر عمار الحريري

# د مسیر د سمون لپاره یوه صادقانه شخصي بلنه

لیکوال: ډاکټر وائل کریم

﴿إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ (الأنعام: ٧٩)

زه نن د خدای په وړاندې او د خپل وجدان په وړاندې خپله شخصي ژمنه اعلانوم، چې د ابراهیم علیه السلام پر "حنیفه" لاره به ثابت پاتې شم:

هغه لاره چې د پوښتنې لاره ده نه د جمود، د پلټنې لاره ده نه د ړوند تقلید؛

هغه لاره چې د مسیر د سمون لاره ده، هرکله چې حق څرګند شي او یا راته خپله هغه تېروتنه ښکاره شي چې ما به ورته "سمه" ویل.

زه ایمان لرم چې "حنیفیت" یو جامد هویت نه دی او نه هم یو داسې میراث دی چې پرته له شعوره موږ ته پاتې وي؛ بلکې دا د حق سره د وفادارۍ یو نوی کیدونکی تړون دی.

دا د خپل ځان په ارزونه کې یو اخلاقي شجاعت دی او د هر ډول هغو دودونو او عادتونو له مریبتوب څخه دایمي ازادي ده چې له فطرت او ارزښتونو سره په ټکر کې وي.

له همدې امله، زه ژمنه کوم چې تل به د حق پلټونکی یم، خپله ارزونه به کوم او هرکله چې مې فکر کوږ شي او یا مې بصیرت کمزوری شي، د خپل مسیر سمون ته به چمتو یم؛ زه به هیڅکله پر باطل باندې یوازې د دې لپاره کلک نه ولاړ شم چې هغه یو "میراث" دی او یا په خلکو کې "عام" دی.

زه له هر هغه چا څخه چې له دې صادقانه تړون سره موافق وي، غوښتنه کوم چې په تبصره (کمنټ) کې ولیکي: "موافق یم". ترڅو دا تبصره یوازې یوه تېرېدونکې کلمه نه وي، بلکې د پلټنې، فکر کولو او د شعور د نوي کولو لپاره یوه شخصي ژمنه وي.

شاید دا یو پیل وي؛ نه شاته تګ، بلکې د یو داسې راتلونکي په لور د پرمختګ پیل چې زموږ له انسانیت سره ښایي او موږ د خدای پر سمه لاره (صراط مستقیم) دروي.

## خوارج د نصوصو د لفظي بڼې او د مقاصدو د نشتوالي ترمنځ

### په ديني پوهه کې د کړکېچ په اړه يوه فقهي او فلسفي شننه

د اسلامي فکر تاريخ له داسې مکتبونو او اجتهادونو ډک دی چې هڅه يې کړې شرعي نصوص په سمه توګه درک کړي او د خلکو په عيني واقعيتونو کې يې پلي کړي. خو له دې منځه ځينې لارې د اعتدال له سمې جادې څخه هغه مهال منحرفې شوې چې د نص ظاهر يې پر روح، تورې يې پر مقصد او لفظي دلالت يې پر مانا غالب کړ. پايله يې د داسې جريانونو رامنځته کېدل وو چې په فهم کې سختدريځي او په حکمونو کې بېړه کوي؛ د دغو جريانونو تر ټولو ځرګنده نمونه "خوارج" دي چې په اسلام کې يې لومړنۍ فکري او عقيدوي بېلتونپالنه رامنځته کړه.

د دوی راښکاره کېدل له هغه ګډوډ سياسي حالت سره تړلي وو چې تر "لويې فتنې" (الفتنة الکبری) او په ځانګړي ډول په صفين کې د "تحکيم" (حکميت) تر پېښې وروسته رامنځته شو. دوی علي بن ابي طالب رضي الله عنه کافر وګاڼه؛ دا تکفير د هغه په دين يا عدالت کې د کومې نيمګړتيا له امله نه و، بلکې د نصوصو د يوې سطحي مطالعې او د قرآن او سنتو د ناقص فهم زېږنده وه.

شايد تر ټولو خطرناکه خبره چې خوارجو په خپلو پرېکړو کې تکيه پرې وکړه، د الله تعالی د دې مبارک قول: ﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ لفظي او وچ فهم و. دوی دا ايت د انساني منځګړيتوب (تحکيم) د ردولو لپاره بنسټ وګرځاوه او د علي بن ابي طالب رضي الله عنه له خوا د حکميت منل يې د الله له حکم څخه وتل وبلل. په داسې حال کې چې دا ايت په خپل قرآني سياق کې د قانون جوړونې او سرچينې په برخه کې د الله تعالی د حاکميت پر توحيد خبره کوي، نه په شخړو کې د اجتهاد يا منځګړيتوب د منع کولو په اړه. دلته د هغوی هغه ميتودولوژيکي تېروتنه په ډاګه کېږي چې نص له خپل متن او سياق څخه جلا کوي او په يوه داسې جنګي شعار يې بدلوي چې پر مټ يې مخالف لوری تکفير کړي.

خوارجو خپل مشهور شعار "لا حکم إلا لله" (حکم يوازې د الله دی) پورته کړ؛ دا شعار په ظاهر کې يو داسې حق دی چې شک پکې نشته، خو دوی ترې د باطل هدف اراده وکړه؛ ځکه نص يې له

خپل سیاق څخه وویست او د مخالفینو د تکفیر او د وینو تویولو لپاره یې بهانه وګرځاوه. د دوی په فقه کې اصلي ستونزه پخپله نص کې نه وه، بلکې له نص سره د چلند په طریقه کې وه؛ نص یې له خپلو قرینو جلا کړ، له کلي مقاصدو یې بې برخې کړ او د سم فهم شرایط لکه: ژبه، د نزول اسباب، تاریخي شالید او د پلي کېدو پایلې یې ترې غایبې کړې.

ستر صحابي عبدالله بن عباس رضي الله عنه د هغوی پر وړاندې ودرېد. د هغه مناظره د تور او شړلو پر ځای، د حجت او برهان له لارې د فکري انحراف د سمون یو له خورا ژورو بېلګو څخه شمېرل کېږي. هغه خوارجو ته ورغی او په یوه کره علمي منهج یې ورسره بحث وکړ؛ ورته ویې ښودله چې قرآن نه په هوا او هوس فهمول کېدی شي او نه په ټوټه-ټوټه کولو، بلکې د نصوصو په یوځای کولو او یو بل ته په راجع کولو فهمول کېږي. له هغو دلیلونو څخه چې ابن عباس پرې استدلال وکړ، پخپله له قرآن څخه د تحکیم (منځګړیتوب) د مشروعیت ثابتول وو. هغه د کورنیو شخړو په اړه د الله تعالی په دې قول استدلال وکړ: ﴿فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا﴾ (نو یو منځګړی د مېړه له کورنۍ او یو منځګړی د مېرمنې له کورنۍ وټاکئ). کله چې د یوې کورنۍ په اړه منځګړیتوب روا وي، نو د امت په چارو کې خو په لومړي قدم کې روا دی. په دې توګه یې په استدلال کې د هغوی تضاد بربنډ کړ.

همدارنګه ابن عباس هغوی ته روښانه کړه چې د علي بن ابي طالب رضي الله عنه له خوا د حکمیت منل د الله د حکم ردول نه وو، بلکې د مسلمانانو د وینو ژغورلو او د فتنې مخنیوي لپاره یو سیاسي اجتهاد و، چې دا پخپله د شریعت له سترو مقاصدو څخه دی. د دې مناظرې پایله دا شوه چې د هغوی یو لوی شمېر له خپلې غلو (افراط) څخه راوګرځېدل، چې دا په ډاګه کوي چې انحراف په نص کې نه، بلکې په فهم کې و.

د خوارجو مکتب پر یو وچ او لفظي منهج ولاړ و چې "تأویل" یې ردهاوه، "مقاصدي اجتهاد" یې شاته غورځاوه او جزئي نصوصو ته یې پر کلي اصولو برتري ورکوله. همدې چارې دوی له خطرناکو تضادونو سره مخ کړل؛ تر دې چې لوی صحابه یې تکفیر کړل او له مسلمانانو سره وجنګېدل، خو د امت اصلي دښمنان یې پرېښودل. د دین په اړه د دوی لیدلوری پر یوې سختې دوه ګونې ولاړ و: "مطلق ایمان یا مطلق کفر"؛ پرته له دې چې د خلکو درجو، د واقعیت پېچلتیاوو، یا د نفس، دین او عقل د ساتنې په برخه کې د شریعت مقاصدو ته پام وکړي.

له مقاصدي ليدلوري، د اسلامي شريعت نصوص يوازې د تلاوت لپاره نه دي نازل شوي، بلکې د يو داسې هراړخيز هدايت لپاره دي چې د بندګانو مصالح تامين او مفاسد ترې لرې کړي. د مقاصدو عالمانو او په سر کې يې "ابو اسحاق الشاطبي" دا ثابته کړې چې د نصوصو فهم هغه مهال سمېږي چې خپلو کلي اصولو ته راجع شي، علتونه يې وڅېړل شي او پايلې يې په پام کې ونيول شي. دا هغه څه وو چې خوارجو ترې غفلت وکړ؛ دوی له نصوصو سره جزيي چلند وکړ او داسې سخت او وچ حکمونه يې ترې راويستل چې د اسلام له روح (رحمت او اسانتيا) سره يې هيڅ اړخ نه لګاوه.

د امام علي رضي الله عنه تکفير د دغه انحراف انتها وه؛ ځکه هغوی د هغه علمي او روحاني مقام، په اسلام کې د هغه مخينه او د رسول الله ﷺ د هغه په حق کې شاهدۍ ټولې له پامه وغورځولې او ټوله موضوع يې په يوې داسې سياسي پېښه کې راخلاصه کړه چې د اجتهاد وړ وه. دا چلند په استدلال کې يوه ژوره نيمګړتيا ښيي، چېرته چې د "مفاسدو دفع کول د مصالحو تر جلبولو مقدم دي" قاعده او د "اولوياتو فقه" او "پرتليزه فقه" په بشپړه توګه ورکه وه.

که د دغه فکر ريښو ته ځير شو، وينو چې دا پر يو داسې "ساده ګۍ" ولاړ دی چې دين يوازې په ظاهري حکمونو کې رانغاړي او اخلاقي او انساني اړخونه ترې باسي. د دوی په نظر، دين د ارزښتونو يو بشپړ سيستم نه دی، بلکې د يو لړ امرونو او منعو ټولګه ده چې بايد په خورا وچې لفظي بڼه پلي شي، پرته له دې چې سياق يا پايلې ته يې وکتل شي. دا چاره دوی "شکلي تدين" ته نږدې کوي؛ چېرته چې مظهر پر جوهر او عمل باندې حکم کول د هغه د انګېزې او شرايطو له درک کولو پرته، لوړ مقام لري.

مقاصدي فقه د دغه ډول فکر لپاره يو ژور بديل وړاندې کوي؛ ځکه انسان ته د يو پېچلي موجود، واقعيت ته د يو پېچلي ډګر او نص ته د يو هدف لرونکي خطاب په سترګه ګوري. مقاصدي فقه نص نه ردوي، بلکې د هغه د مقاصدو په رڼا کې د هغه تعظيم کوي، له خپل سياق سره يې تړي او د عدل او رحمت د تحقق لپاره يې کاروي. له همدې امله، د خارجي فکر مقابله يوازې د نصوصو په ځوابولو نه کېږي، بلکې د هغو د معرفتي جوړښت په نقد او د ميتودولوژيکو تېروتنو په بربنډولو کې نغښتې ده.

له بده مرغه، دا ډول فکر د يو سياسي بنسټ په توګه د خوارجو په ختمېدو پای ته ونه رسېد، بلکې د يو "فکري مکتب" په توګه پاتې شو چې په مختلفو بڼو تازه کېږي او په هغو ډلو يا اشخاصو کې راڅرګندېږي چې ورته منهج لري: د مخالف تکفير، د اسلام د دايرې تنګول، د اجتهاد ختمول

او د خپل شخصي فهم مقدس کول. ځينو سياسي او ټولنيزو شرايطو د دغه فکر په بيا توليد کې مرسته کړې، په ځانګړې توګه په هغو چاپيريالونو کې چې کره ښوونه پکې نشته او منځلاري ديني خطاب پکې کمزوری دی.

تر نن ورځې پورې د دغه مکتب دوام، په اسلامي نړۍ کې د ديني فهم د کړکېچ په اړه يوه ژوره پوښتنه راپورته کوي. ستونزه په نصوصو کې نه ده، بلکې په هغو ذهنونو کې ده چې ورسره لاس او ګرېوان دي، په هغو نصابونو کې ده چې پر مټ يې تدريس کېږي او په هغو ويناوو کې ده چې تبليغېږي. له همدې امله، رښتينې اصلاح د مقاصدو پر بنسټ د فقهي عقل له بيا رغونې پيلېږي؛ داسې چې د نص او عقل، ثبات او بدلون، او فرد و ټولنې ترمنځ توازن وساتي.

همدارنګه، د دغه فکر په وړاندې د ښوونيز او روزنيز اړخ شتون اړين دی، ترڅو د زغم، د اختلاف منلو او د تنوع د احترام ارزښتونه پياوړي شي او نوي نسلونه پر انتقادي فکر وروزل شي، نه پر ړانده تقليد. هغه دين چې پيغمبر ﷺ راوړی، د شړلو دين نه و، بلکې د رحمت دين و؛ د تکفير بلنه نه وه، بلکې د يو بل د پېژندنې او بشپړتيا بلنه وه.

په پای کې، د خوارجو تجربه د نص او د هغه د مقاصدو، او د فهم و واقعيت ترمنځ د جلاوالي د خطر په اړه يو ژور تاريخي درس دی. دا زموږ د فقهي ميتودونو بيا کتنې او زموږ د ديني خطاب نوي کولو ته يوه پرانيستې بلنه ده، ترڅو د اسلام له روح سره سمون وخوري او زموږ ټولنې له افراطيت څخه وژغوري. هغه دين چې په تړلي ذهن فهمول کېږي، د ويجاړۍ په وسيله بدلېږي، خو کله چې په پرانستي او مقاصدي عقل درک شي، نو لکه څنګه چې الله تعالی خپلو بندګانو ته غوښتي، د ودانولو او اصلاح په ځواک بدلېږي.

الصادق احمد العثماني

په لاتينې امريکا کې د مسلمو علماوو د ټولنې عمومي منشي

## د رسول الله ﷺ افعال او چلند؛ د تشريعي بيان او بشري تصرف ترمنځ

د رسول الله ﷺ د افعالو او کړنو څېړنه د اصولِ فقهي يو له خورا دقيقو بحثونو څخه ده چې د شريعت پر فهم او پلي کولو ښه ژور اثر لري؛ ځکه د هغه ﷺ ټول افعال د حکمونو د دلالت له پلوه په يوه مرتبه کې نه دي او نه هم دا ټول د تشريع له يوه واحد لوري څخه صادر شوي دي. بلکې د هغه څه ترمنځ توپير کول چې له ده ﷺ څخه د ده د بشريت او جبلت (طبيعي غوښتنو) له مخې صادر شوي يا هغه څه چې د هغه له عادت او چاپېريال سره تړلي وو او هغه څه چې مقصود تشريع وه او له امت څخه يې د پيروۍ غوښتنه شوې، د "مقاصدي فقهې" يو اصل دی. دا هغه فهم دی چې د شريعت روح ساتي او په ورته وخت کې يې له جمود (وچوالي) او تحريف څخه ژغوري.

په دې برخه کې جوتېږي چې له احکامو او تشريع سره د تړاو له مخې د نبي ﷺ تصرفات پر يوه ډول نه دي؛ ځکه له هغه ﷺ څخه صادر شوي فعاليتونه د هغو قرينو او حالاتو په بدلېدو سره بېلابېل ډولونه اخلي چې له دغو تصرفاتو سره مله وي. دا توپير يوازې يوه نظري مسئله نه ده، بلکې د يوې داسې اجتهادي فقهي منظم بنسټ دی چې په بېلابېلو زمانو کې د خلکو له مصلحتونو سره د ملگرتيا وړتيا لري او کولای شي د وحې له مقاصدو سره د اړيکې له پرې کولو پرته، د حالاتو له بدلون او د عرفونو له اوښتلو سره تعامل وکړي. پخوانيو عالمانو دا حقيقت ډېر ژر درک کړی و، ځکه خو يې د نبي ﷺ افعال په دقيق ډول وڅېړل او داسې قواعد يې ترې راويستل چې د هغو د ډولونو ترمنځ په توپير کې مرسته کوي.

له هغو لومړنيو کسانو څخه چې دې مانا ته يې پام واړاوه، په دريمه هجري پېړۍ کې "ابن قتيبه دينوري" و. هغه پرېکړه وکړه چې نبوي سنت په يوه مرتبه کې نه دي، بلکې د دلالت له مخې په څو ډولونو وېشل کېږي: يوه برخه يې لازمي تشريع ده، يوه برخه محضې وحې ده، په يوه بله برخه کې نبي ﷺ ته واک ورکړل شوی او هغه څه چې له مکلفيت پرته يوازې د کمال لوري ته هڅونه ده. د دې فکر بنسټ دا دی چې ټولو نبوي تصرفاتو ته بايد د لازمي حکم په سترگه ونه کتل شي، بلکې سياق او قرينو ته يې بايد وکتل شي. وروسته بيا "امام قرافي مالکی" دا ليدلوری نور هم ژور او دقيق کړ؛ هغه د نبي ﷺ تصرفات د هغه له بېلابېلو منصبونو سره وتړل. هغه ﷺ يې په يو وخت کې

رسول (مبلغ)، مفتي (د احکامو بیانونکی)، قاضي (د شخړو هوارونکی) او امام (د امت د چارو تدبیرونکی) وباله. د هغه ﷺ تصرفات پر همدې برخو وېشل شوي دي؛ ځینې د تبلیغ، ځینې د فتوا، ځینې د قضا او ځینې د امامت (سیاست) له امله دي. کله خو داسې هم کېږي چې یو فعل د دغو برخو ترمنځ مشترك وي، نو د لیدلوري په بدلېدو یې حکم هم بدلېږي.

تر دې توپیر وړاندې، باید یو روښانه قرآني اصل ته پام وکړو چې یو لوی حقیقت تاییدوي او هغه دا چې نبي ﷺ یو "بشر رسول" دی؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلاَّ بَشَرًا رَسُولاً﴾ (ووایه: پاك دی زما رب، زه د بشر په توګه یوازې یو رسول یم). دا ایت د نبي ﷺ له افعالو سره د چلند لپاره یو میتودولوژیک بنسټ بردي؛ دا ثابتوي چې د هغه ﷺ بشریت کومه عارضي خبره نه ده، بلکې د هغه د شخصیت هغه برخه ده چې په واقعیت کې پرې حرکت کوي، د ژوند جزییات پرې تېروي او د نړۍ چارې پرې پر مخ بیایي. له همدې امله، د نبوي سنتو فهم هغه مهال سمېږي چې د بشریت او رسالت دا دواړه اړخونه یوځای په پام کې ونیول شي، پرته له دې چې یو پر بل غالب شي.

نبي ﷺ تر دې وړاندې چې شارع، مفتي او مبلغ وي، یو داسې انسان و چې په یوه ټولنه کې یې ژوند کاوه، ځانګړي دودونه او عادتونه یې لرل، هغه څه یې خوړل چې خلکو خوړل، هغه څه یې اغوستل چې خلکو اغوستل او د خپلې زمانې له ور کړل شویو شیانو سره یې د بشر د تجربې او خبرتیا له مخې تعامل کاوه. له همدې امله، د هغه ﷺ ډېری افعال د تشریع لپاره نه وو، بلکې د بشري جبلت له مخې ترې صادر شوي وو؛ لکه د خوړلو طریقه، د کښېناستلو بڼه، د ځینو خوړو غوره کول یا د جامو ځانګړي ډولونه خوښول. دا افعال پخپله پر عام شرعي حکم دلالت نه کوي او له امت څخه یې د عبادت په نیت پیروي نه غوښتل کېږي؛ ځکه دا د تشریعي بیان لپاره نه وو، بلکې د ژوند هغه چارې وې چې د خلکو اجتهاد او عرف ته پرېښودل شوې دي.

د دغه فهم د ثابتولو لپاره غوره لار د هغو عملي بېلګو یادول دي چې دا توپیر په واقعیت کې رابښيي. د بېلګې په توګه، په "جبلّي افعالو" (طبیعي کړنو) کې وینو چې نبي ﷺ ځینې خواړه خوښول، لکه حلوا و شات او ځیني نور یې نه خوښول. دا پر عام تشریع دلالت نه کوي، بلکې د بشري طبیعي غوښتنه ده. همدارنګه د هغه ﷺ کښېناستل، ویده کېدل او تګ راتګ هغه چارې دي چې د فطرت له مخې ترسره شوي او موخه ترې الزام یا عبادت نه و.

په دې برخه کې بله ښکاره بېلګه د خرماوو د "تأبير"کيسه ده؛ کله چې نبي ﷺ په خپل نظر يوه مشوره ورکړه، خو کله چې معلومه شوه چې هغه نظر سم نه و، نو ويې فرمايل: «أنتم أعلم بأمور دنياكم» (تاسو د خپلې نړۍ په چارو ښه پوهېږئ). دا بېلګه د ديني (تعبدي) او دنيوي (تجربوي) چارو ترمنځ د توپير لپاره يو ستر اصل دی او تاييدوي چې د هغه ﷺ ځينې تصرفات د بشري تجربې په چوکاټ کې دي چې د سم او ناسم احتمال پکې شته. دا چاره امت ته د کرنې، صنعت، طب او نورو دنيوي چارو کې د اجتهاد لاره پرانيزي.

همدارنګه د هغه ﷺ ځينې افعال "عادت" او د چاپېريال مروج دودونه وو. د بېلګې په توګه د هغه ﷺ جامې؛ ده به هغه څه اغوستل چې په خپل قوم کې مروج وو، لکه لنګ، څادر او لونګۍ. ده پر امت د جامو کوم ځانګړی شکل نه دی لازم کړی، بلکې مقصود د ستر او حيا تحقق و. همدارنګه د تګ راتګ وسيلې يا د جګړې اوزار، لکه پر اوښ سپرېدل او نور، دا ټول د عادتونو له ډلې دي چې د زمان او مکان په بدلېدو بدليږي او پخپله تشريع نه ده.

په دې برخه کې يوه دقيقه بېلګه د جګړې تدابير دي؛ نبي ﷺ به يو ځای د جګړې لپاره غوره کړ، نو صحابه وو به ترې وپوښتل: ايا دا وحې ده که ستاسو خپل نظر او جګړه ييزه نقشه؟ که به وحې وه، هغوی به منله، خو که به بشري نظر و، نو بحث به يې ورباندې کاوه او کله به يې بل نظر ورکاوه؛ لکه څنګه چې په بدر کې وشول. دا چلند يو ستر اصل ثابتوي او هغه دا چې د هغه ﷺ ځينې تصرفات د بشري اجتهاد تابع وو، نه لازمي تشريع.

دا توپير په ټولنيزو چارو کې هم ښکاري؛ لکه د کورنۍ تنظيم او د اختلافاتو مديريت. نبي ﷺ دلته هم د يو شارع او هم د يو داسې انسان په توګه عمل کاوه چې عرف او شرايط په پام کې نيسي- په خپل کور کې له خپلو ميرمنو سره د هغه ځينې تصرفات بايد په هره جزييه کې عامه تشريع ونه ګڼل شي، بلکې په خپل سياق کې بايد ورته وکتل شي او د عدل، احسان او ښه معاشرت کلي مقاصد ترې واخيستل شي.

ګڼو عالمانو د دغو کچو ترمنځ د ګډوډۍ د خطر په اړه خبرداری ورکړی، چې له هغې جملې "علال الفاسي" دی. هغه خبرداری ورکړی چې عادي افعال بايد د ديندارۍ په داسې وچو معيارونو بدل نشي چې پر خلکو ژوند تنګ کړي او شريعت د اسانتيا او د سختۍ د لرې کولو له مقاصدو څخه وباسي.

بل لور ته، د نبي ﷺ ځینې افعال د تشریع او بیان په توګه صادر شوي، چې له امت څخه یې پیروي غوښتل شوې ده؛ ځکه دا د الهي امر د اطاعت په دایره کې راځي. دا ډول افعال په مختلفو قرینو پېژندل کېږي؛ لکه دا چې فعل د یو مجمل نص بیان وي، یا له کوم صریح امر سره مل وي، یا له سیاق څخه داسې ښکاري چې موخه ترې ښوونه او تشریع ده. د دې ښکاره بېلګه په عباداتو کې د هغه ﷺ افعال دي، لکه د لمانځه طریقه چې ویې فرمایل: «صلوا كما رأيتموني أصلي» (داسې لمونځ وکړئ لکه زه مو چې په لمانځه ولیدم)، د حج په اړه چې ویې فرمایل: «خذوا عني مناسككم» (د حج مراسم له ما زده کړئ). دا افعال نه عادتونه دي او نه جبلتونه، بلکې عملي تشریع ده.

دلته د دې توپیر په ساتلو کې د مقاصدي فقهې اهمیت په ډاګه کېږي؛ ځکه مقاصدي فقه یوازې د فعل ظاهر ته نه ګوري، بلکې د هغه مقصد، سیاق او علت ته ژور پام کوي، ترڅو معلومه کړي چې دا عامه تشریع ده که یو خاص تصرف او بشري عادت. یوازې پر ظواهرو درېدل او مقاصد هېرول د دې لامل کېږي چې پر خلکو بې ځایه سختي راشي او بل لور ته د "عادت" په پلمه د تشریعي افعالو پرېښودل د دین د ضایع کېدو سبب کېږي.

هغه ستونزه چې پخواني او اوسني ځینې سختدریځي پکې اخته شوي، دا ده چې هغوی د دغو ډولونو ترمنځ سم توپیر نشي کولای. هغوی د نبي ﷺ هر عمل لازمي تشریع وګڼله، ان د ورځنې ژوند په کوچنیو جزییاتو کې؛ لکه اسلام چې خلکو ته د خوړو ډول، د جامو شکل او په کور کې د کښېناستلو طریقه ټاکلې وي. دا فهم د شریعت له روح سره په ټکر کې دی؛ ځکه شریعت د خلکو د دین او نړۍ د مصلحتونو لپاره راغلی او په دنیوي چارو کې یې هغوی ته پراخه ازادي ورکړې ده.

خو برعکس، په دې برخه کې بې باکي هم له خطر څخه خالي نه ده؛ ځکه دا کار ښایي د سنتو تشریعي اړخ له منځه یوسي او یوازې پر عامو نصوصو بسنه وشي، چې په پایله کې د شریعت لویه برخه معطله کېږي. له همدې امله، منځنۍ لار دا ده چې نبوي سنتو ته د درناوي ترڅنګ، هغه د خپلو مقاصدو او سیاق په رڼا کې درک شي.

د نبي ﷺ د بشري اړخ درک کول د هغه مقام نه راکموي، بلکې نور یې هم روښانه کوي؛ ځکه دا ښیي چې یو انسان څنګه کولای شي په خپل بشري چوکاټ کې د کمال تر ټولو لوړو درجو ته ورسېږي. همدارنګه دا درک فقه له شکلي بندیزونو ازادوي او د اجتهاد لپاره پراخ افقونه پرانیزي چې د زمان او مکان بدلون په پام کې نیسي.

له همدې امله، د نبي ﷺ له افعالو سره چلند باید پر یوه دقیق تله (ترازو) ولاړ وي چې د نص او مقصد، ظاهر او مانا، او ثابت و تغییر تـرمنځ تـوازن وسـاتي. هغـه څـه چـې تشرـیع ده، دیـن دی او عبادت پرې کېږي؛ له هغه څه بېل شي چې عادت یا جبلت دی؛ ځکه دغه د اباحـت (روا والي) پـه دایره کې دی چې د خلکو اجتهاد ته پکې ځای شته او هغـه څـه چـې پـه دنیـوي چـارو کـې بشرـي تصرف دی، د تجربې او خبرتیا ډګر دی.

دا فهم اسلامي خطاب له "شکلي بښکېلتیا" څخـه ژغـوري او هغـه تـه خپـل مقاصـدي روح بېرتـه ورګرځوي؛ هغه روح چې د شکل پر ځـای مانـا تـه او د ظـاهر پـر ځـای د دیـن جـوهر تـه ارزښـت ورکوي. همدارنګه دا د یوې ویښې دیني پوهې په جوړولو کې مرسته کـوي، ترڅـو خلـك پـوه شي چې د نبي ﷺ رښتیني پیروي یوازې د هغه د ورځني ژوند د جزییاتو په تقلیـد کـې نـه ده، بلکـې د هغه د سترو مقاصدو (لکه د عدل تامین، د رحمت خپرول او د دین او نړۍ د ګټو تـرمنځ تـوازن) پـه پیروۍ کې ده.

په اوسني وخت کې چې بدلونونه خورا ګړندي دي، د دغه فهم اړتیا نوره هم زیاتېږي، ترڅو دین پر خلکو بار نشي او یا په یو داسې جامد تصور بدل نشي چې له واقعیت سره تعامل نشي کولای. هغه شریعت چې د انسان د هدایت لپاره راغلی، یوازې هغه مهال سم پرې پوهېدلی شو چې مقاصـد یـې په پام کې ونیول شي او د ثابت تعبدي، تغییر منونکي عرفي او بشرـي اجتهـادي چـارو تـرمنځ تـوپیر وشي.

په پای کې، د نبي ﷺ افعال په دلالت کې یو شان نه دي؛ ځینې یې ملزمه تشریع، ځینې عـادت او ځینې یې په دنیوي چارو کې بشري اجتهاد دی. سمه فقه هغه ده چې د دغو کچو ترمنځ ښه تـوپیر وکړي، هر ډول ته خپل حکم ورکړي او په خپل ځای کې یې کېږدي، ترڅو د شریعت مقاصد پـوره شي او دین له افراط او تفریط څخه وساتل شي.

الصادق احمد العثماني

په لاتیني امریکا کې د مسلمو علماوو د ټولنې عمومي منشي

# قرآن: هغه کتاب چې تر لوستلو وړاندې دې لولي

## د تورو له ژبې(لسان) د روح تر شهوده

ځينې پوښتنې يوازې په کلمو نه ځوابيږي؛ ځکه هغه په اصل کې د عقل پوښتنې نه دي، بلکې د روح ننداري او غبرونه دي. له دغو پوښتنو څخه يوه دا ده: قرآن په کومې نړۍ پورې اړه لري؟

که ځواب د خبرو له ظاهره واخيستل شي، ښايي اسانه وبرېښي، خو که د مانا ژورو تـه ورننوځـو، نو دا بيا پخپله د وحې د ماهيت په لوري يو سفر گرځي. قرآن د مادې په هغې نړۍ پورې تړلی نه دی چې هلته شيان په اندازه او وزن تلل کيږي، بلکې دا د روح په نـړۍ پـورې اړه لـري؛ هغـه نـړۍ چـې يوازې په حواسو نه درك کيږي، بلکې د زړه په بيدارۍ او د وجدان په رښتينولۍ استقباليږي.

په دې اړه الهي بيان داسې پرده پورته کوي:

﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا﴾،

دلته وحې ته "روح" ويل شوي، يوازې متن، خطاب يـا کتـاب ورتـه نـه دي ويـل شـوي. دا نـوم ايښودنه کومه پاته کېدونکې استعاره نه ده، بلکې د قرآن د طبيعت بيان دی: چـې دا يـو داسـې ژونـد دی چې نفس لري، داسې رڼا ده چې منل کيږي او داسې حضور دی چې تجربه کيږي.

له همدې امله، په قرآن کې پلټنه بايد يوازې په مادي وسايلو کې محدوده نشي ـ او نـه هـم بايـد د ژبې (لسان) په هغو بشري کالبونو کې بنده شي چې له خپل روح څخه جلا شوي وي؛ ځکه کله چې ته يو ژوندی موجود د مړو او جامدو قوانينو تابع کوې، نو ته يې نه تفسيروې، بلکې راکموي يې.

په قرآن کې ژبه يوازې د تحليل وړ الفاظ نه دي، بلکې "لسان" دی او لسان له لغت او ژبې څخـه پراخ مفهوم لري. لسان يو داسې "حال" دی چې ښکاره کيږي، يو داسې بيان دی چې څرگنـديږي او داسې روښانتيا ده چې تر تورو وړاندې په نفس کې راسخيږي. ځکه خو يې وصف داسې راغلی:

﴿بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ﴾،

دلته "عربي" د کوم ځانگړي نسل يا جغرافيې لپاره نه دی، بلکې د يو "حال" صفت دی: يانې هغه روښانتيا، استقامت او د مانا څرگندوالی چې هيڅ کوږوالی پکې نه وي.

د دې په مقابل کې "عجمي" دی؛ هغه هم د یو قوم صفت نه دی، بلکې د دلالت د ابهام، د بیان د بندښت او د روح سره د خبرو کولو د عجز نوم دی. عجمي په جوهر کې د مانا د بند پاتې کېدو حالت دی او عربي د مانا د رابرسېره کېدو حالت.

له همدې ځایه موږ پوهېږو چې "لسان" یوازې د بدن یو غړی نه دی، بلکې یو معنوي مقام دی؛ لکه ابراهیم خلیل علیه السلام چې وایي: ﴿وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ﴾، دلته مراد داسې غړی نه دی چې په میراث پاتې شي، بلکې هغه اغېز او رښتینولي ده چې په هستۍ کې ترې پاتې کېږي.

که د قرآن جوړښت ته وګورو، نو وینو چې له تورو (حروفو) څخه جوړ دی، خو دا توري مړه جسدونه نه دي، بلکې ژوندۍ اشارې دي. هر توری خپله بڼه (رسم) لري، هره بڼه خپل هیئت لري او هر هیئت په اورېدلو، لیدلو او زړه باندې خپله اغېزه لري. په قرآن کې توری یوازې یو غږ نه دی، بلکې یو انځور، حرکت، سکون او مخرج دی؛ دا ټول یوځای د ماناګانو داسې شبکه جوړوي چې یوازې هغه مهال درک کېږي کله چې حسي درک له باطني ذوق سره یوځای شي.

خو تر ټولو ستر حقیقت چې باید درک شي، دا دی چې قرآن کومه تېره شوې پېښه نه ده چې په نزول سره پای ته رسېدلې وي، بلکې دا د نزول یو دوامداره فعل دی؛ ځکه خو الله تعالی فرمایي: ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ﴾،

داسې یې نه دي ویلي چې "موږ نازل کړ" په داسې بڼه چې پرې شوی وي. وحې په خپل ژوندي اړخ له مخې د فهم په ډګر کې تازه کېږي، په شعور کې نازلېږي او هرکله چې ورته یو وړ ځای (زړه) پیدا شي، هلته ځلېږي.

دلته قرآن له هغه کتابه چې "لوستل کېږي"، په هغه کتاب بدلېږي چې "انسان لولي"؛
انسان لولي او د هغه نفس ورته رابرسېره کوي،
هغه له خپلو پټو وړتیاوو خبروي،
او هغه د خپل رښتیني حقیقت په وړاندې پرته له کومې پردې دروي.
د الله تعالی دا قول:
﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِن قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ﴾،

د "لوستلو" (قراءت) د فهم لپاره يو نوی افق پرانيزي. هغه حال (شأن) چې انسان پکې ژوند کوي، هغه عمل چې ترسره کوي يې او هغه تلاوت چې په ژبه يې کوي... دا ټولې هغه دايرې دي چې د قرآن مانا ورننوځي؛ يا په حضور سره او يا په غفلت.

انسان په هره شېبه کې يا د خپل قرآن (ياني د خپل هغه واقعيت چې الهي سنن ورته څرګندوي) لوستونکی دی او يا غافل دی؛ پر ايتونو تېرېږي او ايتونه پر ده تېرېږي، خو يو بل سره ملاقات نه کوي.

دا مانا په دې مبارک قول کې خپل اوج ته رسېږي:

﴿إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا﴾؛

فجر (سپيدو داغ) يوازې يو وخت نه دی، بلکې د رابرسېره کېدو شېبه ده؛ هغه مهال چې رڼا د تيارې له زړه را دبره کېږي، هغه وخت چې زړه منلو ته خورا نژدې وي او عقل د عادتونو له شورماشور څخه لرې وي. هلته قرآن "مشود" (ليدل شوی) ګرځي، نه يوازې د دې لپاره چې تلاوت کېږي، بلکې د دې لپاره چې "ژوندی" کېږي.

په دغه ټکي کې هغه راز څرګندېږي چې ژبه يې له رانغاړلو عاجزه ده:

دا چې قرآن يوازې يو متن نه دی چې موږ يې د پوهېدو لپاره لولو، بلکې يوه رڼا ده چې موږ لولي ترڅو په هغه سره خپل ځانونه وپېژنو.

که د قرآن لپاره يو ژوندی زړه او يو رښتينی انسان پيدا شي، نو وحې پکې په خوځنده ژوند بدلېږي، نه په هغو کلمو چې يوازې يادېږي؛

هلته فهم په يوې برېښنا او الهام بدلېږي، نه يوازې په يوه وچ تحليل؛

او لوستل په يوې ليدنې (لقاء) بدلېږي، نه يوازې په تلاوت.

له همدې امله، قرآن د هغو ژبنيو قواعدو تابع کول چې له خپل روح څخه جلا وي، خاوند ته يې له لرېوالي پرته بل څه نه ورزياتوي؛ ځکه هغه هڅه کوي چې "ژوند" د "جامدو شيانو" په تله وتلي او غواړي "باطن" يوازې د "ظاهر" په وسيلو درک کړي.

خو سمه لاره دا ده چې ژبه (لسان) د يو پله په توګه وکارول شي نه د يو قيد په توګه؛ عقل د يو شاهد په توګه راوغوښتل شي نه د يو مطلق حاکم په توګه او زړه پرانيستل شي ترڅو د نزول ځای وګرځي.

يوازې هغه وخت انسان درك كولاى شي چې قرآن له ده څخه بهر نه دى، بلكې په هر حالت كې ورسره خبرې كوي، په هر قدم كې لارښوونه ورته كوي او د هغه شعور داسې بيا جوړوي چې نړۍ په يوه نوې رڼا كې وګوري.

هغه مهال بيا دا پوښتنه نه پاتې كېږي چې: "قرآن څه دى؟"

بلكې په دې پوښتنې بدليږي چې: "زه څوك يم كله چې له قرآن سره يم؟"

دلته فهم پيل كېږي...

چېرته چې كلمې پاى ته رسېږي او "شهود" (ليدنه) پيل كېږي.

وأخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

**حموده محمد محمد**

بورسعيد، مصر

## فکري ملنډې؛ کله چې اختلاف په ډله‌ییزه استهزاء بدل شي

**سریزه:**

د ټولنیزو رسنیو په زمانه کې، ملنډې وهل (سخریة) نور یـوازې یـو ناخـاپي فـردي چلنـد نـه دی، بلکې په ورځنۍ ژبه بدل شوی چې په فکري، دیني او سیاسي بحثونو کې کـارول کېـږي. یـوازې پـه فېسبوک کې د تبصرو (Comments) کتل کافي دي چې یو تکرارېدونکی عمل/چلند وکتل شي:

"هر څوک چې زما مخالف وي... ملنډې پرې وهل کېږي."

دلته موږ دا قرآني قانون را يادوو: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَىٰ أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ﴾. (الحجرات: ۱۱)

دا ایت داسې ښکاري لکه زموږ له نني ډیجیټلي واقعیت سره چې پـه حیرانـوونکي دقـت خـبرې کوي.

**لومړی: له خبرو اترو څخه تر ملنډو پورې**

په اصل کې اختلاف د لاندې موخو لپاره رامنځته شوی:

* د پوهېدو لپاره یوه لاره.
* د یو بل د بشپړولو وسیله.
* د حقیقت د نویو زاویو د کشفولو فرصت.

خو هغه څه چې نن یې موږ وینو — په ځانګړي ډول د سختدریځو په تبصرو کې — یو خطرناک بدلون دی: د افکارو له بحث څخه... د هغو د خاوندانو تر سپکاوي پورې. نو ګورئ چې:

* د دلیل پر ځای ← پسخندي ټوکه.
* د پوهېدو پر ځای ← استهزاء.
* د خبرو اترو پر ځای ← حذفول او له منځه وړل.

**دویم: هغه قوم/ډله چې یو ځانګړی فکري او کلتوري ډول پالي**

"قوم" نن سبا یوازې یوه قبیله یا ولس نه دی... بلکې:

* یو فکري جریان دی.

* یو دیني مذهب دی.

* هغه عامه خلک دي چې یو ډول خطاب پالي.

دلته پورتنی ایت په نوې بڼه تکرارېږي: یو قوم (فکري ډله) پر بل قوم (بلې فکـري ډلـې) ملنـډې وهي. ملنډې وهل نور یوازې یو نظر نه دی، بلکې: په ډله کې دننه د تړاو او پیوستون د پیاوړي کولو یو میکانیزم دی.

**درېیم: ملنډې د فکري برلاسۍ د یوې وسیلې په توګه**

په ډېری تبصرو کې، سختدریځي د مقابل لوري د پوهېدو یا حتی ځواب ورکولو هڅه نـه کـوي، بلکې غواړي هغه د عامو خلکو په وړاندې د ملنډو په موضوع بدل کړي.

دلته درې موخې ترلاسه کېږي:

۱. د مقابل لوري رواني چوپول.

۲. د خپلې ډلې د یووالي پیاوړي کول.

۳. د دلیل پرته د برلاسۍ شودل.

خو دا برلاسي... یوازې یو وهم دی.

**څلورم: د حقیقت د مطلق ملکیت وهم**

د ملنډو وهلو په اصل کې دا پیغام پروت دی:

"زه پر حقه یم... او ته حتی د دې ارزښت نه لرې چې درسره بحث وکړم."

دا د فکري بندښت (انغلاق) تر ټولو خطرناکه بڼه ده. خو قرآن دا باطل یقین داسې نړوي: ﴿عسى أن يكونوا خيراً منهم﴾

مانا دا چې:

*کېدای شي هغه څوک چې ته پرې ملنډې وهې، حق ته نژدې وي.

* ډېر رښتینی وي.

* یا د الله په نزد لوړ مقام ولري.

او همدا خبره د هر ډول کبرجن خطاب د راغورځولو لپاره کافي ده.

**پنځم: ولې سختدریځي ملنډو ته پناه وړي؟**

ځکه چې ملنډې وهل:

* تر فکر کولو اسانه دي.
* تر دلیل ویلو چټک دي.
* او پر عامه خلکو یې اغېز ډېر دی.
خو دا هم ورسره ثابتوي چې: دا د دلیل د کمزورۍ نښه ده، نه د هغه یقین نښه چې پر څېړنې ولاړ وي. ځکه څوک چې دلیل لري... استهزاء ته اړتیا نه لري.
**شپږم: د فېسبوک په زمانه کې د قرآن معیار**
د دې ټول شورماشور په وړاندې، قرآن یو ارام او پرېکنده معیار وړاندې کوي:
﴿إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡ﴾ (الحجرات: ۱۳)
غوره والی په دې کې نه دی چې:
* څوک ډېر مینه وال (Followers) لري.
* د چا غږ لوړ دی.
* یا څوک ډېرې ملنډې وهي.
بلکې په دې کې دی چې څوک ډېر باخبره، عادل او متقي دی.
**پایله:**
ستونزه پدې کې نه ده چې موږ اختلاف لرو... بلکې په دې کې ده چې موږ اختلاف په ملنډو کې رانغاړو. خطر په دې کې نه دی چې موږ له یوې ډلې سره تړاو لرو... بلکې په دې کې دی چې خپل تړاو د نورو د حذفولو پلمه وګرځوو.
د فېسبوک په زمانه کې، کېدای شي ملنډې وهل یوه چټکه بریا ښکاره شي... خو په حقیقت کې دا:
د عقل یوه خاموشه ماتې ده.
دا د نص یو عاجزانه لوست و، والله أعلی وأعلم.
ډاکټر وائل

# هغو ته چيغه چې ميراثي پوهه مقدسه ګڼي

## د دين او انساني کرامت وړ خبرو اترو په لور

هغو ټولو ته چې په زړونو کې يې له دين سره رښتينې مينه شته، د نبي کريم ﷺ پر سنتو غيرت لري او د خپل هويت او له پلرونو و نيکونو څخه د پاتې شوي ميراث ساتلو غوښتونکي دي.

موږ پوهېږو چې ميراثي پوهه ستاسو لپاره يوازې کتابونه او حکمونه نه دي، بلکې دا ستاسو حافظه، اړيکې، احساسات او تړاو دی.

او په دې هم پوهېږو چې پر ميراثي کتابونو ستاسو وېره، په اصل کې د ژوند د مانا پر بايللو وېره ده.

خو اجازه راکړئ چې په پوره رښتينولۍ او پرته له کومې دښمنۍ درته ووايو:

خبرې اترې (ګفتمان/ډيالوګ) د دين لپاره ګواښ نه دی... بلکې دا د دين لومړنۍ سنت دی.

رسول الله ﷺ په بحثونو کې تونده، سخت زړی او غوغا کوونکی نه و، بلکې زړه يې تر اختلافونو پراخ و او خلکو ته يې فرمايل:

«إنما بعثت لأتمم مكارم الأخلاق» (زه يوازې د اخلاقي ښېګڼو د بشپړولو لپاره رالېږل شوی يم).

نو څنګه کېدای شي چې له سنتو دفاع په کنځلو او بد رد ويلو بدله شي؟

او څنګه ديني غيرت د خلکو د سپکاوي او هغوی ته د خاين ويلو پلمه کېدای شي؟

۱. موږ دميراثي فقهې د نړولو بلنه نهورکوو؛

بلکې موږ د هغې د پوهېدو، د هغې د زماني او مکاني شرايطو (سياق) د درک کولو او د لاندې دوو شيانو ترمنځ د توپير بلنه ورکوو:

* هغه څه چې بشري او تاريخي دي.

* او هغه څه چې الهي، قرآني او تلپاتې دي.

موږ بلنه ورکوو چې "فکر" وکړو، نه دا چې "تکرار" يې کړو؛ په خپله خوښه انتخاب وکړو، نه د عادت له مخې او له دې دايرې راووزو چې:

«وجدنا آباءنا على أمّة» (موږ خپل پلرونه پر همدې لاره موندلي)

دې دايرې ته ور ننوځو چې:

«**أفلا تعقلون**» (ايا تاسو عقل نه کاروئ؟)

۲. موږ ستاسو دښمنان نه يو... موږ د حق په لټه کې ستاسو ورونه يو

موږ د دې لپاره نه يو راغلي چې ستاسو عقيدې له منځه يوسو او نه د تېرو خلکو سپکاوی کوو، بلکې موږ يوازې پوښتنه کوو، لکه څنګه چې ابراهيم (ع) پوښتنه کړې وه:

﴿**رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ**﴾ (ای ربه! ما ته وښايه چې مړي څنګه ژوندي کوې؟)

پوښتنه کفر نه دی. پوښتنه د ايمان لومړنی ګام دی.

۳. کلمه هم کېدای شي يو پل وي او هم توره

کله چې بحث په لاندې شيانو بدل شي:

* ښکنځلې، د خيانت تور، تکفير او يا استهزاء.

نو موږ مخکې تر دې چې دين له فکري اړخه راوغورځوو، له اخلاقي اړخه مو راغورځولی وي. له همدې امله قرآن په صراحت سره وايي:

﴿**وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا**﴾ (او کله چې ناپوهان ورسره خبرې کوي، دوی ورته وايي: سلام/سلامتي ده).

دلته "سلام" تېښته نه ده، بلکې لوړتيا ده.

۴. رښتينې بلنه چيغو او نارو سورو ته اړتيا نه لري

يو ارام او ډاډمن يقين تر زرګونو مناظرو ډېر اغېزمن دی.

ښايي زموږ پوهه او تګلارې سره توپير ولري، خو موږ ټول په لاندې ټکو کې سره يو ځای کېږو:

* د الله مينه.

* د رسول الله ﷺ په اخلاقو ځان سمبالول.

* د حق لټون.

* او د انسان درناوی.

نو ايا بيا هم دې ته اړتيا شته چې يو بل راوغورځوو؟

زموږ غږ درته دا دی:

راځئ داسې خبرې اترې وکړو چې موخه یې د یو چا ګټل نه وي، بلکې موخه دا وي چې دواړه د حقیقت رڼا ته نژدې شو.

راځئ ښکنځلې پرېږدو؛ ښکنځلې نه ایمان جوړوي، نه قناعت بدلوي او نه هم یو ملت رامنځته کوي.

راځئ داسې ژبه جوړه کړو چې په هغې کې:

* درناوی وي.
* غوږ نیول وي.
* نېک ګمان وي.
* او د الله په وړاندې تواضع وي.

ځکه هدایت د هېچا شخصي ملکیت نه دی او نه هم پوهه په یو ځانګړي نسل پورې تړلې ده. حقیقت د هېچا په منګولو کې نه دی، بلکې د هغه چا په زړه کې دی چې په رښتینولۍ یې لټوي.

**پایله:**

موږ هغه وخت نه بریالي کېږو کله چې مقابل لوری چوپ کړو، نه هغه وخت چې غږ مو لوړ شي او نه هغه وخت چې ډېر پیروان راټول کړو.

موږ یوازې هغه وخت بریالي کېږو کله چې: خپل عمل، قول او اخلاق د رښتیني اسلام مقام ته ورسوو... چې هغه د "سلام" مقام دی.

راځئ په داسې عزتمندو خبرو اترو پیل وکړو چې ګټونکی او بایلونکی ونه لري، بلکې ټول د الله د رضا په لټه کې شریک ملګري واوسو.

پر تاسو دې سلام وي... هغه سلام چې تر دروازو وړاندې عقلونه پرانیزي.

## په قرآن کې د څو ودونو شرطونه: له شکلي اباحته تر ارزښتي کنټروله

**د النساء سورت د ۳ ایت لغوي-مقاصدي تحلیلي مطالعه**

دا څېړنه هڅه کوي چې په قرآن کریم کې د څو ودونو مفهوم د لغوي، سیاقي او مقاصدي تحلیل له لارې بیا وڅېړي. پایله دا ده چې څو ودونه یو پرانیستې او اصلي تشریع نه ده، بلکې یو "ظرفي رخصت" دی چې په یو ځانګړي ټولنیز حالت (یتیمانو) پورې تړلی او په ارزښتي ضوابطو (پاکوالي/طیب او عدالت) پورې مشروط دی، چې په واقعیت کې یې پلي کېدل خورا محدود دي. همدارنګه دا مطالعه وړاندیز کوي چې د "ما طاب لکم" مفهوم کې د دوه اړخیز رضایت شرط نغښتی دی، چې د مېرمنې موافقه د څو ودونو په مشروعیت کې یو ضمني شرط ګرځوي.

**سریزه:**

په معاصر اسلامي فکر کې د څو ودونو موضوع یو له خورا جنجالي بحثونو څخه ده؛ ځینې یې د سړي مطلق حق ګڼي او ځینې یې د محدودولو یا لغوه کولو غوښتنه کوي. خو دا اختلاف ډېری وخت د قرآني نص له جزیي لوستنې څخه رامنځته کېږي، چې کلی سیاق او هغه ارزښتي مقاصد له پامه غورځوي چې پر نص حاکم دي.

دا څېړنه پر دې فرضیه ولاړه ده چې په قرآن کې تعدد یو اصلي تشریعي اصل نه دی، بلکې یو استثنایي حالت دی چې په پېچلو شرطونو پورې تړلی دی.

**لومړی: د ایت نصي سیاق – تعدد د یتیمانو د ستونزې د حل په توګه**

ایت فرمایي:

﴿وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ...﴾

د ایت له شرطي جوړښت څخه څرګندېږي چې تعدد له پیله "په یتیمانو کې د عدالت نه کولو له وېرې" سره تړلی دی. تفسیرونه (لکه د طبري او قرطبي) هم تاییدوي چې د نزول سبب یې هغه حالات وو چې د یتیمانو سرپرستانو به له هغوی سره ودونه کول خو حقونه به یې نه ورکول. له همدې

امله، تعدد د یو عام انتخاب په توګه نه دی وړاندې شوی، بلکې د عدالت د اندول ساتلو لپاره د یو تړلنیز حل په توګه مطرح شوی دی.

**دویم: د "ما طاب لکم" مفهوم لغوي تحلیل**

د "طیب" اصطلاح د څو ودونو د مشروعیت په پوهېدو کې یو بنسټیز محور دی. "راغب اصفهاني" طیب داسې تعریفوي: "هغه څه چې نفس ترې خوند اخلي او له خباثت (ناپاکی) څخه پاک وي."

له همدې امله، "طیب" یوازې په جنسي غریزه کې نشي رانغاړل کېدای، بلکې لاندې ماناګانې لري:

* د رواني اثر روغتیا.
* د اړیکې پاکوالی له هر ډول ضرر څخه.
* د ارزښتي همغږۍ تحقق.

د دې پر بنسټ، هره هغه ازدواجي اړیکه چې پایله یې رواني زیان یا جبر وي، د "طیب" په مفهوم کې نه راځي؛ دا د یوې معاصرې شننې لاره پرانیزي چې دوه اړخیز رضایت پکې یو ضمني شرط دی.

**دریم: عدالت د یو محدودونکي شرط په توګه**

ایت تعدد په عدالت پورې تړلی بولي:

﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً﴾ (که وېره مو وه چې عدالت نشئ کولای، نو په یوه بسنه وکړئ).

خو قرآن په بل ځای کې پرېکړه کوي:

﴿وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ﴾ (تاسو هېڅکله نشئ کولای چې د ښځو ترمنځ (بشپړ) عدالت وکړئ، که هر څومره هڅه هم وکړئ).

امام رازي د دې دواړو ترمنځ توپیر د "ظاهري عدالت" (چې ممکن دی) او "قلبي عدالت" (چې ناممکن دی) له لارې کوي. دلته یو تشریعي پاراډوکس (تضاد) رامنځته کېږي:

* تعدد په عدالت پورې مشروط دی.
* بشپړ عدالت ناممکن دی.

دا ښیي چې تعدد په تیوریکي ډول ممکن، خو په عملي ډول یو ډېر محدود او استثنایي حالت دی.

**څلورم: تعدد د مقاصدو او "لا ضرر" قاعدې ترمنځ**

د "لا ضرر ولا ضرار" قاعده په شریعت کې یو کلي اصل دی. امام شاطبي وايي چې د شریعت موخه د ضرر لرې کول او د مصلحت راوستل دي. نو هر هغه تعدد چې د لاندې شیانو لامل ګرځي:

* رواني زیان، د کورنۍ پاشل کېدل او عاطفي ظلم.

دا د تشریع له عمومي مقصد سره په ټکر کې دی، که څه هم شکلي شرطونه یې پوره وي. موږ نشو کولای "د یتیمانو پر وړاندې یو ظلم، د مېرمنې پر وړاندې په بل ظلم سره سم کړو"، ځکه دا د قرآن له ارزښتي جوړښت سره په ټکر کې ده.

**پنځم: مودت او رحمت د ګډ ژوند د تشریعي بنسټ په توګه**

قرآن د مېړه او مېرمنې اړیکه پر لاندې اصل بنا کوي:

﴿وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةً﴾ (او ستاسو ترمنځ یې مینه او مهرباني پیدا کړه).

ابن عاشور ټینګار کوي چې دا اړیکه پر ترحم او رواني همغږۍ ولاړه ده. نو هره هغه اړیکه چې د یو لوري له خوښې پرته پرې تپل کېږي، د "مودت" شرط له لاسه ورکوي. دا خبره دا نظر پیاوړی کوي چې: د اوسنۍ مېرمنې موافقه یوازې یو اخلاقي بحث نه دی، بلکې د تعدد په قرآني جوړښت کې یو ضمني شرط دی.

**شپږم: تعدد د یو دايمي اصل نه، بلکې د استثنا په توګه**

ابن عاشور په دې باور دی چې تعدد یو داسې رخصت و چې د هغه وخت ټولنیز حالت ایجاباوه، نه دا چې دا پخپله یو مقصدي تشریع وي. پایله دا ده چې:

* په نکاح کې اصل: یووالی (یوه مېرمن) دی.
* تعدد: یو استثنايي حالت دی چې په ټولنیزو شرايطو پورې تړلی دی.

نو قرآن تعدد رامنځته نه کړ، بلکې هغه بې مهاره تعدد یې محدود او کنټرول کړ چې تر اسلام وړاندې موجود و.

**پایله:**

د دې مطالعې له لارې جوته شوه چې په قرآن کریم کې تعدد یوه پرانیستې تشریع نه ده، بلکې یو داسې سیستم دی چې په درېو کچو کنټرولېږي:

۱. سیاق: یتیمان او ټولنیز عدالت.

۲. ارزښتونه: طیب (همغږي) او عدالت.

۳. مقاصد: د ضرر مخنیوی او د مودت رامنځته کول.

د دې کچو په یو ځای کولو سره، تعدد یو ډېر محدود نظري امکان دی، نه یو مطلق عملي انتخاب. قرآني نص هڅه کړې چې د تعدد دایره تنګه کړي او پر یوې مېرمنې بسنه اصل وګرځوي.

دا زما عاجزه پوهه ده، پر چا یې نه تپم او نه یې له خطا څخه پاکه بولم.

تېرې پرله پسې درې مقالې د ډاکټر وائل کریم وې

## څوک "مغضوب علیهم" او څوک "ضالین" دي؟

د دې لپاره چې ستا لمونځ، چې الله ته يې ادا کوې، فاسد نه شي؛ په کار ده کله چې د "فاتحة الکتاب" سورت لولې، په کلمو کې يې تدبر او فکر وکړې.

صراط مستقیم (سمه لاره): هغه پول نه دی چې دوزخ باندې تېره شوی وي او مخلوقات پرې د قیامت په ورځ تېرېږي، بلکې دا په ژوند کې ستا هغه سمه تګلاره ده چې د قرآن کریم پر بنسټ وي.

مغضوب علیهم: یوازې په یهودانو پورې منحصر (محدود) نه دي.

ضالین: یوازې په مسیحیانو (نصارا) پورې منحصر نه دي.

دا او د دې په څېر نور تعبیرونه د تېرو خلکو له بې لاریو څخه دي.

مغضوب علیهم یوازې یهودان نه دي، بلکې هغه داسې کسان دي لکه زموږ رب چې فرمايلي:

١- {**وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا**} [سورة النساء : ٩٣]

نو هر هغه څوک چې یو مؤمن په قصدي ډول ووژني، هغه "مغضوب علیه" (غضب پر شوی)، په لعنت ککړ او په اور کې تلپاتې دی.

٢- {**وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ الظَّانِّينَ بِاللَّهِ ظَنَّ السَّوْءِ ۚ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ ۖ وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا**}. [سورة الفتح : ٦]

نو هر هغه مشرک چې پر الله بد ګمان کوي، هغه "مغضوب علیه" دی.

٣- {**قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ ۚ أُولَٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَاءِ السَّبِيلِ**}. [سورة المائدة : ٦٠]

مسلمانانو ته دا حق نه رسېږي چې د "المغضوب علیهم" تعبیر یوازې په یهودانو پورې محدود کړي؛ ځکه الله تعالی فرمايلي:

{**لَيْسُوا سَوَاءً ۗ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ**}.

[سورة آل عمران : ۱۱۳]

دا پدې مانا ده چې په هغوی (اهل کتابو) کې هم مؤمنان شته، که څه هم د محمد (ص) پر رسالت يې ځکه ايمان نه وي راوړی چې اسلام ورته په بده بڼه وړاندې شوی دی.

خو د "ضالين" (بې لارې) ذکر هم په قرآن کې راغلی او هغوی يوازې مسيحيان نه دي:

۱- بلکې دوی، هغه څوک دي چې بې له حقه يو څوک ووژني، لکه د الله تعالی په دې قول کې:

{ قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ } [سورة الشعراء : ۲۰]

۲- او هر هغه څوک چې بې له عقيدې ژوند وکړي او مړ شي:

{ وَاغْفِرْ لِأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ } [سورة الشعراء : ۸٦]

۳- او هر هغه څوک چې يو سماوي رسالت دروغ وګڼي، په دې شرط چې هغه ورته په سمه او بشپړه بڼه وړاندې شوی وي.

۴- همدارنګه ضالين هغه مرتدان دي چې الله فرمايلي:

{ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُولَئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ }.

[سورة آل عمران : ۹۰]

۵- او هغه څوک چې د خپل رب له رحمت څخه ناهيلي شي:

او پايلې سترې کېږي؛
دا هغه مهال چې الله تعالی ستا "ولي مرشد" (لارښود سرپرست) شي.
کله چې موسی (عليه السلام) هغه صالح بنده ته ورسېد، له هغه يې يوازې يو غوښتنه وکړه:
{هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا}
(ايا زه ستا پيروي وکړم پر دې شرط چې ته ما ته له هغه څه څخه چې تاته ښودل شوي، "رشد" وښيې؟)
يوازې رشد...
گرانه لوستونکيه! کله چې الله سبحانه وتعالی موږ ته د رشد اسباب برابر کړي، نو په حقيقت کې يې موږ ته د دنياوي برياليتوب او اخروي نېکمرغۍ اسباب راکړي دي.
نو اې الله! زموږ په چارو کې موږ ته رشد او سمه لاره نصيب کړه.
ډاکټر مصطفی محمود

# ایا الله خپل بنده ته کافي نه دی؟

.﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ ۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾.

[الزمر: ٣٦]

دا په خپل جوړښت کې یو لنډ ایت دی، خو د خپلې انجینرۍ له مخې خورا پراخ دی؛ ځکه دا یوازې د ویرې درملنه د یو نفسیاتي احساس په توګه نه کوي، بلکې له عقیدوي ریښې یې علاج کوي: "کافي" (بسیا کوونکی) څوک دی؟ د ګټې او زیان مالك څوک دی؟ او کله د مخلوق څخه د انسان ویره، د الله د کفایت شهود کې په یوې نېمګړتیا بدلېږي؟

**لومړی: د لغوي کیندنې مقام — د ریښې سپړنه**

موږ له مرکزي کلمې پیل کوو:

﴿بِكَافٍ﴾

ریښه یې: (ك ف ي) ده.

کفایت په اصل کې یوازې د یو شي زیات ورکول نه دي، بلکې هغه حد ته رسېدل دي چې له نورو څخه حاجت ورسره ختم شي. کله چې وایې: (كفاني الشيء) یانې زما اړتیا یې پوره کړه، زما څخه یې اړتیا لرې کړه او زه یې په دغه مقام کې له هر څه بې نیازه کړم.

له همدې امله ایت داسې ونه ویل:

(**أليس الله بناصر عبده؟**) "ایا الله د خپل بنده مرستندوی نه دی؟"

سره له دې چې نصرت (مرسته) یو ډېر لوړ مفهوم دی.

او داسې یې هم ونه ویل:

(**أليس الله بحافظ عبده؟**) "ایا الله د خپل بنده ساتونکی نه دی؟"

سره له دې چې ساتنه په دې مانا کې شامله ده.

او داسې یې هم ونه ویل:

(**ألیس الله بمعین عبده؟**) "ایا الله د خپل بنده کومک کوونکی نه دی؟"
سره له دې چې کومک غوښتل کېږي.
بلکې ویې ویل:
﴿**بِكَافٍ عَبۡدَهُۥ**﴾
ځکه د ایت مقام له نصرت، ساتنې او کومک څخه پراخ دی؛ دا یو جامع مفهوم رامنځته کوي: دا چې بنده که د رښتینې بندګۍ په مقام کې وي، نو الله ورته له هغو لورو کفایت کوي چې هغه یې پېژني او له هغو لورو هم چې هغه یې نه پېژني؛ له ښکاره دښمن څخه، له باطني ویرې، د خلکو له مکره، د نفس له لړزېدو، د لارې له ګډوډۍ او د اسبابو له کمښت څخه.
نو دلته کفایت یوه تېرېدونکې پېښه نه ده، بلکې یوه وجودي چترۍ ده چې تر لاندې یې امن، نصرت، ساتنه، تایید، هدایت او ثبات راځي.
بیا دې لفظ ته ځیر شه:
﴿**عَبۡدَهُۥ**﴾
داسې یې ونه ویل: ایا الله محمد (ﷺ) ته کافي نه دی؟ سره له دې چې د خطاب سیاق نبي ﷺ ته دی.
او داسې یې هم ونه ویل: ایا الله مؤمن ته کافي نه دی؟
بلکې ویې ویل: ﴿**عَبۡدَهُۥ**﴾ (خپل بنده ته).
ځکه دلته د کفایت مدار "بندګي" ده.
ګویا ایت وایي: کله چې بندګي رښتینې شوه، کفایت راغی. او کله چې د خپل رب په اړه د بنده شهود کمزوری شو، نو د مخلوقاتو ګواښونه یې په سترګو کې غټ شول.
نو ایت یوازې یو رواني ډاډ نه ورکوي، بلکې ډاډ له یوه عبادتي مقام سره تړي: بنده شه، چې د الله په کفایت کې شې.

**دویم: د صوتي انګازې مقام — د دلالت موسیقي**

د ایت سر (پیل) ته غوږ شه:
﴿**أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥ**﴾

پکې استفهام (پوښتنه) دی چې په "همزه" پیل کېږي، بیا په "أليس"کې د "یاء" په نرمۍ غځېږي، بیا جلیل نوم راځي: (الله).

بیا عبارت داسې یوې کلمې ته راکښته کېږي چې "کاف" او "فاء" پکې دي: (بِكَافٍ).

په "کاف"کې یو ډول قوت او بندښت دی، او په "فاء"کې ساه او پرانیستنه ده؛ ګویا دا لفظ د احاطې (راګرځولو) او انفراج (خلاصون) ماناوې یوځای کوي: داسې کفایت چې د خطر مخه نیسي- او د ډاډ لاره پرانیزي.

بیا ﴿عَبۡدَهُۥ﴾ راځي.

په "عين"، "باء" او "دال" سره؛ دا داسې توري دي چې د بندګۍ درونډوالی او وقار له ځان سره لري، بیا په پای کې یې "هاء" بنده خپل لوی نسبت ته ورګرځوي: دا په خلا کې یو مطلق بنده نه دی، بلکې "د هغه بنده" دی؛ چې الله ته د تشریف او پالنې په موخه منسوب شوی دی.

بیا له دویمې برخې سره غبرېزې مقابلې ته وګوره:

﴿وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ﴾

دلته اواز د کفایت له ډاډ څخه د ډارولو اضطراب ته لېږدول کېږي.

په (**يخوّفونك**) کلمه کې د "واو" تضعیف (تشدید) دی، ګویا ویره تکرارېږي، تکرارېږي او غځېږي. دا یوازې "يخافونك" ( دوی تا ډاروي) نه ده، بلکې "يخوّفونك" ده؛ یانې په ذهن کې دې ویره جوړوي، تاته یې در ټېله کوي او هڅه کوي چې وهم له حقیقت څخه لوی کړي.

نو غبرېزه صحنه پخپله د دوو لورو ترمنځ جګړه انځوروي:

﴿أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥ﴾: ارامي، ثبات، ډاډ.

﴿وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ﴾: شورماشور، فشار، مبالغه.

ګویا ایت تاته د توحید د غږ او د ویرې د غږ ترمنځ توپیر اوروي.

**دریم: د نحوي معمارۍ مقام — د ځایونو رازونه**

ایت په تقریري استفهام پیل کېږي:

﴿أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥ﴾

دا استفهام د ځواب غوښتلو لپاره نه دی؛ ځکه ځواب د مؤمن په زړه کې معلوم دی. دا داسې استفهام دی چې هغه یقین راویښوي کوم چې ممکن د ویرې په شېبو کې پټ شوی وي.

ايت مستقيم داسې ونه ويل: (الله كافٍ عبده) "الله خپل بنده ته كافي دی."

بلكې په دې بڼه راغلی: ﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ﴾

ځكه ويرېدلی نفس كله نوي معلوماتو ته اړتيا نه لري، بلكې د هغه حقيقت راغوښتلو ته اړتيا لري چې دی يې پيژني.

نو دلته پوښتنه زړه ته يو نرم ټكان وركوي: څنګه ويرېږې، حال دا چې الله درته كافي دی؟ څنګه نارامه كيږې، حال دا چې ته د هغه چا بنده يې چې واك يې په لاس كې دی؟ څنګه ستا په سترګو كې د مخلوقاتو اسباب لوييږي، حال دا چې ته پوهيږې الله تر ټولو اسبابو لوړ دی، هيڅ شی ورته غټ نه دی او هيڅ شی يې نه عاجزوي؟

بيا په (بِكَافٍ) كې د "باء" داخلېدو ته وګوره.

دلته "باء" مانا ته تأكيد وركوي.

عبارت يوازې د كفايت خبر وركول نه دي، بلكې د هغه پرېكنده ثابتول دي؛ ګويا مانا دا ده: ايا يوازې الله هغه څوك نه دی چې د كفايت مانا ورته په حقه ثابته ده؟

بيا د ﴿عَبْدَهُ﴾ كلمه راغله.

چې د "كافٍ" (اسم فاعل) لپاره مفعول دی، خو بې له كوم اوږده ځنډه سمدستي ورپسې راغلی؛ ځكه د كفايت او بندګۍ ترمنځ اړيكه مستقيمه ده. هرڅومره چې دا اضافت (بنده + رب) سم وي، د كفايت مانا هم سمه وي.

بيا بدلون (تحول) راځي:

﴿وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ﴾

پام وكړه چې ايت داسې ونه ويل: (ويخوفونك منهم) "او دوی تا له هغوی څخه ويروي."

بلكې ويې ويل: ﴿بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ﴾ (په هغو كسانو چې له ده پرته دي).

يانې ستونزه يوازې د هغوی په ذات كې نه ده، بلكې په دې كې ده چې هغوی "له ده پرته" (د هغه تر حكم لاندې او تر هغه ټيټ) دي.

هر هغه څه چې "له الله پرته" وي، هغه د الله په وړاندې په قدر كې ټيټ دي، په واك كې ټيټ دي، په اثر كې ټيټ دي او په قدرت كې ټيټ دي، كه څه هم د خلكو په وهمونو كې وپړسول شي.

نو دلته "نحو" يو عقيدوي تله (ميزان) جوړوي:

الله د ایت په سر کې دی.

هغه چې له ده پرته دي، د ویرې په ځای کې دي.

دی په یوازې ځان د ویرې د نړولو لپاره کافي دی؛ ځکه چا چې د الله قدر وپیژندلو، هغه له ده پرته بل چا ته له خپل حد څخه پورته قدر نه ورکوي.

**څلورم: د سیاق د شبکې مقام — د رښا تارونه**

دا ایت په سورة الزمر کې دی او دا سورت له پیل څخه تر پایه د خالص توحید معرکه د شرک په خلاف، د غیر الله پورې د زړه تړلو په خلاف او د زړه د بېلابېلو لورو ترمنځ د وېشلو په خلاف رامنځته کوي.

د سورت پیل وایي:

﴿تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ○ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ﴾

نو محور دا دی: یوازې الله ته د دین خالص کول.

له همدې ځایه دا ایت راځي: ﴿أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥ﴾

ګویا دا د اخلاص لویه رواني پایله ده:

چا چې دین الله ته خالص کړ، الله ورته کافي شو.

او چا چې خپل زړه د الله او غیر الله ترمنځ ووېشه، هغه د ویرې ښکار شو.

بیا دا چې دغه ایت د نبي ﷺ په وړاندې د مشرکانو د ویرولو په سیاق کې راځي چې هغه یې له خپلو معبودانو ویرولو، ګویا هغوی ورته ویل: زموږ له خدایانو ووېرېږه، تاته به زیان ورسوي.

نو ایت راکښته کېږي، نه دا چې یوازې د بحث په کچه د هغوی له وهمونو سره خبرې وکړي، بلکې هغه له ریښې وباسي: (أليس الله بكافٍ عبده؟)

دا نه وایي چې ستاسو خدایان یوازې زیان نه شي رسولی، بلکې له هغه مخکې وایي: "الله خپل بنده ته کافي دی."

دا ډېر ژور مفهوم دی؛ ځکه قرآن یوازې باطل نه ماتوي، بلکې په زړه کې د هغه پر ځای یو حقیقت ودانوي.

نو ویره په خالي ځای نه مغلوبېږي، بلکې د توحید په کمال مغلوبېږي.

بیا ایت داسې پای ته رسېږي:

﴿وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ﴾

دلته څرګندېږي چې خبره یوازې ظاهري ویره نه ده، بلکې هدایت او ګمراهي ده.

چا چې د الله کفایت ونه لید او زړه یې د غیر الله په تعظیم ډک شو، نو هغه په خپل بصیرت کې له ستونزې سره مخ شوی دی. او څوک چې الله په خپل عدل او حکمت سره ګمراه کړي، نو ډېر نصیحتونه به ورته هغه هدایت جوړ نه کړي چې دی یې نه غواړي او نه به خیالي معبودان هغه ته داسې امن ورکړي چې دوی یې مالکان نه دي.

نو خاتمه د ایت پیل بربنډوي:

د الله کفایت هر څوک نشي لیدلی، بلکې هدایت شوی یې ویني.

خو څوک چې ګمراه شو، هغه ضعیف ته قوي، باطل ته ویرونکی، وهم ته حقیقت او مخلوق ته د هغه څه مالك وايي چې هغه یې مالك نه دی.

**پنځم: د وجودي هیندارې مقام — د ایت په رڼا کې د نفس لوستل**

دلته ایت له انسان څخه یو مستقیمه پوښتنه کوي:

ستا ویره چیرته ده؟

پوښتنه دا نه ده چې: ایا ویرېږې که نه؟ ځکه ویره د بشر په فطرت کې ده.

بلکې پوښتنه دا ده: ایا ستا ویره ستا له یقین څخه لویه شوې ده؟

ایا ستا په زړه کې د خلکو ګواښ د الله له وعدې څخه غټ شوی دی؟

ایا ته اسبابو ته داسې ګورې چې ګواکې هغه د خپل ځان واک لري؟

که ته په خپلې بېوزلۍ، یا مقام، یا رزق، یا د خلکو په وړاندې ستا په انځور، یا ستا په راتلونکي باندې وویرول شې، ایا هېر دې کړل چې الله "کافي" دی؟

دا ایت افشا کوي چې د انسان ډېرې ویرې د شیانو له ځواك څخه نه دي، بلکې د الله له کفایت څخه د هغه د شهود له کمزورتیا څخه دي.

نو هغه څوك چې له خلکو داسې ویره لري چې له حق څخه یې وباسي، هغه لا تر اوسه د ﴿بِكَافٍ عَبْدَهُ﴾ مانا نه ده پېژندلې.

او څوك چې د کوم منصب له لاسه ورکولو له امله خپل اصول پلوري، د هغه په زړه کې د کفایت مانا نه ده ځای پر ځای شوې.

او څوك چې د لښکر، يا سلطان، يا ډلې، يا کورنۍ، يا رزق، يا يوازېتوب له ويرې حق بـدلوي، هغه لا د دې ايت ژورو ته نه دی ننوتی.

دا د انسان د ګوابښ له بندګۍ څخه د ازادولو ايت دی.

ورته وايي: تر هغه چې الله "کافي" دی، نو څوك چې تا ويروي هغه د خپل زړه بادار مه ګرځوه.

کفايت دا نه دی چې ته به له خطر سره نه مخ کېږې.

کفايت دا نه دی چې ته به نه ازمويل کېږې.

کفايت دا نه دی چې لاره به درباندې نه تنګېږي.

کفايت دا دی چې ته غير الله ته پرې نه ښودل شې.

دا چې له دننه مات نشې.

دا چې ويرې دې خيانت ته ونه سپاري.

دا چې د مخلوقاتو ګوابښ په يو "کوچني رب" بدل نشي چې ستا په پرېکړو حکم کوي.

دا چې د الله بنده پاتې شې، نه د هغه څه بنده چې ترې ويرېږې.

**د ايت معماري خلاصه:**

دا ايت په يوې دقيقې هندسې ولاړ دی:

پوښتنه: ﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ﴾

ازموينه: ﴿وَيُخَوِّفُونَكَ﴾

د وهم سرچينه: ﴿بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ﴾

وروستۍ پرېکړه: ﴿وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾

ګويا ايت وايي:

چا چې الله "کافي" وپېژاند، د هغه په سترګو کې له ده پرته هر څه واړه شول.

او له چا څخه چې د هدايت رڼا ورکه شوه، په زړه کې يې ويرې دومره غټې شـوې چـې ګـواکې پټ خدايان شول او دی کنټرولوي.

له همدې امله د ايت جوهر يوازې دا نه دی: (مه وېرېږه).

بلکې له دې هم ژور دی:

له الله سره خپل مقام سم کړه، په زړه کې به دې د ويرې مقام سم شي.

د ویرې علاج په تشه زړورتیا نه کېږي، بلکې په توحید یې علاج کېږي.

او ډاډ د اعصابو له قوت څخه نه راځي، بلکې د بندګۍ له رښتینولۍ څخه راځي.

او څوك چې په رښتیا د الله بنده شو، نو ګواښونه نور د هغه د زړه د مالکیت واك نه لـري؛ ځکـه هغه د ده په دننه کې له یو لوی حقیقت سره ټکر کېږي:

﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ﴾

رداد السلامي

## اې بني اسرائيلو کښته شئ!

[وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ]

ملګري مې رانه وپوښتل: ولې يې د (اذهبوا - لاړ شئ) يا (انتقلوا - انتقال وکړئ) کلمو پر ځای د ﴿اِهبِطُواْ﴾ کلمه غوره کړه؟

ورته ومې ويل: دلته د ﴿اِهبِطُواْ﴾ کلمې انتخاب يوازې د تګ امر نه دی، بلکې دا يوه داسې کلمه ده چې د کوزېدو (نزول) له مانا مالامال ده: د ځای کوزېدل، د مرتبې کوزېدل او د روحاني ذوق کوزېدل له يوې لوړې درجې څخه يوې ټيټې درجې ته.

نو ايت هغوی ته يوازې دا نه وايي چې: داسې يو ښار ته لاړ شئ چې هلته خپلې غوښتنې ومومئ، بلکې په يوه ژور مفهوم ورته وايي:

تاسو يوازې بل ډول خواړه نه غواړئ؛

بلکې غواړئ چې د ځانګړې الهي لورينې له کچې څخه د عادي ځمکني اړتيا کچې ته راکوز شئ.

ولې يې "**اذهبوا**" (لاړ شئ) ونه ويل؟

ځکه چې "**اذهبوا**" يوه بېطرفه کلمه ده چې يوازې له يو ځای څخه بل ځای ته لېږدېدلو ته اشاره کوي. خو په "**اهبطوا**" کې د دې لېږد د ماهيت په اړه قضاوت شته: دا چې دغه لېږد ښکته لوري ته دی.

او تر دې سمدستي مخکې يې فرمايلي وو:

﴿أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ﴾

(ايا د ټيټ په مقابل کې غوره ور کوئ؟)

نو ﴿ٱهۡبِطُواْ﴾ داسې راغله چې ګواکې د دې بدلون (استبدال) طبيعي پايله ده:

دا چې تاسو "ادنیٰ" (ټيټ) غوره کړی، نو هغه چاپېريال ته راکوز شئ چې له همدې ټيټوالي سره مناسب وي.

په سياق کې ژوره مانا:

بني اسرائيل په يو استثنايي مقام کې وو:

روزي ورته د الهي پاملرنې له لوري راتله، نه د ځمکې له سترړيا او نـه د بـازار لـه حسـابه. "مـن او سلویٰ" يوازې خواړه نه وو، بلکې دا يوه نښه وه چې الله تعالی هغوی له عادي نظام څخه بهر روزي، هغوی يې د فرعون له مرېيتوب څخه ازاد کړي وو، بيا يې د مادې او عادت له مرېيتوب څخه ازادول.

خو هغوی وويل:

﴿لَن نَّصۡبِرَ عَلَىٰ طَعَامٖ وَٰحِدٖ﴾

(موږ به پر يو ډول خوړو صبر ونه کړو.)

نو ستونزه د سبو، بادرنګو، هوږې، دانې او پيازو په غوښتلو کې نه وه، ځکه دا په اصل کـې مبـاح خواړه دي. ستونزه دا وه چې هغوی په نعمت کې د هغه مانا ونه ليده، بلکې يـوازې ظـاهري بڼـه يـې وليده. هغوی دا احساس نه کاوه چې د روزنې او غوره کېدو په مقام کې دي، بلکې له الهي عطاء سره يې داسې چلند وکړ لکه يو ستړی شوی انسان چې د تکراري دسترخوان په وړاندې يې کوي.

له همدې امله ځواب راغی:

﴿ٱهۡبِطُواْ مِصۡرٗا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلۡتُمۡۗ﴾

یانې: که د ځمکې خواړه غواړئ، نو د ځمکې (عادي) نظام ته ورګرځئ.

که پياز، دانې او بادرنګ غواړئ، نو دا د معجزې په مقام کې نه غوښتل کيږي، بلکې په ښـارونو، بازارونو، کرنه او سترړيا کې ترلاسه کيږي.

"اهبطوا" د غوښتنې حقيقت افشا کوي؛

ګواکې ايت ورته وايي:

تاسو يوازې د خوړو تنوع نه غواړئ، بلکې غواړئ چې يو زاړه رواني دور ته ورګرځئ:

د هغه انسان پېر چې له بنده (قيد) سره بلد وي ځکه چې پيژني يـې او لـه ازادۍ څخـه وېـره لـري ځکه چې هغه يې روزي.

له همدې امله دلته "کوزېدل" (الهبوط) يوازې جغرافيايي کوزېدل نه دي، بلکې په ذوق، شعور او د نعمت په قدردانۍ کې کوزېدل دي.

هغوی په داسې مقام کې وو چې الله تعالی ورته ويل: "زه تاسو ته کافي يم."

خو هغوی داسې مقام وغوښت چې پکې وايي: "موږ هغه څه غواړو چې له ځمکې سره مو پرې عادت دی."

**د بيان ښکلا**

د الله تعالی په دې قول کې: ﴿فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ﴾ (نو بېشکه ستاسو لپاره هغه څه شته چې غوښتلي مو دي) يو ډېر دقيق ټکی شته:

هو، هغه څه به ترلاسه کړئ چې غوښتي مو دي، خو پوښتنه دا ده: په دې لاره کې مو څه له لاسه ورکړل؟

ځکه هر هغه څه چې انسان ته ورکول کېږي، "کرامت" نه وي.

کله ناکله انسان ته ځکه يو څه ورکول کېږي چې هغه پخپله په "کوزېدو" (نزول) ټينګار کړی وي.

دلته د قرآن برم او عظمت څرګندېږي:

هغوی له سبو، بادرنګو، دانو او پيازو څخه نه منع کوي، خو ورته افشا کوي يې چې ستونزه په شيانو کې نه ده، بلکې په هغه مقام کې ده چې تاسو ترې دا غوښتنه کوئ او په هغه (لوړه) مانا کې ده چې تاسو د دې شيانو لپاره پرېښوده.

له همدې امله کلمه "اهبطوا" وه.

ځکه کله چې هغوی "ادنىٰ" (ټيټ) د "خير" (غوره) په مقابل کې خوښ کړ، هغوی يوازې په ځای کې حرکت ته اړتيا نه لرله، بلکې هغوی لا مخکې په خپل دننه کې يو حرکت پيل کړی و: د کوزېدو حرکت.

رداد السلامي

## د ننني لکچر له الهامه

پر قرآني مرکزیت د احادیثو وړاندې کول د لویو صحابه کرامو تګلاره وه او په دې برخه کې له هغوی څخه اجماع نقل شوې ده. پر قرآني مرکزیت د اخبارو وړاندې کول د هغو د قبلولو یا ردولو د معیار په توګه، کومه نوې خبره یا معاصر اجتهاد نه دی؛ بلکې دا یوه اصیله تګلاره ده چې د لویو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) کړنې پرې شاهدې دي. هغوی به هغه څه چې ورته نقل کېدل، د الله د کتاب په تله تلل، ترڅو د قرآن له کلیاتو او محکمو مقاصدو سره سمون ولري.

خو دا څرګند مفهوم د هغه چا لپاره منل ګران دي چې په تعصب، تقلید یا تنګ نظره مذهبي ډلبندیو کې ډوب وي؛ څکه داسې کسان د محکمو اصولو پر ځای، د خپلې مخکنۍ فکري بنې، مدرسې، مؤسسې، مذهب یا مشیخیت د ساتلو لپاره د تاویلونو یا د دې اصل د ردولو په لټه کې وي.

له همدې امله، ځینې خلك دې ته په حیرانۍ ګوري چې ګڼې د صحابه کرامو منهج د قرآن په تله د احادیثو تلل و، حال دا چې دا یو داسې اصل دی چې د هغوی نصوص او دریځونه پرې ګواهي ورکوي او ډېری امامانو ورته اشاره کړې ده. دلته په دې اړه د علماوو د خبرو ځینې بېلګې وړاندې کوو:

ابن قدامه المقدسي فرمايي: "زموږ دلیل د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) اجماع ده چې قرآن او متواتر اخبار د «واحد خبر» په واسطه نه نسخ کېږي او په دې کې بل هیڅ نظر نشته. تر دې چې عمر (رضي الله عنه) وفرمایل: موږ د یوې ښځې د خبرې په خاطر د خپل رب کتاب او د خپل نبي سنت نه پرېږدو، چې نه پوهېږو رښتیا یې وویل که دروغ." (روضة الناظر) کشف الاسرار خاوند وایي: «ابوبکر (رضي الله عنه) صحابه کرام راټول کړل او ورته ویې فرمایل چې هر هغه حدیث رد کړئ چې د الله له کتاب سره مخالف وي."

الاسنوي په نهاية الاصول کې وايي: "مقابل لوري په څو وجوهو استدلال کړی، لومړی یې: د صحابه کرامو اجماع ده پر دې چې که واحد خبر له قرآن سره په ټکر کې وي، نو ردېږي." شاطبي دا پوښتنه مطرح کوي چې که واحد خبر د صحت ټول شرطونه پوره کړي، ایا پر قرآن یې وړاندې کول واجب دي که نه؟

بیا ځواب ورکوي: "دا مسئله په سلف صالحینو کې اصل لري؛ عائشې (رضي الله عنها) دغه حدیث چې: «مړي ته د خپل اهل په ژړا عذاب ورکول کېږي»، کټ مټ په همدې اصل رد کړی و..."

ابو زهره وایي: "له دې ځایه موږ گورو چې د اهل رأیي فقهاء (هغه فقهاء چې حدیث پر قرآني محکماتو وړاندې کوي)، په خپله تگلاره کې پر ابوبکر، عمر، عائشه او نورو (رضوان الله علیهم) ډډه لگولې ده. هغوی د دوی پیروي کړې او له لارې یې نه دي اوښتي؛ نو هغوی بدعتگر نه بلکې متبعین وو."

هغه احادیث چې په «صحاحو» کې شته خو صحابه کرامو رد کړي دي:

* د فاطمې بنت قیس حدیث: چې ویل یې: «مېړه مې درې طلاقه راکړل، خو رسول الله (ص) زما لپاره نه استوگنځی وټاکه او نه نفقه.» (بخاري او مسلم) - دا ځکه رد شو چې له قرآني حکم سره یې ټکر درلود.

* «مړي ته د خپل اهل په ژړا عذاب ور کول کېږي» (بخاري او مسلم).

* «لمونځ د سپي، خره او ښځې په تېرېدو فاسدېږي» (صحیح مسلم).

* د بدر د څاه په غاړه د نبي (ص) درېدل او مړو ته خطاب کول: «ایا ومو موندل هغه څه چې رب مو وعده کړې وه؟... هغوی اوس زما خبرې اوري.» (بخاري او مسلم).

* د ابوهریره حدیث: «چا چې د جنابت په حال کې سهار کړ، نبي (ص) به د روژې ماتولو (قضا) امر کاوه.» (بخاري او مسلم).

په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره د «الزرکشي» کتاب: (**الإجابة لإیراد ما استدرکته عائشة علی الصحابة**) ته مراجعه وکړئ.

ډاکټر عمار الحریري

## له عبادته تر تقوی او شکره

### د هغې لړۍ بشپړېدل چې ورکه شوې وه

داسې ښکاري چې الهي خطاب ـ که په بېطرفه زړه ورته غوږ کېښودل شي ـ انسان ته وايي:

اې د آدم زویه! ما ته عبث نه يې پيدا کړی او نه مې په ځمکه کې هسې خوشې پرېښې يې؛ بلکې په تا کې مې وړتيا ايښې، عقل مې درکړی او اسباب مې درته برابر کړي، ترڅو د دې نړۍ په آبادۍ کې شريک شې، نه د هغې په ورانولو او ټوټې کولو کې.

ځمکه د دايمي جګړې ډګر نه ده پيدا شوې، بلکې د پېژندنې (تعارف)، همکارۍ او يو بل د بشپړولو ډګر دی؛ خو انسان چې کله خپله موخه هېره کړي، له آبادوونکي څخه په ورانوونکي، له مصلح څخه په مفسد او د ښکلا له شاهد څخه د بدرنګۍ په جوړوونکي بدل شي.

له همدې ځايه، قرآني اوامر د دې لپاره نه دي راغلي چې په خپله "موخې" وي، بلکې دا هغه وسيلې دي چې لوړو موخو ته لار باسي. که موږ په قرآن کې ډېرو ځايونو ته ځير شو، نو د امر تر څنګ دا ښکاره وييکی مومو: «لعلکم» (ښايي چې تاسو) يا «لعلهم» (ښايي چې هغوی)؛ دا د انسانانو د ژبې په څېر د هيلې او تمې لپاره نه دي، بلکې د دغه تکليف د مقصود او غايې د بيانولو لپاره دي.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ... لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾

دلته هغه ترتيب ښکاره کېږي چې له شعوره غايب شوی دی:

عبادت يوه ترلې پايله نه ده، بلکې د تقوی لور ته يوه پرانيستې لاره ده.

خو هغه خلل چې په فهم کې پيدا شوی، په نص (متن) کې نه و، بلکې د مانا په ترتيب کې و؛ ځکه انسان په "وسيله" کې تم شو او هغه يې "موخه" وګڼله، ګواکې عبادت داسې يو دود دی چې په خپله مقصود دی، نه هغه زينه چې لوړ مقام ته پرې ختلی شي.

عبادت په حقيقت کې د داسې يو معبود د خوشالولو لپاره نه دی چې د خپلو بندګانو ستاينې ته اړتيا ولري ـ الله له ټول عالم نه غني دی ـ بلکې دا د انسان روزنه، د هغه د شعور جوړول او د زړه تيارول دي ترڅو د تقوی مقام ته ورسېږي.

دلته يوه دقيقه پوښتنه پيدا کېږي: تقوی څه ده؟

يو داسې لنډ شوی تعريف دود دی چې تقوی يې يوازې د اوامرو منل او له نواهيو ډډه کول معرفي کړي، حال دا چې دا تعريف موږ بېرته پخوانۍ نقطې ته بيايي او د پوښتنې جوهر ته ځواب نه وايي.

خو که په قرآن کې د تقوی ايتونه راټول کړو او سياق ته يې ځير شو، نو يوې داسې مانا ته اشاره کوي چې په يو وخت کې هم ژوره ده او هم ساده:

تقوی د ازار (ضرر) بندول، د تېري مخنيوی او بيا احسان (نيکۍ) ته لوړېدل دي.

نو متقي هغه نه دی چې يوازې د عبادت کړه وړه ترسره کړي، بلکې هغه څوک دی چې وجود يې نورو ته د امن ځای وګرځي، نه ترې ظلم وشي او نه ترې تېری صادر شي.

په دې مرحله کې لومړنۍ کړۍ بشپړېږي:

عبادت تقوی زېږوي... خو قرآن دلته نه درېږي.

تقوی ـ د داخلي او خارجي سولې د حالت په توګه ـ انسان يوې لوړې مرحلې ته چمتو کوي: د شکر مرحلې ته.

شکر يوازې يو وييکی نه دی چې په ژبه وويل شي، بلکې د انسان د ټولو وړتياوو فعالول دي:

دا چې عقل يې په فهم کې، زړه يې په رحمت کې او غړي يې په آبادۍ کې کار وکړي.

او دا شکر په هغه انسان کې نشي پوره کېدی چې په جګړه او تېري کې ډوب وي؛ ځکه دايمي جګړه احساس له کاره اچوي، بصيرت مړ کوي او ژوند يوازې د "پاتې کېدو" په غريزه بدلوي. له همدې ځايه، دا غايه له بلې سترې غايې سره نښلي:

﴿وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا﴾

له تېري سره پېژندنه (تعارف) نشته، له وېرې سره اړيکه نشته او له قطع کولو (بېلتون) سره آبادي نشته.

په دې توګه هغه لړۍ بشپړېږي چې قرآن يې غوښتنه کوي:

عبادت ← تقوی ← شکر ← تعارف (پېژندنه) ← د ځمکې آبادي.

خو هغه خلل چې شعور ته راغلی، د نصوصو حذفول نه و، بلکې د دغه تسلسل شلول و؛
عبادت وساتل شو، خو غایه (موخه) یې ورکه شوه؛
ټکي حفظ شول، خو روح یې له منځه لاړ؛
او دین ـ په ځینو بڼو کې ـ له ژوندي پلي کیدونکي پروژې څخه په داسې دودونو بدل شو چې له خپل مقصود څخه جلا دي.

تر ټولو خطرناک شی چې دیني فهم ته زیان رسوي، د هغه انکار نه دی، بلکې په یوه مرحله کې د هغه کنګل کول دي، ګواکې لاره پای ته رسېدلې، حال دا چې لاره لا پیل شوې هم نه ده.
عبادت که تقوی ونه زېږوي، نو دا بې روحه کالبد دی؛
تقوی که شکر ونه زېږوي، نو دا داسې انقباض دی چې پراختیا نه لري؛
او شکر که په تعارف او آبادۍ بدل نشي، نو دا داسې یو احساس دی چې لـه خپلـې غـایې پـاتې شوی.

دلته د قرآن د بیا لوستلو (قراءت) اړتیا پیدا کېږي؛ نه د نوې مانا د زیاتولو لپاره، بلکې د هغې مانـا د بېرته موندلو لپاره چې روښانه وه خو د دودونو او موروثي تصوراتو تر خاورو لاندې ورکه شوې وه.
داسې لوستل چې: دا لړۍ بېرته په ترتیب کړي؛ وسیلې بېرته په خپل ځای کړي او مـوخې هغسـې روښانه کړي لکه الله چې غوښتې دي.

هغه وخت انسان پوهېږي چې ولې پیدا شوی، څنګه عبادت وکړي او لور یې کوم خوا دی. او دا کشفوي چې دین په جوهر کې پر ژوند بار نه دی، بلکې د ژوند تر ټولو ښکلی نظـام دی؛ پـر انسـان قید نه دی، بلکې انسان له خپل رب او خپل ځان نه، بلکې له ناپوهۍ ژغورل او آزادول دي.
په دې توګه...
عبادت بیا نتیجه نه پاتې کېږي، بلکې پیل ګرځي؛
او انسان د وسیلو او غایو ترمنځ سرګردانه نه پاتې کېږي، بلکې په یو روښانه تسلسل کې روانېږي:
له اطاعت څخه... سولې ته؛
له سولې څخه... شکر ته؛
او له شکر څخه... د ځمکې آبادۍ ته، هغسې چې پکار ده.
او الله تعالی په خپلو بندګانو ښه پوهېږي او هماغه سمه لار ښوونکی دی.

**حموده محمد محمد**

## هغه امت چې غایب دی

### د وهم په لومو کې بند او د حقیقت په وړاندې ړوند!

موږ خپل ځانونه د هغه تاریخ په لټون بوخت کړي چې له پیله تر پایه تزویر شوی دی. لا تر اوسه په دې پسې گرځو چې: «ایا دا حدیث صحیح دی؟» په داسې حال کې چې لومړنۍ پوښتنه باید دا وي: «ایا موږ دا ایت په سمه توگه درک کړی دی؟» بلکې، ایا موږ ټول ایتونه په سهي ډول فهمولي دي؟ حقیقت دا دی چې زموږ له مفاهیمو څخه یو مفهوم هم سم نه دی ثابت شوی او نه مو په شعور کې کومه سمه مانا ځای پر ځای شوې؛ ځکه زموږ د پوهې ډېره برخه پر «شرک» ولاړه ده، نه پر هغه څه چې زموږ د رب له لوري راغلي دي. له همدې امله په افسانو بوخت شوو او هره ورځ یو نوی ځوک راوځي او یو نوی دین اختراع کوي.

خرافات یوازې په فهم کې تېروتنه نه ده، بلکې د شعور د فاسدولو یو بشپړ نظام او د عقل د بیا ځلي جوړښت یوه دقیقه آله ده، ترڅو عقل د وهم په بڼه داسې واړوي چې باطل ورته مألوف (اشنا) ښکاره شي او جعل د ادراک د بنسټیزې برخې په توگه ومنل شي. خرافات عقل ته د ښکاره درواغو په بڼه نه ننوځي، بلکې د موروثي مانا، د متداول مقدس او د نه لمس کېدونکي حقیقت په بڼه رالوزي. همدا یې د خطر ځای دی؛ خرافات انسان نه قانع کوي، بلکې په هغه کې د «پوښتنې» ځواک فلجوي، د «شک» مېړانه ترې اخلي او د «برهان او دلیل» اړتیا پکې وژني.

خرافات د خپل قوت له امله ژوندي نه پاتې کېږي، بلکې له دې امله پاتې کېږي چې تر فکر کولو وړاندې په میراث راځي، تر پوهېدو وړاندې حفظ کېږي او له ازمویلو وړاندې سپېڅلي گڼل کېږي. له همدې امله خرافات یوازې پر جاهل واکمني نه کوي، بلکې پر هر هغه عقل واک چلوي چې له خپلې دندې یې استعفا کړې وي او دا یې منلې وي چې د حق او نا حق د تمییز پر ځای یوازې د ویل شویو خبرو یو گودام وي. د خرافاتو تر ټولو خطرناکه کار دا نه دی چې جهالت تولیدوي، بلکې دا دی چې داسې جهالت تولیدوي چې ځان ته «علم» وایي، داسې گمراهي تولیدوي چې د «یقین» جامه یې اغوستې وي او داسې وهم تولیدوي چې د «حقیقت» په نوم له ځانه دفاع کوي.

کله چې خرافات دې مرتبې ته ورسېږي، نو بیا د بحث وړ مفکوره نه پاتې کېږي، بلکې یـو تړلـی رواني جوړښت ترې جوړېږي؛ نقد ته د تېري په سترګه ګوري، پوښتنې ته د ګواښ په مانـا قایـل وي او له تفکر سره داسې چلند کوي لکه بغاوت چې وي. په دې نقطه کې بیا انسان د فکر اسـیر نـه وي، بلکې فکر په انسان کې مېشت وي؛ د هغه په سترګو ګوري، د هغه پـه ژبـه خـبرې کـوي او د هغـه د شعور په واسطه له هر هغه څه سره دښمني کوي چې دی ترې ژغورلی شي. دلتـه خرافـات لـه ذهنـي وهمه په یوې داسې داخلي واکمنۍ بدلېږي چې ادراک له دننه اداره کـوي او عقـل د خپلـې لـومړنۍ دندې یانې «تمییز او توپیر» څخه منع کوي. د استبداد تر ټولو خطرناک ډول هغه نه دی چې پر بـدن کېږي، بلکې هغه دی چې پر «شعور» تپل کېږي. ځکه د بدن غلامي د مقاومت وړ وي، خو د عقـل له غلامۍ بیا دفـاع کېـږي! کلـه چـې انسـان د خپـل وهـم سـاتونکی، د خپـل قیـد مـدافع او د خپـل ژغورونکي دښمن شي، نو پوه شه چې خرافات د خپلې بریا اوج ته رسېدلي؛ ځکه بیا هغه چا ته اړتیا نه لري چې په زور یې وتپي، له دې کبله چې قربانیان یې خپله د هغې ساتونکي شوي وي.

په همدې وجه، له خرافاتو سره مقابله په «وعظ او نصیحت» نه کېږي؛ ځکـه وعـظ د وهمونـو لـه منځه وړلو په پرتله له هغوی سره پر جوړجاړي ښه پوهېږي. همدارنګه دا مقابله پـه شـکلي دینـدارۍ هم نه کېږي، ځکه ډېری دینداري د خرافاتو یو بل تهذیب شوی تولیـد دی. د خرافـاتو پـر وړانـدې مقابله له هغه ځایه پیلېږي چې عقل خپله مصادره شوې دنده بیا ترلاسه کړي او «پوښتنه» خپل طبیعي ځای ته بېرته راوګرځي؛ نه د سپین سترګۍ په توګه، بلکې د پوهې د یو شرط په توګه، نه د بغاوت پـه توګه، بلکې د ازادۍ د یوازینۍ لارې په توګه. د انسان ژغورنه له دې نه پیلېږي چې ورتـه وویـل شي «څه فکر وکړي»، بلکې له دې پیلېږي چې ورته وښودل شي «څنګه فکر وکړي». سـتونزه د ځوابونـو په کمښت کې نه ده، بلکې د هغو وسایلو په فساد کې ده چې دا ځوابونه تولیدوي. تر څو چې عقل د هغه څه له ازمویلو عاجز وي چې ترلاسه کوي یې، نو د هر څه تصدیق ته به چمتو وي، په دې شرط چې په باوري لهجه ورته وویل شي، یا لرغوني ماضي ته منسوب شي او یا هم د تقدس په هالـه کـې راونغښتل شي.

له همدې امله د خرافاتو نړول د یو فکر نړول نه دي، بلکې د یوې عالي انسـاني دنـدې خلاصـول دي چې له ډېرې مودې راهیسې فلج شوې وه. مقصد دا نه دی چې میراث یوازې د میراث په خـاطر وغورځول شي، بلکې مقصد دا دی چې میراث د هر هغه څه تابع کړل شي چـې حقیقـت یـې دعـوه

کوي: یانې لټون (فحص)، نقد او برهان. هغه څه چې د پوښتنې پر وړاندې نشي ودرېدلی، په شعور کې د پاتې کېدو وړ نه دي او هغه څه چې په عقل نه ثابتېږي، باید پر عقل واکمني ونه کړي.

خرافات هغه وخت نه رانسکورېږي چې موږ ورته ښکنځلې وکړو، بلکې هغه وخت له منځه ځي چې د کار میکانیزم یې باطل کړو. نه هغه وخت چې پر سمبولونو یې برید وکړو، بلکې هغه وخت چې د پاتې کېدو شرطونه یې له منځه یوسو. خرافات په چیغو نه ماتیږي، بلکې په تحلیل او تفکیک ماتیږي؛ نه په تاوتریخوالي، بلکې په رسوا کولو؛ نه په دښمنۍ، بلکې د انسان په بیا جوړولو؛ د داسې شعور پر بنسټ چې د هغه څه په وړاندې سر نه ټیټوي چې نه وي ازمویل شوی، هغه څه نه مني چې نه وي پلټل شوی او خپل یقین یوازې هغه څه ته ښني چې د عقل له محکمې بریالی راوتلی وي.

دا ځکه چې «حقیقت» ساتونکو ته اړتیا نه لري، بلکې هغو عقلونو ته اړتیا لري چې له وېرې ازاد شوي وي. خرافات یې د دې له امله نه گټي چې ځان ثابتوي، بلکې له دې امله یې گټي چې ډېری خلک یې له ازمویلو وېره لري. لاره له همدې ځایه پیلېږي: نه د ویل شویو خبرو له تکرار څخه، بلکې له هغوی څخه د پوښتنې له کولو؛ نه د مانا له میراثوالي، بلکې د مانا له مستحق کېدلو؛ نه د مألوف (عادت شوي) شیانو له عبادت څخه، بلکې د هغې مېړانې له لرلو څخه چې تر سجدې وړاندې ورته ځیر شي.

نو له همدې امله د «شرک» وژل تر ټولو لوی اصلاحي عمل و؛ نه د «مشرک» وژل. ځکه انسان ته په دلیل او حجت ځواب ورکول کېږي، خو شرک بیا یوازې په نړولو له منځه ځي. جگړه هیڅکله له انسانانو سره نه وه، بلکې له هغو جوړښتونو سره وه چې د هغوی عقلونه یې فلج کړي وو، شعور یې ور فاسد کړی و او هغوی یې د هغو وهمونو په ساتونکو بدل کړي وو چې وطنونه یې وران کړل، درواغو ته یې د «الله» نوم ورکړ، خرافات یې عقیده وگرځوله، وحشت یې ایمان کړ او جهالت یې یقین. هغه څه چې انسان یې په رښتیا ووېراوه، الله نه و، بلکې هغه کسان وو چې د هغه په نوم یې خبرې کولې او د اسمان لور ته یې هغه څه منسوب کړل چې یوازې د دوی د وهمونو زیږنده وو؛ بیا یې له درواغو دین جوړ کړ، له وېرې یې عبادت او له وهمه یې واکمني! ﴿وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ﴾ (او په الله سوگند! زه به ستاسو د بتانو په اړه یو تدبیر (کار) وکړم، وروسته تر هغه چې تاسو ولاړ شئ).

د ابراهیم (ع) بتان یوازې ډبرې نه وې چې ماتې شي، بلکې هغه واکمنۍ وې چې باید نړېدلې وای، هغه وهمونه وو چې باید رسوا شوي وای او هغه کاذب مقدسات وو چې باید خپل حقیقي

حجم ته راګرځول شوي وای: یانې موروثي درواغ، مقدسې وېرې او هغه وهمونه چې وخت پرې تېر شوی و او د حقیقت ګمان پرې کېده.

زما د افکارو هغه غږ چې تاسو یې لولئ، ستاسو پر هغو بتانو باندې د ابراهیم د تبر د ګوزارونو غږ دی چې تاسو ورته په پوره اخلاص منګولې لګولې دي.

رداد السلامي

# د وحې سپيڅلتيا د تاريخ د دوړو په وړاندې

## لومړي اسلام ته د ستنېدو لاره

بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيمِ

ستونزه په جوهر کې دا نه ده چې نور (رڼا) غايب شوی، بلکې دا ده چې سترګې د هغو ګڼو طبقو له امله سترې شوې دي چې د ليدلو مخه يې ډب کړې ده.

وحې په خپله صفايي کې پاتې ده، په خپل نص (متن) کې محفوظه ده او په خپلو مانـاوو کـې پرانيستې ده؛ خو انسان د تاريخ په اوږدو کې د هغې د ترلاسه کولو پر مهال تل په يوه کچه حضور نه دی لرلی.

دلته فاصله رامنځته کېږي…

خو دا فاصله د انسان او نص ترمنځ نه ده، بلکې د انسان او د هغه د خپل ځان ترمنځ ده کلـه چې نص لولي.

قرآن په خپل طبيعت کې داسې يو شی نه دی چې چا ته اړتيا ولري ترڅو يې ثابـت کـړي، بلکـې داسې يو چا ته اړتيا لري چې ځان ورته چمتو کړي؛ دا يو ژوندی خطاب دی، چې عقل او زړه دواړه مخاطب کوي او له انسانه غواړي چې پـه فهـم کـې شريـک شي، نـه يـوازې يـو بـې حرکتـه ترلاسـه کوونکی.

خو په ډېرو زمانو کې داسې وشول چې دا ژوندی موندنه په يو موروثي عادت بدل شـو؛ هـر څـه هغسې اخيستل کېږي لکه څنګه چې دي، پرته له کومې پوښتنې يا تدبره.

دا پر چا باندې تور پورې کول نه دي، بلکې د يو داسې انساني حالت بيانول دي چې تکرارېږي:

کله چې انسان پر هغه څه ډاډه شي چې خلک يې ورباندې موندلي، نو د پلټنې هڅه يې سړه شي او پر ويل شويو خبرو بسنه وکړي؛ په دې توګه هغه څه ترې غايب شي چې «کېدای شي وويل شي».

همدا رنګه، تحريف تل د نويو نصوصو په ورزياتولو نه وي، بلکې تر ټولو ژور تحريف د فهم په ترتيب کې وي؛

کله چې وسيلې پر غايو (موخو) مقدمې شي،

کله چې جزييات د کُل (بنسټونو) تر مقامه پورته شي،

او کله چې ستر مقاصد د هغو تفاصيلو تر شا پټ شي چې انکار ترې نه کېږي، خو بشپړ انځور هم نه وړاندې کوي.

اسلام ـ لکه څنګه چې يې قرآن وړاندې کوي ـ د خبرو يوه ترلې مجموعه نه ده، بلکې د الله لور ته يوه پرانيستې لاره ده، چې بنسټ يې خالص توحيد، عدل، رحمت او د انسان آزادي ده چې عقل وکاروي او انتخاب وکړي.

﴿قُلۡ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ﴾

(ووايه: په يقين سره زما رب زه سمې لارې ته برابر کړی يم).

صراط مستقيم يوه جامده تاريخي لاره نه ده، بلکې يو ژوندی جهت دی؛ هر هغه څوک چې په رښتينولۍ پرې روان شي، هدايت يې مونده‌لی، که زمانه او مکان يې هر څومره توپير ولري.

خو انسان چې کله دا لاره په هغو شيانو درنه کړي چې د دې لارې برخې نه دي، ښايي ترې لرې شي په داسې حال کې چې ګمان کوي ور نژدې کېږي.

نو پر دين باندې داسې بار واچوي چې نه زغمل کېږي او د بشر اجتهاد پکې ننباسي؛ بيا هر څه سره ګډوډ شي او د اصل او ورزيات شوي شي ترمنځ تمييز (توپير) ګران شي.

له همدې ځايه، اړتيا يوه نوي جنګ ته نه ده؛ بلکې يوې ژورې ارامۍ ته اړتيا ده ترڅو بيا ځلي وګورو:

هغه څه کوم دي چې قرآن د «نص» په توګه راوړي؟

او هغه څه کوم دي چې موږ د «فهم» په توګه ورزيات کړي دي؟

دا دواړه چېرته يو ځای کېږي او چېرته سره جلا کېږي؟

دا پوښتنې د پرېکون بلنه نه ده، بلکې د تمييز او تشخيص بلنه ده؛

او تمييز نړول نه دي، بلکې پر يوې روښانه اډانې باندې ودانول دي.

قرآن ـ لکه څنګه چې زموږ په لاسونو کې دی ـ په خپل ځان کې دا وړتيا لري چې د هر نسل لپاره يوه هينداره وي؛ نسلونه پکې خپل ځانونه وګوري او خپله لاره پرې سمه کړي. له همدې امله هيله نه ختمېږي، ځکه نص نه دی تړل شوی او د فهم دروازه نه ده پورته شوې.

﴿تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ﴾

(راشئ داسې يوې خبرې ته چې زموږ او ستاسو ترمنځ برابره ده).

دا د یو ځای کېدو یوې نقطې ته بلنه ده، نه د اختلاف د ژورولو؛

د داسې یو اصل لور ته بلنه ده چې ټول راټول کړي، نه د هغو څانګو لور ته چې خلک سره جلا کوي؛

د داسې توحید لور ته بلنه ده چې انسان له الله پرته له هر څه آزادوي، نه د هغو تړاوونو لور ته چې انسان درنوي او زولنې کوي یې.

په دې نقطه کې د لید زاویه بدلېږي:

بیا دا پوښتنه نه وي چې «څوک ملامت دی؟»

بلکې دا پوښتنه وي چې «څنګه حق ته ور نژدې شو؟»

بیا هدف د خپل نظر ثابتول نه وي،

بلکې د زړه او عقل آزادول وي ترڅو د نور (رڼا) ترلاسه کولو مستحق وګرځي.

دلته مسؤلیت یوازې پر یوې ډلې نه دی، بلکې یو عمومي انساني مسؤلیت دی:

دا چې پر هغه څه تم نشو چې په میراث راپاتې دي،

دا چې پر ویل شویو خبرو بسنه ونه کړو،

او دا چې خپل ټول فهم پر داسې تله وتلو چې هیڅکله نه خطا کېږي.

دا کومه اسانه لاره نه ده، خو یوه رښتینې لاره ده.

کله چې انسان دا سفر پیل کړي، نو کشفوي چې دین دومره لرې نه و، لکه ده چې ګمان کاوه، بلکې ډېر نژدې و؛ خو د ده او دین ترمنځ د «عادت» ګڼې طبقې پرتې وې. نو که دا طبقې په نرمۍ ـ نه په زور ـ لرې کړي، مانا هغسې وینې لکه څنګه چې ده:

داسې یو دین چې خلک یو ځای کوي، نه یې لرې کوي،

ژوند ښښي، نه یې اخلي،

او د انسان په وړاندې د الله دروازه پرته له بشري خنډونو پرانیزي.

یوازې دلته د هدایت مانا پوره کېږي:

دا چې انسان له ګډوډۍ وروسته وضوح ته ستون شي،

له تفرقې وروسته وحدت ته،

او له امتزاج وروسته اصل ته.

﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾

(او هيڅ بار پورته کونکی به د بل بار پورته نه کړي).
هر نفس د خپل سفر مسؤل دی،
هر زړه ته بلنه ورکړل شوې چې په خپله وګوري،
او هر عقل ته امر شوی چې کار وکړي.
نو که داسې وکړي...
له هيڅ چا سره دښمنۍ ته اړتيا نه لري،
بلکې ورته کفايت کوي چې په نور (رڼا) کې روان وي.
وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين
**حموده محمد محمد**
بورسعيد، مصر

# نبوي طب؛ د عقل، علم او دين ترمنځ

ليکوال: ډاکټر توفيق حميد

په وروستيو لسيزو کې د «نبوي طب» په نوم يوه پديده ډېره خپره شوې ده. په دې کې د بوټو له لارې درملنه، ساده بدوي وسيلې او نور شيان لکه د اوښ په متيازو علاج، حجامت او داسې نور شامل دي. دا پديده د هغو کسانو لپاره چې په سختدريځه اسلامي بهير پورې تړاو لري، د عايد په يوه سرچينه بدله شوې ده. د دوی يوازينی کار دا دی چې ساده خلک قانع کړي چې دا شيان "نبوي علاج" دی او له اسمانه وحې شوې ده ترڅو د دوی ټولې ناروغۍ روغې کړي. نن سبا د «نبوي طب» د توکو پلور په ميليونونو ډالرو ته رسېدلی چې بالاخره د دغه فکر د خپروونکو او ګټه اخيستونکو جيبونو ته ځي.

دلته لومړۍ پوښتنه دا پيدا کېږي: که چېرې «نبوي طب» تر دې کچې اغېزناک وي، نو ولې ډېری مشايخ د علاج لپاره بهرنيو هېوادونو ته ځي؟ د دغو مشايخو له جملې يو هم مشهور شيخ متولي الشعراوي و؛ هغه چې خلک او عامه ولس يې د خپلو مور او پلار لپاره د پښتورګو له مينځلو (ډايليسز) څخه منع کول او هغوی يې تر مړينې پورې دردونو ته پرېښودل، خو پخپله د درملنې لپاره اروپا ته لاړ!

دويمه مسئله دا ده: ايا داسې کوم دليل شته چې د بوټو له لارې درملنه دې د خدای له لوري وحې وي؟

قرآن کريم پيغمبر ﷺ ته ويلي دي: «قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ» (سورت الکهف، ۱۱۰ ايت). ياني هغه هم د نورو انسانانو په څېر يو انسان و؛ هغه څه يې خوړل چې شاوخوا خلکو خوړل، هغه څه يې ښنبل چې هغوی ښنبل او په بوټو او حجامت يې د نورو په څېر علاج کاوه. په بل عبارت، که د رسول الله ﷺ په زمانه کې د ليزر وړانګو له لارې درملنه موجوده وای، نو هغه به هم د نورو انسانانو په څېر ترې ګټه اخيستې وه. موږ بايد تل دا په ياد ولرو چې حجامت د قريشو کافرانو ابو

لهب او ابو جهل هم کاراوه. نو ایا دا نبوي علاج دی که یو ولسي (عوامي) علاج و چې په هغه زمانه کې ټولو کاراوه؟ او د دې کارول د رسول الله ﷺ پیروي ده که د ابو لهب؟

دریمه خبره چې په دې تړاو یې یادول غواړم دا ده: د بوټو طب چې ډېر خلک یې کاروي، په ډېرو مواردو کې علمي اساسات لري، خو دا به ډېره مبالغه وي که ووایو چې دا د هرې ناروغۍ لپاره شفا ده؛ لکه څنګه چې ځینې خلک د رسول الله ﷺ یو حدیث نقلوي چې وایي: «توره دانه (کلونجي) د هرې ناروغۍ شفا ده».

د بېلګې په توګه، توره دانه یا "حبة البرکة" یو عضوي مواد لري چې "تیموکوینون" (Thymoquinone) نومېږي. دا ماده د سرطان په وړاندې مقاومت، د ځینو التهابي ناروغیو په درملنه او د ځیګر د حجراتو په فعالولو کې ګټورې طبي ځانګړنې لري. خو دا په هیڅ صورت پدې مانا نه ده چې دا دې د هرې ناروغۍ شفا وي، لکه څنګه چې په پورته ذکر شوي حدیث کې راغلي دي. دا دانه (مثلاً) د هغه ناروغ علاج نشي کولی چې په ماغزو کې یې شریان شلېدلی وي، نه د هغه چا درملنه کولی شي چې له یوې بوړبنوونکې حادثې وروسته په سختې وینې بهېدنې اخته وي او نه هم هغه ناروغ ته لید (بصارت) بېرته ورکولی شي چې د مغزي حجراتو د ویجاړېدو له امله په بشپړ ډول فلج شوی وي. د نبوي طب په موضوع کې یوه ستونزه دا ده چې هڅه کېږي خلک له عصري او پېژندل شویو طبي درملنو څخه په دې پلمه منع کړي چې یوازې بوټي ورته بس دي. لکه څنګه چې مو وویل، بوټي په ډېرو حالاتو کې ګټور کېدی شي، خو دا عقلاني نه ده چې په هر څه کې یې ورګډ کړو. د یادولو وړ ده چې په نویو طبي کتابونو کې د ځینو ناروغیو د درملنې لپاره د ځینو طبیعي وسیلو یادونه پیل شوې، خو دا کار د هغوی د عضوي مرکباتو او د اغېزې د څرنګوالي په اړه تر تجربو او څېړنو وروسته ترسره کېږي.

په هر حال، د بوټو له لارې درملنې ته باید "نبوي طب" ونه وایو؛ ځکه چې دا د اسمان له لوري وحې نه وه او نه هم پرې د قرآن ایتونه نازل شوي دي، بلکې لکه څنګه چې مو وویل، دا په هغو پېړیو کې یوه دودیزه درملنه وه. د دې خبرې تر ټولو ښه ثبوت دا دی چې توره دانه (کلونجي) د بېلګې په توګه د پخوانیو مصریانو له زماني راهیسې په درملنه کې کارول شوې ده. رومیانو، عربو، یونانیانو او فارسیانو د رسول الله ﷺ تر زېږېدو په سلګونو کلونه وړاندې دا کاروله. نو ایا دا (توره دانه) نبوي طب دی که رومي، یوناني او یا فرعوني؟

## په اوبدل شوي اسمان قسم

**زما زوی له ما څخه پوښتنه کوي؛**[1]

د قرآن کريم د دغه عظيم قسم په اړه: { **وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الحُبُكِ**}

او د اسمان لپاره دا هک پک کونکی صفت چې هغه( **ذَاتِ الحُبُكِ** ) دی.

نو ما ورته وويل:

اې زما زويه! الله سبحانه و تعالی داسې علمي دليلونه وړاندې کړي دي چې انسان د عقل په سترګو ويني چې د اسمانونو پيدا کونکی يوازې الله دی او هيڅ شريک نه لري.

د دې خبرې ثبوت د دغه معجز ساختمان (اسمان) له خورا دقيقو او مهمو جزياتو څخه د هغه خبرتيا ده؛ هغه درته په خپلو ايتونو کې هغه قوانين، نظامونه او حقايق يادوي چې پر کايناتو واکمن دي او که چېرې پکې لږه ګډوډي راشي، نو اسمانونه او کاينات به ونړېږي.

د دغو حقايقو له جملې څخه...

دا عظيم قرآني قسم دی چې فرمايي: { **وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الحُبُكِ** } ( قسم دی په اسمان چې د لارو خاوند دی/اوبدل شوی دی) .

---

[1] دغه د همدې لړۍ سرليک دی، تر دې سرليک لاندې ګڼې ليکنې د همدې ليکوالې(امال فاروق) خپرې شوې دي.

نو پاك دی هغه ذات چې دا قرآني وصف یې، اې زما زویه، له یو زر او څلور سوه کالو څخه زیات وخت مخکې نازل کړی، ترڅو اسمان په دغه کلمه (ذات الحُبُک) سره توصیف کړي، چې د عقل او علم خاوندان یې په وړاندې حیران او په فکر کې ډوب پاتې شي! موضوع خورا لویه ده زما زویه، بلکې له مانا او دلالت څخه ډکه ده. د (**الحُبُك**) لفظ په ټول قرآن کریم کې یوازې یو ځل په همدې مبارك ایت کې راغلی ترڅو پرې اسمان توصیف کړي. او په عربي ژبه کې د "الحُبک"کلمه دا ماناوې لري:

- **حبّك الثّوب:** یانې ټوکر یې اوبدلی، کلك کړی او په بشپړ ډول یې برابر کړی وي.
- **حَبّكَ الريحُ الرمْلَ والماءَ الساكِنَ:** یانې کله چې باد پر شګو او ولاړو اوبو باندې کرېږې ورېږې، څپې لرونکې یا منحني لارې جوړې کړي.
- **حبّك الأمرَ:** یانې کار یې په ډېر ښه ډول تدبیر (تنظیم) کړی وي.

له پورته لغوي جاج څخه د ایت مطلب دا کېدای شي :۱ـ اسمان چې کلك نسیج (اوبدنه) او خورا ټینګ ربط لري .۲ـ اسمان چې کرېږې ورېږې او منحني لارې لري .۳ـ اسمان چې جوړښت یې خورا محکم او په خلقت کې یې ابداع (نوښت) شوی.

کله چې موږ پر ماناو بحث کوو، نو مومو چې:

**لومړی:**

- "اسمان ذات الحُبک" په دې مانا چې محکم نسیج او اوبدنه لري.

اې زما زویه! د شلمې پېړۍ په پای او د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې د کایناتو تر ټولو نویو څېړنو ښودلې چې زموږ لیدل کېدونکی کاینات عبارت دی له: یو داسې جوړښت چې له ډېر عجیبه، ځواکمن او محکم نسیج (اوبدنې) څخه جوړ شوی، خو تارونه یې **انرژي او تیاره ماده (Dark Matter)** ده.

دا تارونه پـه مليونونـو ټريليونونـو کيلـومتره غځېـدلي چـې کهکشـانونه سره نښـلوي، بلکـې هغـه مجبوروي چې په ټاکلو لورو حرکت وکړي ترڅو يو پـه زړه پـورې کاينـاتي نسـيج (Cosmic Web) جوړ کړي، چې د خالق سبحانه و تعالی پر عظمت شاهدي ورکوي.

څو مياشتې وړاندې د تور سوري (Black Hole) حقيقي انځـور واخيسـتل شـو. نـو دا يـو علمـي ثبوت و چې اسمان يو عجيبه نسيج (ټوکر غوندې اوبدنه) ده، چې د کتلـې (Mass) تـر اغېـز لانـدې راځي او کږښې يې د هغې کتلې د ابعادو په اساس منحني (کږې) کېږي. دا اوس مهال له هغـو سـترو لاسته راوړنو څخه ګڼل کېږي چې علـم ورتـه رسـېدلی، بلکـې دا د وخـت تـوده موضـوع (حـديث الساعة) ده!

علمي پرمختګ تل د قرآني الفاظو د دقيقوالي پر لا زيات تاييد تماميږي. اينشـټاين وجـود د يـو "کايناتي نسيج" په څېر بيانوي. د دغه نسـيج يـو تـار لـه دريـو مـادي ابعـادو (اوږدوالـی، پلنـوالی او لوړوالی) څخه جوړ دی او بل تار يې له څلورم بُعد څخه چې "وخت" دی، جوړېږي. په داسې ډول چې دا نسيج د يو سپنجي توشک په څېر تصور کېدای شي چې هـر څـومره درونـد جسـم وربانـدې کېږدو، هومره پکې کږوالی يا انحنا رامنځته کېږي، چې دا نسيج د کمې کتلې لرونکي اجسام د زياتې کتلې لرونکو اجسامو په لور راکاږي.

**دوهم:**

- "اسمان ذات الحُبک" په دې مانا چې څپې لرونکي مدارونـه (لارې) يـا منحنـي او کږې وږې لارې لري، چې د اسمان د هر جرم لپاره په خورا دقت سره ټاکل شوې دي.

په رښتيا هم ثابته شوې ده چې په اسمان کې حرکت بايد منحني (کـږه) لاره واخـلي، لکـه څنګـه چې اينشټاين ثابته کړې. موږ مخکې د الله تعالی د دغه قول: { **مِنَ اللَّهِ ذِي الْمَعَارِجِ** }په تفسير کې هم پر دې خبرې کړې وې او د زاووي حرکت قانون يا د عروج (پورته ختلو) قانون.

بلکې په اسمان کې داسې مـوجي (څپـې لرونکـي) مدارونـه اوس پـه نښـه شـوي چـې د اسـمان ځانګړتيا ګڼل کېږي او موږ يې د پرمختللو فلکي مراصدو له لارې ليدلی او ثبتـولی شـو. دا څرګنـده

شوې چې هغه امواج چې کاينات د خپل جوړښت په پيل کې خوشې کړي وو، داسې درې بُعدي کرښې رسموي چې که يې تصور کوو، نو تر ټولو نژدې ورته د هغو شګو ډېرۍ (کثبان رملية) دي چې باد وربانديې لګېدلی وي او يا هغه نښې دي چې د سمندر څپې يې پر غاړه (ساحل) د نيمو دايرو په څېر پرېږدي.

**دريم:**

- "اسمان ذات الحُبُک" په دې مانا چې خورا محکم جوړښت او په خلقت کې نوښت لري.

دا هم يو حقيقت دی چې نن سبا پوهان پرې بحث کوي. اسمان يو جبار او مهيب جوړښت دی، چې له کهکشانونو، کهکشانی ډلو، لوګيو، ټکېدونکو ستورو (الطارق)، ځلېدونکو او پټېدونکو ستورو او نورو هغو اجزاوو څخه جوړ دی چې علم يې لا هم د ماهيت او د کار کولو د قوانينو په پوهېدو کې عاجز دی (لکه تياره ماده). دا ټول مخلوقات چې انسان يې شمېر نشي ـ کولای، پر ځانګړو لارو روان دي، سره له دې چې کچې يې متفاوتې او رولونه او دندې يې سره بېلې دي!!!!

دا ټول په خورا دقت او هېښونکي نظام سره حرکت کوي، پرته له دې چې لږ تر لږه ټکر يا تصادم پکې راشي، مګر په هغه اندازه چې په خورا دقت سره اندازه شوي وي. د هغو ټکر هم د يوه لوی حکمت لپاره وي؛ د اسمان د نوي کېدو، ودې او پراختيا لپاره، ترڅو دا کاينات پاتې شي او خپل رول ته تر هغه وخته دوام ورکړي چې الله ورته مقدر کړی دی.

اې زما زويه! ايا دا ټول د اسمان په جوړښت کې يو حيرانوونکی مهارت نه دی؟!!!

نو پاک دی هغه ذات چې دا قرآني وصف يې ۱۴۰۰ کاله مخکې نازل کړی ترڅو اسمان په **(ذات الحُبك)** لفظ سره بيان کړي. دا يو داسې لفظ دی چې د اسمان يو شمېر صفتونه په دقيق ډول بيانوي او له علمي حقيقت سره په حيرانونکي ډول سمون خوري!!! هغه حقيقت چې يوازې په وروستيو لسيزو کې وپېژندل شو او پوهان يوازې څو اونۍ مخکې په ډاډه شول.

دا يو حقيقت دی چې په نورو هغو معجزو ايتونو سره بشپړېږي چې اسمان په عجيبه ډول بيانوي. ايتونو روښانه کړې چې اسمان يو ساختمان دی نه خالي فضا؛ يو داسې ساختمان چې تياره وربانـدې غلبه لري، دننه يکې حرکت محدود او په خپل ځانګړي فلک کې دی، بايد په منحنـي (کـره) کرښـه حرکت وشي او وخت يکې نسبي دی او د ځمکې له حساب سره توپير لري نـه دی. يـو داسـې ساختمان لکه د يو ستر نسيج په څېر چې تارونه يې په داسې کلکوالي سره اوبدل شوي چـې هـيڅ ډول درز او سوري پکې نشته او که چيرې داسې څه وشول، نو هغـه بـه د کاينـاتو پـای وي .الله تعـالی فرمـايي: { وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ الَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ هُوَ الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ }

له همدې امله اې زما زويه! هيڅ عاقل نشي تصور کولای چې د دغـه ايـت او داسـې نـورو ډېـرو سرچينه دې له خالق، عليم او معبود اله پرته بل څه وي.

او نه يوازې دا، بلکې کېدای شي هر څومره چې د علم دايرې پراخېږي راتلـونکي کسـان پـه دې قرآني وصف کې هغه څه وګوري چې موږ يې اوس نه وينو، ترڅو د قرآن الفاظ پـر انسـاني معرفـت باندې واکمن (مهيمن) پاتې شي، ترڅو د هغو دلالتونه د وخت او د انسان د پـوهې لـه پراخېـدو سره سم پراخ شي، په يو داسې حيرانوونکي معرفتي تکامل کې چې هيڅ ضد او نقيض نه پېژني!

دا معجز معلومات او د الفاظو دا واکمن اسلوب چې په خورا دقـت او لـه علمـي حقيقـت سره پـه پوره مطابقت کې دي، يوازې د الله سبحانه و تعالی کېدای شي.

اې زما زويه! لا هم د کايناتو ډېرې نښې او د هغه واکمن او بنسټيز قوانين شته چې عليم خـالق پـه خپلو محکمو ايتونو کې ياد کړي دي. اوس زموږ وخت اجازه نه ورکوي چې ټول ياد کړو، نو تر بـل عظيم ايت او بلې کتنې پورې مو په پاک الله سپارم.

# په اسلام کې د تعدد (ګڼوالي) فلسفه

## د قرآني نصوصو په رڼا کې يوه هدف محوره مطالعه

د اسلام پيغام په خپل جوهر کې يو تړلی خطاب نه دی چې يوازې يوې ځانګړې ډلې ته متوجې وي، بلکې دا يو نړيوال غږ دی چې له جغرافيايي، کلتوري او نژادي پولو اوړي او انسان تـه د انسـان په توګه خطاب کوي. له همدې امله، قرآن کريم د محمدي رسالت صفت د "عالميانو لپاره رحمـت" کړی دی، نه د يوې ډلې او قوم لپاره؛ الله تعالی فرمايي: «وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ» (او موږ ته نه يې لېږلی مګر د عالميانو لپاره رحمت). دا رحمت يوازې يو مجرد عاطفي مفهوم نه دی، بلکې يو ارزښتي او فلسفي نظام دی چې د انسـان او د هغـه د رب او د انسـان او د هغـه د بشر ـ ورور تـرمنځ د اندول لرونکې اړيکې بنسټ ږدي، که يې عقيده او تړاو هر څومره توپير ولري.

په قرآني نصوصو کې فکر کول په ډاګه ښيي چې "حوار" (خبرې اترې او ډيالوګ) په اسـلام کـې کومه ثانوي تاکنه نه ده، بلکې د دعوت له اصولو او د پيغام رسونې له لارو چـارو څخـه يـوه لاره ده. الله سبحانه وتعالی خپل نبي صلی الله عليه وسلم ته امر کوي چې په حکمت او نېک وعـظ سره بلنـه ورکړي او په غوره طريقه بحث وکـړي؛ الله تعـالی فرمـايي: «ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ ۖ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ». دا ايت له بل (مقابل لوري) سره په معاملـه کـې يـو اخلاقـي او پوهنيز بنسټ ږدي چې د انساني عقل پر درناوي او پر دې ايمان ولاړ دی چې حقيقت په زور نه تپل کېږي، بلکې په دليل او برهان ثابتېږي.

له مقاصدي ليدلوري، دا قرآني لارښونه د شريعت له هغو سترو مقاصدو سره سمون لـري چـې د دين ساتنه غواړي؛ خو نه په دې مانا چې خلک پرې مجبور کړي، بلکې پـه دې مانـا چـې لـه مسـخ کېدو يې وساتي او پخپله اصلي بڼه يې چې پر ازادۍ او انتخاب ولاړه ده، وړاندې کـړي. لـه همـدې امله قرآني نص په دين کې د جبر په نفې کولو کې پرېکنـده دی او فرمـايي: «لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ قَد

تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ» (په دين کې هيڅ جبر نشته، په يقين سره چې سمه لاره له گمراهۍ بيله شوې ده). هغه ايمان چې پر زور ولاړ وي، ارزښت نه لري؛ ځکه چې د قناعت او رضا له جوهر څخه خالي وي.

هغه بشري تنوع چې موږ يې په اديانو، کلتورونو او ژبو کې گورو، په کايناتي نظام کې کومه نيمگړتيا نه ده، بلکې د يوه ژور الهي حکمت برخه ده چې قرآن کريم په ډېرو ځايونو کې ورته اشاره کړې؛ لکه د الله تعالی دا قول: «وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ». د ژبو او رنگونو اختلاف او ورسره د کلتورونو او ليدلورو توپير، د الله له نښو څخه يوه نښه ده چې د هغه پر قدرت او حکمت دلالت کوي، نه دا چې د جگړې يا څنډې ته کولو لامل وي.

دا مانا د الله تعالی دغه قول نور هم تاييدوي: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ». د دغه تنوع موخه "تعارف" (يو بل پېژندنه) ده، نه يو بل وژنه؛ او موخه يې بشپړتيا ده نه نفي کول. دا ايت د يوې لوړې انساني فلسفې بنسټ بږدي چې په "بل"کې د کشف فرصت ويني، نه داسې يو گواښ چې بايد له منځه يوړل شي. له همدې امله د اديانو او مذهبونو ترمنځ ډيالوگ يوازې يو ډيپلوماټيک تعارف يا سياسي اړتيا نه ده، بلکې د الهي امر پيروي او د شرعي مقصد پوره کول دي.

کله چې موږ په نبوي سيرت کې فکر کوو، گورو چې نبي صلی الله عليه وسلم دا مانا په ډېره ښکلې بڼه انځور کړې ده. هغه په داسې يوه ټولنه کې ژوند وکړ چې بېلابېل اديان پکې وو، " ميثاق مدينه" يې وليکه چې د مسلمانانو او نورو ترمنځ يې اړيکې د هېوادوالۍ (مواطنت)، عدل او همکارۍ پر بنسټ تنظيم کړې. همدارنگه يې په خپل جومات کې د نجران د نصرانيانو وفد مېلمه کړ او هغوی ته يې د خپلو مذهبي مراسمو د ترسره کولو ازادي ورکړه؛ دا هغه صحنه ده چې د ديني زغم تر ټولو لوړې ماناوې انځوروي. دا نبوي چلند کومه استثنا نه وه، بلکې د ثابتو قرآني اصولو عملي تطبيق و.

په حديث شريف کې راغلي چې نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «چا چې يو معاهد (هغه غيرمسلم چې د سولې تړون لري) وواژه، د جنت بوی به هم حس نه کړي»؛ دا په اسلامي ټولنه کې د

مېشتو غيرمسلمانانو پر وړاندې د تيري حرمت ښيي. همدارنګه عليه الصلاة والسلام وفرمايل: «خبر اوسئ! چا چې پر يو معاهد ظلم وکړ، يا يې حق کم کړ، يا يې تر وس پورته مکلف کړ، يا يې له خوښې پرته ترې څه واخيستل، نو د قيامت په ورځ زه د هغه (معاهد) مدافع يم». دا نصوص تاييدوي چې له نورو سره عدل يوه تاکنه نه، بلکې يوه ديني فريضه ده.

څوک چې ګمان کوي اسلام د دې لپاره راغلی چې ځان په زور وتپي، يا بشريت په زوره پر يو دين کړي، هغه په کايناتو کې د الله سنن له پامه غورځوي او له هغو ښکاره نصوصو سره په ټکر کې دی چې وايي اختلاف يو کايناتي سنت دی چې له منځه نه ځي؛ الله تعالی فرمايي: «وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً ۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ». دا اختلاف کومه ناڅاپي پېښه نه ده، بلکې د انساني وجود د طبعيت برخه ده. که الله غوښتلای چې ټول خلک پر يو دين کړي، نو له وسه يې پوره وه، خو هغه وغوښتل چې ايمان يو انتخاب وي، نه جبر.

له همدې امله په زور د دين تپلو هڅه نه يوازې د اسلامي اخلاقو خلاف ده، بلکې د الله له کايناتي قانون سره هم په ټکر کې ده. ځکه خو قرآني خبرداری څرګند دی: «أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ» (ايا ته خلک مجبوروې ترڅو مؤمنان شي؟). نبي صلی الله عليه وسلم چې د الله لوري رسول دی، د خلکو پر ايمان راوړلو مأمور نه و، بلکې يوازې د پيغام پر رسولو او هغوی ته د انتخاب د ازادۍ پر پرېښودلو مأمور و.

له فلسفي پلوه ويلی شو چې اسلام د "حقيقت" او "ازادۍ" د اړيکې ترمنځ يو انډول لرونکی انځور وړاندې کوي. هغه پر يو مطلق حقيقت ايمان لري، خو په ورته وخت کې د هغه د لټون او انتخاب لپاره د انسان حق په رسميت پېژني. دا انډول د افراط، تکفير او تفسيق کندو ته د لوېدو مخه نيسي او په عيني وخت کې د فکري ترهګرۍ (چې حقيقت په زور تپي) مخنيوی کوي.

په اسلام کې حوار (ډيالوګ) يوازې د ګډ ژوند وسيله نه ده، بلکې د حقيقت د موندلو وسيله هم ده. انسان د بشپړ حقيقت خاوند نه دی، بلکې له نورو سره د تعامل له لارې يې لټوي. ځکه خو له ځان سره بند پاتې کېدل انسان د زدکړې او پرمختګ له فرصتونو بې برخې کوي. قرآن دغه مانا ته

هغه وخت اشاره وکړه کله چې یې د خبرو اورېدلو او د غوره خبرې د پیروۍ بلنه ورکړه: «فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ.»

د دغه فهم په رڼا کې، اختلاف د بډاینې (غنا) سرچینه ګرځي نه د تفرقې لامل. هر کلتور د حقیقت یو اړخ له ځان سره لري او هره انساني تجربه د بشري پوهې په زیرمه کې څه زیاتوي. له همدې امله اسلام د هویتونو د له منځه وړلو بلنه نه ورکوي، بلکې د متقابل درناوي په چوکاټ کې د هغو د تعامل غوښتونکی دی.

که معاصر واقعیت ته وګورو، وینو چې نننۍ نړۍ د ډیالوګ او ګډ ژوند دغه اسلامي موډل ته سخته اړتیا لري. په نړۍ کې ډېرې دیني او کلتوري جګړې د دغه تنوع په اړه د ژور فهم د نشتوالي له امله دي. که په دې برخه کې قرآني ارزښتونه را ژوندي شي، د یوې عادلانه او ارامې نړۍ جوړول به ممکن شي.

اما دا بیا د ځینو هغو کړنو بیا کتنې ته هم اړتیا لري چې ځینو مسلمانانو ته منسوبې دي، خو په حقیقت کې د اسلام له روح او مقاصدو سره په ټکر کې دي. سختدریځي، غلو (افراط) او په زور د دین تپلو هڅې هغه پدیدې دي چې له نصوصو څخه د ناقص فهم له امله پیدا کېږي او د اسلام څېره مسخ کوي. ځکه نو په دې برخه کې د دیني خطاب نوي کول (تجدید) یوه بیړنۍ اړتیا ده، ترڅو په اسلامي رسالت کې انساني اړخ په ډاګه شي.

اسلام په خپل جوهر کې داسې دین دی چې د انسان درناوی کوي او هغه ته ازادي او مسؤلیت ښښي. دا کرامت د هغه د انتخابونو درناوی ایجابوي، که څه هم زموږ له قناعتونو سره توپیر ولري. ځکه چې د قیامت په ورځ حساب کتاب یوازې د الله سبحانه وتعالی کار دی، نه د انسانانو؛ الله تعالی فرمایي: «إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم.»

په پای کې ویلی شو چې د اسلام پیغام ټول بشریت ته یو پرانیستی دعوت دی، چې پر حوار و تعارف ولاړ دی او تنوع ته د الله د نښو په سترګه ګوري. دا یو داسې پیغام دی چې جبر ردوي او ایمان یوازې پر قناعت ولاړ بولي. له همدې امله په زور د دین تپلو هره هڅه نه یوازې په وسیله کې

تېروتنه ده، بلکې پخپله د رسالت له جوهر څخه انحراف دی. ځکه اسلام په توره نه، بلکې په نېکې کلمې، غوره بېلګې او هغه عدل سره خپرېږي چې تر عقلونو وړاندې زړونه ښکار کوي.

**الصادق أحمد العثماني**

په لاتينه امريکا کې د مسلمانو عالمانو د ټولنې عمومي منشي

## یو ناسم او تېریگر مفهوم

الله او د هغه رسول له دې (مفهومه) بېزاره دي؛ لکه څنګه چې به اوس موږ تـه پـه دلیـل او برهـان روښانه شي، ترڅو دا بیان د هغو کسانو لپاره یوه ډالۍ شي چې د «غیر مبرح» (بې درده) وهلو پلویـان دي!!

لومړی:

الله سبحانه وتعالی فرمايي: {وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً...} (الروم: ۲۱).

نو هغه ذات چې ستاسو ترمنځ یې مینه او رحمت پیدا کړی، له شان څخه یې لـرې ده چـې خپـل کلام سره متضاد کړي او تاسو داسې وهلو ته وهڅوي چې کینه او بغض زیـږوي، مینـه او رحمـت لـه منځه وړي او ستونزه دومره تودوي چې له طلاق و د کورنۍ له نړولو پرته بله لار پاتې نشي.

دویم:

وايي چې «غیر مبرح» وهل دا دي چې هډوکی مات نه کړي! ربښتیا هم له تاسو ډېره مننـه، چـې د هډوکو له ماتولو مو ډډه وکړه! بیا هم مننه!!

دریم:

ستاسو په میراثي روایاتو کې تضاد دی؛ یو ځای ویل شوي چې نبي ﷺ وفرمایل: (الضرب غیـر مبرح/ د اندامونو له ماتوالي پرته وهل)، بل ځای راغلي: (**لا يجلد أحدكم امرأته جلد العبد**/ستاسـو څخه دې هیڅوک خپله ښځه د مریي په څېر په لښتو نه وهـي)!!! بیـا یـې پـه مقابـل کـې دا راغـلي: (**ليس من خياركم من يضرب زوجته**/تاسو کې غوره کسان هغه نه دي چې خپلې ښځې وهـي)!!! او (**رفقاً بالقوارير**/ له ښیښو/نازکو سره نرمي کوئ)!!! او (**اتقوا الله في النساء فانهن عوان عندكم**/د ښځو په اړه له الله ووېرېږئ، ځکه هغوی ستاسو سره بندیوانې دي)!!!

ایا پر رسول الله ﷺ باندې د دروغو تړل کېدو پایله مو ولیده؟

څلورم: ایت په وعظ او نصیحت پیل شوی (فعظوهنّ)، که خبره په هر صورت وهلو او زور ته وتله، نو بیا دلته د وعظ او نصیحت ځای څه دی؟

پنځم: سړی چې کله د وهلو مرحلې ته ورسېږي، نو وهل ورته په لومړني عادت بدلېږي او بیا هیڅکله د ایت ترتیب (وعظ او د بستر جلا کول) ته نه ورګرځي.

شپږم: کله چې سړی خپله ښځه ووهي، هغه به په طبیعي ډول له ده څخه کرکه وکړي، مینه او رحمت به مړه شي او له طلاق پرته به بله لار پاتې نشي. ښځه چې کله له خپل میړه کرکه وکړي، پاملرنه یې په بشپړ ډول ختمېږي او کرکه دوه اړخیزه کېږي.

اووم: ماشومان چې کله خپل پلارویني چې مور یې وهي، خامخا به ورو ورو له پلار څخه کرکه کوي. دلته به پلار په یوه داسې لویه ستونزه کې ګیر شي چې له مور سره تر ستونزې ډېره خطرناکه ده.

اتم: بل ایت فرمایي: {وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ...} (النساء: ۳۵).

ایا تاسو باور لرئ هغه ذات چې وایي (که د هغوی ترمنځ له اختلافه وېرېدئ...)، خو بیا د وهلو په امر سره پخپله د دغه جلاوالي سبب ګرځي؟

بیا دا یو څرګند حقیقت دی، کله چې له دواړو لورو څخه «حکم/منځګړی» راشي، نو لومړی اعتراض به دا وي چې: ولې دې وهلې او سپکاوی دې ورته کړی؟!

نهم: تاسو که دا منئ چې ستاسو مور، خور یا لور دې ووهل شي، نو بیا پر خپلې ښځې هم وهل ومنئ؛ ځکه هغه هم پلار، مور، ورور او زوی لري.

په لاس وهل د سړي برخلیک یوازې تر طلاااااقه رسوي.

ایت فرمایي:

{وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا...} [النساء: ۳۴]

{وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ}: دلته لا نشوز (نافرماني) نه ده شوې، بلکې یوازې یې نښې ښکاره شوې دي. نشوز په بشپړ ډول د مېړه له اطاعت څخه وتلو ته وایي.

نو ترڅو چې نشوز ته نه وي رسېدلې: (فَعِظُوهُنَّ) یانې نصیحت ورته وکړئ. دا وعظ عام دی؛ ښه نصیحت، د الله یادونه او د خپلو احساناتو ور یادول خو بې له منت ایښودلو.

بیا که نشوز ته نژدې شوه او وعظ ګټه ونه کړه: (وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ) یانې کوروالۍ مه ورسره کوئ ترڅو خپل عقل او اطاعت ته راوګرځي. مطلب عادي ژوند ورسره کوئ خو بستر مو جلا وي.

که بیا هم نشوز ته نژدې وه او د بستر جلا کولو (چې د نکاح د تړون اصل دی) ګټه ونه کړه، نو دریمه حل لاره راغله: (وَاضْرِبُوهُنَّ)؛ دلته «الضرب» د لرې کولو او جلا کولو په مانا دی. یانې د یو څه وخت لپاره یې د پلار کور ته ولېږئ، ترڅو خپل حساب وکړي او د کورنۍ د یووالي پر ارزښت پوه شي، هلته د جلاوالي احساس وکړي، دا درک کړي چې خپل میړه، ماشومان او کور له لاسه ورکوي او ووینې چې ماشومان به یې د یو طلاق شوي پلار او مور ترمنځ څومره زخمي زړونه ولري.

(فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا) نو که یې ستاسو اطاعت وکړ، بیا پر هغوی د ظلم لار مه لټوئ.

په (وَاضْرِبُوهُنَّ) کې د «لرې کولو» د مانا بېلګه دا ایت دی: {وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ} یانې کله چې سفر وکړئ او له خپل استوګنځي لرې شئ.

همدارنګه: {وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ} یانې هغه کسان چې د سوداګرۍ لپاره سفر کوي او لرې ځي.

دا د الله په کتاب کې د «ضرب» د ماناګانو یوه وړه برخه ده؛ ضرب ډېرې ماناوې لري او هر ځای د سیاق (مخکې او وروسته) له مخې فهمول کېږي.

**نور سپیناوی:**

ایا د ښځې له خوا میړه سره تر خیانت بله لویه ګناه شته؟ قطعا نه.

سره له دې هم، د النور سورت میړه منع کړی چې په خپل سر اقدام وکړي او ښځه ووهي یا داسې نور څه وکړي. وګورئ:

{وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ...} د ۹ ایت تر پایه.

یو سړی پر خپلې ښځې د خیانت تور لګوي. پوښتنه: دا تور چا ته وړاندې کېږي؟

ځواب: اړوند لوري (لکه قاضي) ته، چې هغه به د درو (جلد) حکم کوي (نه د رجم/سنګسار).

که سړي څلور شاهدان نه لرل، نو خپله به څلور ځله د الله په نوم قسم خوري چې دی رښتونی دی.

او پنځم ځل به وایي چې (د الله لعنت دې پر ده وي که دروغجن وي).

ښه، ایا اوس ښځه درې خوري؟

ځواب: نه! بلکې ښځې ته هم د شهادت حق ورکړل شوی چې د ده تور رد کړي.

{وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَن تَشْهَدَ أربع شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ...} او له هغې څخه عذاب (د ۱۰۰ درو سزا چې د سورت په پیل کې ذکر شوې) لرې کیږي، په دې شرط چې هغه څلور ځله قسم وخوري چې میړه یې دروغجن دی.

او په پنځم ځل وایي چې (د الله غضب دې پر دې وي که میړه یې رښتونی وي).

ولې د سړي لپاره «لعنت» او د ښځې لپاره «غضب» ذکر شوی؟

ځکه سړي یوازې دروغ ویلي، خو ښځې (که رښتیا وي) هم زنا کړې او هم دروغ وایي.

نور نو د رجم (سنگسار) ادعا چې موږ پرې ډیرې خبرې کړې، د النور سورت ٦م ایت یې د رد لپاره پوره او کافي دی.

طبعا موږ دلته د ښځې د هڅونې یا دفاع په لټه کې نه یو، بلکې غواړو حقایق په خپل ځای کې کیږدو؛ پرته له افراط، گډوډۍ او پر الله او رسول باندې له زیاتوالي.

نو «الضرب» دا دی چې یو له بله لرې شئ، ترڅو هر یو د بل په اړه خپل حساب او فکر وکړي.

روښانه شوه؟!

انس الهاشمي

## له دینداری څخه تر وحشته

### د عقل هغه سفر چې قرآن پکې غایب وي

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د انسان په حق کې د شیطان تر ټولو خطرناکه کړنه دا نه وه چې هغه نېغ په نېغه ګناه ته راوبولي؛ ځکه دا یوه ښکاره دروازه ده چې ډېری خلک یې پیژني. بلکې د شیطاني غولونې لویه شاهکاري دا وه چې داسې انسان جوړ کړي چې ګمان کوي د الله له دینه دفاع کوي، خو په حقیقت کې د الله له مقاصدو سره جنګیږي؛ داسې انګېري چې د دین نصرت کوي، خو په حقیقت کې د دین پر زړه بې خبره خنجر وهي.

دلته هغه ژور راز پروت دی چې امت یې له پېړیو راهیسې له دردونو سره لاس او ګرېوان دی:

د دین تر ټولو خطرناک دښمنان تل هغه نه وي چې د دین پر وړاندې د جګړې اعلان کوي، بلکې هغه کسان دي چې د دین چپن یې اغوستې وي، د دین په نوم خبرې کوي، خو دین له خپل روح څخه خالي کوي، رښا یې ایساروي او مقاصد یې مسخه کوي.

افراطیت یوازې یوه فکري تېروتنه نه ده، بلکې د الله، انسان او نړۍ په اړه د لیدلوري یو انحراف دی. افراطي شخص دین ته د رحمت، هدایت او د انسان د ژوند د ودانولو په سترګه نه ګوري، بلکې هغه ته د یوې داسې دایمي جګړې د ډګر په توګه ګوري چې تل پکې د بل د نفې کولو، ایستلو او په "ناجي او هلاک شوي"، "مؤمن او کافر" او "دوست او دښمن" باندې د ویشلو هڅه کېږي.

له همدې ځایه دین د انسان د ازادولو له پیغام څخه، د هغه د انسانیت د سلبولو په وسیله بدلېږي.

قرآن چې کله له انسان سره خبرې کړې، د هغه عقل، زړه او وجدان یې مخاطب کړي دي؛ هغه یې فکر، تدبر او په ځمکه کې ګرځېدو او د کایناتو د قوانینو کشفولو ته رابللی دی، نه د وینې، کرکې او متقابل لعنت په دایره کې بندېدو ته. خو افراطي خطابونو د تاریخ په اوږدو کې وکولی شول چې د شعور مرکز د الله په مخلوقاتو کې له تدبر څخه، د وړو هویتونو، ډلو او ترپګنیو په لور واړوي.

له همدې امله افراطي شخص — که يې مذهب، ډله يا شعار هر څه وي — په اصل کې هغه لوی مقاصد نړوي چې دين پرې ولاړ دی:

* د نفس ساتنه: کله چې وينه توېول ورته سپک کار ښکاري.

* د عقل ساتنه: کله چې د ازاد فکر پر وړاندې جګړه کوي.

* د دين ساتنه: کله چې ايمان په وېره او کرکه بدلوي.

* د عدل ساتنه: کله چې په يوه ډله پورې تړاو تر حقيقت لوړ ګڼي.

* د ازادۍ ساتنه: کله چې پوښتنه کول جرم بولي.

* د کرامت ساتنه: کله چې خپل مخالف ته په سپکه ګوري.

دی له دننه څخه ودانۍ نړوي، خو ګمان کوي چې ساتنه يې کوي.

له همدې امله د افراطيت خطر يوازې په يوې ډلې پورې محدود نه دی، بلکې دا د ټولې ټولنې لپاره خطر دی؛ پر حاکم او محکوم، پر ديندراه او بې دينه، پر مسلمان او غير مسلمان، بلکې آن خپلو پيروانو ته هم خطر دی؛ ځکه هغه اور چې په کرکې بل شي، پر پولو درېدل نه پېژني.

افراطي عقل هيڅکله په ارام نه وي، ځکه هغه تل په وېره، څار او دښمنۍ کې ژوند کوي. له همدې ځايه مونږ د ډېرو ټولنو هغه ژوره رواني تراژيدي درک کولی شو چې ايمان ورته د سکون پر ځای، د دايمي اضطراب او د توطيې د وېرې په سرچينه بدل شوی دی.

دلته دا دردونکې پوښتنه پيدا کېږي: سره له دې چې ديني شعارونه ډېر دي، خو ډاډ او اطمينان ولې نشته؟

ځکه اطمينان د کلمو په تکرار کې نه دی، بلکې په زړه کې د الله په داسې شتون کې دی چې د ژوند، خلکو او کايناتو په اړه ليدلوری بدل کړي. انسان که په رښتيا الله حاضر وګڼي، له ټول وجود سره پخلا کېږي؛ له انسان سره، له طبيعت سره او له خپل ژوند سره. هغه په مخلوقاتو کې نښېويني، نه بې ساه شيان؛ کائنات ورته د معرفت يو پرانيستی کتاب ښکاري، نه د يوې ابدي جګړې ډګر.

رښتينی ايمان له همدې ځايه پيلېږي: له ليدلو، فکر کولو، د قوانينو له کشفولو او د نړۍ د پوهيدو له هڅې څخه، نه د هغه له تکفيرولو.

قرآن په وار وار پر اسمانونو، ځمکې، نباتاتو، غرونو او سمندرونو د تدبر بلنه ورکړې، ګواکې وحې غواړي عقل د کايناتو هومره پراخ کړي. خو افراطي عقل دومره تنګ شو چې ټول دين يې يوازې په دښمنۍ، وېش او د يوې خيالي ژغورنې په دايره کې راټول کړ.

له همدې امله د پوهې په تولید کې د مسلمانانو ونډه کمه شوه؛ دا لـه دې املـه نـه چـې دیـن لـه ساینس سره دښمني لري، بلکې په دې خاطر چې ډېری عقلونه د ژوند د قوانینو د کشفولو پر ځای، د هویت په جګړو مصروف شول.

که نورو تمدنونو ته وګورو، د هغو د پاڅون شېبه هغه وخت پیل شوه چې پوهـه یـې لـه محـدودو بندیزونو ازاده کړه او عقل، تجربې او نقد ته یې ارزښت ورکړ. خو موږ لا هـم پـه ډېـرو مـواردو کـې هماغه پخوانۍ پوښتنې تکراروو، هماغه پخوانۍ جګړې کوو او بیا پوښتنه کوو چې ولې وروسته پاتې یو؟

اصلي بحران په دین کې نه دی، بلکې د تدین په هغـو تړلـو بڼـو کـې دی چـې د ازاد او شـعوري انسان په جوړولو کې یې د دین اغېزمنتیا له منځه وړې ده. ډېری دینـي خطابونـه لـه "بیـدارۍ" څخـه "صف بندۍ" ته، له "عقلي ازادۍ" څخه "عقلي تسلیمۍ" تـه او لـه "حقیقـت لټـونې" څخـه د "ډلـې دفاع" ته واوښتل.

له همدې امله د تکفیر، تخوین او د ارتداد د تورونو ژبه عامه شوه؛ تر دې چې مخالف لوری تـر اورېدلو مخکې تورن او تر پوهېدلو مخکې محکوم شو.

عجیبه تضاد دا دی چې دغو خلکو د قرآن د دفاع شعار پورته کړی، خو په اصل کـې د قـرآن لـه رښتني سلطنت څخه وېرېږي؛ ځکه قرآن چې کله پـه ژونـدۍ او شـعوري بڼـه ولوسـتل شي، د دوی تضادونه رسوا کوي، د دوی تنګ نظري بربنډوي او انسـان بېرتـه د عـدل، رحمـت او عقـل تلـې تـه راګرځوي.

دوی هغه وخت نصوصو ته نژدې کېږي چې د دوی له تصوراتو سره سمون وخوري، خو کله چې نص د دوی مروج باورونه ونړوي، بیا ترې تښتي. له همدې امله دوی په "متشابهاتو" کې پناه اخلي او له "محکماتو" تښتي؛ ځکه محکمات لومړیتوبونه سموي او اجازه نه ور کوي چې دیـن د کرکـې پـه پروژه بدل شي.

تر ټولو خطرناکه خبره دا ده چې دین د انسان لپـاره د اخلاقـي هـدایت پـر ځـای، پـه یـو "نفسي-هویت" بدل شي. په داسې حالت کې د مذهب دفاع تر حقیقـت مهمـه شي او د ډلـې بریـا تـر عـدل لومړیتوب ومومي.

له همدې امله نن د شعور جګړه د وسلې جګړه نه ده، بلکې د بصيرت جګړه ده. دا ډېرته قرآن ته د انسان د ګرځولو جګړه ده؛ د داسې قرآن په لور چې د هدايت، عقل او رحمت سرچينه وي، نه داسې کتاب چې د شخړو د توجيه لپاره کارول کېږي.

دا امت يوې داسې ټولنيزې سولې ته اړتيا لري چې ډېرته ورته د فکر کولو ځواک ورکړي؛ ځکه په کرکو ستړې شوې ټولنې نه پوهه توليدولی شي، نه تمدن جوړولی شي او نه هم رواني و اخلاقي ثبات ته رسېدلی شي.

رښتينی رنسانس يا پاڅون تر هغه نه پيلېږي ترڅو چې عقل له وېرې، دين له انحصار او انسان د ډلې، مذهب و تاريخ له عبادت څخه ازاد نشي.

يوازې په دغه صورت کې مسلمانان ډېرته نړۍ ته ورګرځېدلی شي؛ خو د تېر تاريخ د قربانيانو په توګه نه، بلکې د اينده د جوړوونکو شريکانو په توګه.

الله انسان د دې لپاره نه دی پيدا کړی چې د وينو او ترپګنيو اسير وي، بلکې د دې لپاره چې په دې کايناتو کې د شته ښکلا شاهد وي، د معرفت لټونکی وي او ځمکه په عدل او رحمت ودانه کړي.

او هره هغه لاره چې دې مفهوم ته نه رسي... بيا کتنې ته اړتيا لري.

الحمد لله رب العالمين على كل حال!

حموده محمد محمد

بورسعيد، مصر

## نه... د ديني ثوابتو بدلولو ته!

ليکوال: ډاکټر توفيق حميد

هرکله چې څوک د ديني خطاب (يا فهم) د سمولو هڅې ته نژدې شي، سمدستي يو شيخ راپيدا شي او موږ ته وايي: "د ديني ثوابتو بدلولو ته (نه) ووايئ."

زه هم په دې قضيه کې خپل غږ له دغو درنو شيوخو سره ملگری کوم!

رښتيا هم زموږ فاضلو شيوخو، هغه ديني ثوابت چې په قرآن کې په ښکاره ډول راغلي دي، بايد بدل نشي؛ لکه د عقيدې ازادي: [وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ( ]الکهف ۲۹] (او ووايه چې حق ستاسو د رب له لوري دی، نو څوک چې غواړي ايمان دې راوړي او څوک چې غواړي کفر دې وکړي)

او پر نورو د تېري نه کول:[ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ] (البقرة ۱۹۰] (او تېری مه کوئ، بېشکه الله تېري کونکي نه خوښوي).

او د انسانانو حساب نه کول او پر هغوی دا حکم نه لگول چې جنت ته ځي که دوزخ ته: [فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ] (الرعد ۴۰] (نو بېشکه پر تا يوازې رسول دي او حساب زموږ پر غاړه دی). او : [إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم] (الغاشية ۲۵]) (بېشکه زموږ لور ته د هغوی بېرته راگرځېدل دي، بيا يقينا له هغو سره حساب زموږ کار دی.) او : [وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ] (المؤمنون ۱۱۷) (او څوک چې له الله سره بل معبود رابولي چې د هغه لپاره هيڅ دليل نه لري، نو بېشکه د هغه حساب د هغه د رب په وړاندې دی.) او : [وَمَا أَدْرِي مَا

يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ ۖ] ( الأحقاف ٩) (او زه نه پوهېږم چې له ما سره به څه کېږي او نه دا چې له تاسو سره).

ربښتيا هم زموږ فاضلو شيوخو! له ټولو انسانانو سره په رحمت و مهربانۍ چلند بايد بدل نشي : [وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ] (الأنبياء ١٠٧) (او موږ نه يې لېږلی مگر د عالميانو لپاره رحمت.)

او د مسکين، يتيم او اسير مړول بايد بدل نشي ـ، که يې دين او نژاد هر څه وي : [وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا] (الإنسان ٨) (او دوی خواړه د هماغه(الله) په مينه مسکين، يتيم او بندي ته ورکوي.)

او د غيرمسلمانانو د عبادت ځايونو دفاع بايد بدله نشي : [وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا] (الحج ٤٠) (او که د الله له لوري د ځينو خلکو دفع کول په ځينو نورو نه واى، نو خامخا به د راهبانو صومعې، کليساگانې، معبدونه او هغه جوماتونه نړېدلي وو چې د الله نوم پکې ډېر يادېږي.)

او ربښتيا هم زموږ فاضلو شيوخو، له هر چا سره د عدل اصل بايد بدل نشي، که مسلمان وي او که نه : [إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ] (النحل ٩٠) (بېشکه الله د عدل امر کوي.)

او پر هيڅ انسان باندې د ظلم نه کولو اصل بايد بدل نشي: [وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا) [الفرقان ١٩] (او له تاسو څخه چې څوك ظلم وکړي، موږ به ورته لوی عذاب ور وڅکو.) او : [وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا] الجن ١٥] (او مگر ظالمان، نو هغوی د جهنم خس (سون توکي) شول.) او : [ وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْماً] طه ١١١] (او مخونه د هغه ژوندي او تل پاتې ذات په وړاندې ټيټ شول او په يقين سره هغه څوك نامراده شو چې ظلم يې بار کړی وي.) او : [وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ * وَتَرَاهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا خَاشِعِينَ مِنَ الذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ] الشورى ٤٤-٤٦] (او ته به ظالمان وينې کله چې

عذاب ووینې، وایي به: ایا بېرته گرځېدو ته کومه لاره شته؟ او ته به هغوی وینې چې اور تـه وړانـدې کېږي چې د ذلت له امله سرټیټي وي او د سترگو له کونجانو به ور گوري.) ...او : [وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْأَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهِ] یونس ۵۴] (او که د هر هغه نفس لپاره چې ظلم یې کـړی وي، هغـه څه وي چې په ځمکه کې دي، خامخا به یې فدیه کې ورکړي.)

او د بدۍ په نېکۍ سره د ځوابولو اصل باید بدل نشي: [ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ] فصلت ۳۴] (په هغه څه (بدي) دفع کړه چې هغه ډېر غوره وي، نو دغه وخت به هغه څوک چې ستا او د ده ترمنځ دښمني وه، داسې شي لکـه نـژدې دوسـت.) او: [ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ] المؤمنون ۹۶] (بدي په هغې طریقې سره دفع کـړه چې ډېره غوره وي، موږ په هغه څه ښه پوهېږو چې دوی یې بیانوي.)

او پر نورو امتونو، ولسونو او د نورو ادیانو پر پیروانو باندې د ملنډو نه وهلو اصل باید بدل نشيـ : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰ أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ] الحجرات ۱۱] (اې هغـو کسانو چې ایمان مو راوړی، هیڅ قوم دې پر بل قوم ملنډې نه وهي، کېدای شي هغوی تر دوی غوره وي.)

او له نورو سره په سوله کې د ژوند کولو اصل بایـد بـدل نشيـ : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ] البقرة ۲۰۸] (اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، په سـوله کې په بشپړ ډول داخل شئ او د شیطان پر قدمونو مه ځئ.)

او له خلکو سره د خبرو پر مهال د تر ټولو ښکلو او نرمو کلمو کارولو اصل باید بدل نشي: [وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا] البقرة ۸۳] (او له خلکو سره په نېکۍ خبرې وکړئ). او: [وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ] الإسراء ۵۳] (او زما بندگانو ته ووایه چې دوی دې هغه څه وایي چې ډېر غوره وي.)

نو اې زموږ فاضلو شیوخو! دا ټول فضایل د دین له ثوابتو څخه دي!

خو که ستاسو ديني ثوابت د لمونځ پرېښودونکي وژل، د مرتد حلالول، پر خلکو د کفر او ارتداد حکمونه لګول، د دين خپرولو لپاره جنګونه اعلانول، د غيرمسلمانانو سپکول، په جنګونو کې د ښځو وينځې کول، د ښځې وهلو ته اجازه ورکول او د کوچنيو نجونو واده کول وي؛ نو په رښتينولۍ او د زړه له کومې درته وايم چې دا ډول "ثوابت" او "مفاهيم" نه يوازې بدلولو ته، بلکې "ويجاړولو" ته اړتيا لري! ځکه دا مفاهيم اې زموږ فاضلو شيوخو! د دين له واقعي ثوابتو او د قرآن له روح سره په کلکه ټکر لري!

## د قران د نظم او مانيز سمندر په اړه د امام فراهي ليدلوری

امام فراهي فرمايي:

«څنګه چې ډېری حکمتونه او لوی امرونه د نظم (کلامي جوړښت) تر دلالتونو لاندې پټ دي، نو چا چې په نظم کې له فکر کولو لاس واخيست، هغه د قران د مانا لويې برخې ته شا کړه. قران حکمت او رڼا ده، نبي کريم ﷺ همدې ټکي ته په خپل دغه قول کې اشاره کړې: "خبر اوسئ! ماته قران او د هغه په څېر يو بل څه هم راکړل شوي، بلکې تر هغه زيات" يا دې ته ورته نور الفاظ. او دا (دويم شی) د قران فهم دی چې يو بې ساحله سمندر دی؛ له همدې ځايه د نظم فهم ترلاسه کېږي، څکه تر هغه وروسته ماناوې ګڼشمېره کېږي.»

بايد پوه شو چې دغو سترو عالمانو کومو ټکو ته پام اړولی، دا يوازې کومه خاطره نه ده چې په ذهن کې يې تېره شوې وي او بې له فکره يې وړاندې کړې وي، بلکې دا يوه علمي پديده ده چې خورا لرغونې او ثابتې ريښې لري او د قران د نزول پېر ته رسېږي. له هغو اشارو څخه چې دا قول پياوړی کوي، لاندې موارد دي:

ابوبکر صديق (رض) فرمايي: «که زما د اوښ پړی هم ورک شي، زه به يې د الله په کتاب کې ومومم.»

دا د امام شاطبي له قوله سره ورته دی چې وايي: «هيڅ داسې عالم نشته چې په کومه مسئله کې يې قران ته پناه وړې وي، مګر دا چې هلته يې د هغې لپاره کوم اصل موندلی وي.»

بيا ګورو چې عبدالله بن مسعود (رض) هم د ابوبکر صديق (رض) غوندې خبره کوي او فرمايي: «کله چې علم غواړئ، نو قران "را وپاروئ" (وسپړئ)، څکه په هغه کې د لومړنيو او وروستنيو خلکو علم پروت دی.»

ددې خبرو تصديق موږ د الله په کتاب کې موندلی شو چې فرمايي: ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ﴾ [النحل: ۸۹].[۲]

زه (رداد السلامي) وايم: دا متن د هغې قضيې زړه لمسوي چې ډېرى خلك له قران سره د چلند پر مهال ورڅخه غافله دي:

دا چې قران يوازې د يو بل تر څنگ د ايښودل شويو الفاظو کتاب نه دی، بلکې دا د يو الهي نظم کتاب دی. د هغه د هدايتونو او حکمتونو لويه برخه يـوازې پـه مفرداتـو کـې نـه ده، بلکـې د هغـو د ترتيب په طريقه، موقعيت، سياق او له مخکنيو او وروستنيو اياتونو سره د هغو په تړاو کې ده.

له همدې امله، امام فراهي (رح) په دې باور و، چې د قراني فهم د کمزورتيا يو لـه سـترو لاملونـو څخه اياتونو ته د بېلو بېلو ټاپوگانو په څېر کتل دي، نه د يو ژوندي او متماسـك جوړښـت پـه څېـر. ځکه سترې معناوې ډېرى وختونه د «نظم تر دلالتونو لاندې» پټې وي؛ يانې د ترکيب په ژوره بنسټيزه اډانه کې، نه يوازې د الفاظو په ظاهر کې.

دا فکر په حقيقت کې کوم بلاغي خوند نه دی، بلکې د قران د ماهيت بيا کشـفول دي. قـران کلـه چې خپل ځان ستايي، وايي:

﴿كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ﴾

او داسې يې نه دي ويلي چې: اياتونه يې راټول شوي دي.

او فرمايي:

﴿الر ۚ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ﴾

دلته «إحکام» (محکموالی) تر «تفصيل» (بېلولو) وړاندې ياد شوی. يانې لومړی يو کلی او محکم جوړښت شتون لري او بيا تفصيلات ورڅخه څانگې غوړوي. دا يو خورا ژور ټکی دی.

ځکه ډېرى خلك له قران سره داسې چلند کوي لکه هغه چې د «ماناگانو يوه ټولگه» وي، حال دا چې قران په حقيقت کې د «مانا يو نسج/اوبدل شوی ټـوکر» دی. د دواړو تـرمنځ تـوپير خـورا زيـات دی. تاسو نشئ کولای د يو ټوکر يو تار له خپل ځايه بېل وپېژنئ؛ کېـدای شي د يـو تـار ارزښـت لـه نورو سره په تړاو کې وي، نه يوازې په خپل ځان کې.

[۲] سرچينه: «إمعان النظر في نظم الآي والسور» د ډاکټر محمد عنايت اسد الله سبحاني.

له همدې امله فراهي ويلي چې ډېری حکمونه په نظم کې پټ دي. يانې مانا يوازې په کلمه کې نه ده، بلکې د کلمو، مقطعو او سورتونو ترمنځ په اړيکه کې ده، بلکې حتی د سورت د پيل او پای په تړاو کې ده.

له همدې ځايه پوهېږو چې ولې د سلفو خبرې په پيل کې د حيرانتيا وړ يا مبالغه اميزه ښکاري:

«که زما د اوښ پړی هم ورک شي، په قران کې به يې ومومم.»

ابوبکر (رض) دا نه وايي چې قران د تخنيکي لړليکونو کتاب دی، بلکې مطلب يې دا دی چې قران د هستی، انسان او ژوند لپاره کلي اصول او حاکم قوانين لري، چې که چا ته د قراني فهم کيلي ورکړل شي، هغه کولی شي جزييات خپلو اصولو ته ور وګرځوي.

له همدې امله شاطبي ويلي:

«داسې هيڅ عالم نشته چې په کومه مسئله کې يې قران ته پناه وړې وي، مګر هلته يې د هغې لپاره کوم اصل موندلی نه وي.»

دلته د «أصلاً» کلمه خورا مهمه ده. قران د هرې جزيې د مستقيم تفصيل کتاب نه دی، بلکې د هغو کلي اصولو کتاب دی چې فروع ورڅخه پخپله زېږي.

دا د سطحې قراءت او د قران د تمدني قراءت ترمنځ توپير دی.

سطحي قراءت د «مالوماتو» په لټه کې وي.

خو ژور قراءت د «قانون»، «سنت» او «جوړښت» په لټه کې وي.

له همدې امله ابن مسعود ويلي:

«**فأثيروا القرآن**»

او داسې يې نه دي ويلي چې: يوازې يې ولولئ.

لکه ماناوې چې پکې داسې ايښودل شوې وي چې راپارولو، استخراج او کيندنې ته اړتيا لري. دا تعبير پخپله ښيي چې قران داسې نص نه دی چې ژر مصرف شي، بلکې يو داسې نړۍ ده چې بايد استخراج شي.

بيا هغه جامع ايات راځي:

﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ﴾

ډېر خلك پرې غلطېږي او گمان كوي چې قران هره علمي جزيه په مستقيم ډول لري. حال دا چې ژوره مانا يې دا ده: قران هغه نهايي اصول بيانوي چې انسان وركې د شيانو د پېژندلو او پر سم ځای يې د ايښودلو هدايت ترلاسه كوي.

قران يوازې ځوابونه نه دركوي، بلكې ليدلوری دركوي. يوازې مالومات نه دركوي، بلكې هغه عقل بيا رغوي چې له مالوماتو سره تعامل كوي.

له همدې ځايه د فراهي د قول په راز پوهېږو:

« دا د هغه فهم دی او دا يو بې ساحله سمندر دی.»

ځكه قراني ماناوې په لومړي لغوي تفسير نه ختمېږي، بلكې تر هغه وروسته پيل كېږي. هر څومره چې انسان په نظم پوه شي، د اياتونو او سورتونو ترمنځ داخلي اړيكې ورته روښانه كېږي او د مانا نوې طبقې زېږي.

له همدې امله قران د پېړيو په اوږدو كې نوی پاتې شوی. نه يوازې دا چې خلك يې تكراروي، بلكې له دې امله چې جوړښت يې تر هغه ژور دی چې ختم شي. قران داسې كتاب نه دی چې ته يې ختم كړې، بلكې داسې كتاب دی چې كله يې پای ته ورسوې... بېرته تاته ځان پرانيزي.

د دې قضيې ښكلا دا ده چې له قران سره زموږ اړيكه له « سرسري ليد» څخه «كاشفې ملگرتيا» ته بدلوي. انسان چې كله لومړی قران لولي، ظاهري مانا اخلي، خو كله چې نظمويني، د قراءت نوعيت بدلېږي. ايات ته يوازې د يوې خپلواكې جملې په سترگه نه گوري، بلكې د يوې دقيقې الهي انجينرۍ د يوې برخې په توگه ورته گوري.

دلته ريښتيني حيرانتيا پيل كېږي.

ته كشف كوې چې تقديم او تاخير بې ځايه نه دی، د برخو ترمنځ انتقال بې نظمي نه ده او سورت خپاره واره موضوعات نه دي، بلكې يو ژوندی موجود دی چې يو روح، يو محور او يو نفس لري.

له همدې امله د نظم سترو عالمانو احساس كاوه چې قران يوازې نه لوستل كېږي... بلكې كشف كېږي.

هر څومره چې په دې دروازه كې ژور لاړ شې، پوهېږې چې ډېری هغه ستونزې چې خلكو تكرار يا بې نظمي بلله، هغه يوازې د نص له «ټوټه ټوټه» قراءت څخه پيدا شوې وې، نه پخپله له نص څخه.

قران خورا محکم دی، خو زموږ عقلونه ډېر ځله تیت او پرک ورته ننوځي.

له همدې امله فراهي يو پوره مدرسه وه، نه يوازې يو مفسر. ځکه هغه هڅه وکړه چې خلکو تـه د قران د داخلي يووالي شعور ببرته ورکړي؛ دا چې سورت د ځنګ په ځنګ ايـاتونو مجموعـه نـه ده، بلکې يو مقصودي جوړښت دی چې برخې يې د بدن د غړو په څېر يو بل ساتي.

په دې برخه کې تر ټولو ښکلی ټکی دا دی چې انسان هر څومره په نظم کې ډوبېږي، هومره ورته يقين پيدا کېږي چې دا کلام د بشر له توانه پورته دی. ځکه انسانان کېدای شي ښکلې جملې جـوړې کړي، خو دا چې يو پوره جوړښت — له پيل څخه تـر پايـه — تـر دې کچـې سره اخښـلی او د مانـا کثافت وساتي، دا بيخي بل څه دي.

دلته تدبر له «پوهېدو» څخه «شهود» ته بدلېږي. يانې انسان يوازې مانا نه وينـي، بلکـې د مانـا پـه جوړښت کې د الهي حکمت نښې هم ويني.

له همدې امله ځيني پوهان په دې باور دي چې د ايمان د زياتوالي يوه لويه لاره د قـران پـه نظـم کې فکر کول دي. ځکه ته يوازې له کلمو سره نه مخ کېږې، بلکې له داسې کمال سره مخ کېږې چې د بشر عقل د دغه ډول تناسق له جوړولو عاجز دی.

له همدې امله قران هر څومره چې ولوستل شي، نوی پاتې کېږي؛ ځکه ته هر ځل يـوازې هماغـه نص ته نه ورګرځې، بلکې په يو نوي عقل ورګرځې، نو هغه درته د خپل نظـم هغـه دروازې پرانيـزي چې پخوا نه وې پرانيستل شوې.

— رداد السلامي

# عقلاني منبر

دا هغه شرطونه دي چې یوه خطبه د عقل، وجدان او ټولنې لپاره ګټوره ګرځوي؛ څو خطبه یوازې د تکراري جملو یادول یا د احساساتو پارول نه وي. دا شرطونه په لاندې ټکو کې لنډیز کیدی شي:

۱. د فکر رښتینولي او د مالوماتو سموالی:

خطبه باید پر کمزورو روایتونو، خرافاتي کیسو او بې دلیله خبرو بنا نه وي. منبر د لارښوونې او ښوونې ځای دی، نه د وېرولو او مبالغې ډګر.

۲. قران کریم او قطعي ارزښتونو ته رجوع:

اصل باید عدل، رحمت، ازادي، رښتینولي او د انسان کرامت وي؛ نه د کوم ځانګړي مذهب، ډلې یا اشخاصو لپاره تعصب.

۳. یوازې د غریزو پر ځای عقل ته خطاب کول:

بریالی خطیب یوازې په ژړولو یا جوش پیدا کولو بسنه نه کوي، بلکې د فکر، تدبر او پوښتنې دروازې پرانیزي.

۴. د خلکو له واقعي ژوند سره تړاو:

هغه خطبه چې د ټولنې دردونه نه بیانوي او د بېوزلۍ، ظلم، فساد او اخلاقي پاشلتیا درملنه نه کوي، له ژوند څخه په جلا شوې وینا بدلېږي.

۵. په جګړه ییزه وسیله د دین نه بدلول:

منبر د لمسونې، کرکې او د سیاسي یا فرقه ییزو اختلافاتو د ډګر ځای نه دی، بلکې د سمون او د خلکو ترمنځ د نژدېوالي ځای دی.

۶. تخصص او علم ته درناوی:

خطیب باید په طب، اقتصاد یا سیاست کې د یوه ماهر غوندې بې علمه خبرې ونه کړي، بلکې د وعظ، شخصي نظر او تخصصي پوهې ترمنځ باید توپیر وکړي.

۷. روښانه او ارامه ژبه:

بلاغت په چیغو او د غږ په لوړولو کې نه دی، بلکې د مانا په روښانتیا، ښه وړاندې کولو او د حجت (دلیل) په قووت کې دی.

۸. د اجتهاد او فکر دروازه پرانیستل:

ټولنې بدلیږي او ستونزې نوې کیږي؛ هغه عقل چې الله یې د کارولو امر کړی، باید پټو په سترګو (ړانده تقلید) سره ونه ځنډول شي.

۹. عملي بېلګه (قدوه):

خلک د خطیب له چلند څخه تر زرګونو خطبو زیات اغېز اخلي؛ نو ځکه باید د هغه وینا او عمل سره یو وي.

۱۰. د انسان جوړول، نه تل وېرول:

یوه متوازنه خطبه د ترغیب او ترهیب (هڅونې او وېرې) او د هیلې او مسوولیت ترمنځ توازن ساتي. دین باید د وحشت او ناهیلۍ لړۍ ونه ګرځول شي.

پایله: عقلانی منبر هغه دی چې د حقیقت په خدمت کې وي، انسان جوړوي او خلک لوړو ارزښتونو ته نژدې کوي؛ نه هغه چې عقل فلجوي یا په ټولنه کې نفاق کري.

لیکوال: رجب محمد بونخیلة

## د ارواښاد "ابو زهرة" له ارزښتمنو افکارو څخه

که په بخاري کې یو باطل روایت وي، څه ورسره وکړو؟

"محمد ابو زهرة" (رح) موږ ته بیا بیا دا راښیي چې دا دین باید په عقیدوي، هدفمندانه او فقهي لحاظ څنګه درک شي. هغه چې کله د خاتم النبیین ﷺ سیرت په قراني بڼه بیانوي، بیا چې کله داسې یو روایت ته ورسېږي چې د رسول الله ﷺ له مقام سره په ټکر کې وي، د هغه پر عصمت برید کوي او د قران کریم له مسلماتو سره اړخ نه لګوي؛ نو په ښکاره یې بطلان اعلانوي. د هغه په نظر دا خبرِ واحد دی او په خبرِ واحد کې د وهم، خطا، درواغو او بطلان احتمال شته.

ابو زهرة د یو اصولي عالم او ژور نقد کوونکي په توګه، د ناپوهانو له تعصب او د روایت له عبادت څخه لرې خپل موقف روښانه کړی دی. هغه د هغو خلکو پر خلاف و، چې روایت ته تر قران، عقل او یقین پورته ځای ورکوي.

د دې بحث یو له خطرناکو بېلګو څخه د "غرانیق" افسانه ده چې پر رسول الله ﷺ پورې تړل شوې ده. د دې کیسې اصل په بخاري کې هم راغلی چې د عکرمه (د ابن عباس ازاد شوی غلام) له لارې روایت شوی:

«نبي ﷺ د سورت النجم په لوستلو سره سجده وکړه او ورسره مسلمانانو، مشرکانو، جناتو او انسانانو هم سجده وکړه.»

ابن حجر عسقلاني هڅه کړې چې د دې روایت دفاع وکړي، سره له دې چې پخپله مني دا روایت له ابن عباس (رض) څخه په متصل ډول نه دی ثابت؛ ځکه ابن عباس په هغه وخت کې دا پېښه نه وه لیدلې.

ابو زهرة (رح) پر دې روایت داسې تبصره کوي:

«موږ پر دې پرېکړه کوو چې دا کیسه پر رسول الله ﷺ پورې درواغ ده؛ ځکه:

لومړی: د دې کیسې مانا دا ده چې نعوذبالله شیطان پر نبي ﷺ د وحې په حالت کې اغېزه کړې او هغه د سورت النجم د ایاتونو په منځ کې دا جملې زیاتې کړې: "**تلك الغرانيق العلى، وإن**

**شفاعتهن لترتجى**" (دا لوړ مقام لرونكي هستۍ دي او د هغو د شفاعت هيله كيږي). دا كار په قطعي ډول باطل او ناممكن دی. كه شيطان پر نبي ﷺ د وحې په رسولو كې تسلط ولري، نو په ټول قران كې شك پيدا كيږي او فاسقان به وايي چې په قران كې بدلون او زياتوالی راغلی دی.

دويم: دا خبرونه نبي ﷺ ته نه دي رسول شوي، بلكې ټول "مرسل" دي (هغه حديث چې صحابي پكې نه وي ذكر شوی)، نو ځكه د پام وړ نه دي.

دريم: ځيني خلك د دې كيسې د ثابتولو لپاره د سورت الحج ۵۲ ايات (**وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ**...) ته پناه وړي. دوی وايي چې شيطان د نبي ﷺ په هيلې (امنية) كې دا خبره ورگډه كړه. دا خبره په اصل كې د قران په محفوظ پاتې كېدو كې شك پيدا كوي. كه څوك داسې باور ولري چې په قران كې زياتوالی راغلی، هغه كافر دی؛ ځكه الله فرمايي: ﴿**إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ**﴾ (موږ دا ذكر نازل كړی او موږ يې ساتونكي يو).

پوښتنه: كه څوك ووايي چې په بخاري كې د راغلو روايتونو په اړه څه وكړو؟

ځواب: موږ وايو چې دا روايت د داسې يوې چارې په اړه دی چې پر الله او د هغه پر امين رسول باندې محال (ناممكن) ده. داسې روايت بايد رد شي، راوي يې كه هر څوك وي. ايا موږ ويلی شو چې په رسول الله ﷺ سحر شوی و؟! او په قران كې يې داسې څه زيات كړل چې شرك دی؟!

دا روايت هر څنگه چې وي، خبرِ واحد دی. زموږ د دين، قران او د نبي ﷺ د عصمت د ساتنې لپاره پكار ده چې د داسې خبرونو نسبت رسول الله ﷺ ته رد كړو او پر خپل قران او نبي ﷺ ايمان ولرو.» د ابو زهرة (رح) د خبرو پای؛ له "خاتم النبيين"كتابه!

اقتباس: ډاكټر عمار الحريري

## نالیدلی موجود

**اې ملحده! ولوله، ښايي قانع شې، نوی فکر وکړې او په حقیقت پوه شې!**

**لومړی: د یو شي نه لیدل د هغه د نشتوالي مانا نلري.**

موږ پر ډېرو داسې شیانو ایمان لرو چې نښې او اثار یې ګورو، نه دا چې هغه پخپله په مستقیم ډول وینو.

١. برېښنا (الکتریسټي)

ایا تا برېښنا پخپله په خپلو سترګو لیدلې ده؟

نه؛ ته یوازې د هغې اثار وینې:

*ګروپ روښانه کیږي.

* موبایل کار کوي.

* برېښنایي شاک (ټکان) درد درکوي.

نو ته د برېښنا پر شتون ځکه باوري شوې چې اثار یې وینې، نه دا چې هغه دې لیدلې وي. همدا ډول الله سبحانه وتعالی دی؛ ته په کائناتو کې د قدرت اثار وینې، په مخلوقاتو کې د مهارت او اتقان نښې وینې، دقیق قوانین وینې او د ژوند، عقل او شعور اثار وینې.

نو عقلي پایله دا شوه: اثر پر مؤثر دلالت کوي.

**٢. عقل**

ایا تا "عقل" لیدلی دی؟ رنګ، شکل یا وزن لري؟ نه؛ خو ته یې پر شتون ځکه باور لرې چې:

* انسان فکر کوي.

* تحلیل کوي.

* نوښت کوي.

* پرېکړې کوي.

نو عقل نه ليدل کېږي، خو اثار يې ښکاري ځرګند دي. همدا رنګه د خالق شتون هم له اثارو پېژندل کېږي.

**۳. ځيرکتيا او ناپوهي**

نه ځيرکتيا په سترګو ليدل کېږي او نه ناپوهي (کم عقلتوب). خو موږ د هغو په اړه د خلکو له کړو وړو، خبرو او پرېکړو قضاوت کوو. نو ډېر معنوي حقيقتونه شته چې سره له نه ليدلو، خورا رښتيني دي.

**۴. جاذبه**

ايا تا جاذبه ليدلې؟ نه؛ خو کله چې يو شی ځمکې ته راغورځي، پوهېږې چې يوه ناليدلې قوه کار کوي. نو ساينس پخپله هم پر هغو ناليدلو مؤثرينو د استدلال پر بنسټ ولاړ دی چې يوازې اثار يې حس کېږي.

**۵. هوا**

هوا نه وينې، خو که بنده شي، ساه دې بندېږي او نفستنګی کېږي. ايا د هوا نه ليدل د هغې د نشتوالي مانا ورکوي؟ طبعاً نه.

**٦. مينه، وېره او درد**

مينه چېرته ده؟ څه شکل او رنګ لري؟ خو سره له دې هم:

* مينه انسان بدلوي.
* وېره د زړه ضربان زياتوي.
* درد دې چيغې باسي.

نو ناليدلي شيان کله ناکله تر هر څه زيات واقعي او اغېزناک وي.

**دويم: نظم د ناظم (جوړونکي) نښه ده**

که يوې خونې ته ننوځې او هلته يو موبايل، موټر يا يو پېچلی پروګرام وګورې، ايا دا وايې چې: "دا هر څه په ناڅاپي ډول او بې له جوړونکي پيدا شوي دي"؟ ناممکنه ده.

نو دا کاينات چې تر هر ډول ماشين پېچلي دي؛ په ملياردونو کهکشانونه، دقيق فزيکي قوانين، DNA، انساني عقل، شعور او ژوند؛ دا څنګه بې له خالقه کېدای شي؟ که يو ماشين پر انجنير دلالت کوي، نو کاينات په لومړي قدم کې پر خالق دلالت کوي.

**يو مثال:**

تا خپل اووم نیکه نه دی لیدلی، خو ایمان لرې چې هغه و؛ ځکه د هغه د شتون اثر شته او هغه "ته" يې. همدا ډول موږ الله نه وینو، خو د هغه د خالقیت، قدرت او ځیرکتیا اثار زموږ شاوخوا په هر څه کې شته.

**پایله:**

موږ ډېری حقایق په مستقیم ډول نه وینو، بلکې د هغو له نښو او اثارو يې پېژنو. له همدې امله موږ پر عقل، جاذبې او برېښنا ایمان لرو بې له دې چې و يې وینو. نو دا هیڅ منطقي نه ده چې د الله شتون يوازې د نه ليدلو له امله رد شي.

د خالق انکار يوازې د نه ليدلو له امله، کټ مټ لکه څوک چې له عقله انکار وکړي. بلکې ساینس پخپله پر هغو نالیدلو شیانو د باور پر بنیاد ولاړ دی چې يوازې له اثارو پېژندل کېږي.

## د یوسف (ع) وروڼو د هغه په اړه د کومې غلا دعوه کوله؟

له بده مرغه، لکه د تل په څېر، "اسرائیلیاتو" یو ځل بیا د الله تعالی د عظیم کتاب د مفاهیمو په مسخ کولو کې خپله برخه لرلې ده. ځینو ویلي چې یوسف (ع) یو د سرو زرو بت غلا کړی او مات کړی یې و؛ ځینو نورو بیا ویلي چې نه، بلکې د خپلې عمې (ترور) ملابند (کمربند) یې له هغې په یوه دسیسه کې غلا کړی و، ترڅو عمه یې د هغه د زیاتې مینې له امله هغه له ځان سره د مربیې په توګه وساتي!

**لومړی:**

موږ تل ویلي او بیا یې هم وایو؛ "**کتاب مبین**" (روښانه کتاب) یوازې د "کتاب مبین" له لارې تفسیرېدای شي. د سورت په پیل کې راغلي: (**تلك آيات الكتاب المبين**). کله چې کتاب مبین د وروڼو دا خبره ذکر کړې چې: {**قَالُوا إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُ مِن قَبْلُ**} (که دی غلا کوي، نو له ده وړاندې یې ورور هم غلا کړې وه)، نو په کار ده چې د دې خبرې مفهوم هم پخپله کتاب کې دننه وي.

**دویم:**

که واقعاً یوسف (ع) کوم بت یا کمربند غلا کړی وای، کله چې وروڼو ورباندې دا تور ولګاوه، نو هغه به ورته نه ویل چې: {**أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ**} (تاسو بد مقام لرئ او الله ښه پوهېږي پر هغه څه چې تاسو یې بیانوئ). بلکې هغه به ورته پخپله طریقه د حقیقت سپیناوی کړی وای، لکه څنګه چې یې خپل کشر ورور پخپله طریقه له ځان سره وساته.

**دریم:**

د یعقوب (ع) په څمکه کې د بت شتون؟ هغوی اصلاً په بادیه (دښته) کې اوسېدل: {**وَجَاءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ**} او ټول د الله پر دین وو. په قرآن کې هیڅ ځای نه دي راغلي چې د یعقوب (ع) په خاوره کې دې بتان لمانځل کېدل. نو یوسف (ع) چې په هغه وخت کې ماشوم و، دا بت له کومه کړ؟

**څلورم: د غلا مفهوم پېژندل**

د دې لپاره چې پوه شو وروڼو يې ولې پر هغه د غلا تور ولګاوه، بايد لومړی د "غلا" په مانا پوه شو.

غلا څه ته وايي؟ غلا په ناحقه د يو څه ترلاسه کول دي. قرآن فرمايي: {وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا...} (هغه څه چې دوی ګټلي). نو غلا د يو شي په ناحقه او پټه اخيستل دي. غلا کېدای شي مادي وي يا معنوي. مثلاً: که ته يو پلورنځي ته ننوځې، د يو ځانګړي محصول عکس اخلې او بې له اجازې کټ مټ د هغه غونډې شی جوړوې او په خپل نوم يې پلورې، دا هم غلا ده؛ ځکه تا د هغوی معنوي زيار او ځانګړنه غلا کړې ده.
د وروڼو موخه څه وه؟

کله چې وروڼو وويل: {إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُ مِن قَبْلُ}، مقصد يې دا و چې هغه له مور نه "نبوت" غلا کړی دی. له همدې امله يې پلار ورته خبرداری ورکړی و: {قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَىٰ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا} (خپل خوب وروڼو ته مه وايه چې ستا په خلاف به دسيسه وکړي).
هغوی په دې تمه وو چې له خپل پلار څخه به نبوت په ميراث يوسي، ځکه دا لړۍ له ابراهيم نه اسحاق او بيا يعقوب (عليهم السلام) ته راغلې وه. کله چې دوی پوه شول چې د دوی تر ټولو کشر- ورور به دا مقام ترلاسه کوي، نو د هغه په وړاندې يې کينه او دښمني (کيد) پيل کړه؛ هغه يې له پلاره لرې کړ او د وژلو هوډ يې وکړ.

نو کله چې هغوی پر ده د غلا تور پورې کړ: (فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ) يوسف دا خبره په خپل زړه کې پټه وساتله او هغوی ته يې ښکاره نه کړه، کټ مټ د خپل پلار د هغې لارښوونې مطابق چې ورته ويلي يې وو: (خپل خوب وروڼو ته مه وايه).
دوی د نبوت د غلا ترڅنګ، د پلار د پاملرنې (وجه اب) د غلا تور هم وربانديې پورې کاوه: {اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ} (يوسف ووژنئ يا يې يوې لرې ځمکې ته وغورځوئ ترڅو د پلار پاملرنه يوازې تاسو ته پاتې شي).
د هغوی د تور مانا دا وه: "ته اوس زموږ ورور (بنيامين) له موږ نه اخلې، لکه څنګه چې يوسف پخوا زموږ پلار له موږ نه اخيستی و."

خو یوسف (ع) ورته وویل: {أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ}. په قرآن کې چې هر ځای د "تصفون" (تاسو يې بيانوئ) لفظ راغلی، په غندنه کې دی، ځکه هغه له حقيقته لرې وي؛ لکه: (سبحان الله عما يصفون).

سربېره پر دې، هغوی د مضارع (اوسمهال) په بڼه خبره وکړه: {إِن يَسْرِقْ} (که دی غلا کوي). يانې دا د ده او د ده د ورور عادت دی او تل په همدې کار اخته دي.

نو ځکه یوسف دا خبره په خپل زړه کې تېره کړه او ځواب يې ورکړ چې: الله ښه پوهېږي چې تاسو څومره ناحقه خبرې کوئ.

نو دا خلك د کوم بت او کوم ملابند خبرې کوي؟!

(انس الشامي)

# نفاق د یوه تمدني رنځ په توګه

## د نفس، ټولنې او ديني تعبير شننه

بسم الله الرحمن الرحيم

د انسان په تاريخ کې تر ټولو لويه ستونزه دا نه ده چې هغه تېروتنه کوي؛ ځکه تېروتنه د بشر له فطرت څخه ده، بلکې اصلي ناورين دا دی چې تېروتنه په يو کلتور بدله شي، جعلکاري او درواغ يو داسې مېکانيزم (نظام) وګرځي چې عقلونه ورباندې وروزل شي، مفاهيم ورڅخه جوړ شي او بيا تر هغه وروسته خلکو ته کټ مټ د دين يا د داسې يو حقيقت په توګه وړاندې شي چې نژدې کېدل ورته روا نه وي . دلته نفاق په خپل تر ټولو خطرناك شکل پيليږي؛ د داسې يو څه په توګه نه چې يوازې د يو چا پاته کېدونکی فردي چلند وي، بلکې د داسې يو رواني، فکري او ټولنيز نظام په توګه چې د شعور د بيا ځلي شکل ورکولو وړتيا لري، تر دې چې انسان د وحې له رڼا څخه پردی شي؛ مګر پخپله ګمان کوي چې هغه ورته تر ټولو ډېر منسوب او نژدې دی.

د حقيقت يو رښتينی پلټونکی نشي کولای قرآن ته په داسې حال کې ننوځي چې له ځانه سره يې مخکني شرطونه، يا داسې وروستۍ پرېکړې او احکام بار کړي وي چې غواړي وحې ورته پرې د مبارکۍ او تاييد مهر ووهي . ځکه قرآن د خلکو د خواهشاتو د پيروۍ لپاره نه دی نازل شوی، بلکې د دې لپاره نازل شوی چې انسان د موروثي تصوراتو له تيارو څخه د بصيرت رڼا ته هدايت کړي. له همدې امله، د رښتينې پوهې او معرفت لومړی شرط دا دی چې انسان له خپل زړه څخه د تعصب ريښې وباسي او پرېږدي چې قرآن ورته هغه دروازې پرانيزي چې د الله خوښه وي، نه هغه دروازې چې مذهبونو، تعصبونو او د پېړيو په اوږدو کې راټولو شويو افسانو جوړې کړې وي.

قرآن د نفاق پر موضوع باندې داسې سخت تمرکز کړی چې پاملرنه راجلبوي او عقل راويښوي. که نفاق يوه حاشيوي او محدوده پديده وای، نو په اړه يې د خبرو اترو دا هېښنده اوږدوالی به نه و او

نه به په قرآن حکیم کې دا ډول سخت او متراکم خبرداری تکرارېده، تر دې چې لوستونکی داسې احساسوي لکه وحې چې غواړي بشر ته ووايي: هغه څه چې رسالت په تر ټولو خطرناک ډول گواښي، تل ښکاره کفر نه وي، بلکې هغه داسې جعلي دينداري ده چې د ايمان کالي يې اغوستي وي خو په باطن کې يې ضد پټ وي.

په قرآني خطاب کې ارام او ارامونکی تامل دا روښانه کوي چې منافقين يوازې داسې کسان نه وو چې د ټولنې په گوښو کې پټ وي، بلکې هغوی وجود لرونکی، ننوتونکی او اغېزناک بهير و. الله تعالى فرمايي: ﴿فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ﴾ [النساء: ۸۸] (نو په تاسو څه شوي دي چې د منافقانو په هکله په دوو ډلو وېشل شوي يئ؟)، او سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ﴾ [التوبة: ۴۷] (او ستاسو په منځ کې داسې کسان شته چې د هغوی خبرو ته غوږ نيسي-)، بيا سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿هَا أَنتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ﴾ [آل عمران: ۱۱۹] (همدغه تاسو خو داسې خلک ياست چې له هغوی سره مينه کوئ، حال دا چې هغوی له تاسو سره مينه نه کوي.)

دا ايتونه کومه ځانگړې او جلا شوې فردي پېښه نه انځوروي، بلکې د اړيکو د يوې پېچلې شبکې او له يو ټولنيز، رواني او فکري نفوذ څخه پرده پورته کوي، تر دې چې ځينې مومنان د منافقينو له بيانونو اغېزمنېدل، خبرو ته يې غوږ کېدل، زړونه يې ورسره اېل کېدل، او شايد مينه يې ورسره کوله پرته له دې چې د دې نرمې اغېزې تر شا د پټ خطر په ژوروالي پوه شي.

دلته د نفاق د داخلي جوړښت په ښکاره کولو کې د قرآن شاهکاري روښانه کيږي؛ ځکه منافق يوازې هغه انسان نه دی چې داسې څه وايي چې پخپله يې نه کوي، بلکې هغه:

- يو داسې عقل دی چې پرله پسې پلمې او توجيهات جوړوي،
- يو داسې نفس دی چې د ماسکونو په اغوستلو کې پوره مهارت لري،
- او يو داسې شعور دی چې د معيارونو په نسکورولو کې هېښنده وړتيا لري، تر دې چې فساد ورته اصلاح ښکاري،
- حق ورته بې باکي او تندلاري ښکاري،

- او انحراف ورته سياسي يا ديني حکمت ښکاري. له همدې امله الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي :﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ﴾ [البقرة: ۱۱] (او کله چې هغوی ته وويل شي چې په ځمکه کې فساد مه کوئ، وايي: موږ خو يوازې اصلاح کونکي يو.)

په نفاق کې تر ټولو خطرناکه خبره دا ده چې د هغه خاوند ځان منافق نه ګوري، بلکې ځان د حقيقت ساتونکی، د دين مدافع او شايد د امت ژغورونکی بولي. له همدې امله نفاق تر ښکاره کفر ډېر پېچلی دی؛ ځکه د ښکاره کافر ځای معلوم وي، مګر منافق:

- په صحنه کې ګډ ناست وي،
- د ايمان په ژبه خبرې کوي،
- د نصوصو (ايتونو او متنونو) يادونه کوي او حوالې ورکوي،
- او له مقدساتو څخه پور اخلي ترڅو ځان له نقد او محاسبې څخه پرې وژغوري.

هر څوك چې د توبې او مائدې سورتونه په پوره تدبر او غور سره ولولي، دا احساسوي چې قرآن د داسې يوې مرحلې انځور وړاندې کاوه چې په هغې کې نفاق د مسلمانې ټولنې د ټولنيز او کلتوري جوړښت په منځ کې په پراخېدو و. موضوع نور د څو محدودو کسانو نه وه چې د خپلو ګټو لپاره وېرېدل، بلکې:

- ائتلافونه رامنځته شول،
- د نفوذ مرکزونه جوړ شول،
- اقتصادي اړيکې منځ ته راغلې،
- او پراخو کلتوري اغېزو شتون درلود. له همدې امله، نفاق يوازې په "وېره"کې رالنډول، يوه داسې ډېره ساده انګېرنه ده چې له پېچلي قرآني ليدلوري څخه لرې ده.

نفاق لکه څنګه چې له طمعې او حرص څخه پيدا کېداى شي، دغه راز له وېرې څخه هم زېږېداى شي؛ لکه څنګه چې له تعصب څخه رامنځته کېداى شي، دغه راز له حسد څخه هم پيدا کېداى شي؛ کېداى شي د قدرت له غوښتنې، رياکارۍ، داخلي شکونو، يا د هغو منحرفو کلتورونو له

اغېز څخه وده وکړي چې د حکمت، دين يا سياست په نوم شعور ته ننوځي. قرآن انسان په يو واحد علت او سبب کې نه را ايساروي، ځکه هغه د بشر له نفس سره د غوښتنو، اندېښنو او تضادونو د يوې ښکېلې نړۍ په توګه چلند کوي.

له همدې ځايه، د نفاق تر ټولو خطرناك ډولونه هغه نه دي چې د وحې په وړاندې خپله دښمني اعلانوي، بلکې هغه دي چې پخپله وحې له نوي سره تعريفوي او مفاهيمو ته داسې نوي شکلونه ورکوي چې خلك د يو سرچپه ليدلوري اسيران شي او په عيني وخت کې ګمان کوي چې دوى ډېر ښه کار کوي. دلته موږ پر دې پوهېږو چې ولې قرآن د ډلې او ټولنې له سلطې څخه د ازادۍ پر اړتيا باندې ټينګار کاوه کله چې هغه منحرفه شي، د قبيلې له فشاره، کله چې هغه سترګې پټې کړي او د کلتوري ميراث له برلاسي څخه، کله چې هغه داسې يو دېوال شي چې د الله د رڼا مخه نيسي.

قبيلوي او مذهبي تړاوونو ډېرى وختونه د قرآني فهم د معطل کولو او درولو په برخه کې خورا خطرناك رول لوبولى دى. د دې پر ځاى چې انسان متن ته د حقيقت د لټون په نيت ننوځي، کله ناکله د خپلې ډلې د دفاع، يا د خپل تاريخ د سپينولو، يا د خپل پخواني ذهني تصوير په اړه د اندېښنې او وېرې له امله ننوځي. په داسې وخت کې قرآن نور د عقل لارښود نه پاتې کيږي، بلکې عقل پر قرآن باندې په يو ځارونکي بدليږي؛ له ده څخه هغه څه مني چې له موروثي عقيدې سره يې موافق وي او هغه څه ردوي چې په داخل کې يې پراته جمع شوي ذهني بتان لړزوي.

له همدې امله، د منافقت لرونکي کلتور له نښو څخه دا ده چې ځينې خلك تر دې مخکې چې وپوښتي: "ايا دا حق دى؟"، لومړى دا پوښتنه کوي" :ستا هدف څوك دى؟ ."دوى تر حقيقت ډېر په نومونو بوخت دي او د وحې د پاکوالي په پرتله د ټولنيزو جوړښتونو په اړه ډېر وېرېږي. کله چې قرآن د منافقينو په اړه خبرداری ورکاوه، داسې ورنه برېښېده لکه د داسې اشخاصو په اړه يې چې خبرې کولې چې بايد پټ کړاى شي، نه د داسې صفتونو په اړه چې بايد په هر وخت او ځاى کې ځان ځنې وساتل شي.

قرآن تر نقد پورته مقدسه بشري طبقه نه جوړوي او نه هم تعصبونو ته د تلپاتې بې ګناهۍ (برائت) سندونه ورکوي. انسان هماغه انسان دى؛ په هغه کې د اخلاص وړتيا هم شته او د انحراف منلو وړتيا

هم شته، که هغه د هرې قبيلې څخه وي او که د هر نسل څخه وي. له همدې امله، د يوې بشري ډلې اړول په داسې يو بنسټ باندې چې له نفاق يا تېروتنې څخه معصوم وي، پخپله لـه قـرآني تګـلارې څخه وتل دي، ځکه قران انسان ته د داسې يو موجود په توګه خطـاب کـوي چـې د الله پـه وړانـدې مسؤل دی، نه د داسې يو مورثي خلف په توګه چې ورته د ژغورنې تضمين ورکول شوی.

له همدې ځايه، د اسلامي خطاب نوي کول (تجديد) تر هغه وخته صـادقانه نشي ـ کېـدای ترڅـو چې پخپله له قرآن سره د اړيکې له ازادولو را پيل نشي. قرآن داسې يو کتاب نـه دی چـې د مـوروثي اثارو د ښکلا او سينګار لپاره راوغوښتل شي، بلکې دا هغه تله ده چې هر څه وربانـدې تلـل کيـږي. هره فکري يا ديني پروژه چې وحې د کلتوري ميراث تابعه ګرځوي، په حقيقـت کـې زوړ نـاورين پـه نوي شکل تکراروي، که څه هم د اصلاح او نوي کولو شعارونه پورته کړي.

قرآن ته بېرته ګرځېدل کوم عاطفي شعار نه دی، بلکې د عقل او وجدان د پاکولو يوه ژوره پروسـه ده. دا له وچ په وچه ميراثي منلو څخه باشعوره منلو ته انتقال دی، د ډلې له بندګۍ څخه د الله بندګۍ ته او د خلکو له وېرې نه د حقيقت د له لاسه ورکولو تر وېرې پورې يو سفر دی. دا يو ستونزمن سفر دی؛ ځکه انسان ډېرې وخت له خپلو زولنو سره دومره عادت شي چې هغه د خپل شتون برخه ګڼـي او په فکري زندانونو کې دومره ارام وومي، چې بيا له هغې ازادۍ څخه وېرېږي کومه چې وحې يـې ورته ښيي.

الله پېژندونکو پېرۍ وړاندې دا حقيقت درک کړی و، هغه مهال دوی ويل: تر ټولـو لويـه پـرده د انسان ناپوهي نه ده، بلکې د هغه دا وهم او ګـمان دی چـې دی پـوهېږي. ځکـه څـومره ډېـر داسـې عقلونه شته چې له حفظ شويو معلوماتو ډک دي، خو د بصـيرت لـه رڼـا لـرې دي او څـومره ډېـرې داسې ژبې شته چې د دين په اړه ډېرې خبرې کوي، اما زړه يې بيا هم تر اوسه لـه الله سره د صـداقت خوند نه دی څکلی.

نفاق د خپل جوهر له مخې:

- يوازې يو اخلاقي تضاد نه دی، بلکې د انسان د ظاهر او باطن ترمنځ جلاوالی دی،
- د هغه د ژبې او زړه ترمنځ،

- او د هغه د ادعا او اصلي تگلوري ترمنځ جلاوالی دی. له همدې امله قرآن د ناروغۍ د نښو پر ځای د هغې د ريښو درملنه کوله؛
- درملنه يې کوله د:
- وېرې،
- طمعې و حرص،
- کبر و غرور،
- په خلکو پورې د زړه تړلو،
- او نفسياتي خواهشاتو ته د تسليمېدو، ځکه دا هغه خاوره ده چې نفاق پکې راشين کيږي.

امت نن ورځ بيخي ډېره داسې ارامې او ژورې لوستنې ته اړتيا لري چې قرآن ته د مذهبي غوغا، قبيلوي جګړو او تنګو وفاداريو څخه لرې خپل مرکزي ځای بېرته ورکړي. څومره ډېر دي هغه کسان چې د اسلام په نوم خبرې کوي او څومره لږ داسې کسان چې قرآن ته اجازه ورکوي ترڅو د دوی موروثي باورونه وننګوي او د دوی روحونه له نوي سره جوړ کړي.

رښتينی ځېرونکی له حقيقت څخه نه وېرېږي، که څه هم هغه د ده په داخل کې د زړو تصوراتو يوه بشپړه نړۍ ونړوي. ځکه د هغه هدف د ځان بريا نه ده، بلکې د هدايت بريا ده. خو هغه څوک چې پر وحې شرط ږدي چې د هغه ميراث، ډلې يا ذهني تصوير ته زيان ونه رسوي، هغه لا د رښتيا منلو مقام ته نه دی ننوتی، بلکې لا هم له حقيقت سره د منلو پر شرطونو معامله کوي.

په پای کې: نفاق ــ لکه څنګه چې قرآن يې انځوروي ــ يوه داسې تاريخي پېښه نه ده چې پای ته رسېدلې وي او نه هم کومه محدوده بشري ډله ده، بلکې يو داسې بشري استعداد او قابليت دی چې هر کله هم رښتينولي ورکه شي او نفسياتي خواهشات را دبره شي، کله چې تعصب پر حقيقت مقدم شي او دين د هدايت د لارې پر ځای د نفوذ و قدرت په وسيله بدل شي، نو نفاق بيا تکراريږي.

له همدې امله، قرآن ته بېرته ګرځېدل یوازې یو فکري ضرورت نه، بلکې یو وجودي ضرورت دی؛ داسې بېرته ګرځېدل چې تر عقل وړاندې زړه پاک کړي، لومړیتوبونه له نوي سره تنظیم کړي او انسان د انځورونو، نومونو او شعارونو له بندګۍ څخه ازاد کړي، ترڅو د الله د کلام په وړاندې په داسې حال کې ودریږي چې یوازې د هدایت له لټون پرته نور له هر څه خالي وي.

بس له الله تعالی څخه غواړو چې د ده لوري ته د رښتینې پاملرنې توفیق موږ ته راکړي، زموږ له زړونو څخه د پټ نفاق غوښتنې وباسي، لوی قرآن زموږ د سترګو او بصیرتونو رڼا وګرځوي، موږ ته د حق د پلټلو داسې جرئت راکړي که څه هم له مألوف او مروج دود سره مخالف وي، داسې رحمت مو په برخه کړي چې موږ له کبر څخه وساتي، هغه بصیرت راکړي چې د وحې د رڼا او د جعلکارۍ د تیارو ترمنځ توپیر وکړي، یقینا له هغه سره د دې کار واک شته او ورباندې قادر دی.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين!

**حموده محمد محمد #بورسعيد_مصر**

## قرآن، عقل او شتون: د الهي حکمت په اړه تأملات

بسم الله الرحمن الرحیم

د انسان رښتینی ناورین د علم په لږوالي کې نه دی، بلکې په دې ګمان کې دی چې هغه پوهېږي؛ حال دا چې دی لا هم د داسې کالبونو او چوکاټونو اسیر دی چې د عقل په رڼا او د وحې په تله لـه ازمویلو پرته یې په میراث وړي دي. څومره ډېر دي هغه عقلونه چې د یادو شویو معلوماتو زیرمې یې تل ډکې وي، خو له حکمت څخه بې برخې دي، څومره ډېرې داسې ژبې شـته چې د دیـن پـه اړه ډېرې خبرې کوي، اما زړه یې لا تر اوسه د هغه رښتیني هدایت خونـد نـه دی څکلـی چې انسـان د بندګانو له مریيتوب څخه د حق د لټون ازادۍ ته راباسي.

حکمت کوم فکري سینګار او رنګ و روغن نه دی، نه هم په بحثونو کې د جنجال او د دښـمنانو پر وړاندې د بریا وړتیا ده، بلکې دا یوه داسې رڼا ده چې الله یې په زړه کې اچوي، نو انسـان شـیان د هغو په رښتینې بڼهویني، کاینات د عادت په سترګه نه، بلکې د بصیرت په سترګه لولي. له همدې امله الله تعالی فرمایي:

﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ﴾ [البقرة: ۲٦۹] (هغه چې چا ته وغواړي حکمت ورکوي او چا ته چې حکمت ورکړل شو، نو یقیناً هغه ته ډېر خیر ورکړل شو او یوازې د عقل خاوندان پند مني.)

دې هېښوونکې قرآني اصطلاح او بیان ته ځیر شه :﴿خَيْرًا كَثِيرًا﴾ (ډېر خیر.)

دا یې ونه ویل چې: "ډېر علم" او نه یې وویل چې "ډېر معلومات"، بلکې ویې فرمایل: "ډېر خیر". ځکه حکمت د معرفت ډېروالی نه دی، بلکې د لید لوري ښکلا، د فهم رښتینولي او د پدېدو تر شا د

موخو د درک کولو وړتیا ده، د پیښو تر شا د ماناګانو او د هغې رڼا درک کول دي چې کله ناکله د درد تر شا پټه وي.

له همدې ځایه، د حکمت یو رښتیني څېړونکی او پلټونکی باید خپل سفر د انسانانو له ویناوو څخه پیل نه کړي، که څه هم د هغوی نومونه لوړ وي، بلکې هغه باید له قرآن څخه پیل وکړي؛ له هغې صافې لومړنۍ چینې څخه چې د پېړیو خواهشات ورسره نه دي ګډ شوي، مذهبي تعصبونو ورسره لوبې نه دي کړي او سیاست خپل دړانده کالي پرې نه دي اغوستي.

قرآن د وچو او جامدو مراسمو کتاب نه دی، نه هم یوازې د تاریخ کتاب دی، بلکې دا داسې کتاب دی چې غواړي انساني عقل راویښ کړي او زړه له وېرې، تقلید او ړانده تبعیت څخه ازاد کړي. دا داسې کتاب دی چې انسان ته ښيي چې څنګه فکر وکړي، نه دا چې څه شی تکرار کړي.

له همدې امله، تر ټولو لوی بحران چې پر امت راغی، د دینداری لړوالی نه و، بلکې بحران دا و، چې د دین یوه ژوندۍ وحې یې په یوه جامد میراث بدله کړه او دې ته یې د دین نوم ور کړ. همدغه ډول د عقل او بصیرت د خوځښت ځای یې د اقوالو، روایتونو او نومونو تقدس ته ور کړ. آن تر دې پورې کیسه ورسېده چې د الله په کتاب کې د تدبر پر ځای ډېری خلکو د هغو شیانو ستاینه او تقدیس پیل کړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفات یوه نیمه پېړۍ وروسته لیکل شوي وو.

دلته یوې ارامې او عادلانه وقفې ته اړتیا ده!

موخه د انسانانو سپکاوی یا د ټول کلتوري میراث سپک ګڼل نه دي، ځکه انسانان سم کار هم کوي او تېروتنه هم، په هغو کې رښتیني او مجتهد کسان شته. مګر ناورین له هغه ځایه پیلېږي کله چې د خلکو خبرې پر قرآن باندې په یو حاکم ځواک بدلې شي، یا کله چې کلتوري میراث د انسان او د وحې د ازاد او مستقیم تدبر ترمنځ یو خنډ وګرځي.

قرآن د دې لپاره نه دی نازل شوی چې د مذهب په سترګه ولوستل شي، بلکې د دې لپاره نازل شوی چې پخپله تله وي ترڅو ټول مذهبونه، افکار او تصورات ورباندې وتلل شي.

که مسلمانان په پاکو عقلونو او رښتنو زړونو سره قرآن ته بېرته ورگرځېدلي وای، نو په هغه کې به يې داسې حکمت موندلی وای چې انسان له دننه څخه بيا ځلي جوړوي، نه دا چې يوازې بهرني شعارونه بدل کړي.

دا ټول کاينات پر حکمت باندې ولاړ دي.

او د الله په خلقت کې هيڅ بې ځايه (عبث) شی نشته.

انسان ممکن گډوډي په خپلو محدودو سترگو وگوري، مگر دی د هغه ژور نظام له ليدو څخه عاجز دی چې د پردې تر شا پر شيانو واکمني کوي. له همدې امله د حکمت په اړه ناپوهي انسان مجبوروي چې کاينات عبث او بې گټې وبولي، په داسې حال کې چې بصيرت دا روښانه کوي چې د هر څه تر شا يوه مانا شته، د هرې پېښې تر شا يو پيغام دی، او د هر درد تر شا د پوهې يوه پټه دروازه ده.

تر دې چې ناروغی، ازمويني/ابتلاوې، ماتې، کمزوري، ناکامي او پخپله مړينه... د الهي حکمت په تله کې عبث او بې ځايه نه دي.

ځکه انسان ډېری وخت له خپل درد څخه ډېر څه زده کوي، نسبت هغه ته چې له خپلې هوساينې يې زده کړي، د هغه له ماتې يو داسې نوی شعور زېږېدلی شي چې د هوساينې او ارامۍ اوږدو کلونو به نه و جوړ کړی.

حکمت تل د پېښې په هماغه شېبه کې نه درک کيږي، بلکې انسان ممکن ټول عمر ته اړتيا ولري ترڅو پر دې پوه شي چې ولې له يوې ځانگړې تجربې څخه تېر شو او ولې د هغه څه په ترلاسه کولو کې ځنډ راغی چې ده ورته د خير گمان کاوه، ولې ورته ځينې دروازې پرانيستل شوې او ځينې نورې وتړل شوې.

له همدې امله: «ډېری وخت يو ځنډ او محروميت پخپله ورکړه وي او ډېری وخت يو مصيبت د ژغورنې دروازه وي.»

مگر دغه حکمت ته رسېدل داسې عقل ته اړتیا لري چې له شور او غوغا څخه ازاد وي او داسې زړه غواړي چې د ډلې (ټولنې) بندګي نه کوي او له پوښتنې کولو څخه نه وېرېږي.

له همدې ځایه، د رښا لومړۍ لاره دا ده چې انسان پخپله قرآن ته بېرته ورګرځي، د داسې یو کتاب په توګه نه چې یوازې د برکت لپاره تلاوت کیږي، بلکې د داسې یوې بشپړې پروژې په توګه چې شعور او آګاهي ازادوي.

او تر ټولو غوره ځانګړنه چې قرآن یې لري، دا ده چې هغه د خپل ځان تفسیر پخپله کوي.

قرآني کلمه له یو واحد ایت څخه نه درک کیږي، بلکې د هغې له ټول سیاق او د ځایونو له مجموعې څخه فهمول کیږي، چې کلمه پکې راغلې ده. قرآن مانا په یو مدغم او بشپړ شوي ډول جوړوي، نه د یوئ قاموسي مانا او وچ تعریف په توګه.

نو که یو څېړونکی وغواړي د بېلګې په توګه د "ظلم"، "ایمان"، "کفر"، "صلات" یا "تقوی" په مانا پوه شي، هغه ته پکار ده چې ټول ایتونه راټول کړي او وګوري چې کلمه د جلا ـ جلا سیاقونو او د جملو په منځ کې څنګه حرکت کوي، نه دا چې یوازې په هغه موروثي تعریف باندې بسنه وکړي چې په یو ځانګړي مذهبي یا تاریخي چاپیریال کې جوړ شوی وي.

دغه راز، د کلمې فهم هله ډېر روښانه کیږي کله چې انسان د هغې ضد (عکس) ته وګوري؛ ځکه شیان په خپلو ضدونو سره ښکاره کیږي. شپه د ورځې مانا روښانه کوي، عدالت د ظلم مانا افشا کوي او رحم د قساوت و زړه وورتوب مانا ښکاره کوي.

دا طریقه کومه فکري عیاشي او ساعت تېری نه دی، بلکې پخپله د قرآني تګلارې یوه برخه ده؛ ځکه قرآن ډېری وخت حق د هغه د نقیض (ضد) په یادولو سره بیانوي او رڼا د تیارې په ښودلو سره روښانه کوي.

مگر ستونزه دا ده چې ډېرى خلكو له قرآن سره دا ژوندى سفر پرېښى دى او د دې بدل كې يې پر هغو شيانو بشپړ تكيه كړې ده چې پخوانيو كسانو ويلي دي، آن تر دې چې ځينې يې له ازاد تـدبر څخه دومره ډارېږي چې له جهل و ناپوهۍ څخه هومره نه وېرېږي.

مذهبونه او ډلې د ډېرو خلكو په وړاندې په داسې هويتونو بدل شوي چې دروازې يې تړلې دي او له ډلې سره تړاو پر حقيقت باندې مقدم شوى دى. دلته عقل مړاوي كېدل پيلوي، ځكه حكمت پـه هغه زړه كې نه اوسي چې د تقليد غلام وي.

د دې خبرې مانا دا نه ده چې انسان د خلكو ټولې خبرې رد كړي، بلكې مانا يې دا ده چې قـرآن بايد اصلي بنسټ پاتې شي، عقل بېدار وي او نفس د خپلو افكارو بيا كتنې ته چمتو وي، هغـه مهـال چې ورته روښانه رڼا او رښتينى برهان ښكاره شي.

لومړنى اسلام د روحاني پيشوايۍ دين نه و او نه هـم د درنـو فكـري واسـطو ديـن و، بلكـې هغـه عقل، وجدان او فطرت ته يو مستقيم دعوت و.

او قرآن انسان ته داسې خطاب كاوه: (**أفلا تعقلون؟**) ايا تاسو عقل نه كاروئ؟ (**أفـلا تتفكـرون؟**) ايا تاسو فكر نه كوئ؟ (**أفلا يتدبـرون؟**) ايا دوى تدبر نه كوي؟

لكه وحې چې غواړي انسان كې د حقيقت په وړاندې د هغه فردي مسؤليت راويښ كـړي، نـه دا چې هغه د ډلې (ټولنې) يو تكراري نسخه وگرځوي.

امت د ديني چيغو او فريادونو په ډېروالي نه راپورته كيـږي، بلكـې د عقـل، وجـدان او شـعور پـه پاڅون سره راپورته كيږي. امت به خپله انسانيت بېرته ترلاسه نه كړي، ترڅو له خرافـاتو، تعصـب او د كلتوري ميراث له لمانځنې څخه لرې، شفافه اړيكه له قرآن سره بېرته جوړه نه كړي.

ځكه قرآن د تېر وخت كتاب نه دى، بلكې د هر وخت د انسان كتاب دى.

او هر څومره چې انسان په رښتینولۍ او پاک زړه سره قرآن ته نـږدې کیـږي، دا ورتـه څرګنـدیږي چې حکمت په اسمان کې کوم لرې شی نه دی، بلکې یو داسې رڼا ده چې لومړی د هغه پـه داخـل کې بلیږي او بیا د ژوند، خلکو او ټولو کایناتو په اړه د هغه په لید لوري کې منعکسیږي.

په پای کې...

ای د حقیقت پلټونکیه: د ځان او قرآن ترمنځ د نومونو، موروثي شیانو او پخوانیو جګړو دېوال مه جوړوه.

قرآن داسې لوله لکه دا چې لومړی ځل وي چې ته يې اورې.

هغه ته په داسې زړه ننوځه چې له کبر څخه خالي وي، داسې عقل ولره چې زده کـړې تـه چمتـو وي او داسې روح وساته چې د رڼا تږی وي.

که دې په قرآن کې حکمت ومونډ، نو د نفس، کائناتو او ژوند کیلۍ دې ومونډلې.

او که حکمت درکړل شو، نو یقیناً چې تاته ــ رښتیا هم ــ ډېر خېر درکړل شوی دی.

**حموده محمد محمد #بورسعید_مصر**

## الزانية و الزاني په عربي ژبه کې

### له دودیز فقهي چوکاټ څخه بهر يوه دلالتي/مفهومي شننه

څه وخت چې دغه ايت لولو:

{الزانية والزاني فاجلدوا كلَّ واحدٍ منهما مئة جلدة} [النور: ۲] (زناکارې ښځې او زناکار سړي، نو له دوی دواړو څخه هر يو سل دُرې ووهئ.)

د موروثي فقهي شعور له مخې د انسان عقل سمدستي د يوې تنګې جنسي اړيکې د مانا لوري ته ځي او بيا د هغه بدني عقوبت انځور ته متوجه کيږي چې د فقهې او تفسير په کتابونو کې پېژندل بيان شوی دی. مګر پخپله عربي ژبې (لسان) ته بېرته ګرځېدل او د متن له دننه څخه د هغه د لوستلو هڅه ــ نه د هغه تاريخ له لارې چې د متن پر شاوخوا راټول شوی دی ــ به دا درته څرګنده کړي چې موضوع تر يوه ساده جنسي عمل يا بدني سزا ډېره ژوره ده.

ځکه قرآن د يوې تېرېدونکې پېښې يا د داسې يوه ځانګړي عمل په اړه خبرې نه دي کړې چې د کمزورۍ مهال رامنځته شوی وي، بلکې د اسم فاعل (کونکي) صيغه يې کارولې ده او فرمايي:

"الزانية والزاني"

او له همدې ځايه، لساني (ژبنی) دلالت په بشپړ ډول يو بل لور ته حرکت پيلوي.

### په عربي ژبه کې اسم فاعل يو تېرېدونکی عمل نه وي

د عربي ژبې په جوړښت کې د دغو دوو حالتونو ترمنځ روښانه توپير شته : هغه څوک چې يو عمل ځنې يوازې يو ځل وشي، له هغه چا سره توپير لري چې هغه صفت پکې مستقر او دايمي شي.

نو چا چې یو ځل درواغ وویل، هغه ته "كذاب" (ډېر درواغجن) نه ویل کیږي او چا چې یو ځل غلا وکړه، بیا هم حتمي نه ده چې هغه ته "سارق" (غل) وویل شي، کټ مټ لکه چا چې یوه جمله ولیکله، هغه ته "کاتب" (لیکوال) نه ویل کیږي. بلکې اسم فاعل هغه وخت کارول کیږي کله چې یو عمل په یو پرله پسې سلوک (عادت) یا انسان کې په یو مستقر او ښکاره حالت بدل شي.

له همدې امله، "الزاني" او "الزانية" ــ د ژبني جوړښت په اډانه کې ــ پر داسې یو چا دلالت نه کوي چې په یو ځل تېروتنه یې موضوع پای ته رسولې وي، بلکې پر داسې یو چا دلالت کوي چې فحشا او بدکاري د هغه د ښکاره او پرله پسې سلوك برخه گرځېدلې وي، یا په یو داسې ټولنیز حالت بدله شوې وي چې هغه ورباندې پېژندل کیږي.

انسان ته تاجر (سوداگر) نه ویل کیږي، کله چې هغه یو ځل یو شی وپلوري او نه ورته نجار (ترکاڼ) ویل کیږي، هغه مهال چې دی یو ځل مېخ ټک وهي، بلکې دا نومونه هله ورکول کیږي کله چې دا عمل یو پرله پسې ریاضت او ښکاره هویت شي.

له همدې ځایه، متن د یوې پېښې فردي ښویدنې په اړه خبرې نه کوي، بلکې د یوې پرله پسې او علني ټولنیزې پدیدې په اړه غږیږي.

**د الفاظو د دلالت په رڼا کې د زنا مفهوم**

که موږ پخپله اصلي ریښې ته لاړ شو چې: (زَ نَ) ده، د سامر اسلامبولي د غږونو د ماناگانو له تگلارې سره سم، نو مانا یې له تنگ جنسي انحصار څخه وځي او د یوې پراخې ساحې لوري ته ځي، چې په ټولنه کې د فساد د خپرېدو له طریقې سره تړاو لري.

د (زي/ز) توری ــ په دغې تگلاره کې ــ پر پیوسته و پرله پسې بروز (راوتلو) او غځېدلي ظهور باندې دلالت کوي. یانې عامه مېدان ته د یو شي راوتل، د خپل شتون او بقا د تپلو لپاره د هغه هڅه.

مگر د (نون/ن) توری پر پټوالي، اخفاء او د پردو تر شا کار کولو باندې دلالت کوي . یانې هغه حرکت چې تر سطحې لاندې کار کوي یا په داسې مېکانیزمونو حرکت کوي چې په بشپړ ډول ښکاره نه وي.

او کله چې دا دواړه توري سره یوځای شي، یو مرکب او ګډ دلالت رامنځته کیږي: د داسې یو شي پرله پسې راوتل او ښکاره کېدل چې اصلا پټ ترسره کېږي.

له همدې ځایه "زنا" یوازې یو بدني اتصال او یوځای کېدل نه پاتې کیږي، بلکې په دې لاندېنۍ پروسه بدلیږي : فحشا یا فساد، چې اصلا په یوه پېچلې، پټه یا پوښل شوې بڼه تر سره شي، د ظهور او انتشار زمینه برابرول یا ارادي یې ښکاره کول.

نو زناکار (الزاني) ــ د دغه فهم پر بنسټ ــ یوازې هغه څوک نه دی چې فحشا ترسره کوي، بلکې: هغه څوک دی چې فحشا عامه مېدان ته ټېل وهي، په ټولنه کې د هغې پر خپرولو او د زیاتېدونکي شتون پر تپلو ټینګار کوي.

**زناکار د فحشا د خپروونکي په توګه**

کله چې موږ د کلمې ریښې ته په دومره عمق وګورو، نو دا روښانه کیږي چې د "زناکار" مفهوم تر مروجې مانا خورا پراخ دی.

د بېلګې په توګه، د نشه یي توکو پلورونکی: خپل مال او بضاعت په دوامداره توګه راباسي او ښکاره کوي یې، د خلکو ترمنځ د هغو د خپرولو هڅه کوي، د دې لپاره د وجود دایمي بستر غوړوي، مګر هغه ډېری وخت له سترګو پټ کار کوي او له رنګارنګو پلمو، پټو شبکو او پېچلو تبلیغاتو څخه ګټه اخلي.

دی په حقیقت کې فساد د پټو اوزارو له لارې ښکاره کوي. نو دا کټ مټ د حرفي حرکت له ریښې سره اړخ لګوي:

پرله پسې بروز او راوتل (ز)

د پټوالي او اخفاء په حالت کې (ن)

او همدغه ډول؛

د فحشا او عياشۍ ډنډورچی، د منحرفې او خرابې محتوا خپروونکی، هغه څوک چې بدن په يو جنس او سودا بدلوي، هغه څوک چې روږدي توب او اعتياد ته تبليغ کوي، هغه څوک چې اطلاعاتي او رسنيز فساد په يوه نرمه او تکراري بڼه تحميلوي او هغه څوک چې ټولنه تر روښانه او جذابو سرليکونو لاندې د اخلاقي انحلال او زوال لوري ته بيايي.

دا ټول کسان په ژبني (لساني) مفهوم يو ډول "زنا" ترسره کوي؛ ځکه هغوی : فحشا ته په ټولنه کې دايمي حضور ور بخښي، په داسې حال کې چې زنا په پټچلې بڼه پوښي او تېروي يې. نو زنا دلته يوازې په جنسي عمل پورې محدوده نه ده، بلکې عامه مېدان ته د فساد د ټېل وهلو پرله پسې ټينگار، زنا ده، تر دې چې هغه يو عادي او مروج شی وگرځي.

**ولې د "جلد" (دُرې وهلو) کلمه راغلې ده؟**

که مونږ په دې پوه شو چې موضوع د ټولنيز فساد له يوې پديدې سره تړاو لري، نه له يوې تېرېدونکې او فردي تېروتنې سره، نو د "جلد" مانا په بشپړ ډول بدليږي.

اصلي ريښه چې (ج ل د) ده ـ د ژبې/لسان په فلسفه کې ـــ د مادي وهلو او ډبولو پر شاوخوا نه راڅرخي، بلکې شدت، اغېز، مخنيوی، سختي او د داسې يو ښکاره بدلون د رامنځته کول را نغاړي چې دا حالت ودروي.

د (جيم/ج) توری پر درنه او سخته درملنې (معالجې) دلالت کوي، د (لام/ل) توری پر استمرار او اتصال دلالت کوي او د (دال/د) توری پر هغه پرېکنده دفع او ټېل وهلو دلالت کوي چې يو حالت پای ته رسوي يا د يو چا د يرغل مخه نيسي.

له همدې ځايه د "جلد" مانا دا کيږي: د داسې يو سخت او پرله پسې مخنيوي کونکي اغېز شتون، چې د فساد د خپرېدو مخه ونيسي او په ټولنه کې د هغه د غځېدا مخه ډب کړي. له همدې امله

پخپله دغه ريښه له لاندېنيو ماناګانو سره تړاو لري: جلد ښکاره غلاف او څرمنه، تجلّد (صبر و زغـم) او هغه کلکوالی و صلابت چې له سختۍ څخه پيدا کيږي.

يانې: يوه داسې کلکه او جدي معالجه چې يو روښانه اغېز رامنځته کړي او د پديدې د دوام مخه ونيسي.

**مګر د "مئة جلدة" (سل جلدې/دُرې) مانا څه ده؟**

د همدې فهم په تداوم، "سل درې" يوازې د بدني وهلو د ضرباتو شمېرل نه دي، بلکې د دې بل تعبير دی چې: د مخنيوي او سزا کچه خپل تر ټولو لوړ حد ته ورسيږي، يو بشپړ او روښانه اغېـز پـه لار راشي، څو دا پديده په پرېکنده توګه ودرول شي.

نو دلته شميره (عدد) پر کمال دلالت کوي، نه يوازې د چلاخې/دُرې پر ميخانيکي حرکت باندې.

**عقوبت او سزا د ټولنې د خونديتوب په توګه**

ميراثي او دوديز لوست سزا بدني تعذيب او شکنجې ته نژدې کړې ده، په داسـې حـال کـې چـې لساني او ژبنی لوست يې يو داسې اقدام بولي چې ټولنه له داسې حالت څخه وساتي ترڅو فحشـا پـه يو عمومي کلتور بدله نشي.

نو قرآن ــ د دغه فهم له مخې ــ د پټو فردي تېروتنو په پلونو پسې نه ځي، بلکې له علني او ښکاره پديدو، منظم فساد او له هغه سلوك سره مقابله کوي چې پر ټولنيز جوړښت باندې په تېري کـوونکي بدل شي. او له همدې امله يې دا توري کارولي دي: الزاني (زناکار سړی)، والزانيـة (زناکـاره ښـځه)، والجلد (جلد کول/سخت اثر پرېښودل).

يانې داسې ځانګړنې دي چې ښيي دا يو مستقر او دايمـي حالـت دی، دوامـداره فسـاد دی او ور سره خوا کې درملنې په ګوته يې د مخنيو هغه بنه وړانديزوي چې د هغه د خپرېدو مخه نيسي.

**د ليد لوري خلاصه**

د عربي ژبې د فلسفې په اډانه کې، "زناکار" یوازې هغه څوک نه دی چې یو جنسي- عمل یې ترسره کړی وي، بلکې: هر هغه څوک دی چې دنده یې په ټولنه کې د فحشا او بدکارۍ ظهور او د نشر و اشاعت زمینه برابروول وي، دا کار که د بدن له لارې وي، یا د مال، یا د میډیا او رسنیو، یا هم د اعتیاد او روږدي توب، یا د پرله پسې فساد د بل هر ډول نورو انځورونو له لارې.

او "جلد" حتمي د بدن وهل نه دي، بلکې: یو داسې سخت او اغېزناك مخه نیونکی اقدام دی چې یو ښکاره اثر پرېږدي، د فساد تداوم ودروي او د هغه خپرېدل راګیر کړي.

او په دې توګه، دا ایت د هغو ځواکونو او قوتونو څخه د ټولنې د خوندیتوب لپاره یو متن ګرځي چې د اخلاقي انحلال او خرابۍ پر خپرولو ټینګار کوي، نه د داسې یو متن په توګه چې د عابري او تېرېدونکو فردي تېروتنو په پلونو پسې وي.

عبد الله اسلامبولي

# څنګه الله لوی وګڼم؟

الهي وينا ده:

﴿لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ﴾ [الحج: ٣٧] [د دغو (قربانيو) نه غوښې الله ته رسيږي او نـه د هغـو وينـې، خـو هغـه تـه ستاسو تقوی رسيږي؛ دغسې هغه دا ستاسو لپاره تابع کړي دي ترڅو تاسو د الله لويي ووایاست (هغـه لوی وګڼئ) د هغه څه له کبله چې ده درته هدايت کړی.)

دا ايت د داسې يو شعار او عبادت په اړه خبرې نه کوي چې په يوه شېبه کـې مصرف او پـای تـه ورسيږي او نه د داسې الفاظو په اړه غږيږي چې له ويلو سره ختم شي، بلکې د يو داسې ژور داخـلي حرکت په اړه غږيږي چې په هغه کې انسان د ادراک له سطحې څخـه د شـعور او اګـاهۍ پراختيـا تـه انتقاليږي. دا ايت په خپل دقيق جوړښت کې د شعار او قربانۍ موخه غوښه، وينه يـا بهرنـی عمـل نـه ګرځوي، بلکې هغه د الله او کايناتو په اړه د انسان ليد لوري ته نوی شکل ور کول يې موخه ده.

تر ټولو لومړی کار چې دا ايت يې کوي، هغه دا ده چې له الله سره اړيکه د مادي شيانو له اغېـزې خلاصه کړي:

﴿لن ينال الله لحومها ولا دماؤها﴾

ځکه الله ته شيان نه رسيږي، نه قربانۍ په هغـه کـې څـه زيـاتوالی راولي او نـه ورتـه د دودونـو او مناسکو طعام او خوراک رسيږي؛ له دې امله چې مطلق (ذات) هغه څه ته اړتيـا نـه لـري چـې تـر ده ټيټ او کښته وي. دلته هغه لومړنی (بدوي) تصور رانسکوريږي چې دين ته د انسان او خدای تـرمنځ د يوې مادي راکړې ورکړې په سترګه ګوري. نو نه وينه پورته خپريږي، نه غوښه رسيږي او نه پخپلـه ظاهري حرکتونه کوم خپلواک ارزښت لري. هغه څه چې "رسيږي" هغه دا دي:

﴿التقوى منكم﴾

او دلته تقوی کومه وچه او ساده وېره نه ده، بلکې د داخلي بېدارۍ او ويښتابه يو حالت دی چې انسان د حق په وړاندې ډېر حساس کوي، هدايت منلو ته يې پوره چمتو کوي او د مادې تر شا د ليدلو وړتيا ورکوي.

بيا هغه جمله راځي چې اصلي او ريښتينې موخه افشا کوي:

﴿لتكبروا الله على ما هداكم﴾

دلته که دغه مانا يوازې د «الله أکبر» د جملې په تلفظ کولو کې راخلاصه او محدوده کړای شي، نو مانا يې په بشپړ ډول ورکيږي. ځکه قرآني متن تر دې خورا ژور دی چې دغسې پراختيا لرونکی عمل په يوه تېرېدونکي غبر کې را ايسار کړي. پخپله دا فعل (كبّر) يو متنامي او داسې خوځنده دلالت لري چې په پرله پسې ډول وده کوي؛ په عربي لسان کې "كبّر" يوازې د دې اعلان نه دی چې يو شی لوی دی، بلکې دا مانا لري چې د هغه لوی والی درک شي، په شعوري توگه يې پراخوالی وفهمول شي او شېبه په شېبه د هغه شتون ستر او دايمي کړای شي.

## تکبير (لوی گڼل) کومه ثابته نقطه نه ده، بلکې يو مسير او لاره ده

انسان داسې نه پيدا کيږي چې د الله له عظمت څخه بشپړ او پوره ادراک ولري، بلکې دا ادراک د هغه په داخل کې په تدريجي ډول وده کوي. او هر نوی هدايت په داسې حال کې رامنځته کيږي چې د هغه په شعور کې د الله تصوير پراخ، ژور او خورا حاضر گرځوي. له همدې امله دا تعبير راغلی دی:

﴿على ما هداكم﴾

يانې پخپله هدايت هغه څه دی چې د انسان ادراک ته وسعت ورکوي او الله د هغه په داخلي نړۍ کې "أكبر" (تر ټولو لوی) گرځوي.

نو تکبیر په دغه مفهوم، د یوې جملې تکرارول نه دي، بلکې د لید لوري پراخوالی دی. دا چې انسان د الله په اړه له یوې سطحي پوهې څخه یوې ژورې پوهې ته انتقال شي، او له یوه محدود تصور څخه داسې یوه افق ته ولاړ شي چې پای نه لري. هر کله چې ورته د حقیقت یوه نوې طبقه او پاڼه ښکاره شي، نو له هغه پرته نور هر څه د هغه په سترګو کې وړېږي او الله د هغه په زړه، عقل او وجود کې نور هم لوی (اکبر) کیږي.

او دلته د تعظیم او لویوالي منل یو پایله ګرځي، نه یو پیل؛ ځکه تعظیم د تکبیر وروستی مآل او پایله ده، نه د هغه مستقیمه او لومړنۍ مانا. له دې کبله ته نشې کولای د هغه څه تعظیم وکړې چې لومړی ستا په ادراک کې نه وي لوی شوي او وده یې نه وي کړې. یو شی ستا په وړاندې هومره عظیم او لوی کیږي، په کومه کچه چې ستا فهم د هغه لپاره پراخیږي. او له همدې امله د "الله تکبیر ویل" پخپله د الله په اړه د شعور او آګاهۍ د پراخولو یوه دوامداره پروسه ده، تر دې چې انسان داسې یوه حالت ته ورسیږي چې په هغه کې له ده پرته هر څه واړه، تېرېدونکي او محدود ویني.

له همدې ځایه موږ په دې پوهېږو چې ولې ایت تکبیر له هدایت سره تړلی دی، نه پخپله له ذبحې سره. ځکه ذبحه کول پخپله مقصود نه دی، بلکې هغه ادراک مقصود دی چې دا ذبحه یې پرانیزي. شعار او دغه مذهبي نښه کومه وروستۍ موخه نه ده، بلکې یو داسې اوزار دي چې انسان له خپل سستوالي او سطحي توب څخه راویښوي او هغه مجبوروي ترڅو له مادې څخه د مانا لوري ته تېر شي.

انسان په لومړیو کې نړۍ له لویو شیانو ډکه ویني: مال ورته لوی ښکاري، وېره ورته لویه ښکاري، واک او قدرت ورته لوی ښکاري، غوښتنې ورته لویې ښکاري او د ځان تصویر ورته لوی ښکاري. مګر له هدایت سره د دغو داخلي حجمونو او اندازو په ترتیب کې بدلون پیلیږي. شیان په تدریجي ډول کوچني کیږي او الله په شعور کې په تدریجي ډول لویېږي، تر دې چې انسان داسې یو حالت ته ورسیږي چې هلته بل هیڅ شی تر حق لوړ او عظیم نه پاتې کیږي.

او دا پخپله ربښتینی تکبیر دی.

دا یو داسې غږ نه دی چې لوړ شي، بلکې یو داسې بصیرت دی چې پراخ شي. دا یو داسې شعار نه دی چې پورته کړای شي، بلکې پخپله د لید لوري په جوړښت کې یو اوښتون او تحول دی. په دې توګه چې الله ستا په ننني فهم کې تر پروني غوندې لوی وي او په سباني فهم کې تر نننـي هغه لوی شي. نو د الله په اړه هره صادقانه پوهه یو نوی تکبیر دی، له هر وهم او ګمان څخه ازادي یو نوی پراخوالی دی او هر هدایت د ادراک له تنګۍ څخه د هغه تر وسعت او پراخۍ پورې یو انتقال دی.

له همدې امله ایت د غوښې او وینې په نفي کولو سره پیل شو؛ ځکه هغه غواړي انسان له خارج څخه باطن (داخل) ته انتقال کړي، له عمل څخه مانا ته او له رواج و دود څخه شعور ته بوزي. نو ارزښت په هغه څه کې نه دی چې ته یې په خپل لاس ذبح کوې، بلکې په هغه څه کې دی چې ستا په زړه کې شنه کیږي او وده کوي. په هغې وینې کې نه دی چې پر ځمکه تویېږي، بلکې په هغه جهل او ناپوهۍ کې دی چې ستا په دننه کې ذبح کیږي، په هغه ځانپالنې او انانیت کې دی چې شاته تګ کوي او په هغه بصیرت کې دی چې لوییږي.

په پای کې، تکبیر یوازې یوه کلمه نه پاتې کیږي چې وویل شي، بلکې د مانا د پراخوالي لوري ته د انسان ټول سفر ګرځي، تر دې چې تعظیم ته ورسیږي؛ هغه تعظیم چې یوازې کلمې یې نه جوړوي، بلکې راټول شوی هدایت، پرمختللی لید لوری او هغه زړه یې جوړوي چې هره ورځ زده کوي چې څنګه الله تر هر څه لوی (أکبر) ووینې.

عبد الله اسلامبولي

# د نبوي کورنۍ (اهل بيت) او د تبرج د مفهوم په اړه ګنګوسې

الله تعالی وايي :﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ ۚ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَعْرُوفًا ○ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾.

[ الأحزاب: ۳۲-۳۳]

کله چې موږ په سورت الاحزاب کې د نبي کريم ﷺ مېرمنو ته د الله تعالی خطاب لولو، نو وينو چې دا ايتونه يوازې د جامو يا تګ راتګ په اړه د ځينو جزيي احکامو بيان نه کوي، بلکې د "نبوي کور" يو بشپړ انځور وړاندې کوي؛ د داسې يو کور په توګه چې خوندي، پاک (مطهّر) او د وحې دېوال او حصار ور باندې چاپېر دی. له همدې امله دا خطاب خورا سخت او دقيق راغلی دی؛ ځکه دا د عادي کورونو خبره نه ده، بلکې د داسې يو کور خبره ده چې پخپله د رسالت او پيغام برخه ګرځېدلی دی.

الله تعالی فرمايي :﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ﴾، نو پيل يې د هغوی د خصوصيت په اعلانولو سره وکړ؛ په دې مانا چې د هغوی دريځ کوم ځانګړی فردي دريځ نه دی، بلکې د امت لپاره د بېلګې او قدوې ځای دی.

بيا يې وفرمايل :﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ﴾ مروج او مشهور تفسير "تبرج" يوازې د بدن له ښکلا او زينت سره تړي، مګر په سياق (جملو او پس منظر) کې تدبر او غور يو خورا پراخ او ژور مفهوم پرانيزي. ځکه د "تبرج" لغوي ريښه له "البروج" (برجونو) سره تړاو لري، چې مانا يې ښکاره لوړې ودانۍ او هسکې ماڼۍ (قصرونه) دي. لکه الله تعالی چې فرمايي :﴿وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ﴾. [النساء: ۷۸.[

نو تبرج يوازې د زينت او ښکلا ښکاره کول نه دي، بلکې د ټولنيز برلاسيتوب، دبدبې، عياشۍ، لوړو ماڼيو او د ظاهري مظهرونو لوري ته تمايل او هڅه هم ده. لکه دا ايت چې غواړي ووايي: د

جاهلیت زمانه یوازې د جامو او لباس جاهلیت نه و، بلکې په برجونو، ځان ښودنې، شتمنۍ او د حزبي و طبقاتي لوړوالي د فخر او ویاړ جاهلیت هم و.

له همدې ځایه، د ایت مانا په ډېر ښه او حېرانونکي ډول سره ښښلي او تر منځ یې تړاو پیدا کیږي: ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ﴾ یانې د دغه ساده او ارام کور په مقام کې ثابتې پاتې شئ، چې د رسالت، وقار او د زهد کور دی. ﴿وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى﴾ یانې د برجونو، عیاشۍ او ځان ښودنې هغه کلتور ته مه ښوېږئ چې د جاهلي ټولنو ځانګړنه او نښه وه.

له همدې امله سمدستي تر دې وروسته د الله تعالی دا فرمان راځي: ﴿قُل لِّأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ○ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ﴾ [الأحزاب: ۲۸-۲۹.]

قرآن دلته د دوو لارو ترمنځ یو روښانه انتخاب ږدي: یا د دنیا د ژوند او د هغه د زینت لاره؛ چې مانا یې په ظاهري مظهر، برجونو او عیاشۍ کې پراختیا او غرقېدل دي . یا د الله، د هغه د رسول او د اخرت د کور لاره؛ چې مانا یې سادګي، رسالت او وقار دی.

نبي کریم ﷺ هغوی په کور کې پر پاتې کېدو باندې مجبورې نه کړې، بلکې هغوی ته یې د غوره کولو بشپړه ازادي ورکړه: چا چې دنیا غوښته، د هغې لپاره متاع او ښه رخصتېدل (طلاق) شته او چا چې الله او د هغه رسول غوره کړل، هغه په دغه پاک او مطهر کور کې پاتې شوه.

بیا د تطهیر (پاکوالي) ایت راغی: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ .

نو د نبي کریم کور یوازې د اوسېدو یو ځای نه دی، بلکې داسې یو خوندي فضا ده چې د جاهلیت له هر ډول ناپاکۍ (رجس) څخه ژغورل شوې ده؛ که هغه د شهوت ناپاکي وي، که د عیاشۍ او که د سیاسي و ټولنیزو شخړو ناپاکي وي.

له همدې امله قرآن پخپله پر مؤمنانو باندې هم د نبي کـریم ﷺ د کـور پـه معاملـه کـې سـخت شرایط کېښودل:

- تر ننوتلو وړاندې اجازه غوښتل.
- د کور شخصي او پټو چارو ته سترګې نه اړول.
- نبي کریم ﷺ ته پام او ازار نه رسول.
- د مؤمنانو له میندو (أمهات المؤمنین) سره د پردې تر شا خبرې کول .

ګواکې الله تعالی د نبوي کور پر شـاوخوا د ایتونـو یـو دېـوال درولـی دی، ترڅـو د هغـه حرمت له ماتېدو او اختراق څخه وساتي.

له همدې ځایه د دغه قرآني انځور او د هغه انځور ترمنځ یو لوی تناقض او تضـاد ښـکاره کېـږي چې د ځینو روایاتو او تاریخ په کتابونو کې راغلی دی؛ ځکه نبوي کور کله ناکله داسې انځور شـوی لکه هغه چې د شخړو، جنجالونو، ورځنیو رازونو او سیاسي سـیالیو د ډګـر وي. بلکـې ځینـو امهـات المؤمنین ته د لویې فتنې په پېښو ــ لکه د جمل په غزا ــ کې د ګډون نسبت شوی دی، په داسې توګه چې د نبوت کور د قدرت او واک د شخړې یوه برخه ښکاره کوي.

اما که الله دا کور په پوره ډول پاک (تطهیر) کړی وي او د وحې په وسیله یـې د هغـه سـاتنه کـړې وي، نو د دنیا په شخړو کې د هغه داخلول پخپله د قرآني انځور له اصل او بنیاد سره په ټکر کې دي. له همدې امله کېدای شي د دې ډول خبرونو ډېـره برخـه د هغـو وورسـته سـیاسي روایتونـو پـه توګـه وپېژندل شي، چې د تاریخي جګړو او شخړو بېلابېلو غاړو ته د مشروعیت ورکولو لپاره کارول شـوي وي، دغه توجیه سمه ده، نسبت هغې ته چې د نبوي کور د حقیقت او واقعیت دقیق نقل وګڼل شي.

هر څوک چې په نبوي کور کې کومه ناپاکي او ګندګي ویني، هغه د ده له خپل تخیـل څخـه ده، نه له ساتل شوي او خوندي شوي کور نه.

ځکه قرآن د نبوت کور د داسې یو کور په توګه وړاندې کوي چې:

- د وقار کور دی، نه د ځان ښودنې او ځان لوړ ګڼلو (استعلاء)
- د رسالت کور دی، نه د قصرونو او ماڼیو.
- د طهارت او پاکۍ کور دی، نه د سیاسي جنجالونو.
- د اخرت کور دی، نه د دنیا د زینت او ځان ښودنې.

او په دې توګه دغه مبارکه جمله: ﴿وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى﴾ یوازې له زینته تر منعې ډېر پراخ مفهوم لري، ترڅو د جاهلیت ټول نظام ته د بېرته ګرځېدو په وړاندې په یو داسې لوی خبرداري بدله شي چې: د برجونو جاهلیت، د عیاشۍ، د فخر کولو او د دنیا په شخړو کې له مقدساتو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جاهلیت دی... نو ښه تدبر او تامل پکې وکړه.

محمد اشري

## ایا د جمهور (اکثریت) قول حجت دی؟

لیکوال: ډاکټر محمد اکرم ندوي، اکسفورډ

ځينې خبرې دومره بې اعتباره وي چې هيڅ يو جدي او په کار بوخت انسان نه غواړي په هغو کې خپل وخت ضايع کړي. په همدې ډول، له څو کلونو راهيسې په ټولنيزو رسنيو کې دا خبره لاس په لاس کيږي چې: «د جمهورو قول حجت دی»، «د جمهورو مخالفت گمراهي ده»، «حق د جمهورو له رايې سره دی»، «څوک چې د جمهورو له لارې بېل شي، د ايمان د سلبېدو وېره يې شته» او داسې نور... ما دا خبرې بې اهميته گڼلې او له پامه مې غورځولې؛ له دې فکر سره چې په ټولنيزو رسنيو کې د خرافاتو سيلابونه راځي او دا هم يو له هغو څخه دی. خو تصادفاً نن همدا ډول يوه پوسټ د واټساپ په يو گروپ کې شريک شو. ما د معمول سره سم سترگې پټې کړې، خو ناڅاپه يو درانه عالم زه مخاطب کړم. که څه هم نن سبا مصروفيتونه دومره ډېر دي چې طبعيت مې دا ډول بې ځايه خبرو ته نه جوړيږي، خو بيا مې فکر وکړ که علماء دا ډول باطلې خبرې د پاملرنې وړ وگڼي، نو د دې مخنيوی اړين دی، گنې په دين کې به يو نوی بدعت ريښې وکړي.

په صحيح البخاري او صحيح مسلم کې د ام المؤمنين حضرت عايشې رضی الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد»، يانې چا چې زموږ په دې دين کې داسې څه نوي پيدا کړل چې د دين برخه نه وي، نو هغه مردود دي. له همدې وېرې چې دا غير معقوله خبره د خدای د پاک دين برخه ونه گرځي، دا مضمون ليکم. الله تعالی دې موږ ټولو ته د حق د پيروۍ توفيق راکړي.

هغه پوښتنه چې د دې مقالې سرليک دی، د بشپړ ځواب لپاره يې خپله بحث په دريو برخو ويشم: الزامي ځواب، د ابهام (کنفيوژن) لامل او تحقيقي ځواب.

**١. الزامي ځواب**

هغه خلک چې دا خبره په وار وار تکراروي، معمولاً له څلورو مذاهبو (حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي) څخه د يوه مقلد وي. په برصغير (هند، پاکستان او افغانستان) کې چې اکثريت حنفي مذهبه خلک دي، نو مثالونه به هم د حنفي مسلک دا ورکړل شي. له دې خلکو لومړۍ پوښتنه دا ده: که د جمهورو قول حجت وي، نو بيا د حنفي مسلک د پيروۍ جواز څه دی؟ تاسو بايد په هر مسئله کې په هغه رايه عمل کړی وای، چې جمهور پرې ولاړ وای.

* د امام ابوحنيفه (رح) په نزد د ماپښين وخت په «مثلين» (دوه چنده سيوري) پای ته رسيږي، په داسې حال کې چې د جمهور فقهاوو او محدثينو په نزد په «مثل اول» پای ته رسيږي. که د جمهور

قول واقعاً حجت وي، نو انصاف دا دی چې د امام صاحب رایه پرېږدئ او د جمهورو په مسلك عمل وکړئ.

* د امام ابوحنیفه (رح) په نزد وتر واجب دي، خو د امت د جمهورو په نزد سنت دي.

* د حنفي مذهب په کتابونو کې دي چې تر ماخستن وړاندې څلور رکعته سنت غیر مؤکد دي، په داسې حال کې چې له صحابهٔ کرامو، تابعینو او نورو دریو امامانو څخه دا خبره اصلاً نه ده نقل شوې.

* د امام صاحب په نزد تکبیر تحریمه په هر هغه جمله درست دی چې د الله تعظیم پکې وي، مگر جمهور یې خلاف دي.

* د اودس لپاره نیت د امام صاحب په نزد شرط نه دی، خو د جمهورو په نزد بې نیته اودس نه کېږي.

* د ښځې نکاح بې له ولي (سرپرست) څخه د امام صاحب په نزد جایزه ده، خو جمهور یې د ولي شرط لازمي گڼي.

په هر مسلك کې داسې په سلگونو مسائل شته چې د جمهورو رایه پکې پرېښودل شوې ده. که د جمهورو پیروي واجب وي، نو دا مذاهب ولې پر خپلو رایو ولاړ دي؟

**۲. د ابهام (کنفیوژن) لامل**

دې خلکو د «روایت» او «رایې» ترمنځ توپیر نه دی کړی. که یو حدیث د باوري راویانو په متصل سند نقل شوی وي او په مقابل کې یې بل صحیح حدیث هم وي، نو د اختلاف پر مهال به کوم یو ته ترجیح ورکول کېږي؟ د اهلِ علم متفقه پرېکړه دا ده چې د کوم سند راویان چې په حافظه او تقوی کې پیاوړي وي، د هغوی روایت به «راجح» وي. او که راویان برابر وي، نو بیا کتل کېږي چې کوم روایت ډېرې لارې (شواهد) لري. دلته د راویانو ډېروالی (تعدد طرق) ترجیح ور کوي. راجح روایت ته «محفوظ» او مرجوح ته «شاذ» وایي. یانې یوازې په روایت کې کله ناکله د راویانو شمېر د ترجیح لامل کېږي.

خو د «رایې» (اجتهاد) معامله بېله ده. په رایه کې ترجیح د دلیل د قوت پر بنسټ وي. د کوم قول دلیل چې قوي وي، هغه راجح دی او که دلیل کمزوری وي، مرجوح دی. که د یوې کمزورې رایې په گټه ټوله نړۍ رایه ورکړي، بیا هم هغه مرجوح پاتې کېږي او ورته «شاذ» ویل کېږي.

**۳. تحقیقي ځواب**

دا دعوه چې «د جمهور قول حجت دی»، د قرآن، سنت، اجماع، عقل او د امت د فقهاوو د تلپاتې عمل خلاف ده. په قرآن کریم کې ډېر ځایونه د الله او رسول اطاعت فرض شوی دی. د همدې ایتونو له امله د امت اجماع ده چې لومړی دلیل کتاب الله او دویم سنتِ رسول دی. د «اولي الامر» اطاعت د الله او رسول د اطاعت تر چتر لاندې دی. بیا قرآن فرمايي: «فإن تنازعتم في شيء فردوه إلى الله والرسول»، یانې کله چې علماء په کومه مسئله کې اختلاف وکړي، نو قرآن او سنت ته دې رجوع وکړي. د چا خبره چې قرآن او سنت ته نژدې وه، هغه راجحه ده. قرآن د پرېکړې معیار «دلیل» ټاکلی، نه «تعداد». بلکې قرآن ته په کتو که د جمهور خبره بې دلیله وي، د هغې ردول واجب دي او بې دلیله د اکثریت پیروي گمراهي ده.

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم هم په دې ټینگار کړی چې لومړی قرآن او بیا سنتو ته رجوع وشي. په هیڅ صحیح حدیث کې دا نه دي راغلي چې د اختلاف پر مهال د جمهور رایه حجت ده. د صحابه کرامو له دورې راهیسې د ټولو فقهاوو او محدثینو اجماع ده چې دلیل یوازې قرآن او سنت دي. که څه هم فقهاء اجماع او قیاس هم دلیل گڼي، خو هیڅ فقیه د «اکثریت رایه» دلیل نه ده بللې. د اصول فقهې په سلگونو کتابونو کې «اجماع» شته، خو «اکثریت» نشته.

عقل هم وايي چې سمه خبره هغه ده چې دلیل ورسره وي. که دلیل نه وي، که څه هم د ټولې نړۍ رایه وي، هغه بې ارزښته ده. همدا لامل دی چې په دیني امورو کې «جمهور» دلیل نه دی. حتی په تبلیغي جماعت کې چې کله مشوره کېږي، یو اصل دا دی چې «امیر د اکثریت رایې د منلو پابند نه دی».

د فقهاوو عمل دا ښیي چې هغوی د جمهور رایه حجت نه گڼله. تاسو د ټولو مذاهبو کتابونه وگورئ، هلته به ډېر ځله وومومئ چې: «دا د جمهورو رایه ده»، خو بیا هم هغه عالم چې رایه یې د جمهورو خلاف وي، خپل دلیل وړاندې کوي او خپله خبره نه پرېږدي. که احنافو د جمهورو پیروي پیل کړې وای، نو حنفي مسلک به له منځه تللی وای.

**پایله:**

د جمهورو د پیروۍ بلنه یوه غیر علمي او غیر معقوله بلنه ده. بلنه باید تل د «دلیل» د پیروۍ وي. په دین کې متفق علیه دلیل قرآن او سنت دي. کله چې یو انسان خپله رایه وړاندې کوي، پر هغه

فرض ده چې په دليل يې ثابته کړي. د دليل پر ځای يوازې د «جمهور، جمهور» نـارې وهـل ښـکاره گمراهي ده او د صحابه کرامو، تابعينو او څلورگونو امامانو د تگلارې غلط ثابتول دي.

# د ایمان او شک ترمنځ خبرې اترې

## کفتمان څنګه یوه ډېر پاخه عقل ته لاره هواروي؟

بسم الله الرحمن الرحیم

د انساني نفس لپاره دا هېڅکله اسانه نه ده چې د داسې یو چا شتون ومني چې د ده د تر ټولو ګرانو او مهمو عقایدو مخالف وي، نه دا ورته اسانه ده چې داسې څوک ووینې چې د ده په یقین او هدایت کې شکونه راپیدا کوي. ځکه انسان د خپل فطرت له مخې فکري ارامۍ او اطمینان ته میلان لري، دا خوښوي چې په داسې یو همغږي او متجانس جهان کې ژوند وکړي چې هېڅ پوښتنه یې ارامي خرابه نه کړي او هېڅ اختلاف یې سکون ګډوډ نه کړي.

مګر قرآن ــ په خپل ژور حکمت سره ــ له یوه رنګه او یو ډول انسانانو څخه کومه تړلې ټولنه نه ده جوړه کړې او د دې غوښتنه یې هم نه ده کړې چې ځمکه دې تر اخرت وړاندې د بشپړ صفاوالي او له تضادونو څخه د مطلق تشوالي ځای وي.

بلکې قرآن په روښانه توګه دا افشا کوي چې اختلاف، ازموینه او د مؤمن و کافر، مخلص و منافق او د باورمن و باثباته او زړه نازړه (متردد) کسانو شتون، دا ټول د انسان په روزنه، پاکولو او د هغه د عقل او روح په پخولو کې د الهي سنتو یوه برخه ده.

له همدې ځایه، د قرآن ارامه او بې‌طرفه لوستنه انسان مجبوروي ترڅو ډېرو هغو موروثي تصوراتو ته بیا کتنه وکړي چې دین یې په وچو، ځغلنده او چټکو معاملو/رسمونو کې خلاصه کړی دی؛ دا هغه تصورات دي چې مخالف ته یوازې د یو داسې ګواښ په سترګه ګوري چې باید له بېخه وایستل شي او پوښتنې ته د داسې یوې فتنې په سترګه ګوري چې باید مړه کړای شي.

په داسې حال کې چې پخپله قرآن موږ ته یو خورا پېچلی او ژور انساني انځور وړاندې کوي.

د الله تعالی دغه فرمان ته ځیر شه:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لهم﴾ [النساء: ۱۳۷] (بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړ، بیا کافران شول، بیا یې ایمان راوړ، بیا کافران شول، بیا په کفر کې نور هم پر مخ ولاړل، الله داسې نه دی چې هغوی ته ښښنه وکړي.)

دا ایت د ایمان او کفر ترمنځ د تګ راتګ، پورته کېدو او کښته کېدو او د اضطراب و تردد یو داسې تکراري حالت بیانوي چې د دغه تغییر او بدلون په وړاندې یې کومه مادي او دنیوي سزا نه ده ذکره کړې، سره له دې چې متن د داسې یوې ډلې په اړه غږېږي چې پخپله په مسلمانه ټولنه کې دننه اوسېدل.

او دلته لویې پوښتنې راپورته کېږي: تر ایمان وروسته څنګه له هغوی څخه کفر تکرار شو؟ څنګه په ټولنه کې د هغوی شتون دایمي پاتې شو؟ او ولې د نبوي عصر ټولنه د زور او قدرت باوجود له هر ډول مخالفت، شک او تردد څخه په یوه بشپړه پاکه شوې ټولنه بدله نشوه؟

د دغو پوښتنو په وړاندې باید غوسه ونه ښودل شي، بلکې تدبر پکې وشي.

ځکه قرآن موږ ته د ملایکو څخه جوړه شوې کومه خیالي او مثالي ټولنه نه وړاندې کوي، بلکې یوه ژوندۍ انساني ټولنه ښیي چې په هغې کې رښتینی مؤمن هم شته، منافق هم شته، زړه نازړه (متردد) هم شته، پلټونکی (باحث) هم شته، ضدي او معاند هم شته او داسې څوک هم شته چې نژدې کېږي او بیا لرې کېږي، هدایت مومي او بیا ګمراه کېږي، داسې څوک هم شته چې له خپل ځان او خپلو پوښتنو سره په یو داخلي جنګ او شخړه کې ژوند کوي.

شاید په دې کې تر ټولو لوی حکمت دا وي چې د دغو ډلو شتون پخپله د مؤمنانو د روزنې لپاره د الهي پروسې یوه برخه وه.

ځکه د انسان عقل بې مخالفته نه پخېږي او د هغه بصیرت وده نه کوي؛ مګر هغه وخت چې دی له رښتینو پوښتنو، دردونکو اعتراضونو او هغو فکري و اروایي ننګونو سره مخامخ شي چې هغه پلټنې، تامل او مراجعې ته اړباسي.

له همدې امله، د مخالف شتون ـــ که د ازادۍ، حکمت او رحمت له لارې مدیریت شي ـــ کېدای شي د معرفت او پوهې په یوه دروازه بدل شي، نه یوازې په یو داسې تهدید چې باید له منځه یوړل شي.

هغه مؤمن چې سختې پوښتنې اوري او بیا د څېړونکي او تدبر کوونکي په توګه قرآن ته بېرته ګرځي، له هغه مؤمن سره خورا توپیر لري چې یوازې په تلقین، یادولو او بې شعوره حفظ کولو بسنه کوي.

څکه صادقانه پوښتنه عقل له خپل خوبه راویښوي، انسان د داسې ایتونو کشفولو ته تېل وهي چې پخوا یې نه لیدل، د داسې ماناګانو لورې ته یې بیایي چې پخوا ورته متوجه نه و او د انساني نفس داسې حقایق ورته روښانه کوي چې د هغو په ژوروالي نه پوهېده.

بلکې له مختلفو او مخالفو سره خبرې اترې (حوار) پخپله د انسان خپل قصور او نیمګړتیا هم ورته افشا کولای شي.

څکه هر څوک چې له دینه لرې شوی دی، حتمي نه ده چې هغه دې ضدي او مستکبر وي، بلکې کېدای شي په هغو کې ځینې داسې کسان وي چې له ځان سره صادق دي، او له داسې پوښتنو سره مخ شوي دي چې په مروج دیني خطاب کې یې ورته کوم قانع کوونکی ځواب نه دی موندلی، یا یې د وحې او د هغه څه ترمنځ تضادونه لیدلي دي چې د تاریخ په اوږدو کې په درواغو له دین سره تړل شوي دي.

دلته یو دردونکی خو اړین سفر پیلېږي: د سوچه الهي دین او د هغه بشري میراث ترمنځ د توپیر د کشفولو سفر چې سم او ناسم یې سره ګډ شوي دي.

ډېری خلک پر داسې معلوماتو رالوی شوي دي چې ګمان یې کاوه دا پخپله دین دی، خو وروسته ورته څرګنده شوه چې دا یوازې بشري اجتهادونه، متناقض روایتونه، یا داسې تاریخي تصورات وو چې د مسلمانانو شعور ته یې سرایت کړی و، تر دې چې په داسې مقدساتو بدل شوي وو چې بحث ورباندې نه کېده.

همدا لامل دی، چې له مخالفینو سره صادقانه حوار او خبرې اترې کله ناکله داسې یوه هینداره وي چې انسان پکې خپل ځان ویني او د هغې له لارې پر هغه څه بیا کتنه کوي چې له ماشومتوبه یې پرته له کومې پلټنې او ازموینې منلي وو.

د دې خبرې مانا د کفر یا گمراهۍ ستاینه نه ده، بلکې مانا یې په ازموینه او لټون کې د الله د سنتو درک کول دي.

ځکه پخپله قرآن د خیر شتون د هغه له ضد سره نښلوي، رڼا لـه تیـارې سره او حـق لـه باطـل سره نښلوي؛ له دې امله چې شیان په خپلو اضدادو پېژندل کیږي.

که د باطل شتون نه وای، انسان به څنگه د حق په ارزښت پوهېدلی وای؟ کـه د شـک شـتون نـه وای، هوښیار او ویښ یقین به څنگه وده کړې وای؟ او که د شر وجود نه وای، د هغه په وړاندې به د خیر مقاومت څنگه ښکاره شوی وای؟

الله انسان له اوله په جنت کې پیدا نه کړ، بلکې هغه یې د ازموینې په ځمکه کې پیدا کړ؛ په داسې یوه ځمکه کې چې رڼا له تیارې سره گډه ده، رښتینولي له درواغو سره، ایمان له شک سره او رحمت له سخت زړیتوب سره گډ دی.

له همـدې املـه الله تعـالی فرمـایي: ﴿الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ [الملك: ٢] (هغه ذات چې مړینه او ژوند یې پیدا کړل ترڅو تاسو وازمویي چې پـه تاسـو کـې د چا عمل ډېر ښه دی.)

نو انساني وجود د تلپاتې ارامتیا ځای نه دی، بلکې د یوې اوږدې ازموینې ځای دی، چې پکـې عقل صیقل کیږي، نفس پاکیږي او رښتینی له مدعي څخه جلا کیږي.

له همدې امله د نبوي عصر په ټولنه کې د منافقانو، کمین نیوونکو او مرتدانو شتون په رسالت کې کوم خلل او نیمگړتیا نه وه، بلکې د هغه انساني انځور یوه برخه وه چې الله غوښتل مؤمنان د هغې لـه لارې زدکړه وکړي.

لومړنیو مسلمانانو په داسې یو تنوع لرونکې نړۍ کې ژوند کاوه چې پکې یهود، نصارا، مشرکین، منافقان، زړه نازړه او مترددکسان موجود وو.

هغو له دوی سره هره ورځ ګډ ژوند کاوه، د هغو خبرې یې اورېدې، خبرې اترې یې ورسره کولې او د هغو له اعتراضونو و پوښتنو سره مخامخ کېدل.

د دغه دوامداره پیوستون او تماس له لارې عقلونو وده کوله، نفسونه ازمویل کېدل او قرآن د حقیقي انساني پوښتنو، پېښو او انفعالاتو د معالجې په توګه نازلېده.

اما هغه ټولنې چې له پوښتنې څخه وېرېږي او هڅه کوي چې د اختلاف په وړاندې هره کړکۍ وتړي، هغوی ممکن یو ظاهري طاعت او غاړه اېښودنه تولید کړي، خو ډېری وخت په داخل کې د ځېړنې، ویښتابه او شعور روح وژني.

کله چې انسان له ازاد فکر څخه منع کړای شي، یا هغه له پوښتنې څخه ووېروي، نو هغه ممکن په ظاهر کې مؤمن پاتې شي، خو له دننه څخه خورا کمزوری او حیران وي، چې د لومړنۍ شبهې یا کړکېچ په وړاندې سمدستي رانسکورېږي.

خو هغه ایمان چې د پوښتنو، ځېړنو او فکري کړاوونو له لارې تېرېږي، هغه خورا ژور، پوخ او په رحمت بدل شوی وي.

له همدې ځایه موږ پر دې پوهېږو چې ولې قرآن په تر ټولو غوره طریقه (بالتي هي أحسن) مجادلې ته بلنه کوله، نه د انسان له منځه وړلو او د هغه د شخصیت تروړلو ته.

ځکه حق له حوار او خبرو اترو څخه نه وېرېږي.

او حقیقت د ژوندي پاتې کېدو لپاره زندانونو ته اړتیا نه لري.

بلکې رښتینی مؤمن د خپل علم د محدودیت په وړاندې تواضع کوي، پوهیږي چې الله بشر ـ پر خپلو ټولو رازونو نه دی خبر کړی او انسان هر څومره لوړ حد ته چې ورسیږي، بیا هم زدکړې، مراجعې او تصحیح ته اړ وي.

له همدې امله تر ټولو خطرناک شی چې پر دیني عقل باندې راځي، هغه د معرفت غبرګون او کبر دی؛ دا چې انسان ګمان وکړي چې هغه بشپړ حقیقت ترګوتو کړی دی او هر څوک چې د ده مخالف دی، هغه مطلق شر یا د الله دښمن دی.

څکه قرآن موږ ته ښيي چې انساني نفس تر دغو سطحي حکمونو خورا پیچلی دی.

کېدای شي د ځینو مختلفو او مخالفو په پلټنه کې رښتینولي وي، که څه هم لاره یې غلطه کړې وي. او کېدای شي په ځینو متدینو او دیندارو کسانو کې داسې تعصب او کبر وي چې هغوی د حکمت له رڼا څخه محرومو‌ي، په داسې حال کې چې هغوی ځانونه د حقیقت ساتونکي ګڼي.

له همدې امله صادق مؤمن د خپل ځان له بیا کتنې نه وېرېږي، نه د خپلو معلوماتو له بیا کتنې څخه ډارېږي او نه له دې اعتراف څخه خوف لري چې ده په ځینو هغو شیانو کې تېروتنه کړې وه چې د دین ګمان یې ورباندې کاوه.

بلکې دغه تواضع پخپله د رښتیني پوخوالي پیل دی.

**او په پای کې؛**

د اضدادو او نقیضونو په شتون کې الهي حکمت کوم عبث او بې ځایه شی نه دی، بلکې د انسان د روزنې لپاره د یوې خورا سترې پروژې یوه برخه ده.

څکه الله د انسان لپاره دا غواړي چې هغه فکر وکړي، وازمویل شي، درد وګالي، پلټنه وکړي، تواضع وکړي او د رڼا و تیارې د دغې اوږدې غېږ نیونې او شخړې په منځ کې پوخ شي. له انسانه دا نه دي غوښتل شوې چې هغه دې د ټولو پوښتنو ځوابونه ولري، بلکې دا ترې غوښتل شوې چې د حقیقت په غوښتلو کې صادق پاتې شي، پر خلکو مهربان وي، د الله په وړاندې متواضع وي، په دې

پوه شي چې هدایت موندل یو پېچلی سفر دی، زړونه د رحمن ذات د ګوتو په منځ کې دي او رښتینی علم هله پیلیږي کله چې انسان د خپل نفس او توان حدود وپېژني.

نو له الله تعالی څخه غواړو چې موږ ته حکمت او بصیرت راوښيي، زموږ زړونه له کبر څخه پاک کړي، موږ له هغو کسانو څخه کړي چې خبره اوري او د هغې د تر ټولو ښې برخې پیروي کوي، موږ ته د دغه سبحان ذات په لټون او سفر کې د فهم، رحمت او رښتینولۍ دروازې پرانیزي.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.

**حموده محمد محمد #بورسعیدمصر**

## قرآن د استبدادي او ظالم عقل ځانګړنې بیانوي ( فرعون یې بېلګه ده )

قرآن کریم د فرعون کیسه یوازې د تاریخي داستان په توګه نه ده ذکره کړې، بلکې د دې لپاره یې بیان کړې ده ترڅو امت ته د استبدادي عقلونو طبعیت، د ولسونو د مغلوبولو، د عقولو د بېلارې کولو او د شعور د خرابولو په برخه کې د هغو د تګلارو او اسالیبو حقیقت افشا کړي.

څکه قرآن د فرعون شخصیت د داسې یوې تکرارېدونکې بېلګې او الګو په توګه وړاندې کړی چې د هر هغه جابر او مستبد عقل استازیتوب کوي چې حقیقت په خپل انحصار کې ساتي، مخالف له صحنې باسي او د خلکو د اېلولو لپاره له ځواک، رسنیو او وېرولو څخه کار اخلي.

**لومړی ځانګړنه:**
استبداد او د حق انحصارول:

الله تعالی په سورت غافر کې د فرعون الفاظ راوړي: ﴿مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ﴾ [غافر: ۲۹] (زه تاسو ته هماغه نظر درکوم کوم چې زه یې سم ګڼم او زه تاسو ته له نېغې او سمې لارې پرته بله هیڅ لاره نه ښیم.)

دا ایت روښانه کوي چې فرعوني عقل بل هېڅ نظر او رایه نشي ـ زغملای او د مستبد حاکم له زاویې پرته بل چا ته له بلې زاویې څخه د حقیقت د لیدلو اجازه نه ورکوي؛ څکه هغه خپلو پیروانو ته داسې ښیي چې پوره او بشپړ حق یوازې له ده سره دی او هر هغه څوک چې د ده مخالف وي، هغه بېلارې او منحرف دی.

دا عقل خلکو ته ړنده پیروي ور ښیي او دا تربیه ور کوي چې فکر ووژني، تر دې چې مشر ـ او قائد د فهم، لارښوونې او پرېکړې په یوازینۍ سرچینه بدل شي، لکه هغه چې تر ټولو خلکو ډېر پوه، حکیم او د سمې لارې په موندلو کې تر ټولو وړ کس وي.

**دويمه ځانګړنه:**

د خلکو د عقولو سپکاوی او هغوی کمعقل ګڼل:

الله تعالی فرمايي :﴿فَٱسۡتَخَفَّ قَوۡمَهُۥ فَأَطَاعُوهُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ﴾ [الزخرف: ۵۴] (نو هغه خپل قوم کم عقل وګاڼه او هغوی د ده خبره ومنله؛ بېشکه دا وګړي فاسقان وو.)

دا ايت د فرعوني عقل يو خورا خطرناک اړخ افشا کوي، چې هغه د خلکو له ناپوهۍ او د هغوی د شعور له کمزورتيا څخه د مستبد د غوښتنو او خواهشاتو په لاره کې ناوړه ګټه اخيستنه ده.

ځکه طاغوت او مستبد يوازې په داسې چاپېريال کې ژوند کولای شي چې هلته ازاد فکر وجود ونلري، شعور کمزوری وي، ناانډوله او بې نظمه عاطفه خپره وي. له همدې امله هغه تل د عقولو د بې‌سده کولو او له فکر، نقد او تدبر څخه د خلکو د غافل کولو لپاره کار کوي.

لکه څنګه چې قرآن د فرعون غندنه کړې ده، کټ مټ يې د هغو پيروانو هم غندنه کړې ده چې خپل عقلونه يې معطل کړي وو او پرته له کوم نظر و برهانه يې د طغيان او ستم په وړاندې سرونه ټيټ کړی وو، نو ويې فرمايل :﴿إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ﴾ [الزخرف: ۵۴].

هغوی له دې امله فاسقان وو چې دوی د عقل کارولو، بصيرت او تفکر په برخه کې د الله له امر څخه سرغړونه وکړه او د پلرونو، مشرانو او لويانو د ړانده تقليد لاره يې غوره کړه.

خو د دې په مقابل کې، قرآن د مؤمن عقل په برهان او دليل باندې نازوي، نه په تقليد او پيروي سره؛ لکه الله تعالی چې فرمايي :﴿قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ﴾ [البقرة: ۱۱۱] (ووايه: که تاسو رښتيني ياست، نو خپل دليل او برهان راوړئ.)

**دريمه ځانګړنه:**

د انساني عقولو د مغلوبولو لپاره له زور څخه کار اخيستل:

الله تعالی په سورت طه کې د فرعون الفاظ راوړي: ﴿قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ﴾ [طه: ٧١] (فرعون وویل: ایا تاسو پر هغه تر دې وړاندې ایمان راوړ چې زه تاسو ته اجازه درکړم؟ بېشکه هغه ستاسو مشر دی چې تاسو ته یې جادو ښودلی، نو زه به ضرور ستاسو لاسونه او پښې د یو بل په خلاف پرې کړم او د خرما پر تنو به مو خامخا په دار وځړوم او تاسو به په حقه پوه شئ چې په موږ کې د چا عذاب خورا سخت او دایمي دی.)

دلته د بشر پر عقولو باندې د ځار او واکمنی غوښتلو عقل په پوره توګه څرګندیږي؛ ځکه مستبد خلک له فکر کولو څخه عاجز ګڼي، یوازې ځان ته دا حق ورکوي چې د هغوی لارښوونه وکړي او د هغوی په اړه پرېکړې وکړي.

له همدې امله موږ وینو چې هغه د خلکو په نیابت انتخاب کوي، د هغوی په استازیتوب فکر کوي، بیا ځان ته دا حق ورکوي چې د هغوی پر عقایدو او غوښتنو مسلط شي؛ هر څوک چې د هغه له غوښتنې بهر شي، هغه په خیانت، توطئه او جاسوسی تورنیږي.

نو کله چې د خلکو له قانع کولو څخه عاجز شي، بیا رواني ـ فزیکي ترور، زندان، شکنجې او قتل ته لاس اچوي.

په داسې حال کې چې قرآن روښانه کوي چې د پیغمبرانو دنده یوازې تبلیغ او یادونه ده، نه د خلکو مجبورول او ورباندې مسلط کېدل؛ لکه الله سبحانه چې فرمایي: ﴿فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ﴾ [الغاشية: ٢١-٢٢] (نو پند ورکړه، بېشکه ته یوازې پند ورکوونکی یې، پر هغوی باندې مسلط نه یې.)

**څلورمه ځانګړنه:**

د دلیل د ردولو پر ځای د دښمن د شخصیت له منځه وړل:

الله تعالی له موسی علیه السلام سره د فرعون د خبرو اتـرو پـه اړه فرمـايي: ﴿قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ، وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ﴾ [الشعراء: ۱۸-۱۹] (فرعون وويل: ايا موږ ته تر خپل منځ په ماشومتوب کې نه وې روزلی؟ او ستا د عمر څو کلونـه زموږ په منځ کې تېر نشول؟ او تا خپل هغه کار (قتل) وکړ چې تا وکړ او ته له ناشکرانو څخه وې.)

کله چې فرعون د دليل په وړاندې د بل دليل له راوړلو عاجز شو، نو د موسی عليه السلام د انځور خرابولو، د هغه پر شخصيت او تاريخ باندې بريد کولو ته يې مخه کړه.

دا هماغه طريقه ده چې نـن ورځ ورتـه "د شخصـيت تـرور (**اغتيـال الشخصـية**)" يـا "د پيغـام د مناقشې پر ځای د استازي (رسول) ترور" ويل کيږي؛ په دې توګه مستبد هڅه کوي خلک پخپله هـم د فکر د خاوند په طعن او بدنامولو مصروف کړي، د دې پر ځای چې پخپلـه پـر فکـر او انـد بحـث وشي.

له همدې امله فرعون موسی ته د جـادوګرۍ او لېونتـوب نسـبت وکـړ او ويـې فرمايـل: ﴿إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ﴾ [الشعراء: ۳۴] (بېشکه دا يو ډېـر پـوه جـادوګر دی.) او ويـې فرمايـل: ﴿إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ﴾ [الشعراء: ۲۷] (بېشکه ستاسو دغه رسول چې تاسو ته در اسـتول شـوی دی، يقيناً لېونی دی.)

او دا تګلاره لا هم د ډېرو مستبدو په تعبير کې ځای لري؛ هغه وخت چې دوی د دليل په وسيله د يوې فکري نظريې له ردولو عاجزه شي، نو د شخصيت خرابولو، خاين ګڼلو او شخصي بريـدونو تـه پناه وړي.

**پينځمه ځانګړنه:**

د مخالفينو سپکاوی او په هغوی پورې ملنډې وهل:

الله تعالی فرمايي :﴿فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ، إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ﴾ [الشعراء: ۵۳-۵۴] (نو فرعون ښارونو ته ټولونکي واستول، بېشکه دا (بني اسرائيل) يوه وړه او بې ارزښته ډله ده.)

فرعون دلته هڅه کوي چې د مخالفينو مرتبه او اهميت کم وښيي او هغوی داسې يوې وړې ډلې په توګه انځور کړي چې هيڅ وزن نلري.

دا د هغو خلکو تکراري نښه ده چې خلك له صحنې باسي؛ هغوی د هر مخالف سپکاوی کوي، د حقارت او تمسخر په سترګه ورته ګوري او د خپل نظر مخالف د ټولنې او حق له دايرې څخه وتل ګڼي.

په داسې حال کې چې قرآن د درناوي او د حقيقت پلټنې پر بنسټ د علمي ګفتمان او بحث يو ډېر لوړ موډل وړاندې کوي؛ الله تعالی فرمايي :﴿وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ [سبأ: ۲۴] (او يقينا له موږ و تاسو يوه ډله پر هدايت او بله په ښکاره بې لاري اخته ده.)

دا ايت مؤمن ته علمي تواضع، په خبرو اترو کې انصاف، د بل چا د نظر اورېدو ته چمتووالی او د دليل او برهان په وسيله له هغه سره د مناقشې کولو درس ورکوي.

**شپږمه ځانګړنه:**
د ځان پر لوی ښودلو، بېلارې کونکي رسنيو او د پيروانو پر راټولولو تکيه کول:

الله تعالی فرمايي: ﴿فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَعْلُومٍ، وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنْتُمْ مُجْتَمِعُونَ﴾ [الشعراء: ۳۸-۳۹] (نو جادوګران د يوې معلومې ورځې د ټاکل شوي وخت لپاره راټول کړای شول او خلکو ته وويل شول: ايا تاسو هم راټولېږئ؟.)

او سبحان ذات فرمايي: ﴿فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ﴾ [طه: ٦٠] (نو فرعون بېرته وګرځېد او خپل ټول مکر و حیله يې راټوله کړه او بیا راغی.) او فرمايي :﴿فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ﴾ [الشعراء: ٥٣]

دا ایتونه ښيي چې د فرعون عقل پر رسنیز حشر، د غوغا او شور ماشور پر جوړولو او د ولسونو پر اغېزمنولو باندې تکیه کوي، ترڅو خلکو ته داسې وهم ورکړي چې هغوی د مطلق اکثریت استازیتوب کوي او مخالفین يې یوازې یوه شاذ/وړه او له صف څخه وتلې ډله ده.

دغه راز دا عقل پر مال، طمعې، وېرولو او د واک او نفوذ پر ښودلو تکیه کوي؛ ځکه هغه له داسې حقیقي قناعت څخه خالي دی چې پر برهان او دلیل ولاړ وي.

له دې امله چې حق نه بېلارې کولو ته اړتیا لري او نه مبالغې ته، بلکې هغه یوازې روښانتیا، رښتینولۍ، دلیل او عدالت ته اړتیا لري.

**خلاصه او پایله**

قرآن کریم د فرعون شخصیت د يوې داسې تاریخي پېښې په توګه نه وړاندې کوي چې پای ته رسېدلې وي، بلکې هغه د هر هغه استبدادي او ظالم عقل د تکراري موډل په توګه ښيي چې بنسټ يې پر دغو شیانو وي:

- د حقیقت انحصارول.
- د عقولو معطل او مړه کول.
- د مخالف ځپل او شکنجه کول
- د دښمنانو د انځور خرابول.
- د معارضینو سپکاوی کول.
- د دلیل پر ځای له رسنیو او زور څخه کار اخیستل.

مګر د دې په مقابل کې، قرآن د داسې یو ویښ او بېدار مؤمن عقل پالي چې اساس یې پر دغو شیانو وي:

- تفکر او تدبر.
- د عقل درناوی.
- د حوار او خبرو اترو منل.
- د دلیل په وړاندې تسلیمېدل.
- عدل او انصاف.
- علمي تواضع او خاکساري.
- د حق په لټون کې مسؤلانه ازادي.

نو هر هغه امت چې خپل عقلونه تعطیل کړي او خپل شعور د مستبدو کسانو په لاس کې ورکړي، هغه په حقیقت کې یوه نوي فرعون ته د راڅرګندېدو لاره هواروي، که څه هم نومونه او شعارونه یې بدل وي.

عدنان الساکت

# په خوړو کې د "طيباتو" شتون او په څښاک کې يې نشتوالی

## د قرآني بيان يوه تدبري شننه

ليکنه: انور عطاء

قرآني بيان د تورو او جملو په انتخاب کولو کې په خورا لوړ دقت او باريکبينۍ کې ممتاز دی، په دې توګه چې د ترکيبونو او تعبيرونو توپير د ژورو دلالتي او مانيزو توپيرونو د کشفولو لپاره يوه دروازه ګرځي. له هغو ځايونو څخه چې تـدبر او تامـل غـواړي، د الله تعـالی د دغـه فرمـان تکـرار دی چـې فرمايي: «كلوا من طيبات ما رزقناكم» (له هغو پاکو او طيبو شيانو څخه خوراک وکړئ چې موږ تاسو ته درکړي دي.)

خو د دې په مقابل کې، عيني تعبير د څښاک په برخه کې نشته: «اشربوا من طيبـات مـا رزقنـاكم» (له هغو پاکو او طيبو شيانو څخه څښاک وکړئ چې موږ تاسو ته درکړي دي.) دا تـوپير يـوازې يـوه ساده ژبنۍ تنوع نه ده، بلکې کېدای شي د دغو دوو برخـو د طبيعـت تـوپير تـه اشـاره وي: د خـوړو (طعام) برخه او د څښاک (شراب) برخه.

### خواړه او د اوښتون و تحول ډګر

کله چې قرآن خوړل په "طيباتو" (پاکو او پاکيزه شـيانو) پـورې مقيـد او تـړلي بـولي، نـو دا د دې ښکارندويي کوي چې د خوړو او غذايي رزق ټول ډولونه د کيفيت او ګټورتيا په يوه کچه کې نه دي او ځينې يې ممکن له يو ګټور حالت څخه په يو خبيث او زيانمن حالت بدل شي. نو دلته خباثت او ناپاکي حتمي نه ده چې د مادې په تخليقي اصـل او ذات کـې وي، بلکـې کېـدای شي دا يـو داسـې تحول او اوښتون وي چې د بشر د لاسوهنې له امله ورباندې راغلی وي.

ځکه په خوړو کې تر بل هر شي ډېر زيات تغيير او ادلون بدلون کېږي:

- د پروسس او تصنيع له امله،
- د ذخيره کولو له امله،
- د ګډولو (خلط) له امله،
- د خرابولو او افساد له امله،
- د ککړتيا له امله،
- د اسراف او ډېرښت له امله،
- او د نامشروع او ناروا ګټې وټې د لارو له امله.

له همدې کبله د "طيباتو" لوري ته قرآني هدايت پخپله رزق کې دننه د يوه جلا کولو او چاڼ کولو په توګه راغلی دی، نه له رزق څخه بهر. ياني رزق په خپل اصل کې يو نعمت وي، مګر انسان کولای شي هغه په يوه زيانمن او خبيث څيز بدل کړي. له همدې ځايه موږ په دې پوهېږو چې دا ايت يوازې د خوړلو يو ساده اجازه ليک نه دی، بلکې د رزق يو ځانګړي ډول ته لارښوونه ده؛ هغه داسې رزق دی چې خپل ګټور او فطري طبعيت يې ساتلی وي.

## څښاک او د طيب اصل

خو د دې په مقابل کې، موږ قرآن کې داسې تعبير نه مومو چې:" اشربوا من طيبات ما رزقناکم ."
او د پام وړ خبره دا ده چې په قرآن کې څښاک (شراب) ډېری وخت د احسان او ژوند ښښلو په سياق او سباق کې راځي: لکه اوبه، باران، شيدې، شات او سيندونه. دا ټول شيان له پاکوالي، روانوالي او ژوند سره تړاو لري. نو د څښاک په اړه عمومي او بنسټيز اصل "طيب او پاکوالی" دی، له همدې امله قرآني سياق د "طيباتو" د لفظ بيا بيا تکرارولو ته اړتيا نه ويني. مثلا، اوبه په قرآن کې د ژوند د اصل په توګه وړاندې شوې دي: «**وجعلنا من الماء کل شيء حي**» [الأنبياء: ٣٠] (او موږ له اوبو څخه هر ژوندی شی پيدا کړ.)

دغه راز شيدې او شات د نعمت او شفا په سياق کې ياد شوي دي، نه د خبرداري، چاڼ کولو او انتخاب په سياق کې. ايا د دې مانا دا ده چې خبيث او ناپاک څښاک شتون نلري؟

نه، هېڅکله نه. قرآن په روښانه توګه د ناپاکو او خبیثو څښاک توکو شتون تـه اشـاره کـړې ده :لکـه شراب (خمر)، تودې او جوش اوبه (الحمیم)، د دوزخیانو د زخمونو اوبه (الغساق)، او نوونه (الصدید)؛ مګر تـوپیر دا دی چې دا ډول څښاک توکي په ځانګړو او استثنايي دايرو کې راغلي دي، د څښاک په عمومي جوړښـت او بنسټ کې د یو بنسټیز او غالب اصل په توګه نه دي وړاندې شوي. په داسې حال کې چې پـه خـوړو کـې عمومي لارښوونه د "طیباتو" د غوره کولو پر اړتیا باندې راغلې ده، چې دا ښـیي د خـوړو ډګـر د خپـل ضـد لوري ته د اوښتو او تحول خورا لوړ قابلیت لري.

## خواړه د بشر له مداخلې سره ډېر تړاو لري

دا موږ وینو چې خواړه د بدن له مادي او فزیکي جوړښت سره ژور تړاو لري، له همدې املـه د انسـان لـه مداخلې څخه ډېر اغېزمن کیږي. هغه که په کرنه کې وي، یا په تصنیع او جوړولو کې، په ساتنه کې وي که پـه بازارموندنه، په پخلي کې وي او که بل ځای. مګر څښاک، په ځانګړې توګه اوبه، خپـل مسـتقیم فطـرت تـه ډېرې نژدې پاتې شوې دي. له همدې امله په قرآني خطاب کـې د پـاکوالي، ژونـد ښښـلو او نـوي کېـدو د یـو سمبول په توګه پاتې شوې دي.

له همدغه ځایه موږ په دې پوهېږو چې ولې خواړه په قرآن کې له دغو مفاهیمو سره تـړل شـوي دي: لکـه حلال، حرام، طیب او خبیث. په داسې حال کې چې څښاک ډېری وخت له ژونـد، رحمـت او خړوبولـو سره تړل شوی دی.

## پایله

د دغه تعبیر ترمنځ توپیر چې: «**کلوا من طیبات ما رزقنا کم**» او د دغـه تعبـیر نشـتوالی چـې :«**اشربوا من طیبات ما رزقنا کم**» په بشري ټولنه کې د رزق د طبیعت او د هغه تحولاتو په اړه چې ورته پېښیږي، د یـو ژور تدبر او تامل دروازه پرانیزي. ځکه قرآن له خوړو او څښاک سره یوازې د مصرفي مـوادو پـه توګـه معاملـه نـه کوي، بلکې د داسې دوو برخو په توګه ورته ګوري چې په هغو کې دغه مفاهیم حرکت کوي: فطرت، فسـاد، پاکوالی او اوښتون. د دغې توضیح له مخې ویلای شـو چـې پـه قـرآن کـې د خـوړو ډګـر تـل چـاڼ کولـو او انتخاب ته اړتیا لري، ځکه انسان قادر دی چې نعمت په زیان بدل کړي، مګـر څښـاک ــ پـه خپـل عمـومي اصل کې ــ د ژوند، پاکوالي او ژوند ښښلو مانا ته خورا نژدې پاتې شوی دی.

## نورو ژبو ته د نصوصو ترجمه

بهرنیو ژبو ته د قرآن کریم او نبوي احادیثو د ژباړې ستونزه او د اسلام په غلط فهمۍ کې د هغې اغېز

بهرنیو ژبو ته د اسلامي کتابونو او د هغو په سر کې د قرآن کریم او نبوي احادیثو د کتابونو د ژباړې موضوع، له هغو دقیقو مسایلو څخه ګڼل کیږي چې پکې علمي، ژبني، عقیدتي او تاریخي ملاحظات یو له بل سره نغښتي دي. ځکه ژباړه په خپل ذات کې یوازې له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د کلمو لېږدول نه دي، بلکې دا د څو اړخیزو دلالتونو، ماناګانو او کلتوري، تشریعي او عقیدتي سیاقونو /تړاونو لېږدول دي؛ دا کار هله خورا پېچلې کیږي کله چې موضوع له هغو مقدسو نصوصو سره تړاو ولري چې په ښکاره عربي ژبه (لسان عربي مبین) نازل شوي دي، کومه ژبه چې په خپل بلاغتي او بیاني جوړښت کې د ماناګانو داسې بېلابېلې سطحې لري چې د هغې له ژبني او شرعي سیاق څخه جلا کول یې ناممکن دي.

په دې برخه کې بنسټیزه ستونزه د غیر عربي ژبو خلکو ته د اسلام د ورپېژندلو په اصل کې نه ده، ځکه دا یو معتبر شرعي او تمدني مقصد دی، بلکې ستونزه د ژباړې په پولو او هغه تحول کې ده؛ کله چې ژباړه د اصلي متن ځای ناستې یا د پوهېدو یوازینۍ سرچینه وګرځي، پرته له دې چې تفسیري وسایلو او د قرآن و سنت علومو ته رجوع وشي، هغه علوم چې په تېرو پېړیو کې یې د علماؤ له لوري اساس ښودل شوی دی. ځکه قرآني متن کوم عادي متن نه دی، بلکې دا د خورا پېچلي تشریعي او بلاغتي جوړښت لرونکی متن دی، چې پکې د عام او خاص، مطلق او مقید، ناسخ او منسوخ، حقیقت او مجاز دلالتونه او د نزول اسباب یو له بل سره اوبدل شوي دي او په دې توګه یو داسې تفسیري نظام جوړوي چې پخپله له متنه یې جلا کول شوني نه برېښي.

کله چې قرآن کريم بلې ژبې ته لېږدول کيږي، نو ژبارن که هر څومره د لوړ علم خاوند وي، بيا هم په يوه غونډله (جمله) کې د دغو ټولو دلالتي طبقاتو په لېږدولو کې عاجز راځي؛ ځکه په نښه شوې ژبه (Target Language) کې ممکن د ځينو عربي شرعي مفاهيمو لپاره دقيق او کټ مټ بديل شتون ونلري. له همدې ځايه ستونزه راپيدا کيږي: غير عربي لوستونکی ممکن يو داسې ژباړل شوی متن ولولي چې ګمان کوي دا پخپله عيناً قرآن دی، حال دا چې په حقيقت کې دا د متن د مانا په اړه يو محدود بشري فهم دی، نه پخپله عيني متن.

له هغو عملي قرآني بېلګو څخه چې دا ستونزه په نښه کوي، د الله تعالی دغه فرمان دی: ﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ﴾ [البقرة: ۱۹۱] (او هغوی چېرته چې ومومئ، قتل يې کړئ). دا ايت که چېرې له خپل سياق څخه په مجرده او لفظي توګه وژباړل شي، ممکن د قتل په اړه د يو مطلق امر په توګه فهم ترې واخيستل شي؛ په داسې حال کې چې د تفسير او اصولو علم دا ثابتوي چې دا ايت په يو داسې حالت کې د جنګياليو د يوې ځانګړې ډلې په وړاندې نازل شوی چې جګړه پکې روانه وه، دا ټولو خلکو ته يو عام خطاب نه دی، بلکې پخپله دغه سياق د نورو نصوصو په وسيله مقيد او بندوي چې سولې، عدل او انصاف ته بلنه کوي. دغه راز د الله تعالی دغه فرمان: ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ﴾ [التوبة: ۵] (نو مشرکين چېرته چې ومومئ، قتل يې کړئ)، دا له هغو ايتونو څخه دی چې په حرفي ژباړه کې تر ټولو ډېره ناسمه لوستل کيږي؛ ځکه دا د عهد ماتولو او د جګړې د حالتونو له تاريخي سياق څخه په لرې والي کې داسې فهمول کيږي لکه يو مطلق حکم چې وي، په داسې حال کې چې تفاسير روښانه کوي چې دا کوم مطلق حکم نه دی، بلکې له خپلو ځانګړو شرايطو او سياق سره تړلی او د نورو شرعي نصوصو د ټولګې په وسيله مقيد دی.

دغه راز بله بېلګه د الله تعالی دا فرمان دی: ﴿فَاضْرِبُوا فَوْقَ الأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ﴾ [الأنفال: ۱۲] (نو د هغوی تر غاړو پورته ووهئ او د هغوی هر بند بند او ګوتې ووهئ). که دا ايت د جګړې د حالت له ځانګړي نظامي سياق څخه پرته په مجرده توګه وژباړل شي، نو لوستونکي ته به د مطلق تاوتريخوالي بلنه ښکاره شي، په داسې حال کې چې دا يو تشريعي خطاب دی چې د يوې مشخصې غزا او جګړې له واقعيت سره تړاو لري، نه په بشري چارو کې يوه عمومي قاعده. د هغو تطبيقي بېلګو څخه چې د بلاغتي دلالت ته له پام پرته د حرفي ژباړې خطر په ګوته کوي، د الله

تعالی دغه فرمان دی: ﴿هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ﴾ [البقرة: ۱۸۷] (دوی ستاسو لپاره لباس دي او تاسو د هغوی لپاره لباس یاست). ځینو ژباړونکو هڅه کړې چې مانا په خورا سخت توري په توري (حرفي) ډول اروپايي ژبو ته ولېږدوي، نو په فرانسوي ژبه کې د ایت له بلاغتي روح څخه لرې داسې ناسمې ژباړې راووتلې چې مېړه او ښځه يې د "پتلون" په څېر د مادي لباس له تړېتو سره تشبېه کړل؛ په ځینو ژباړو کې داسې اصطلاح وکارول شوه چې مانا یې دا وه: "دوی ستاسو لپاره پرتوگونه/پتلونونه دي او تاسو د هغوی لپاره پرتوگونه/پتلونونه یاست". دا ډول حرفي ژباړې د قرآني متن بلاغتي او رمزي ژورتيا له منځه وړي؛ ځکه په عربي ژبه کې د "لباس" کلمه د ارامتيا (سکون)، پردې (ستر)، نژدېوالي، همغږۍ او عاطفي رانغښتلو ماناگانې لري او دا داسې دلالتونه دي چې په يوه تنگه مادي مانا کې نشي راټولېدای، چې له امله يې قرآني مفهوم تر هر ډول مستقيمې لغوي ژباړې خورا پراخ دی.

په نبوي سنتو کې هم د ناسمې ژباړې اغېز په روښانه توگه ښکاري، د بېلگې په توگه دا حديث: «إنما الأعمال بالنيات» (بېشکه د اعمالو مدار پر نيتونو دی). که دا يوازې په دې توگه وژباړل شي : "Actions are judged by intentions" او شرح ورسره نه وي، نو داسې فهم ترې اخيستل کېدی شي چې يوازې نيت د عمل پرته بسنه کوي، په داسې حال کې چې مطلب يې دا دی چې نيت د عمل د قبلېدو او صحت لپاره يو اساسي شرط دی، مگر دا د شرعي ضوابطو سره سم د پخپله عمل د ترسره کولو اړتيا له منځه نه وړي. دغه راز دا حديث: «لا يدخل الجنة من كان في قلبه مثقال ذرة من كبر» (جنت ته به هغه څوک داخل نشي چې په زړه کې يې د ذرې په کچه کبر وي). که دا په حرفي ډول د شرعي اصطلاح د مانا له بيان پرته وژباړل شي، نو داسې فهم ترې اخيستل کېدی شي چې هر ډول داخلي احساس په دغه گواښ (وعيد) کې شامل دی، په داسې حال کې چې نبي صلى الله عليه وسلم پخپله د کبر مانا روښانه کړې ده چې کبر: "د حق نه منل او د خلکو سپکاوی دی (بطر الحق وغمط الناس.)

خو هغه حديث چې وربانديې جنجالونه ډېر کيږي، دا دی: «لا تَبْدَؤوا اليهود والنصارى بالسلام، وإذا لقيتموهم في الطريق فاضطروهم إلى أضيقه» (يهودو او نصاراوو ته په سلام اچولو کې لومړيتوب مه کوئ او کله چې په لاره کې ورسره مخامخ شئ، هغوی تنگې برخې ته مجبور کړئ).

که دا حدیث پرته له کوم علمي شرحې په حرفي توګه وژباړل شي، نو له غیر مسلمانانو سره د اسلام د اړیکو په اړه یو ناسم انځور وړاندې کوي. په داسې حال کې چې د حدیثو شروحات دا ثابتوي چې دا له یو ځانګړي تاریخي سیاق سره تړلی دی او دا د نېکۍ، عدل او احسان له قطعي نصوصو سره هېڅ ټکر نلري، لکه د الله تعالی دغه فرمان: ﴿ لَّا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴾ [الممتحنة: ٨] (الله تاسو د هغو کسانو په وړاندې له نېکۍ او عدالت څخه نه منع کوي چې له تاسو سره یې په دین کې جګړه نه ده کړې او تاسو یې له خپلو کورونو نه یاست ایستلي؛ بېشکه الله عادلان خوښوي.)

دغه راز د حدیثو د کتابونو ژباړه، په ځانګړې توګه د هغو جامعو کتابونو لکه صحیح البخاري او صحیح مسلم، یوه بله اضافي ستونزه راپورته کوي؛ ځکه نبوي حدیث د تورو له دقت، سیاقونو او د اسنادو، عللو او د روایتونو ترمنځ د جمع کولو له علومو سره تړلی دی او دا یو داسې علمي نظام دی چې په ژباړه کې په پوره توګه نشي لېږدول کېدای.

همدارنګه یو شمېر شرعي اصطلاحات په بهرنیو ژبو کې دقیق بدیل نلري، لکه "الکفر"، "الجهاد"، "الفتنة"، "الحدود"، "القصاص"، "الولایة"، چې له امله یې ژباړه یوازې مانا ته د نژدې کېدو هڅه وي، نه د هغې پوره او بشپړ لېږدونه. له هغو سترو ستونزو څخه چې د ژباړې مسئله یې نوره هم پېچلې کړې ده، دا ده چې د اسلام په وړاندې په ځینو غربي کړیو کې چې کوم منفي نظر جوړ شوی دی، هغه په خالي فضا کې نه دی راغلی، بلکې په تاریخي توګه د هغو اسلامي نصوصو د لومړنیو لوستنو له لارې رامنځته شوی چې اروپایي ژبو (لکه انګلیسي، فرانسوي، هسپانوي او پرتګالي) ته ژباړل شوي وو. ځکه یو شمېر مستشرقینو د استشراقي څېړنو په پیل کې پر دغو ژباړو باندې تکیه وکړه پرته له دې چې د تفسیر اصولو او د شریعت علومو ته رجوع وکړي، چې دا د اسلام، د هغه د احکامو او ارزښتونو په اړه د نیمګړي او مسخ شوي تصور د جوړېدو لامل شو. د وخت په تېرېدو سره، د دغو لوستنو څخه ځینې یې په داسې پخو تصوراتو بدل شول چې په اکاډمیکو او رسنیزو څېړنو کې بیا ځلي تولید شول، چې په ځینو لوېدیځو محیطونو کې یې د اسلام په اړه د یو غیر دقیق انځور په پخولو کې مرسته وکړه.

له هغو خطرناکو پایلو څخه چې د اسلامي نصوصو پـر مجـردو او تحـت اللفظـي ژبـاړو بانـدې د تکیې له امله رامنځته شوې، دا دي چې ځینې هغه کسان چـې پـه غـرب کـې یـوازې د ژبـاړل شـویو کتابونو له لارې اسلام مني، پرته له دې چې کومه پخه علمي روزنه ولري یا له معتدلو علمـي بنسـټونو (مؤسساتو) سره تړاو ولري، هغوی د جهاد، جګړې یا د ولاء او براء مسایلو په اړه د ځینو نصوصو پـه ظاهري او حرفي یا جزیي فهم کې ښکېلېږي، په ځانګړې توګه کلـه چـې دا نصـوص د شریعـت لـه مقاصدو او د هغو له تاریخي او فقهي سیاقونو څخه لرې ولوستل شي. د فهم دا نیمګړتیا د دې لامـل ګرځي چې هغوی د افراطي او متشددو ډلو له ویناوو څخه اغېزمن شي، کومې ډلې چې خپل تصـور د نصوصو پر ټوټه ټوټه کولو او جلا لوستلو باندې رغوي، نه د اسلام پـر هراړخیـز او مقاصـدي فهـم باندې. نو دلته ستونزه پخپله په اسلامي نصوصو کې نه ده، بلکې د هغو په ترلاسه کولو او پوهېدو کې ده چې له هغه بشپړ علمي منهج او تګلارې څخه بهر ترسره کیږي کوم چې د جزیي نصوصو، شرعي کلیاتو او د رحمت، عدل او همغږي ژوند له اصولو سره تړاو لري. له همدې امله موږ ګـورو چـې پـه ځینو توندلارو خوځښتونو کې شامل شوي کسان اسـلام د یـو متـوازن علمـي مسیر لـه لارې نـه دی ترلاسه کړی، بلکې د جزیي ژباړو او سطحي لوستنو له لارې یې ترلاسه کړی چې له تفسیري او فقهي تراث څخه جلا وي، چې دا د اسلام د جګړې او تاوتریخوالي په مفاهیمو کې د خلاصه کېـدو لامـل شو، په داسې حال کې چې د اسلامي رسالت جوهر پر هدایت، اصلاح او د انسان د کرامت پر ساتلو ولاړ دی.

دا په ډاګه کوي چې ژباړه کله چې له خپل سم علمي منهج څخه جلا شي، نو دا یوازې یـو ژبنـی لېږد نه پاتې کیږي، بلکې کېدای شي د غیر متوازنو تمدني تصوراتو د جوړولو په یوه وسیله بدله شي، په ځانګړې توګه کله چې شرعي نصوص د هغو له تفسیري او اصولي سیاق څخه بهر ولوستل شي، د عربي ژبې د ځانګړتیا او د قرآني و نبوي خطاب د بلاغت په نه درک کولو سره ترسره شي.

دا ستونزې د ژباړې د مطلق ردولو په مانا نه دي، بلکې د هغې د علمي او منهجي کنټرول پـه مانـا دي، په داسې توګه چې ژباړه تفسیري وي نه توري په توري (حرفي) او تـل لـه توضـیحي حاشـیو او سیاق ته له اشارو سره مله وي، د دې دوامداره ټینګار سره چې ژباړل شوی متن پخپله قرآن یا حدیث نه دی، بلکې دا مانا ته د نژدې کېدو هڅه ده چې د اصلي متن بدیل نشي کېـدای. دغـه راز اړینـه ده

چې دا ژباړې د تفسير، اصولو او ژبې د متخصصو علماوو تر څارنې لاندې ترسره شي، ترڅو د ناسمې پوهې يا د غير قصدي مسخ کېدو په سرچينه بدلې نشي.

په پای کې، اسلامي نصوص د خپل ژور ژبني او تشريعي بار له امله په يو ساده ژبني چوکاټ کې د هغو د دلالتونو د يوې برخې له لاسه ورکولو پرته نشي۔ خلاصه کېدای او له همدې ځايه د غير منضبطې او بې کنټروله ژباړې خطر څرګنديږي، نو دا اړينه ده چې له ژباړې سره د معرفت د يوې وسيلې په توګه چلند وشي، نه د اصلي شرعي نصوصو د هراړخيز علمي فهم د بديل په توګه.

**الصادق العثماني؛ په لاتينه امريکا کې د مسلمانو علماوو د ټولنې عمومي منشي**

## د سورة العصر تدبري او فکري لوستنه

- ایا باور کوې چې یوازې د دریو ایتونو یو سورت... کولای شي د خلاصون او ژغورنې پوره لاره خلاصه او لنډه کړي؟!
- یو خورا لنډ سورت ...چې تر مشرانو وړاندې یې ماشومان یادوي ...خو د داسې ماناګانو بار ورسره دی چې که انسان په رښتیا ورباندې پوه شي... نو ژوند به یې په بشپړه توګه بدل شي.

تر دې چې امام شافعي (رحمه الله) دا زړه لړزونکې خبره کړې ده:

**«لو ما أنزل الله حجة على خلقه إلا هذه السورة لكفتهم»**.

(که الله خپل مخلوق ته د دلیل په توګه یوازې دغه سورت نازل کړی وای، نو بسنه یې کوله.)

دا ...**سورة العصر** دی.

هغه سورت چې د کوم پیغمبر د کیسې په اړه خبرې نه کوي ...نه د کومې غزا او جګړې یادونه کوي ...او نه هم ډېر احکام بیانوي...

خو بیا یې هم په دنیا کې د بریا او په اخرت کې د خلاصون او ژغورنې راز له خپل ځان سره لري.

- **فکر وکړه...**

الله سبحانه وتعالی ــ د اسمانونو او ځمکې رب ــ په یو داسې شي قسم خوري چې موږ هره ورځ د هغه د ارزښت له احساس پرته پکې ژوند کوو!

- ﴿وَالْعَصْرِ﴾ (قسم دی په زمانه/وخت.)

دا وخت دی: هغه شی چې:

- مصروفیت او بوختیا یې غلا کوي،
- نن او سبا کول یې ضایع کوي،
- او سکرینونه و چتیات یې خوري.

او له هرې تېرېدونکې دقیقې سره ... ستا د عمر یوه برخه داسې ځي چې بېرته نه راګرځي.

- **هغه ټکان ورکوونکی حقیقت چې ډېری خلک ورته پام نه کوي:**
- ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ (بېشکه انسان په تاوان او زیان کې دی.)

د ځینو خلکو خبره نه ده ...بلکې انسان د خپل طبیعت له مخې په زیان او خساره کې دی!

ولې؟ ځکه عمر هره ورځ کمیږي ...ورځې پـه ډېـره وېرونکـې چټکتیـا سره تېریـږي ...او انسـان وغواړي که ونه غواړي، پای او انجام ته نژدې کیږي.

ځومره خلك وو چې د راتلونکي لپاره یې پلانونه جوړول ...خو عمر یې ناڅاپه پای ته ورسېد!

ځومره انسانانو به ویل: « وروسته به توبه وباسم ..." خو هغه "وروسته" هېڅکله رانغله!

- **مگر د الله رحمت خورا پراخ دی...**

تر دغه وېرونکي خبرداري وروسته... الله د خلاصون او ژغورنې دروازه پرانیستله.

او موږ ته یې یوازې څلور ارکان کېښودل... هر چا چې دغه څلور ارکان کلك ونیول، پـه دنیـا او اخرت کې له زیان و خسارې څخه وژغورل شو.

## لومړی رکن: ایمان

- ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ (مگر هغه کسان چې ایمان یې راوړی.)

ایمان یوازې د یوې کلمې ویل نه دي چې په ژبه وویل شي... بلکې دا یوه رڼا او نـور دی چـې زړه روښانوي.

دا چې وپېژني:

- ستا رب څوک دی،
- د څه لپاره پیدا شوی یې،
- او پای و بېرته گرځېدل دې کوم لوري ته دي.

رښتینی ایمان دا دی چې داسې ژوند وکړې چې په هره شېبه کې احساس کړې چې الله دېویني: په لمانځه کې دې ... په خبرو کې ... په یوازیتوب کې ... او په معاملو و راکړه ورکړه کې...

ایمان یوازې یو ظاهري بڼه نه ده ... بلکې یو بشپړ ژوند دی.

**دویم رکن: صالح او نېک عمل**

- ﴿وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ (او نېک و صالح عملونه یې کړي دي.)

څکه رښتینی ایمان په زړه کې بند نه پاتې کېږي...

بلکې هغه بدلیږي په:

- لمانځه باندې،
- د قرآن په تلاوت،
- پر خلکو باندې په رحمت او لورینې،
- په مسکی او خندانه څېره،
- په اصلاح او ښېگڼې،

- په صدقې او خیرات،
- په امانتدارۍ،
- او په لوړ اخلاقو.

څکه خلک ستا د زړه دننه حالت نه ویني ... مګر هغوی ستا د ایمان اثر ستا په افعالو او عملونو کې ویني.

- **او دلته یو خورا جدي پیغام دی:**

ځینې خلک حق پېژني... خو عمل ورباندې نه کوي او نور بیا د دین په اړه خبرې کوي... خو خپل ژوند یې له دینه لرې وي!

له همدې امله الله داسې ونه فرمایل: "یوازې ایمان راوړئ"، بلکې ویې فرمایل:

- ﴿وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾.

**دریم رکن: حق ته یو بل بلل (تواصي بالحق)**

- ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ﴾ (او یو بل ته یې د حق وصیت او سپارښتنه کړې ده.)

دلته ستا پام یوازې له خپل ځان څخه ... خپلو شاوخوا خلکو او ټولنې ته اوړي.

دا چې نصیحت وکړې ... یادونه وکړې ... خیر او ښېګڼې ته بلنه ورکړې ... او د حق په څنګ کې ودرېږې، که څه هم ټول خلک دې یوازې پرېږدي.

- مؤمن یوازې د خپل ځان لپاره ژوند نه کوي ... بلکې د خپل امت او ټولنې غم و درد ورسره وي.

په داسې یوه زمانه کې چې پکې چټیات او بې ارزښته شیان ډېر شوي دي ... د یوې نېکې او ښې خبرې خپرول یو خورا لوی عبادت دی.

## څلورم رکن: صبر ته یو بل بلل (تواصي بالصبر)

- ﴿وَتَوَاصَوۡا بِٱلصَّبۡرِ﴾ (او یو بل ته یې د صبر وصیت کړی دی.)

ځکه د دینداری او التزام لاره اسانه نه ده...

ستړی به شي، کله ناکله به یوازې او بې ملاتړه پاتې شې، مخالفت به درته وشي او ممکن ځینې خلک ملنډې هم در پورې ووهي.

خو ثبات او په لاره درېدل صبر غواړي:

- د اطاعت او بندګۍ په وړاندې صبر،
- له ګناهونو او معصیت څخه په لرې پاتې کېدو صبر،
- او د الله پر دردونکو، سختو فیصلو او برخلیک (اقدارو) باندې صبر.

ځکه رښتینې بریا دا نه ده چې یوازې لاره پیل کړې ... بلکې بریا دا ده چې تر پایه پورې ثبات ولرې.

## د سورت په ترتیب کې موجود لوی راز

سورة العصر دا ارکان او ځانګړنې بې ځایه او عبث نه دي راټولې کړې ... بلکې ستا د ټول ژوند نظم یې په خورا حیرانوونکې دقت سره ترتیب کړی دی:

- له الله سره ستا اړیکه ← **ایمان**
- له خپل ځان سره ستا اړیکه ← **صالح او نېک عمل**
- له خلکو سره ستا اړیکه ← **حق ته بلنه (تواصي بالحق)**

- د دوام او دايمي پاتې کېدو لپاره ستا ځواک ← **صبر**

لکه الله چې تاته فرمايي:

- که دې دا څلور واړه لرل... نو هېڅکله به زيانمن او تاواني نشې.

- **ښه تدبر او فکر وکړه...**

هره ورځ څو ساعتونه دې په موبايل او ټليفون کې ضايع کيږي؟ څومره وخت په پرتلو، حسد او بې ارزښته شيانو کې تېريږي؟ څومره خوبونه او موخې وې چې د نن او سبا کولو له امله مړې شوې؟

عمر هغومره اوږد نه دی لکه څنګه چې موږ يې ګمان کوو ... او هره ورځ چې تېريږي ... هغه ستا د ژوند يوه داسې برخه ده چې بيا هېڅکله بېرته نه راګرځي.

- **رښتينې خوښي په دغو شيانو کې نه ده:**
- په مال او شتمنۍ کې،
- په شهرت کې،
- په منصبونو او چوکيو کې،
- او په ظاهري مېلو و تظاهر کې.

بلکې رښتينې خوښي دا ده چې خپل دغه لنډ عمر ... په داسې يو شي کې تېر کړې چې الله ترې راضي وي او تر تګ وروسته دې د نېکۍ او خير يو ښه اثر پاتې شي.

- **يوازې درې ايتونه دي...**

مګر دا ايتونه:

- انسان جوړوي،
- امت ابادوي،

- غافل او ویده زړه راوینبوي،
- او د یو بشپړ ژوند برخلیك بدلوي.

نو کاشکې موږ سورة العصر یوازې په خپلو ژبو ونه لولو ... بلکې په خپلو زړونـو او عملونـو کـې ورسره ژوند وکړو.

- اې الله! زموږ عمرونه په هغو شیانو کې مه ضایع کوه چې گټـه نلـري... او زمـوږ تـر ټولو غوره ورځ هغه کړه چې له تا سره پکې ملاقـات کـوو. اې الله! مـوږ تـه رښـتینی ایـمان، صالح عمل، ثابت زړه او ښکلی صبر (صبر جمیل) راوبښه.

**محمد عبدالرحیم**

## کله چې دین په جبر او قهر بدل شي

### د هدایت د مانا په تړاو یو قرآني لوست

بسم الله الرحمن الرحیم

قرآن څومره لوی دی، کله چې انسان د هغه له مقدسو وهمونو څخه ازادوي، الله څومره مهربان دی، کله چې خپلو بندګانو ته ښيي چې دین د زړونو د مغلوبولو، د قهر او جبر کومه پروژه نه ده او نه هم داسې یو واک و سلطه ده چې پر عقولو باندې د چلاخو او وېرې له لارې وتپل شي؛ بلکې دا یو داسې نور او رڼا ده چې انسان ته وړاندې کیږي ترڅو خپله لاره په ازادۍ او مسؤلیت سره غوره کړي او بیا د الله په وړاندې د خپل انتخاب د پایلو مسؤل وي.

ډېری هغه تراژیدۍ او غمیزې چې دیني تاریخ ورسره مخ شوی دی، د دین لپاره د جذبې او حماسې له کمښت څخه نه دي پیل شوې، بلکې کله ناکله له داسې یوې جذبې او حماسې څخه پیل شوې دي چې په حکمت سره مهار شوې نه وه؛ داسې یوه جذبه چې ګمان یې کاوه خلک په زور او جبر سره ایمان ته تېل وهل کېدای شي، د دین ساتنه د پوښتنو د دروازو په تړلو، د انساني حیرانتیا او پوښتنو په ځپلو او د تکفیر، ګواښ او وېرولو له لارې د عقولو په ډارولو کې ده.

مګر قرآن ــ له خپلې حیرانوونکې ارامۍ او له خپل ژور رباني حکمت ـــ سره راغلی دی ترڅو انسان ته د هدایت بله مانا، د دین بله مانا او له الله سره د بندګانو د اړیکې بل مفهوم وښیي.

د الله تعالی دغه فرمان ته ځیر شه:

﴿وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَن تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُم بِآيَةٍ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَىٰ ۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ﴾ [الأنعام: ٣٥]

(او که پر تا باندې د هغوی مخ اړول او اعراض درووند تمامیږي، نو که ستا په وس کې وي چې په ځمکه کې کومه سمڅه (تونل) وپلټې یا په اسمان کې کومه زینه پیدا کړې ترڅو هغوی ته کومه نښه او معجزه راوړې [نو دا کار وکړه] او که الله غوښتي وای، هغوی ټول به یې پر هدایت باندې راټول کړي وو، نو ته هېڅکله له ناپوهانو څخه مه کېږه.)

دا یو خورا لوی ایت دی چې د پوهېدو لپاره یې ارام زړه او د ژورتیا د درک لپاره یې بېطرفه عقل ته اړتیا ده.

ځکه دا ایت د دین د کمزورۍ په اړه خبرې نه کوي او نه هم د هدایت د مقام او ارزښت د کمولو په مانا دی، بلکې یو لوی کوني او کایناتي سنت افشا کوي:

دا چې الله انسان داسې نه دی پیدا کړی چې ایمان ته یې مجبوروي، بلکې هغه یې یو ازاد او مسؤل موجود پیدا کړی دی، چې هغه په خپل انتخاب سره ازمویي او د پوښتنې، تردد، پلټنې او قناعت موندلو پوره فضا و ځای ورته پرېږدي.

له همدې امله سبحان ذات فرمايي:

﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَى﴾.

یانې الله ــ چې پر هر څه قادر دی ــ نه یې غوښتل چې خلک له ارادې، تجربې او شعور څخه پرته په یو ډول او تکراري نسخو بدل کړي. ځکه هغه ایمان چې له قهر او جبر څخه پیدا کیږي، هغه ایمان نه دی، بلکې یو موقتي او ظاهري تسلیمېدل دي، چې د واک، سلطې او وېرې په نشتوالي کې سمدستي رانسکوریږي.

له همدې ځایه موږ پوهېږو چې ولې دا قرآني عتاب راغلی دی:

﴿فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ﴾.

هدف ترې ــ خدای مه کړه ــ د ګران رسول د مقام کمول نه دي، بلکې ټول امت ته دا ښوول دي چې رښتينې ناپوهي په انسان کې د الله د سنتو نه پېژندل دي.

نو څوک چې ګمان کوي هغه کولای شي ټول خلك په زور او جبر سره ايمان ته راوبولي، يا هدايت په ځواك او قدرت سره وتپي او يا د عقل او انتخاب ازادي له منځه يوسي، نو هغه په حقيقت کې نه د الهي رسالت په طبيعت پوه شوی، نه د انساني نفس په حقيقت او نه هم په لومړي سر کې د انسان د پيدا کېدو په حکمت پوه شوی دی.

الله تعالی پر دې قادر و، چې ټول انسانان مؤمنان پيدا کړي، لکه څنګه چې ملايکې يې داسې پيدا کړې دي چې د الله له امر څخه سرغړونه نه کوي، مګر سبحان ذات د انسان لپاره بل مقام غوښتی و؛ د يو ازاد موجود مقام چې خير او شر پېژني او بيا په خپله اراده خپله لاره غوره کوي.

له همدې ځايه د انسان رښتينی ارزښت رامنځته کيږي.

نو ازادي د دين لپاره هيڅ خطر نه دی، لکه څنګه چې ځينې خلك يې تصور کوي، بلکې دا د رښتيني ايمان له اساسي شرطونو څخه يو شرط دی.

ځکه هغه عقل چې د پوښتنې کولو ازادي نلري، نشي کولای حقيقي يقين ته ورسيږي او هغه زړه چې په تصديق کولو مجبور کړای شي، هغه ژوره ارامتيا او ډاډ نشي پېژندلای چې له ويښ او عارفانه ايمان څخه زيږي.

له همدې امله قرآن د تفکر او فکر کولو دروازې په پوره توګه پرانيستې ساتلې دي: (**أفلا تعقلون؟ أفلا تتفكرون؟ أفلا يتدبرون؟**.)

ځکه قرآن له پوښتنې څخه نه وېرېږي، هغه د حق له پلټنې او څېړنې وېره نلري.

مگر کله چې ديني بنسټونه، ډلې يا مذهبونه په داسې يو واک بدل شي چې له پوښتنې څخه وېرېږي او ازاد فکر يو تهديد و ګواښ ګڼي، نو هغوی ــ پرته له دې چې پام يې وي ـــ د دين د ځواک پر ځای خپله داخلي کمزوري اعلانوي.

د اسلامي تاريخ په ځينو پړاوونو کې يو له تر ټولو خطرناکو تېروتنو څخه دا وه چې "د دين دفاع" د عقل له ازادۍ څخه په يوه مرضمنه ويره بدله شوه.

نو د تفکر او فکر کولو ډېرې دروازې وتړل شوې، اختلاف کله ناکله په تور بدل شو، پوښتنه په شبهې بدله شوه او انساني حيرانتيا جرم وشمېرل شوه.

بيا داسې نسلونه رامنځته شول چې تر ناپوهۍ زيات له تفکر او فکر کولو څخه وېرېدل او پخپله د قرآني تدبر پر ځای يې ميراثي کتابونو ته ډېر تقدس ورکاوه.

نو پايله يې د دين ساتنه نه وه، بلکې د ډېرو خلکو په وړاندې د دين انځور پيکه کړای شو.

ځکه معاصر او نننی انسان ــ که هر څومره تېروتی او بې لاری وي ــ په اسانۍ سره دا نه مني چې عقل يې سلب شي، يا له پوښتنې کولو څخه منع کړای شي او يا د رواني، ټولنيز او سياسي فشار له لارې په زور ايمان راوړلو ته مجبور کړای شي.

دلته يو ژور بحران راښکاره شو: د دې پر ځای چې ديني خطاب د الحاد او بې دينۍ په وړاندې له حکمت، ازادۍ، رحمت او برهان څخه کار واخلي، کله ناکله يې په غوسه، وېرولو او تکفير سره مقابله وکړه، چې له امله يې ځينې خلک نور هم لرې او متنفر شول.

رښتينی ايمان له وېرې او ترهګرۍ څخه نه پيدا کيږي، بلکې له معرفت او پوهې څخه زيږي.

او نه هم د ځپلو و ستم په چاپيريال کې وده کوي، بلکې د مسؤلانه ازادۍ په فضا کې غوړيږي.

له همدې امله الله تعالی فرمايي:

﴿وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ ۖ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِن *وَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ﴾ [الكهف: ٢٩].(او ووايه: حق ستاسو د رب له لوري دی، نو که څوك غواړي ايمان راوړي، ايمان دې راوړي او که څوك انکار غواړي، هغه دې انکار وکړي.)

دا قرآني اعلان څومره حيرانوونکی دی!

دا کفر ته بلنه نه ده، لکه څنګه چې د سطحي فهم خلك ور څخه اخذ کوي، بلکې دا د دغې ازادۍ او د انتخاب کولو د حق اعلان دی چې پخپله پوره شرعي تکليف وربانديې ولاړ دی.

که انسان مجبور وای، نو د ثواب او عذاب مانا به باطله شوې وای، د انساني ازموينې مانا به له منځه تللې وای او پخپله د اخلاقي مسؤليت مفهوم به بې مانا شوی وای.

الله له انسانه يوازې يو ماشيني او اتوماتيک اطاعت نه غواړي، بلکې داسې ازاد شعور غواړي چې حقيقت ته د قناعت، مينې او بصيرت له لارې ورسيږي.

له همدې ځايه، د دين ساتنه د خلکو په مجبورولو کې نه ده، بلکې په دې کې ده چې دين د ازادۍ او انساني کرامت په فضا کې له فطرت، عقل او وجدان سره د خبرو کولو وړتيا ولري.

لوی عقلونه د وېرې په چاپيريال کې نه پيدا کيږي.

او نه هم فکري او تمدني نوښت په داسې يوه ځمکه کې زيږيدلی شي چې پکې پوښتونکی تعقيب او شړل کيږي، يا د مخالف نظر خاوند ته د خاين په سترګه کتل کيږي او يا تفکر کونکی تکفيريږي.

له همدې امله هغه امتونه چې له فکر کولو څخه ووېرېدل، هغوی په تمدني توګه مړه شول، که څه هم ګمان يې کاوه چې هغوی د ځان ساتنه کوي.

مګر هغه امتونه چې د پوښتنې، نقد او څېړنې دروازې يې پرانيستې ساتلې، هغوی د پرمختګ، نوي کيدو او له خپلو بحرانونو سره د مقابلې وړتيا ترلاسه کړه.

او قرآن کریم ــ کله چې له تعصبونو څخه ازاد ولوستل شي ــ د انساني عقل په وړاندې یو عجیبه درناوی ورنه څرګندېږي، حتی د مخالفت او ردولو په شېبو کې هم.

ځکه پخپله پیغمبران د خلکو پر زړونو جبابره او مسلط کسان نه وو او نه هم د خلکو د ازادۍ په سلبولو مکلف وو، بلکې د هغوی دنده یوازې رسول، بیان او په حکمت سره بلنه وه. الله تعالی فرمایي: ﴿لَسۡتَ عَلَيۡهِم بِمُصَيۡطِرٍ﴾ [الغاشية: ۲۲.] او فرمایي: ﴿فَذَكِّرۡ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٞ﴾ [الغاشية: ۲۱.]

دا یو خورا روښانه پیغام دی: د دین دنده د لارې روښانول دي، نه د ځنځیرونو په وسیله د خلکو راکشول.

او دا د درد ځای دی چې د تاریخ په اوږدو کې د دین ځینو جذبه لرونکو کسانو دا ژور قرآني حکمت درک نه کړ، نو فکر یې وکړ چې د ایمان ساتنه په فکري، ټولنیز یا سیاسي تشدد کې ده، په داسې حال کې چې هغوی ــ پرته له دې چې پوه شي ــ د خلکو او د الهي رسالت د ښکلا ترمنځ واټن نور هم زیاتاوه.

لومړنی اسلام، د قرآن اسلام، د انسان د له منځه وړلو پروژه نه وه، بلکې د هغه د ازادولو پروژه وه: له وېرې، د انسانانو له بندګۍ، له دیني دیکتاتورۍ، له تعصب او د ور پاته میراث په وړاندې له ړندې تسلیمۍ څخه، د هغه ازادول و. له همدې امله قرآن ته صادقانه بېرته ګرځېدل، یوازې د متن لوري ته بېرته تلل نه دي، بلکې د هغه ازادۍ، رحمت او حکمت روح ته بېرته ګرځېدل دي چې وحې ورسره راغلې ده.

### او په پای کې...

ای د الله په لټون وتلې: پر خلکو په هغه څه کې جبر مه کوه چې الله ورباندې جبر نه دی کړی. او داسې ګمان مه کوه چې هدایت په زور او ځواک سره جوړېږي.

ځکه هغه ذات چې زړونه یې پیدا کړي دي، د هغو په لارو خورا ښه پوهیږي او تر ټولو انسانانو ورباندې زیات مهربان دی.

د انسان مسؤلیت یوازې دا دی چې حق په رحمت، حکمت او رښتینولۍ سره ورسوي او بیا خلکو ته د دغه لوی انساني سفر حق پرېږدي: د پوښتنې، پلټنې، انتخاب او په ازادۍ ارادې و ژوندي شعور سره نور او رڼا ته د رسېدو سفر.

ځکه دا کار د قرآن روح ته خورا نژدې دی، د الله له حکمت سره خورا موافق دی او د انسان هغه کرامت ته ډېر قریب دی چې خالق سبحان و تعالی ورته غوښتی دی.

**وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.**

**حموده محمد محمد**

**#بورسعید_مصر**

پای